بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تأليف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون
د شرعياتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المكتبة المعروفية
کوئټه لاهور پاکستان

صفوة التفاسير

دوهم ټوک

د قرآن کریم هغه تفسیر چې د مأثور او معقول ټولګه او له خورا معتبرو تفسیرونو څخه لکه:
طبري، کشاف، قرطبي، اُلوسي، ابن کثیر، بحر محیط او نورو څخه یې غور چاڼ شوي او په
روانو او نویو اسلوبو چې بیان او لغوي اړخونو ته پکښې پاملرنه شوې لیکل شوي دي.

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزیز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکي:

مولوي شمس الله کمال زاده



المکتبة المعروفیة

(کوئټه) کاسي روډ شالدره کوئټه پاکستان
(لاهور) هادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اُردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

دكتاب پيژندنه

دکتاب نوم: ----------------پښتو صفوه التفاسير

تاليف: ------------------- الشيخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه: ---------------- مولوي شمس الله كمال زاده

دکمپوزچاري: ------------ مرحوم انجنيرعبدالله ګل (ريان) اوزياته برخه مولوي عبد البصير

خپرونكي اداره: ------------ المكتبة المعروفية (كوئټه) (لاهور)

دچاپ شمير: ------------------------- ۸۰۰ ټوکه

دچاپ كال: ------------ ۱۴۴۰ هجري قمري دمحرم الحرام مياشت

دکتاب ترلاسه كولو پته ------------ المكتبة المعروفية (كوئټه) (لاهور)



المكتبة المعروفية

(كوئټه) كاسي روډ شالدره كوئټه پاكستان

(لاهور) باديه حليمه سنټرغزني سټريټ اُردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868

Ph:03159807152-03337907398

E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com

http://www.facebook.com/maktabamarofia

الله تعالی فرمايي:

﴿ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾ إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟
عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا۟ بَيْنَ ٱللَّهِ
وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا۟ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْكَٰفِرُونَ حَقًّا ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمْ يُفَرِّقُوا۟ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُو۟لَٰٓئِكَ
سَوْفَ يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾ يَسْـَٔلُكَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ فَقَدْ
سَأَلُوا۟ مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا
جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمْ وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُوا۟
ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا۟ فِى ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾ وَبِكُفْرِهِمْ
وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَٰنًا عَظِيمًا ﴿١٥٦﴾ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ
وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ
إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾
فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾ وَأَخْذِهِمُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَقَدْ نُهُوا۟
عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾ لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلْعِلْمِ مِنْهُمْ وَٱلْمُؤْمِنُونَ
يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ۚ وَٱلْمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ وَٱلْمُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ أُو۟لَٰٓئِكَ
سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾ ﴾ النساء: ١٤٨ - ١٦٢

مناسبت او تړاو:

ځرنګه چې الله تعالی په تېرو آيتونو کښې د منافقينو يادونه وکړه او د هغوئ رسوايي يې ځرګنده کړه دلته يې وفرمايل چې د يو چا بدي او فضيحتونو لوڅول ضرور نه دی مګر چې ضرري زيات او خطري ډيروي نو د تعجب ځای نه دی چې الله د منافقينو څخه پرده پورته کړه وروسته بيا له يهودو څخه خبر ورکوي او د دوئ جرائم په ګوته کوي لکه چې ويل يې مونږ ته الله راووينه، د خوسی عبادت کول، او داسی ادعا کول چې حضرت مسيح مو په دار وځړاوو او داچې حضرت مريم البتول يې د زنا په تور تورنوله او داسی نور ډير ګناهونه يې.

لغتونه:

(جهرة) ځرګند (بهتاناً) هغه غټ دروغ چې په چاپسې وتړل شي او هغه هک حيران شي. (شبه) هغه مشابهت چې د مصلوب مقتول او عيسى ﷺ ترمينځ موجود شو (اعتدنا) موږ تيار کړي (الراسخون) پاخه او ټکره عالمان او پوهان.

دنزول سبب:

روايت کېږي چې کعب بن اشرف او يوه ډله يهودانو وويل اى محمده ! که ته په رښتيا پيغمبر يې نو مونږ ته له آسمانه هسې يوځاى کوم کتاب راوړه لکه چې موسى تورات راوړي وو نو الله وفرمايل: (يسالک اهل الکتاب ان تنزل عليهم کتابا من السماء)[1] دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ﴾ (نه خوښوي الله ښکاره ويل د بدى خبرى مګر (ښکاره ويل) د هغه چا چې ظلم پرى شوى وى) يعنى الله تعالى ناکاره خبرې په ژبه ضرر رسول نه خوښوي مګر چې يوڅوک مظلوم وي هغه ته رواده چې د ظالم لپاره ښيرا وکړي او هغه بدى يې په ډاګه کړي چې پکښې شته ابن عباس ﷺ وايې معناداچې: هيڅوک دې بل چاته ښيرانه کوي مګرچې مظلوم وي.(٢) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴾ (اودى الله ښه اوريدونکي ښه عالم يعنى د مظلوم دعا اوري او ظالم وينى پرې خبردي ﴿ إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟ عَن سُوٓءٍ ﴾ که ښکاره کوئ تاسى خير يا پټوئ دغه (خير) يا عفوه کوئ له بدى ! (چې ظلم دى) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴾ نو بيشکه الله همدي ښه عفوه کونکي ښه قادر (په نيولو او مؤاخذه) دي حسن رح وايې الله جنايتکارانو ته عفوه کوي سره له دى چې په کسات اخيستلو او انتقام يې قدرت لري نو تاسى د الله د تګلارى لاروي ان شئ او د الله د سنت متابعت وکړئ (٣) الله پاک دعفوى لپاره دخلګو هڅونه وکړه او دى ته يې اشاره وفرمايله چې الله سره له قدرته عفوه کوي او تاسو چې کمزوری او ضعيفان ياست ولى به يې نه کوئ ؟ ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ﴾ (بيشکه هغه کسان چې کافران کېږي پر الله او پر رسولانو د الله) آيت شريف د يهودانو او نصاراوو په هکله دى ځکه دوئ پخپلو انبياوو ايمان راوړي او په نورو او په محمد ﷺ باندى کافران شوي وو دوئ کفرچې په ځينو انبياوو يې وولکه چې په ټولو انبياوو کافران وى داسى وانګيرل شوا و په رسولانو کفر په الله باندى کفردى ﴿ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُوا۟ بَيْنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ﴾ (اراده لرى (غواړي) دوئ چې بيلتون وکړي په مينځ د الله او د رسولانو د الله کښې) د بيلتون معناداچې په الله ايمان راوړي او په رسولانو يې کافران کېږي او بيلتون د رسولانو ترمينځ پدې چې په ځينو ايمان راوړي په ځينو کافران کېږي او الله دغه بيلتون داسى تفسير کوي: ﴿ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ﴾ او وايې دوئ چې مونږ ايمان راوړو په

(١) مجمع البيان ٣ / ١٣٣ (٢) مختصر ابن کثير ١ / ٤٥٢

ځینو او کافران کیږو په ځینو (نورو رسو لانو) قتادة ﷺ وایې چې دغه دالله دښمنان یهود او نصارا دي یهودانو په تورات او موسی ﷺ ایمان راوړ خو په انجیل او عیسی ﷺ کافران شول او همدا راز نصارې په قرآن او محمد ﷺ کافران او په عیسی او انجیل یې ایمان درلود دالله دین اسلام یې پرېښود هغه چې الله ورباندې پیغمبران رالستولي دي.[۱] ﴿ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴾ او غواړي دوئ چې ونیسي په مینځ ددې کفر او اسلام) کښې یوه لاره (میانه) خو تر مینځ دکفر او اسلام کومه واسطه نشته ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقًّاۚ ﴾ (هم دوئ کافران دي په حقه سره) یعني دد غسې صفاتو درلودونکي کافران دي که څه هم د ایمان دعوی کوي ﴿ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴾ او تیار کړي دي مونږ لپاره دکافرانو عذاب ډیر سپک کونکي (سره له شدت او خلوده په جهنم کښې) ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ ﴾ (هغه کسان چې ایمان یې راوړي دی پر الله او پر (ټولو) رسولانو د الله او ندې کړې دوئ بیلتون په مینځ دهیڅ یوه کښې له دوئ نه (په نه منلو سره) هغوئ چې د محمد ﷺ اتباع او امتیان دي په ټولو انبیاوو یې ایمان راوړي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ ﴾ (دغه کسان ژر به ورکړي الله دوئ ته ثوابونه ددوئ) په دغه کامل ایمان چې په الله او رسولانو یې لري ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴾ او دی الله ښه مغفرت کونکي دګناهونو ډیر رحم والا دی (دا جراو ثواب په انعام سره) ﴿ يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ ﴾ پوښتنه کوي له تا نه (ای محمده !) اهل کتاب (یهودان) ددې چې نازل کړې ته پر دوئ (لکه تورات یو لیکلی) کتاب له آسمانه دغه آیت دیهودانو د علماوو په باب کښې نازل شوي کله چې یې رسول الله ﷺ ته وویل: که چیرې ته په رښتیا پیغمبر یې نو د موسی ﷺ په شان یو کتاب په یو ځل یو ځای له آسمانه راوړه دغه خبره یې دعناد په توګه کوله نو الله تبارک وتعالی ددوئ تر دغه پوښتنې سختې او بیباکې پوښتنې یادې کړې چې د رسول الله ﷺ ډاډینه او تسلا وکړي او په نورو پیغمبرانو پسې یې اقتداء ته راوبولی ﴿ فَقَدۡ سَأَلُواْ مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ ﴾ نو په تحقیق سوال کړي وو دوئ (پلرونو ددوئ) له موسی ﷺ څخه ډیر لوي تر دې پس ویلي وو دوئ (موسی) ته چې وښیه مونږ ته الله ښکاره ﴿ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ﴾ نو ونیول دوئ تندر په سبب دظلم دوئ یعنې تکه ورباندې راولویده او ګردسره یې وسوځول ﴿ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ ﴾ (بیا ونیو دوئ خوسی (په خدایې سره) پس له هغه چې راغلي دوئ ته ښکاره معجزې) او دلیلونه ښرګند لکه ید بیضاء ځلیدونکي لاس ، لکړه ، دسیند لارې لارې کیدل او نور ابوالسعود وایې چې دغه دالله دښکاره لیدلو سوال کول که څه هم ددوئ نیکه ګانو کړي وو خو څرنګه چې دوئ دهغوئ په

(۱) الطبری ۹ / ۳۵۴

تولوكړوورو كښني متابعت كاوودوئ ته يې نسبت وشو(١) ﴿ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ﴾ (پس عفوه وكړه مونږ
(تيرشو) له دي گناه (ددوئ په توبه كولوسره) له دي چي ستره گناه اوغټ خيانت دي ﴿ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ
سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴾ اووركړي وه مونږ موسى عليه السلام ته غلبه صريحه (برهان ښكاره) چي دده درښتنولي
اودنبوت تصديق يې څرگنداوو؛ طبرى وايې چي دغه حجت هغه معجزې وي چي الله ﷻ هغه ته وركړي
وى(٢) ﴿ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمْ ﴾ (اوپورته كړي وو مونږ برسيره پردوئ (غرد) طوردپاره د(قبول
دكلكي) وعدې ددوئ) يعنى مونږددوئ پرسرغردديځ لپاره اوچت كړي وو چي دوئ دتورات دموسوي
شريعت څخه امتناع كوله ترڅوويې مني اوداپه سبب دكلك عهدددوئ ووچي پخوايې دمنلو كړي وو
﴿ وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا ﴾ اوويلي وومونږدوئ ته چي ننوځى په وره (دبيت المقدس) سجده
كونكي) يعنى ټيټ سرونه دالله لپاره خضوع كونكي خودوئ ددى امرمخالفت وكړاودشاله خواننوتل
اوپه ملنډويې داسى ويل: (حنطة فى شعيرة) ﴿ وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا۟ فِى ٱلسَّبْتِ ﴾ ويلى وومونږدوئ ته چي
مه تېرېږئ (له حده) په (ورځې د) شنبې كښي) په ښكاركولودماهيانوكښني چي دوئ مخالفت
وكړاوښكار به يې كاوو ﴿ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴾ اواخيستى وه مونږله دوئ څخه وعده محكمه ﴿ فَبِمَا
نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ) پس (په سزاورسول شول دوئ) په سبب دماتولوددوئ دكلك عهدخپل د(ما) توري
دمعنادتاكيدلپاره دى ﴿ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ (اوپه سبب دكفردنيكونو) ددوئ په آيتونودالله باندې)
اوانكارله قرآن عظيم نه ﴿ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ اوپه وژلوددوئ انبياوولره په ناحقه سره (لكه
زكريااويحيى عليهماالسلام) چي يې ووژل (وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ) اوپه ويلو ددوئ (داخبره نبى ته
دتمسخرپه ډول) چي زړونه موپه پردوكښني پټ دي ستاوينا (اى محمده) پرې اثرنكوي الله ددوئ په
ردكښني فرمايې: ﴿ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ بلكه مهر(دغفلت) وهلى دى الله په
زړونوددوئ په سبب دكفر(اوگمراهى) ددوئ پس ايمان نه راوړي مگرلږ(ددوئ) لكه عبدالله بن سلام
اودهغه ملگري كسان ﴿ وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَٰنًا عَظِيمًا ﴾ اوپه سبب دكفرددوئ (په عيسى
عليه السلام) اوپه سبب دويلوددوئ په مريمې دروغ ډيرغټ (دزنا) هغه مريمه چي الله ورته دعالم په
ميرمنوبهتري وركړي ده ﴿ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ اوپه (سبب د) ويلوددوئ
(داسى چي) بيشكه وژلى دى مونږ مسيح عيسى زوي دمريمې رسول دالله (په گومان خپل) يعنى دوئ
به ويل هغه چي گومان كوي دالله رسول دى مونږ وژلى دى دغه خبره به يې داستهزاء اوملنډوپه توگه
كوله لكه چي فرعون به ويل: (ان رسولكم الذي ارسل اليكم لمجنون) دوئ خوداسى ويل چي دى دزنازوي

---

١ ابوالسعود ١/٣٩٤
٢ الطبرى ٩/٣٦٠

اوموريې زانيه ده (العياذبالله) ددې عقيده يې نه درلوده چې هغه پيغمبردى الله تعالى فرمايي ﴿ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ﴾ (حال داچې نه ووژلى دوئ دغه (عيسى واقعا) نه يې پردارکړي وودغه (يقينا) وليکن مشتبه کړي شو(دغه وژلى شوي په دارکړي شوي په عيسى سره) دوئ ته) بيضاوي وايي چې يوسړي چې دعيسى ﷺ په لټه کښې وتلى اومنافق ووالله ﷻ دحضرت عيسى شبره (شبه) په ده وغورځوله اوهغه دوئ ونيوپه داريې وځړاووادايې گومان ووچې همدغه عيسى ﷺ دى.[1]

﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ﴾ اوبيشکه هغه کسان چې اختلاف کړي دى دوئ په (حق) دعيسى کښې خامخاپه شک کښې دى (په شان) دده کښې يعنى داچې آياموږوواژه که نه؟ روايت کيږي چې کله عيسى ﷺ آسمان ته وخيژول شواوشيره يې په بل وغورځيده اوهغه بيادوئ ووژل نودوئ ويل که دغه وژل شوي عيسى وي نوزموږملگري څه شو؟ اوکه دغه سړي زموږ ملگري دى عيسى څه شو؟ نودوئ اختلاف وکړځينوويل چې همداعيسى ده ځينوويل داعيسى نه دى بل څوک دى نودوئ په دې کښې سره متفق ووچې يوڅوک ووژل شوخوپدې کښې يې اختلاف لاره چې څوک دى (۲) ﴿ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ﴾ نشته دوئ ته په (شان د) ده کښې هيڅ علم مگرتش متابعت دگومان (خپل) ﴿ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ ﴾ نه ووژلى دوئ عيسى يقينى بلکه پورته کړي والله دى طرف خپل ته) اوددوئ له شرڅخه يې ژغورلى وولکه چې په صحيحه احاديثوکښې راغلى دي (۱) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ اودي الله ښه قوي (په ملک خپل اوغالب) ښه حکمت والا(په صنعت خپل کښې) ﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ﴾ اونشته هيڅوک له اهل کتابه مگرقسم دى هرومروچې ايمان به راوړي دوئ خامخاپردغه (عيسى) پخواله مرگه دده) يعنى له يهودواونصاراووڅخه به هيڅوک هرومروپاتى نشي ترپخواله مرگه دهغه چې ايمان رانه وړي په عيسى ﷺ چې دغه دالله نبى اوبنده دى داهله چې دنزع په حالت کښې ملک الموت ووينى خودغه ايمان به ورته گټه نه رسوى ابن عباس ﷺ وايي چې: هيڅ يهودى به ترهغوونه مري څوپه عيسى ﷺ ايما ن نه راوړي چاورته ووېل آياکه کوم يهودي په توره ووژل شى دهغه هم داحکم دى؟ ورته ويل يې ژبه به يې ورباندى ناڅرگنده گرېږي اوداسى له عکرمه اوابن سيرين څخه هم راغلى دى.[2] ﴿ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴾ اوپه ورځ دقيامت کښې به وي (عيسى ﷺ پردوئ باندى شاهدچې يهودانوونه منلم اونصرانيانو «ابن الله» وبللم

[1] البيضاوي ص ۱۴۱ منهامارواه الشيخان (والذي نفسي بيده ليوشكن ان ينزل فيکم ابن مريم حکماعدلافيکسرالصليب ويقتل الخنزير ويضع الجزية) الحديث.
ولوله ! کتاب التصريح بماتواتر فى نزول المسيح للکشميري ثحقيق الاستاذعبدالفتاح ابوغدة.

[2] طبرى داغوره گڼلى چې ضميرپه (قبل موته) کښې عيسى ﷺ ته راجع ده چې معنايې داکيږي هيڅ يهودى به پاتى نشى چې دعيسى ترمرگ له مخه ورباندى ايمان نه راوړى کله چې قيامت ته نژدى به راخي اوهغه چې موږترجيح ورکړي دابوالسعود، کشاف اوجلالين رايه ده.

﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ ﴾ نو په سبب د ظلم د هغو کسانو چي يهودان دي حرام کړل مونږ پر دوئ باندي هغه ډير شيان چي حلال کړي شوي وو دوئ ته) يعني د يهودانو د ظلم په سبب او په سبب د هغو لويو گناهونو چي کړي يې وو مونږ ورته ډول ډول پاک شيان چي پخوا ورته حلال وو حرام وگرزول ! ﴿ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ﴾ او په (سبب) د منع کولو د دوئ له لاري د الله څخه ډير (خلگ . مجاهد وايي چي خپل ځانونه او نور کسان يې له ايمان راوړلو څخه منع کړي وو ﴿ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ ﴾ او په سبب د (اخستلو) د دوئ سود (له خلگونه) حال دا چي په تحقيق منع کړی شوي وو دوئ (په تورات کښي) له دغه (سوده) ﴿ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ﴾ او په سبب) د خوړلو د دوئ مالونه د خلگو په ناحقه سره (چي رشوت او نوري حرامې لارې دی ﴿ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او تيار کړی دی مونږ لپاره د کافرانو له دوئ څخه عذاب ډير دردناک ﴿ لَّٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ ﴾ ليکن هغه (کسان) چي پاخه دی په علم کښي له دوئ ځنی) لکه عبدالله بن سلام او ملگری يې ﴿ وَالْمُؤْمِنُونَ ﴾ او ايمان لرونکي له مهاجرينو او انصارو ځيني چي د رسول الله ﷺ اصحابان دی پرته له اهل کتابو ﴿ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ﴾ ايمان لری په هغه کتاب چي نازل کړی شوی دی تاته او (ايمان لری) پر هغو کتابونو چي نازل کړی شوی دی پخواله تا څخه او همدارازپه ټولو انبياوو ﴿ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ ﴾ (او سم قائم کونکو د لمانځه او هغه کسان چي ورکونکي د زکات دی) يعني صفت کوود) سم قائم کونکو د لمانځه او هغه کسان چي ورکونکي دی زکات لره ﴿ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ او ايمان راوړونکي په الله او په ورځي آخري (چي قيامت دی) يعنی د الله په وحدانيت او په پاځيدلو وروسته له مرگه ايمان لری ﴿ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ دغه کسان (چي صحيح ايمان او صالح عمل لرونکي دی) ژر به ورکړو مونږ دوئ ته ثواب ډير لوي (چي تل ترتله جنت دی) .

بلاغت :

پدی آيتونو کښي چي د فصاحت او بديع کومې بيلگې شته په لاندی ډول يې لنډيز ليکو:

۱- طباق صنعت لکه د (تبدوا ...او تخفوه) او (نؤمن ونکفر) په کلماتو کښي.

۲- تهکم او تعريض لکه په دې کلام کښي چي فرمايي : (قتلنا المسيح عيسى بن مريم رسول الله) دوئ دغه خبره د ملنډو او استهزاء په ډول کوله ځکه دوي د هغه په رسالت ايمان نه درلود .

۳ - د(ما)حرف (توري) زیاتوالی دمعنی دتأکیدلپاره لکه چي فرمایي : (فبما نقضهم) چي په اصل کښي (فبنقضهم) دی.

۴ - استعاره پدې کلام کښي چي : (الراسخون في العلم) درسوخ کلمه یې دعلم دثبوت اوتمکن لپاره راوړه اوپدې کلام کې (قلوبناغلف) دغلاف کلمه یې دناپوهي او ناخبرۍ لپاره استعاره کړی چي معنا یې داسی کولی شی چي زړونوته یې پنداوموعظت نه ورننوزي.

۵ - اعتراض پدې کلام کښي چي : (بل طبع الله عليها بكفرهم) چي ددوئ په فاسدوګومانونو یې ردکړي دی.

۶ - التفات پدې کلام کښي چي (اولئک سنؤتيهم اجراً عظيما) اصل خوداووچي (سيؤتيهم) راوړل شوی وای اوداخبرنکره ذکرکول ددي لپاره دی چي تفخيم يې وشی.

۷ - مرسل مجازپدې کلمه کښي چي : (وقتلهم الانبياء) چي ذکریې دکل کړي اومقصدځينی بعض دی همدارازپدی جمله کښي چي : (كفرهم بايات الله) ځکه دوئ خویوازی په قرآن کریم اوانجیل کافران وو له دي څخه پرته په نوروکافران نه وو.

فوائداوګټې:

په تسهیل نومي کتاب کښي وایي : که چاپوښتنه کوله چي څرنګه دوئ وویل (رسول الله) حال داچي دوئ ورباندی کافران اوورته ښکنځل یې کول ځواب یې په درې ډوله کیږي اول داچي دوئ دغه خبره داستهزاء په توګه کوله دوهم داچي دغه خبره یې دمسلمانانوله عقیدې سره سمه بلله لکه چي دوئ ویل رسول الله ستاسی په نزداویاستاسی په ګومان اودریم داچي داد الله ﷻ قول دی نوبایدتردي له مخه وقف وشی اوفائده یې ددوئ دګناه سترتوب په ډاګه کول دی اوددوئ ددغې خبرې چي مونږووژل بدي څرګندول دی اوداالله ﷻ داقول چي فرمایي : (وماقتلوه وما صلبوه) په یهودانوردکول اودهغوئ تکذیب بیانول دی اوهمدارنګه په نصاراووردکول دی چي دوئ وایې هغه په داروځړول شوآن تردې چي پدې سبب دصلیب عبادت کوي اوترټولوزیاته دتعجب خبره ددوئ دخبروتناقض دي چي وایې عیسی اله دی اویاهم زوي داِله (العياذبالله) اوبیاوایي چي هغه په داروځړول شو(۱) ؟(!)

تنبیه :

داالله ﷻ داقول چي : (وما قتلوه وماصلبوه ولكن شبه لهم) پدې دلالت کوی چي الله ﷻ عیسی ﷺ ته دپلیتویهودانوله شرڅخه نجات ورکړ اوهغه ونه وژل شواونه هم په دارشوبلکه بل څوک چي دوئ دعیسی ګومان ورباندی کاووااوالله دعیسی (څیره) ورباندی وغورځوله دوئ وواژه اوداهغه حقه عقیده ده چي دعقل اونقل سره سمه ده خونصاری بیاباورلری چي هغه په دارشوی اویهودانوهغه ته سپکاوي

---

(۱) التسهيل لعلوم التنزيل ۱/ ۱۲۳

کړې په سريې څوځ ورا يښي اوهغه الله ته ژړلی اوزاري يې کړې دی سره له دې چې دوئ گومان کوی هغه
(الله) اويازوي د(الله) دی هغه ددې لپاره راغلی چې بشريت ته نجات ورکړي اوداسی نورغريب
اوعجيب ډيرتناقضات دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ
وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلٗا قَدۡ
قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ﴿١٦٤﴾ رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ
وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٦٥﴾ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ
إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿١٦٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ
ٱللَّهِ قَدۡ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١٦٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾
إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿١٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلۡحَقِّ
مِن رَّبِّكُمۡ فَـَٔامِنُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١٧٠﴾ يَٰٓأَهۡلَ
ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ
ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا
ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾
لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ
وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ﴿١٧٢﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم
مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ
وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ﴿١٧٤﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴿١٧٥﴾
يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ وَهُوَ
يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهَا وَلَدٞۚ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخۡوَةٗ رِّجَالٗا وَنِسَآءٗ فَلِلذَّكَرِ مِثۡلُ
حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ أَن تَضِلُّواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿١٧٦﴾﴾ النساء: ١٦٣ ـ ١٧٦

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالیٰ د یهودانو د جرائمو څخه حکایت وکړاو په ترڅ کښې یې د دوئ په عیسی او محمد صلی الله علیهما وسلم د کافر کیدلو یادونه وکړه او د هغوئ دا ګومان یې چې مسیح یې په دار وځړاوو په ډاګه کړنو دلته الله داسې فرمایې چې ایمان په ټولو پیغمبرانو د ایمان د صحت لپاره شرط دی او الله ټول پیغمبران مبشرین او منذرین را استولی دی وروسته بیا نصاراوو ته بلنه ورکوي چې د مسیح ﷺ په شان کښې له اندازې زیات افراط (غلو) مکوئ چې وایاست هغه د الله زوي ، یا د دریو دریم یې بولئ چې هغوي : الله ، مریم او عیسی دی نو هغه خونه د الله زوي دی لکه چې نصارا ادعا کوي او نه د زنا څخه پیدا شوی لکه چې یهودان ګومان کوي دواړه ډلې د افراط او تفریط په مینځ کښې ښکیل شوي دی وروسته سورت په هغه څه بشپړیږي چې پیل شوی وو او هغه د وارثانو قریبانو د حقوقو مراعات کول دی.

لغتونه:

(تغلوا) له حدودو تجاوز کولو ته وایې او له دی څخه (غلا السعر) یعنی نرخونه (قیمتونه) خورالوړ شول اخیستل شوی دی (یستنکف) عار بلل ,نه منل او ځان لوړ ګڼل زجاج وایې لدې کلمې څخه اخیستل شوی چې (نکفت الدمع) کله چې اوښکه په ګوته باندی له بارخوڅخه پاکه شی (برهان) دلیل او دلته مقصد معجزې دی (اعتصموا) پناه وروړل او عصمت امتناع ته وایې : (الکلالة) هغه چې نه ولداونه هم والد لری او پخواهم تېر شول.

د نزول سبب :

د نصاراوو یوه ډله رسول الله ﷺ ته راغله ورته ویل یې : ای محمده ! ولی زمونږ د ملګری عیب وایې ورته ویل یې ستاسو صاحب (ملګری)څوک دی ؟ هغوئ ویل عیسی بیا رسول الله ﷺ ورته وویل زه د هغه په هکله څه وایم ؟ دوئ ورته وویل چې ته یې د الله بنده او رسول بولی نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : چې داخو کوم عار او ننګ نه دی چې هغه د الله بنده وي دوئ وویل هو دا عار او ننګ دی ! نو الله ﷻ دا آیتونه نازل کړل چې (لن یستنکف المسیح ان یکون عبداً لله).

تفسیر:

﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ﴾ بیشکه چې مونږ وحي موکړي ده تاته (ای محمده) لکه چې مووحی کړی وه نوح ته او (نورو) انبیاوو ته پس له ده نه) او ددې لپاره یې د محمد ﷺ نوم د مخه یاد کړ که څه هم په نبوت کښې وروسته راغلی چې د فضیلت څرګندونه یې وشی ﴿وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ﴾

او(لکه چي) وحی کړې وه مونږ ابراهيم ته او اسماعيل ته او اسحاق ته او يعقوب ته او اولادې د(يعقوب) ته او عيسی ته او ايوب ته او يونس ته او هارون ته او سليمان ته) الله ﷻ دغه انبياء عليهم السلام ځکه په ځانګړي توګه ياد کړل چي د دوئ تشريف او تعظيم وشی او له محمد ﷺ څخه وروسته يې د نوح ﷺ يادونه پدې وکړه چي هغه ابوالبشر ثانی او د انبياوو شيخ وو بيايې ابراهيم ﷺ ياد کړ ځکه هغه دريم پلار ده او له ده څخه د نبوت ونه زرغونه او ځانګې يې خورې شوي دی لکه چي الله تعالی فرمايې : (وجعلنا في ذريته النبوة والکتاب) او بيايې عيسی ﷺ ترهغو انبياوو مخکښي ذکر کړ کوم چي ترهغه پخواوو ترڅو دهغه شان ته پاملرنه وشی چي يهودانو يې په هکله له حد څخه تجاوز کړي وو چي تورونه يې وربانډی لګول او نصاراوو يې په تقديس کښي له حده تيري کړی وو ﴿ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴾ (او ورکړی وو مونږ داؤد ته زبور) قرطبی وايې چي په زبور کښي يو سل او پنځوس سورتونه وو چي ګرد سره حکمتونه او پندونه وو يو دا حکام او آيت هم پکښي نه وو راغلی.[1] ﴿ وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ ﴾ (او ليږلی وو مونږ نور داسی رسولان) چي په تحقيق سره قصه کړی ده مونږ د دوئ پرتا (ای محمده !) پخواله دې نه) په نورو سورتونو کښي ﴿ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَ ﴾ (او ليږلی وو مونږ نور داسې رسولان) چی نه مودې کيسې کړی پرتا (ای محمده !) ﴿ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ﴾ (او کلام کړی دی الله له موسی سره په ... کلام کولو) او الله چي موسی ﷺ خاص ذکر کړ دې لپاره چي بلا واسطه يی خبرې ورسره کړی دی ځکه يې کليم الله بولی او چي د (تکليما) په توري يې تاکيد وفرمايه د دې لپاره چي د مجاز احتمال له مينځه يوسی ثعلب وايې که تاکيد نه وايې نو داسی به رواوو لکه چي : (کلمتُ لک فلانا) بمعنی (کتبت اليه رقعة) يعنی ستا لپاره می له فلاني سړی سره خبرې وکړی يعنی ورته مي ليک و استاوو خو کله چي دلته الله ﷻ (تکليما) راوو ړنو يوازی هغه د الله اوريدل شوی کلام ځينی مراد دی .

(۳)﴿ رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ (او ليږلی مودی) رسولان چي زيری کونکي دی (مؤمنانو ته په جنت) او ويرونکي دی (د کفارو په جحيم) څوک چي مطيع دی د جنت زيری ورکوي او څوک چي د عصيان خاوندان وي په دوزخ يې ويروي ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِ ﴾ (لپاره د دې چي پاتی نشی خلګو ته پر الله باندی هيڅ حجت (دليل) عذر، پلمه) وروسته له (ليږلو) د رسولانو) يعنی الله دا پيغمبران د دې لپاره رااستولی که چيرې داسې نه وای نو به خلګو ويل که مونږ ته يې پيغمبران را ليږلی وای نو به موايمان راوړی وو او نيک عملونه به موکول نو الله دغه پلمه په دوئ ودروله چي رسولان يې رااستول او کتابونه يې ورته نازل کړل ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴾ او دی الله ښه غالب قوی (پخپل ملک کښي) ښه حکمت والادی (پخپله صنع کښي) وروسته الله په هغو يهودانو رد کوي کوم چي د محمد ﷺ له نبوت څخه منکر وو فرمايې : ﴿ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ ﴾ لکن الله شاهدې لولی په هغه شی چي نازل کړی يې دی تاته (ای محمده) نازل کړی يې دی دا (معجز قرآن)

(۱) اسباب النزول للواحدي ص ۱۰۷ (۲) القرطبی ۲. (۳) البحر ۳ / ۳۹

په علم خپل سره او ملائکې هم شاهدې لولي (په نبوت ستا) يعنی که دوئ ستا له نبوته انکار کوی خو الله ستا شاهدې وايې چې داسی معجز قرآن يې پر تا نازل کړی او پخپل علم سره يې نازل کړی څه ځانګړی علم او پوهه چې دبل چا سره نشته او داسی معجز آسا اسلوب يې قرآن ته ورکړی چې هرد بلاغت خاوندترې عاجزدی همدا راز پرښتې ستا په نبوت شاهدې لولی ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾ او بس دی الله دحق ظاهرکونکي) نو چې الله ستا شاهدوي ددوئ شاهدې ته حاجت نشته ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدْ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا﴾ بيشکه هغه کسان چې کافران شوی دی (دمحمد له نبوت څخه) او اړولی منع کړی يې دی (خلګ) له لارې دالله (اسلام) څخه په تحقيق سره ګمراه شوي دی په ګمراهې ډيرې ليرې سره (دحق له لارې نه) يعنی هغوئ چې هم پخپله کافران دی او هم يې نور خلګ داسلام له منلو څخه راګرزولی دوئ هسی ګمراهان دی چې دحق له لياری خورالېری دی ځکه دوئ ته دضلال او اضلال دواړو بد مرغي ورپه برخه ده ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ﴾ (بيشکه هغه کسان چې کافران شوی دی (دمحمد له نبوت څخه) او ظلم يې کړی دی) زمخشری وايې: هغه کسان چې دوئ کفراو ګناهونه سره يوځای کړی دی[1] ﴿لَمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا﴾ ندی الله چې مغفرت وکړی دوئ ته او نه چې وښيې دوئ ته سمه صافه لاره (دجنت) ځکه دوئ په کفرمړه شوی دی ﴿إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا﴾ (مګر و به ښيې دوئ ته) لاره دجهنم چې هميشه به وی دوئ په هغه کښې تل ترتله په سبب دهغه څه چې دوئ کفراو ظلم کړی وو ﴿وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا﴾ او دی دغه (ادخال او خلود فی النار) په الله باندی ډير آسان ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ﴾ ای خلګو په تحقيق راغلی دی تاسې ته رسول (محمد) په حق (دين او شريعت) له (طرفه د) ربه ستاسی ﴿فَـَٔامِنُواْ خَيْرًا لَّكُمْ﴾ نو ايمان راوړی (او قصدوکړئ دهغه څه چې) خيردی تاسی ته) يعنی دهغه کتاب چې تاسی ته راغلی تصديق وکړئ او دغه ايمان ستاسو لپاره خيردی ﴿وَإِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ (او که کافران شوی يئ تاسې پس بيشکه خاص الله لره دی هغه شيان چې په آسمانونو کښې (او هغه شيان چې په) ځمکه کښې دی (خلقا ملکا وعبيدا) يعنی که تاسو په کفرکښې پاتی شئ (الله ته زيان نه رسوئ ځکه الله لره دکائناتو (آسمانو او ځمکو) هستی او ټول ملکاً او خلقاً او عبيداً دی ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ او دی الله ښه عالم (دبندګانو په حالاتو) ښه حکمت والا (چې هرکار له مصلحت او تدبيرسره کوي) څرنګه چې الله ﷻ په يهودانوردو کړاوس يې دنصاراو و په ګمراهيو او افراط باندی هغه چې دحضرت مسيح يې له الله څخه پرته عبادت کاو و ردپيل کړاو ويې ويل: ﴿يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُواْ فِى دِينِكُمْ﴾ ای أهل کتابو (مه کوئ مبالغه (تجاوز له حدودو) په

---

(۱) او طبری وايې دظلم معنادا چې درسول الله له رسالته يې انکار کړی نو په الله کافران شوی او پدی کفر دريدل يې ظلم دی.

دين ستاسی کښي (چي مسيح ته خدای وایاست) ﴿وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ﴾ اومه وایاست پر الله مگرحق (ويل) درښتیایعنی چي الله ته داسی څه نسبت مکوئ چي ورسره نه ښایې چي هغه حلول، اتحاداودمیرمنې غوره کول اوزوي نسبت کول دی ﴿إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ﴾ بیشکه همداخبره ده بله نه ده چي مسیح عیسی زوي دمریمې رسول دالله دی) دالله زوي نه دی لکه چي تاسی انګیرئ ﴿وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ﴾ او(داسی) کلمه دده ده چي غورځولی ده (الله) دغه کلمه مریمې ته) یعنی الله تعالی هغه د(کُن) په کلمه سره پرته دپلاراونطفې له واسطې څخه پیداکړی دی ﴿وَرُوحٌ مِّنْهُ﴾ اوروح دی له جانبه دالله یعنی هسی دروح څښتن دی چي دالله له لوري پیل شوي اودهغې نفخې (پوکی) اغیزدی چي حضرت جبریل ؑ دحضرت مریمې رضی الله عنها په ګریوان کښي پوکلی اوچي الله ته یې نسبت وشودتعظیم اوتکریم له سببه دی ﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾ (نوایمان راوړئ په الله اوپه رسولانودده) ﴿وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ﴾ اومه وایئ تاسې داسې چي (معبودان) درې دی یعنی الله اومسیح اومریمې ته دمعبودنسبت مکوئ مه داسی وایاست چي خدایان درې دی پلارزوي اوروح القدس الله دوئ له تثلیث څخه منع کړل اوپه توحیدیې ورته امروکړځکه الله له ترکیب اوهغه ته دمرکب له نسبت څخه منزه اوپاک دی ﴿انتَهُوا خَيْرًا لَّكُمْ﴾ (منع شئ تاسی (له دې وینااواختیارکړئ توحیدچي) خیردی تاسی ته) یعنی تاسی دتثلیث له عقیدې خوله ونیسئ داستاسولپاره خیردي ﴿إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ (بیشکه همداخبره ده چي الله حق معبودیودی) هسی نه لکه چي تاسوزعم کوئ چي هغه ددریو دریم دی ﴿سُبْحَانَهُ أَن يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ﴾ پاکی ده ده لره له دی چي شی ده ته (نسبت د) ولد) ﴿لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ خاص ده لره دی هرهغه څه چي په آسمانونو کښي دی اوهرهغه څه چي په مځکې کښي دی خلقاملکا اوعبیدا) اوله الله سره هیڅ شي مماثل ﷻ دی چي په زوي توب یې غوره کړي ﴿وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا﴾ اوبس دی الله وکیل (کارجوړونکي) داددې تنبیه ده چې الله له زوي څخه غنی دی یعنی الله یوازي ددې بس دی چي دخپلومخلوقاتوتدبیرساتنه اوکارسازې وکړي دهغه زوي اومرستندوئ ته اړتیانشته ځکه هغه دهرشی مالک دی اووروسته بیاالله دنصاراووباطل مزاعم اوګومانونه داسی تردیدوي : ﴿لَّن يَسْتَنكِفَ الْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ﴾ له سره ننګ (اوعار) نکوي مسیح له دی نه چي شي بنده دپاره دالله ﴿وَلَا الْمَلَائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ﴾ اونه (ننګ اوعارکوي) پرښتي چي مقربې دی (دالله له بندګی نه) ﴿وَمَن يَسْتَنكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا﴾) اوهرهغه چي ننګ وکړی له عبادته ددغه (الله)څخه اوتکبروکړي نوژربه راجمع کړي (الله) دوئ طرف ته خپل ټول (دقیامت په ورځ دحساب

اوجزاء لپاره) ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ ﴾ (پس هغه کسان چي ايمان يې راوړي دی اوکړی يې دی ښه (عملونه) پس پوره به ورکړي (الله) دوئ ته اجرونه ددوئ (دښو عملونو) ﴿ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦ ﴾ اوزيات به (هم) ورکړي دوئ ته له مهرباني خپلې چي نه به سترګو ليدلی نه غوږونو اوريدلی اونه به دچاپه خاطرکښي ورتېرشوي وی ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ اوهغه کسان چي ننګ (اوعار) يې کړي وی اولويې تکبريې کړی وی (دالله له عبادت څخه) نوعذاب به ورکړی دوئ ته (الله) عذاب دردناک ﴿ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ اونه به مومي دوئ ځان ته بی له الله هيڅ دوست اونه هيڅ مرستندوی (چي دالله له عذابه يې وژغوري) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ ﴾ ای خلکوپه تحقيق راغلی دی تاسی ته برهان (حجت) (له طرفه د) رب ستاسی (چي محمددی) اوپه څرګندومعجزاتويې تائيدشوی دی ﴿ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورًا مُّبِينًا ﴾ اونازل کړی دی مونږتاسی ته نور(رڼا) ښکاره (چي قرآن دی) ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ ﴾ پس هغه کسان چي ايمان يې راوړي دی په الله اومنګولی يې ښخې کړی دی (په دين د) ده ﴿ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ ﴾ نوژربه داخل کړي (الله) دوئ په رحمت کښي چي له جانبه دده دی اوپه مهرباني کښي) يعنی په جنت دارالخلود کښي به يې داخل کړي ﴿ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴾ اوهدايت به وکړی (وبه ښيې الله) دوئ ته خپل لوری ته لاره سمه صافه (داسلام په دنياکښي اودجنت په آخرت کښي) ﴿ يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ ﴾ طلب دفتواکوی دوئ له تانه (ای محمده دکلالې) نووايه چي الله تعالی فتوی درکوی تاسی ته (په ميراث د) کلالې کښي ، هغه مړي چي نه پلارلری اونه هم ميراث خور زوي ﴿ إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ لَهُۥ وَلَدٞ ﴾ (که يوسړي مړشی چي نه وی ده لره زوي) يعنی ورته ووايه څوک چي مړشی اونه پلارلری نه زوي چي هغه (کلاله) ده ﴿ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ ﴾ يوه خورده لره دی (عينيه يأعلاتيه) نو(مقرر) دی دې ته (نيم) دهغه مال چي پری ايښي وي (مړي) ﴿ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهَا وَلَدٞۚ ﴾) اوداورورميراث وړی له دې خورڅخه که نه وی دې لره زوي (اوځوځات) ﴿ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ ﴾ نوکه وی داخويندی دوه (يازياتې) نومقرردی دواړوته دوه ثلثان له هغه ماله چي پری ايښي دی (مړي) (ددوئ ورور) ﴿ وَإِن كَانُوٓاْ إِخۡوَةٗ رِّجَالٗا وَنِسَآءٗ فَلِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ ﴾ (اوکه ووارثان) وروڼه اوخويندې نارينه اوښځې پس (مقرردی) هرنارينه ته په اندازه دبرخې ددوښځو) ﴿ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ

أَن تَضِلُّواْ ﴾ (بیانوي الله تاسی ته (احکام دمیراث) چي گمراه (خطا)نشي تاسی) یعنی الله تاسی ته احکام اوشرائع بیانوي چي خطانشئ ﴿ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌۢ ﴾ اوالله په هرشی ښه عالم دی (ستاسو دژوندا ومرګ مصالح اومنافع ښه ورته معلوم دی.

بلاغت :

پدې آیتونو کښې چي دبلاغت اوبدیع کومی ښکلاوي شته داسی يې انځوروو:

۱- تخصیص دځینی انبیاوو په یادولو سره پدی آیت کښې چي: (کما اوحینا الی نوح) دتشریف اوفضل دځرګندولو لپاره دی اوهمدارازدلته هغه تشبیه هم شته چي (مرسله مفصله) يې بولی.

۲- پدې قول کښې چي (یا اهل الکتاب) لفظ دعموم لپاره چي مرادځینی خاص دی چي هغوئ (نصارا) وواوددې دلیل هغه وروستنی قول دی چي فرمايي (ولا تقولوا ثلاثة) ځکه دغه دنصاراوو قول دی.

۳- داقول چي (انما المسیح عیسی ابن مریم رسول الله) پدې کښې قصردی اوداقصر هغه ډول دی چي قصردموصوف په صفت پوری وی.

۴- اشتقاقی جناس په (یشهدون...شهیدا) کښې.

فوائداوګټې.

د(من) لفظ دتبعیض لپاره وی خوکله کله دغایې دابتداء لپاره هم راځي لکه پدی قول دالله کښې (و روح منه) حکایت کیږي چي دهارون رشید یونصرانی طبیب له امام واقدی سره یووخت مناظره کوله چي ستاسو په کتاب کښې راغلی چي عیسی دالله ځخه جزء دی اودغه آیت يې ولوست (وروح منه) واقدی ورته وویل چي الله ﷻ فرمايي: (وسخرلکم ما في السموت ومافي الارض جمیعاً منه) نوکه چیری عیسی له الله ځخه جزء وی نوبه ټول آسمانی اوځمکنی شیان له الله ﷻ ځخه جزء وی نصرانی چپ شواوبیامسلمان شواورشید پدی خوراخوښ شوواقدی ته يې سترانعام اوجائزه ورکړه.[1]

دالله په مرسته دسورة النسآء تفسیربشپړشو.

***

[1] - تفسیرابوالسعود ۱/۴۰۱

دالمائده سورة مدني اويوسل اوشل آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

* دالمائده سورت دمدنې اوږدوسورتونوڅخه يودی اولکه نورمدنی سورتونه تشريعي اړخ په تفصيل سره دالبقره ، النساء اوانفال سورتونوپه شان څيړی اوله دې سره سره دعقيدې موضوع اوداهل کتابوکيسې بيانوي، ابوميسره وايې چي المائده سورت دقرآنکريم له هغووروستنيونازل شوو سورتونوڅخه دی چي پکښي منسوخ نشته اوسل فريضه شيان پکښي دی. (١)

* دغه سورت هغه وخت نازل شوچي رسول الله ﷺ له حديبې څخه راستنيدلوپه مجموع کښي دغه سورت شرعي احکام راوړی چي اسلامي دولت دغوړيدلوپه پيل کښي وواوالهي منهج ته خورا اړتياوه چي دجوړښت اواستقرارلاراوليکه ورته وټاکي اوله ښوئيدلويې وژغوري.

* هغه احکام چي دغه سورت يې رااخلي لنډيزيې داسی دی: دعقودواحکام ،ذبائح ، ښکار، احرام ،داهل کتابونکاح کول ، ارتداد، دطهارت حکمونه ، دبغاوت اوپه مځکه کښي فساد کولوحکم ، دشرابواوقمار، دقسم کفاره ، په احرام کښی ښکارکول دځنکندن په وخت کښي وصيت کول ، دبحيره او سائبه حکمونه اوپه هغه چاچي دالله په شريعت عمل نه کوي حکم کول اوداسی نور ډيرحکمونه راخي

* دشرعی احکاموسره په مقابله اوجنگ کښي الله تعالی پدې سورت کښي مونږته دپنداو عبرت لپاره څينی کيسې بيانوي لکه چي دبنی اسرائيلوکيسه له موسی عليه السلام سره داهغه کيسه ده چي دتمرد ، طغيان اوسرغړونې نښې پکښې دی اودا ديوموټې سرکښويهودانودعصيان بيلگه ده چي خپل پيغمبرته يې ويل: ﴿ فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴾ [المائده ٢٤] اوهغه څه پکښي راځي چي ددوئ لالهانده ژوندچي څلويښت کاله د(تيه) په صحرا کښي گرځيدل انځوروي.

* وروسته بيادآدم عليه السلام ددووزامنوکيسه راوړي چي دخيراوشردوومختلفوقوتونوجگړه ده کومه چي د(قابيل)او (هابيل) ترمينځ وه اودادبشريت هغه ترټولومړومبي ناکاره عمل اوگناه ده چي دمځکې په مخ ترسره کيږي اوديوبې گناه انسان وينې په ناحقه توئيږي په کيسه کښي دوه نمونې چي يوه دگنهگاراوشرخوښونکي نفس نمونه اوبله بياد سپيڅلی اوغوره نفس بيلگه ده راځی: ﴿ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ [المائده: ٣٠] لکه چي سورت دمائدې کيسه بيانوي هغه چي دعيسی ابن مريم معجزه اودحوارييڼوپه وړاندي څرگنده شوه همداسي سورت ديهودواونصاراووپه باطلوعقائدوکښي شخړوته اشاره کوي چي دوئ الله ته دهغه څه چي ورسره نه ښايې نسبت کول لکه دذوذات اوزامنونسبت ، دوئ عهدونه وعدې ماتولې تورات اوانجيل يې تحريفول دمحمد ﷺ په رسالت کافران کيدل اونورداسي ډيري گمراهی اوباطل عقائديی درلودل په پای کښي سورت دقيامت دورځي يوداسي ويرونکی دريز بيانوي کله چي حضرت مسيح عيسی ابن مريم راوبلل شي اودټولوخلکوپه وړاندي دنصاراوودرسوايې اوتبکيت لپاره څينی وپوښتل شي چي :

---

(١)- القرطبی ٦/ ٣٠

﴿ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ سُبْحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ﴾ المائدة: ١١٦

ياالله ! ستا د دښمنانو لپاره څومره شرمونکي اورسواکونکي شيبه چي له يادولوڅخه يې تورويښتان سپينيږي اوزړونه ريږدي !!

د سورت بهتري:

عبدالله بن عمروبن العاص ﷺ وايي چي: په رسول الله ﷺ سورة المائده هغه وخت نازل شوچي رسول الله سپوروسورلی (مرکب) يې توان اوتحمل ونه لرل اورسول الله ﷺ تري رانبکته شو. (١)

تسميه اونومول يې:

سورت المائده يې ځکه بولی چي دمائدې کيسه پکښي راغلي ده کله چي حواريونوله عيسى ﷺ څخه وغوښتل داسي معجزه څرګنده کړي چي دده دنبوت په رښتنولي دلالت وکړي اوددوئ لپاره اختروی اوپه کيسه کی چي څه ذکرشوي تردي پسي لاعجيبه دی ځکه په ډيرومعجزاتواودالله ﷺ په سترلطف باندي مشتمله ده.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوْفُواْ بِٱلْعُقُودِ ۚ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَٰمِ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۗ إِنَّ
ٱللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴿١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَلَا ٱلْهَدْيَ وَلَا ٱلْقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ
ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَٰنًا ۚ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُواْ ۚ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ
ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن تَعْتَدُواْ ۘ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلْعِقَابِ ﴿٢﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ
وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِٱلْأَزْلَٰمِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ ٱلْيَوْمَ يَئِسَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ۚ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ
ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾ يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ
أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَٱذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ
عَلَيْهِ ۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤﴾ ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ
لَّهُمْ ۖ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ
مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا

(١) أخرجه احمد (٢) البحر المحيط ٣ / ٤١٠ (٣) الطبري ٩ / ٤٢٣

الَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ
وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ
أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ
لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٦﴾
وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ﴿٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ
أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٨﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٩﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٠﴾ ﴾ المائدة: ۱ - ۱۰

لغتونه:

(العقود) دعقد جمع اوهغه په اصل لغت کښې تړلو ته وايې لکه چې وايې (عقد الحبل بالحبل) يعنی يوه رسۍ يې په بله وتړله وروسته بيا دمعانيولپاره استعاره شوی ده زمخشري وايې عقدټينګ عهدته وايې چې درسۍ له ټينګې تړلوسره تشبيه شوي ده (بهيمة الانعام) بهيمه هغه حيوان ته وايې چې خبرې نکوي انعام د(نعم) جمع اوخلوربول ته وايې لکه اوښان ، غوايې اوپسونه (القلائد) دقلادة جمع اوهغه دونې پټ يابل هغه څه ته وايې چې دحرم هديې ته وربغاړه کيږي څو خلګ يې وپيژني چې دادحرم ده ﴿يجرمنكم﴾ باعث دي نه کړي تاسوکسب دی نه کړي تاسولره ويل کيږي (جرم ذنبا) يعنی کسب يې کړه ګناه (شنئان) بغض اوکينې ته وايې (الموقوذة) (وقذ) ديوچادومره وهلوته وايې چې مرګ ته نژدې شی اوآرام ولويږي (النصب) بت اوډبرې ته وايې چې په جاهليت کښې به يې دروله اوهلته به يې چارپايان حلالول جمع يې انصاب راځي اوداخبره په لسان العرب کښې هم راغلی ده (ازلام) د(زلم) جمع او(قداح) ته وايې (چې دغه غشي وی) دوئ به کله چې سفرکاوويابه غزااوسوداګري ته تلل نوپه دغوغشوبه يې فال اچاوو. (مخمصة) لوږه څکه ګيډې دلوږي په وخت کښې ډنګرې شي او(خمص) دګيډو لويدلو او ډنګرتيا ته وايې (الجوارح) ښکارکونکي حيوانات يامرغان لکه سپی ، پړانګ بازاو شاهين

دنزول سبب:

ابن عباس ﷺ وايې چې مشرکانوبه دبيت الله حج کاوواوهدايابه يې وروستلې دشعائرو تعظيم به يې کاوو اوذبائح به يې وړاندی کول مسلمانانواراده درلوده هغه تغيير کړی الله ﷻ داآيت نازل کړ:

﴿يا ايها الذي آمنوا لاتحلوا شعائرالله..﴾ (١)

[1] الطبري ۹-٤٦٣

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَوْفُوا۟ بِٱلْعُقُودِ ﴾ (ای هغو کسانو چي ایمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) پوره کړئ تاسي ګردعهدونه) خطاب دایمان په لفظ دتعظیم اوتکریم لپاره دی اوعقودعامسی لفظ دی چي هرعهداوتړون ته شامل وي هغه که دانسان اودهغه دپروردګارترمینځ وی اوکه دانسان اوبل انسان ترمینځ وی ابن عباس ﷺ وایې عقودعهدونه دی اوهغه عهدونه حلال اوحرام دی کوم چي په قرآن کریم کښي الله له تکالیفواواحکاموبیان کړي دی(۱) ﴿ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلْأَنْعَـٰمِ ﴾ (حلال کړی شوی دی تاسي ته (پس له شرعي ذبحې بې ژبې) چارپایان دانعامو) لکه اوښان، غوایې اوپسونه) ﴿ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ مګرهغه (چي حرام شوي پدې سورت کښي) او لوسعی به شي په تاسي باندي (وروسته له دې نه) چي هغه مړژګه، وینه اودخنزیرغوښه اونور دی.... ﴿ غَيْرَ مُحِلِّى ٱلصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ﴾ حال داچي نه يئ تاسي حلال ګڼونکي دښکارحال داچي تاسي احرام تړونکي یئ !، ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴾ (بیشکه الله حکم کوي (په تحلیل اوتحریم) کښي دهرهغه څه چي اراده وفرمایې) یعنی الله تعالی په خپل مخلوق کښي څرنګه چي غواړي هغسی فیصله کوي ځکه هغه په خپل امراونهی کښي دحکمت خاوند دی ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُحِلُّوا۟ شَعَـٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ (ای هغو کسانو چي ایمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه ګڼئ حلال (مه بې حرمته کوئ) شعائر(نښي ددین) دالله) یعنی دالله محرمات حلال مه ګڼئ اوله حدودوڅخه يې تجاوزمه کوئ حسن رحمه الله وایې چي شعائرهغه شرائع ذی چي الله دبندګانولپاره ټاکلی دی اوابن عباس ﷺ وایې داهغه شیان دی کوم چي داحرام په حالت کښي حرام دی (۲) ﴿ وَلَا ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَلَا ٱلْهَدْىَ وَلَا ٱلْقَلَـٰٓئِدَ ﴾ او(مه بې عزته کوئ) میاشتی حرمت والا(په قتال سره) اومه بې حرمته کوئ) هغه ساکښ چي دکعبې هدیه وي اونه هغه چي په غاړه يې قلاده وی (اودکعبې په لوري بیولې کیږي) چي وپیژندل شي دادکعبې لپاره دی نومه په هغوئ څه تعرض کوئ اومه يې په خاوندانوباندی ﴿ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَٰنًا ﴾ او(مه بی عزته کوئ !) قصد کونکي دبیت الحرام دحج اویادعمرې لپاره حال داچي غواړي دوئ فضل له (جانبه د) رب خپل اودده خوښي) یعنی دحاجیانواومعتمرینوقتال حلال مه ګڼئ چي وربandي چپاوکوئ اویایې له کعبې څخه بندوئ لکه چي به دجاهلیت خلګوکول ﴿ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُوا۟ ﴾ اوکله چي له احرامه حلال شوئ پس تاسي ښکارکوئ ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن تَعْتَدُوا۟ ﴾ اونه دی باعث کړي تاسي دښمني دیوقوم (لپاره) ددي چي منع

---

۱ دغه قول طبری اوزمخشري غوره کړي دی خوارجح يې عموم دی ځکه امرپه وفاکولودهرعهدشوی دی اودغه خبره دالبحرالمحیط مؤلف غوره کړي اویوه ډله مفسرین ورسره ملګري دی ابن اسلم وایې عقودشپږ دی عهدالله ، دالحلف عقد دشراکت عقد ، دنکاح عقداودیمین عقد کذافی تفسیرابن کثیر .

(۲) لومړي قول ارجح دی ځکه آیت عام راغلی دطبری ۺ هغه غوره دی.

کړي ده دوئ تاسي لره له مسجد حرام څخه پدې چي تاسي به تجاوزو کړئ (پرهغوئ په انتقام اخیستلو) ﴿ وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ ۚ ﴾ اومرسته کوئ تاسي یو تربله په نیک کاراو تقوی کښي او په هرڅه کښي چي تاسو الله ته نژدې کوي او تاسي یوله بله مرسته مه کوئ په ګناه او تجاوز ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾ اوویریږئ تاسي له الله څخه بیشکه چي دالله عذاب ډیر سخت دی (هغه چالره چي معَصیت کوي) ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ ﴾ حرام کړی شوی دی پرتاسي (ای مؤمنانو) (خوراک د) مردارحیوان) او(دبهیدونکي)ویني اودغوښي دخنزیر زمخشري وایې چي: دجاهلیت په وخت کښي به خلګو دغه محرمات خوړل یوهغه خیوان چي په خپله به مړشوی (مردارشوي) وواوبل هغه دکولمووینه چي دوئ به کباب کوله اوویل به یې (لم یحرم من فزد) یعنی (فصد) ([1]) معنایې ده دوینې رګ (ورید) غوخول اوداچي دخنزیرغوښه یې پخپله ذکر وفرمایه ددې لپاره چي هغه (بعینه) حرامه ده که څه هم په شرعي ډول ذبح کړل شي ﴿ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ﴾ (اوهغه (حلال کړی شوی حیوان) چي دذبحې په وخت کښي ورباندی) آوازکړی شوی وی بې له (نامه) (دالله) یعنی داچي دالله نوم نه وی وربانډی یادشوي اویادبل چاپه نامه حلال شوي لکه په نامه د(لات) او(عزی) ﴿ وَٱلْمُنْخَنِقَةُ ﴾ اودخفه کړي شوي (په رسۍ اویانوروشیزونوباندی) ﴿ وَٱلْمَوْقُوذَةُ ﴾ اووهلي شوي د کوتک اویاډبري په واسطه ﴿ وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ ﴾ اوغورځیدلی (له غره اویابل لوړځیزنه) ﴿ وَٱلنَّطِيحَةُ ﴾ او دخیرې شوي په وهلودښکر(چي مړه شوی وی) ﴿ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ ﴾ اودهغه چي (ترې) خوړلی وی ځناورانو(اومړه شوي وي) ﴿ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ﴾ مګر (روادی) هغه چي (حلال) کړئ تاسي (اوروح پکښي وي) طبری وایې چي: معنایې داده چي پاکه کړي وي تاسي هغه په شرعي ذبحه سره هغه چي الله پاکونکي ګرزولي ده.

([2]) ﴿ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ ﴾ او(حرام کړی شوی دی) هغه چي حلال کړی شوی وي (په درول شوو ډبروباندي) قتاده وایې چي (نصب) ډبره ده چي دجاهلیت په وخت کښي به خلګو دهغې عبادت کاووا وحلالی به یې ورته کولي الله ﷻ له دې څخه منع وفرمایله. زمخشري وایې چي دوئ دبیت الله په خواوشاکښي یوه ډبره درولي وه په هغې باندي به یې ذبیحې حلالولي اوغوښي به یې ورباندي خپرولې دهغې تعظیم اودرناوی به یې کاوونو الله ﷻ مؤمنان له دغسي کارکولوڅخه منع کړل ﴿ وَأَن تَسْتَقْسِمُوا۟ بِٱلْأَزْلَٰمِ ﴾ (اوداچي تقسیم وکړئ تاسي په غشوسره) یعنی داچي تاسي دخیراو شر وېش په غشورا ایستلو کوئ په کشاف تفسیر کښي راوړي چي کله به دوئ سفر، غزا، سوداګري ، نکاح اویابل مهم کارترسره کاوونوبه یې هغه غښي را ایستل چي ورباندي به لیکلی وو(نهانی ربی) یعنی زه پرودګارمنع کړی یم په بل به لیکلي وو(أمرني ربی) ماته پروردګارحکم کړی دی اوپه بل به یې داسي (کښلي وو)

([1])الکشاف ۱/ ۴۲۹

(غُفل) نو که به امروو کول يې او که به نهى وومنع به يې کوله که چيري به (غفل) راووت بيابه يې له سره قرعه اچوله ﴿ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ﴾ دغه (حرام کار) فسق دى ځکه چي دالله له طاعت څخه وتلى دى او په علم غيب کښي هغه چي الله ﷻ د ځان لپاره غوره کړى ګډيدل دي[1] ﴿ ٱلْيَوْمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن دِينِكُمْ ﴾ نن ورځ ناهيلى شول هغه کسان چي کافران شوي دى له (ګرځيدلود) دين ستاسي نه ابن عباس وايې معنى دا چي ددوئ تمه ختلي ده چي تاسو به ددوئ په دين کېنيي ورګډ شئ ﴿ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ﴾ (نو مه ويريږئ له دغو کفارونه (اى مؤمنانو) او وويريږئ له مانه) يعنى تاسي له مشرکانو څخه مه ويريږئ له مانه وويريږئ زه به تاسو پردوئ غالب کړم او په دنيا او آخرت کښي بُه زه تاسو ته تردوئ لوړتيا درپه برخه کړم ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى ﴾ نن ورځ پوره کړ ماتاسي ته دين ستاسي (په بيانولو دحلال اوحرام سره) اوپوره مى کړپرتاسي (اى مؤمنانو) نعمت (په هدايت اوتوفيق درکولو سمې لاري ته) ﴿ وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾ اوغوره کړماتاسي ته اسلام له جهته ددينه (هغه چي دالله خوښ اوله هغه پرته بل دين نه مني ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ آل عمران: ۸۵ ﴿ فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِى مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ نو هرڅوک چي اړشو (خوراک دحرام شي ته) په سخته لوږه کښي حال داچي نه وي مائل ګناه ته (اونه قصد کونکي دى ته) پس بيشکه الله ښه مغفرت کونکى دګناهونو) ډيررحم والادى. په دى خوراک مو نه مؤاخذه کوي ځکه ضرورات محظورات رواکوي) ﴿ يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ﴾ پوښتنه کوي دوئ له تانه (اى محمده) چي کوم شي حلال کړي شوى دى دوى ته (له خوراکونو څخه) ﴿ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ﴾ ووايه حلال کړي شوي دي (تاسي ته پاک شيان) (اوهغه چي پليت نه وي اوحرام کړي شوي دى ټول مردارشيان لکه ګونګټې اوموږکان اوهغوئ ته ورته ﴿ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ ﴾ او (حلال کړي شوى دى تاسوته ښکار دهغه چي ښوونه کړي وي ورته تاسي له (ټولواقسامو) ښکارکونکو (حيواناتو يامرغانو) څخه (چي هغه سپى وي اوکه نور ښکاري مرغان ﴿ مُكَلِّبِينَ ﴾ چي ښوونه کونکي اوښيې تاسي سپيوته دښکار زمخشري وايې چي مکلب ښکاري شيانوته زده کړه اوروزنه ورکونکي ته وايې اشتقاق يې له کلب څخه راغلى دى ځکه ډېر تأديب دسپيانوکول کيږي[3]) ﴿ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ (چي ښوونه وکړي تاسي ورته له هغه نه چي ښوولى دى تاسي ته الله) يعنى داچي دښکارېنه لاروچارويې روږدي کړي اوداهم يوه ټوټه هغه پوهه ده چي الله ﷻ انسان ته وربښلى ده ﴿ فَكُلُوا۟ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ ﴾ پس خورئ

---

[1] (١) دغه که چيري اشاره يوازى استقسام ته راشي ځکه چي اشاره خورانژدي ته ده چي يادشوي اودا ابن عباس ﷺ قول اوراجح دى طبرى داغوره ګڼلى چي اشاره ګردويادشوومحرماتوته شي اوټول قولونه صحيح دي.

[2] (٢) الکشاف ۱/ ۴۷۱

[3] (٣) الطبرى ۹/ ۵۹۰

تاسي له هغه ښکاره چي نيولى دى تاسي ته (له چارپايانو او مرغانو نه) او دوئ خوړلى نه وي که هغوئ وخوړل نو بيايې خوراک ندى روا لکه چي په حديث شريف کښي راځي: (اذا ارسلت کلبک المعلم فقتل فکل، واذا أکل فلاتأکل فانما امسکه على نفسه) کله چي دى ښکاري سپي واستول او ښکاريې وکړو يې وژل نويې خوره او که چيري يې هغه خوړلى وو بيا يې مه خوره ځکه هغه دځان لپاره نيولى دى)(١) او د(معلم) ښښي دادى چي کله يې واستوي روانيږي او چي راغواړي يې راستنيږي او چي ښکار ونيسي هغه نه خوري او د استولو په وخت کښي به هغه دالله په نامه ليږي دغه څلور سره شرطونه د سپى د ښکار د حلالوالى لپاره تاکل شوي دى ﴿وَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ﴾ او يادوئ تاسي نوم دالله (په هغه ښکاري حيوان کله چي ښکار ته يې ليږئ ﴿وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ﴾ او وويريږئ تاسي له الله نه بيشکه چي الله ډير چابک دى حساب(دده) د بندګانو په مجازات کولو کښي) ﴿ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ نن ورځ حلال کړى شوي دي تاسي ته ټول پاکيزه شيان (له ذبائحو او نورو څخه) ﴿وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ لَّكُمۡ﴾ او(هرقسم) طعام د هغو کسانو چي ورکړل شوي دى دوئ ته کتاب حلال دى تاسي ته (يعنى ديهودو او نصاراوو ذبائح ستاسو لپاره حلال دي ﴿وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ لَّهُمۡ﴾ او(هرقسم) طعام ستاسي حلال دي دوئ ته (پدې کښي څه تاوان نشته چي دوئ ته خوراک ورکړئ او يا يې ورباندي وپلورئ ﴿وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ﴾ او(حلال دى تاسي ته) بى ميړه (پاک لمني) ښځې له مؤمنانو ښځو څخه ﴿وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ﴾ او پاک لمنې (بى ميړه) اصيلې ښځې له هغو کسانو چي ورکړل شوي دوئ ته کتاب له تاسي پخوا (که يهوديانې وي او يا نصرانياني) دغه دجمهورو علماوو رايه ده او عطاء وايي : اوس خو مسلماني ښځي ډيرې دي دغه حکم په هغه پخوا وخت کښي الله دمسلمانانو لپاره روا ګڼلى وو ﴿إِذَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ کله چي ورکړي (دغو ښځوته) مهرونه ددوئ ﴿مُحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَ﴾ حال داچي نکاح کونکي يې تاسي نه زنا کونکي (ښکاره) ﴿وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخۡدَانٖۗ﴾ او نه نيونکي ديارانو (په پټه سره) چي هغه موعشيقاتى او محبوبې وي په پټه ورسره زناوې کوئ. طبرى وايي : چي معنايې داده چي په خلوت کښي به نه وي له هغې محبوبې سره چيَ هغه له ده سره او دې له هغې سره په پټه يارې پالى دځان لپاره يې غوره کړي وى ورسره زنا کوي٢ ﴿وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ او هرڅوک چي کافر(منکر) شو په ايمان (او مؤمن په شرائعو) پس په تحقيق ضائع شو عمل دده او دى به په آخرت کښي له زيان کارانو څخينى وي بيا الله تعالى داو داسه داسباغ په هکله داسى فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ﴾ اى هغو کسانو چي ايمان يې راوړي دى (اى

---

(١) اخرجه البخاري من حديث عدى ابن حاتم.

٢ الطبري ٩ - ٥٩

مؤمنانو) کله چي پاڅيږئ تاسي لمانځه ته (اوبې اودسه يئ !) ﴿ فَٱغْسِلُوا۟ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ ﴾ نوپريمنځئ تاسومخونه خپل اولاسونه خپل ترڅنګلوپوري (سره له څنګلو) ﴿ وَٱمْسَحُوا۟ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ﴾ اومسح وکړئ تاسي پر سرونوخپلو(اووينځئ تاسي) پښې خپلي ترېړکيوپوري (سره له ېړکيو) زمخشري وايي چي د(غايې) راوړل پداسي توګه چي ﴿ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ﴾ يې وفرمايل ددې لپاره دی چي دهغه ګومان دفع وکړي چي وايې په پښومسح کول کيږي ځکه دمسحې لپاره په شريعت کښي د(غايې) تاکل نشته اوهمدارازپه حديث شريف کښي راځي (ويل للاعقاب من النار) يعنې دهغووچوېړکيولپاره اوردي همدغه حديث په هغوکسانوباندي چي وايې پښې پريمنځل کيږي نه بلکه مسح کيږي زمونږدليل دی اوپه آيت کښي ددي خبرې صراحت ځکه شته چي په زبر (نصب)سره راغلی دی او﴿ وَأَرْجُلَكُمْ ﴾ دی چي په مغسول باندی عطف شوي خومسح د پريمنځلي اندامونوپه مينځ کښي يوازی دترتيب دمراعت کولولپاره راغلی دی ﴿ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَٱطَّهَّرُوا۟ ﴾ اوکه وئ تاسي په جنابت کښي نوښه ځان پاک کړئ (ټول بدن پريمنځئ !) ﴿ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ ﴾ اوکه وئ تاسي رنځوران (اوبودرته زيان رسولو) ياپه سفر(کښي وئ) اوبه مونشوای ميندلای ﴿ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ ﴾ ياراغي يوله تاسوڅخه له ځايه دبولو﴿ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ ياجماع وکړئ تاسي له ښځوسره ﴿ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا ﴾ (نوپيدانکړئ تاسي اوبه نوقصدوکړئ تاسي دپاکې خاورې) يعنی کله چي تاسي داوبودلټولووروسته هغه ونه مومئ نوقصدوکړئ دپاکې خاورې لپاره ددې چي ورباندي تيمم ووهئ چي ﴿ فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ﴾ نو(ووهئ لاسونه دوه ځلي پر ځمکه او) ومښئ تاسي (دلاسونه) په مخونوخپلواولاسونوخپلوله هغې (خاورې) څخه دغه څرنګوالی په نبوي احاديثوکښي راغلی دی﴿ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ ﴾ اراده نلري الله (پدې فرض کولوداوداسه ، غسل، اوتيمم چې مقرر کړي پر تاسي څه حرج (تنګوالی ياسختې) .

﴿ وَلَـٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ لکن اراده لری (الله) ددې چي پاک کړي تاسي (له ګناهونواوپليتيو څخه په اوداسه اوتيمم) اوددې لپاره چي بشپړکړی (الله) نعمت (احسان) خپل پرتاسي (داسلامي شرائعو په بيانولو) لپاره ددې چي تاسي شکرګذارشئ ! (د هغو نعمتونوچي شميرېې نشي کيدای ﴿ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَـٰقَهُ ٱلَّذِى وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ اويادکړئ تاسي نعمت(احسان ، رحمت) دالله پرتاسي (چي اسلام دی) نو(يادکړئ) عهدمحکم د الله هغه (عهد) چي محکم والی کړي دی (الله) له تاسي سره په هغه سره کله چي وويل تاسي واوريده مونږ(ويناستا) اوومومانه (فرمان ستا) خطاب دلته دمؤمنانولپاره ده اوله نعمت څخه مراددلته داسلام نعمت دی اوهغه چي دوئ ته دعزت اوکلمې دواړوويارړوکول شوي دی يعنی ای

مؤمنانو د الله ﷺ هغه ستر د اسلام نعمت در په یاد کړئ او هغه عهد چي له تاسو څخه د الله پیغمبر د بیعت په توګه اخیستي او تاسو ورته (سمعاو طاعة) ویلی یعنی په آسانۍ او سختۍ کښي به دی حکم منو ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ او ویریږئ له الله بیشکه چي الله ښه عالم دی په خبرو د سینو او حالاتو د زړونو وربا ندی به جزا در کړي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ﴾ اې هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) محکم ولاړ اوسئ د الله لپاره (په شاهدي ورکولو) د (قوام) صیغه د مبالغې لپاره ده ﴿شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ﴾ (اوسئ) تاسي شاهدان په عدل او انصاف سره ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا﴾ (او باعث دی نکړي تاسي دښمنې د یو قوم پدې باندی چي عدل به ونکړئ تاسي) یعنی ستاسو سخته کرکه او بغض دی تاسو دې ته اړ نه باسي چي د دښمنانو په هکله عدل ونکړي او وربا ندی وبلوسیږئ ﴿اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ﴾ (عدل وکړئ تاسي! هم (دا عدل) ډیر نژدی دی تقوی (پرهیزګاري ته) یعنی ستاسو عدل له هغه چاسره چي ورسره بغض لري دا ستاسي لپاره تقوی کولو ته ډیر نژدی دی ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ او ویریږئ له الله تاسي! (نو ظلم مکوئ) بیشکه چي الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو چي کوئ یې تاسي (نو جزا به ورباندی درکړي) زمخشري وايي پدې کښي ستره تنبیه نغښتی ده هغه داچي څرنګه چي عدل د الله له دښمنانو سره واجب دی هغوئ چي کفار دي او پدغه صفت موصوف وی نو د عدل د وجوب په هکله له مؤمنانو سره چي هغوئ د الله دوستان او اولیان دی څه فکر کوئ؟ (١) ﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ (وعده کړي ده الله له هغو کسانو سره چي ایمان یې راوړي دی او کړي یې دی ښه (عملونه) یعنی الله له مطیعانو مؤمنانو سره وعده کړي ﴿لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ﴾ (چي مقرر دی) دوئ ته مغفرت او اجر ډیر لوي (چي هغه جنت دی) ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ﴾ او هغه کسان چي کافران شوي دی او نسبت د دروغو یې کړی دی آیتونو زمونږ ته همدغه کسان دی ملګري اور (د دوزخ) کله چي الله د متقینو مؤمنانو میشت ځای وښود نو د کافرانو هستوګنځي یې هم یاد کړچي تل ترتله به د جحیم په پوړیو کښي عذاب ویني ابوحیان وايي چي د مؤمنانو لپاره فعلیه جمله استعمال شوي هغه چي په ماضي پښانه کښي د وعدې متضمنه ده او په وقوع باندی دلالت کوي او د کافرانو په هکله اسمیه جمله راوړل شوي هغه چي د دې حکم په ثبوت دلالت کوي او استمرار ورسره دی چي تل ترتله به دوزخ په اور کښي اوسي. (٢)

(١) الکشاف ١/ ۴٧٢
(٢) البحر ٣/ ۴۴١ (٢) زمخشري په کشاف تفسیر کښي راوړي ١/ ۴٧٣.

بلاغت:

پدې آيتونو کښې لاندې صنعتونه شته:

١ - (لاتحلو شعائرالله) پدې کښې استعاره ده اوهغه حلال اوحرام چې بندګان يې دالله دعبادت په توګه منی اوحلال ترسره کوي له حراموڅخه ځان ژغوري له شعيري سره چې علامې ته وايې مشابه ګڼل شوې دی.

٢ - (ولا القلائد) يعنی (ذات القلائد) دلته عطف دخاص پرعام شوي ځکه هغه ترټولودشرافت خاوند همدي دی لکه داعطف چې الله فرمايې: (من كان عدوالله وملائكته ورسله وجبريل وميكل) [البقرة: ٩٨]

٣ - (وتعاونوا على البر والتقوى ولاتعاونوا على الاثم والعدوان) پدې کښې دبديعې محسناتوهغه صنعت خوندی دی چې مقابله يې بولي.

۴ - (وطعام الذين اوتوا الكتاب) دلته راوړل دعام طعام اومقصد يې خاص طعام دی چې هغه (ذبائح) دی.

۵ - (محصنين غيرمسافحين) دلته دطباق صنعت دی ځکه دمحصنين معناپاک لمنی خلګ اودمسافحين معنا زناکاران دي.

۶ - (واذا قمتم الى الصلاة) معنايې داچې اراده وکړي دلمانځه نوله ارادي څخه يې دلته تعبيرپه فعل وفرمايل اومسبب يې دسبب پرځای وډراووچې ترمينځ يې ملابست موجودوو(١) اوهمدارنګه په آيت شريف کښې ايجازبالحذف شته يعنی داچې: (اذاقمتم الى الصلوة وانتم محدثون).

فوائداوګټې:

لومړۍ فائده: حکايت کيږي (الکندی) فيلسوف ته يې ملګروويل ای حکيم صاحب مونږته لکه دغه قرآن غوندی کتاب وليکه هغه ورته وويل سمه ده دځينی قرآن غوندی به يوڅه درته وليکم اوڅوورځې دننه ګوښه شواوبيارابهرشويې ويل: والله چې زماپه وس کښې نشته اونه هم هيڅوک ددې توان لري چې ددی په شان څه وليکي ماقرآنکريم پرانست دمائده سوره مخې ته راغله اوچې ورته مې وکتل دوفاخبري يې کولی له وعدې ماتولوڅخه يې منع کوله بيايې په بشپړه توګه حلال ښودلی وواوبياوروسته يې استثناء کړي وه وروسته الله له خپل قدرت اوحکمت څخه په دووکرښوکښې خبرراوړي وواوهيڅوک نشی کولای چې دادومره شيان په دومره لنډوتورواوجملوکښې راوړي مګرخوټوکه کتابونه وربانديې ډک کړي(١)

دوهمه فائده: دجاهليت ددورسنت اوددودستورپه قومي تعصب بناء ووخواسلام ديوداسې انسانی له برم اوعزت نه ډک فرمان سره راغی چې فرمايې: (وتعاونوا على البر والتقوى ولاتعاونوا على الاثم والعدوان) ددې دواړو ترمينځ خورازيات توپيردی.

---

(١) القرطبی ٦/٣١

دريمه فائده: روايت کيږي چي له يهودانوڅخه يوتن عمربن الخطاب ﷺ ته راغي ورته ويل يې اى
اميرالمؤمنينه ستاسو په کتاب کښي يوداسې آيت چي تاسويې لولئ شته که پرمونږ يهودانوباندې نازل
شوي واى مونږبه همغه ورځ اخترټاکلى وه حضرت عمر ﷺ ورته وويل چي کوم آيت ښيې ؟ هغه ورته
وويل: (اليوم اكملت لكم دينكم...) دآيت ترپايه پورې نوعمر ﷺ ورته ويل زمادى په الله قسم وى چي
ماته هغه ورځ معلومه ده چي پکښي نازل شوي اوهغه ساعت چي په رسول الله ﷺ باندى وحى شوى دى
دانزول دعرفات په مانښام دجمعې په ورځ وو. (١)

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ أَن يَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ
أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ (١١) ۞ وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم
بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ (١٢) فَبِمَا نَقۡضِهِم
مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦۚ
وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ (١٣) وَمِنَ
ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ
وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ (١٤) يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ
قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن
كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ (١٥) يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ
سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ
(١٦) لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ
أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (١٧) وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ
قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ (١٨) يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن

---

(١) أخرجه الشيخان (٢) مختصرابن كثير ١/ ٤٩٢

تَقُولُوا مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ فَقَدْ جَآءَكُم بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٩﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ
لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَٰقَوْمِ ٱدْخُلُوا ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَٰسِرِينَ ﴿٢١﴾
قَالُوا يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾
قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ وَعَلَى
ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُوا يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُوا فِيهَا فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ
فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ
﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

المائدة: ١١-٢٦

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی پدې عزتمن سورت کښې هغه څه ذکرکړل چي د مؤمنانو لپاره یې د احکامو په توګه روا کړي وو او ترڅولوستریې د حلالو او حرامو بیان وو دلته یې بیا هغه نعمت ذکرکړچي هغه دوئ ته د اسلام د سپیځلی دین هدایت او لارښوونه وه او دا چي له دوئ څنی یې د شر او ګناهونو دفع کړي ده له هغه وروسته یې خپل هغه نعمت چي په اهل کتابو (یهودانو او نصاراوو) یې پیرزو کړی او له دوئ څخه یې عهد او پیمان اخیستی خو هغوئ خپلی ټینګې وعدې او ژمنې ماتې کړې دی نو څکه الله د دوئ ترمینځ کرکې او عداوتونه اچولی او دا به د قیامت تر ورځې پورې وي بیا دغه د واړه ډلې د قرآن د نور څلاته را بولې چي ورباندې لاره پیدا کړي او د خاتم النبیین ﷺ په شریعت منګولې ولګوي او دې ته یې هڅوی هغه څه چي د دوئ چټې خیالات او د ګمراهې لارې چارې دی ترشاکړی.

لغتونه:

(نقیبا) نقیب د قوم مشرته وایې هغه چي وخت په وخت د دوئ پوښتنه کوي او له مصالحو او ښیګڼو یې څان خبروي هغه لکه د ټولګي کفیل غوندي وي (وعزرتموهم) تعزیر تعظیم او توقیر ته وایې (سواء السبیل) میانه لار (قاسیة) سختې او هغه چي پکښې خیرنه وی (قاسیة اوعاتیه) دواړه په یوه معنادي (خائنة) خیانت ته وایې او کیدای شي چې د خائن لپاره صفت وي لکه چي وایې (رجل طاغیة) اویا (راویة للحدیث) (فاغرینا) له غراڅخه اخیستل شوي او غرا په یوشي باندی الصاق او پیوستون ته وایې (فترة) انقطاع (یتیهون) تیه حیرانتیا او لالهاند توب ته ویل کیږي.

د نزول سبب: بنونضیرقوم غوښتل په رسول الله ﷺ باندی د میچنی پل راوغورځوي او له هغه او اصحابانو رضوان الله علیهم سره خیانت وکړي نو الله دا آیت نازل کړ: ﴿یاایهاالذین آمنوا اذکروا نعمة الله علیکم اذهم قوم ان یبسطوا الیکم ایدیهم﴾ (١)

---

١ مختصر ابن کثیر ١/ ۴۹۷

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ ﴾ اى هغو كسانو چي ايمان يې راوړي دی ياد كړئ تاسي احسان دالله پرتاسي كله چي يو قوم ددي قصد وكړچي راوغځوي دوئ تاسو ته لاسونه خپل (تاسي مړه كړي) ﴿ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ﴾ نو (الله) منع كړل لاسونه ددوئ له تاسي څخه (تاسويې ددوئ له شرڅخه وژغورلئ ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ﴾ او وويريږئ له الله څخه (داوامروپرامتثال كولواوله نواهيوڅخه يې داجتناب كولو په هكله)﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ اوخاص په الله پس خامخا توكل دی وكړي مؤمنان (څكه هغه يې كافی اومرستندوئ دی بياوروسته الله ديهودانواحوال بيانوي اودهغوئ هغه دعهداوميثاق ماتول راوړي فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَـٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ اوخامخاپه تحقيق اخيستئ ده الله وعده محكمه له بنی اسرائيلو(عهد سره له قسمه) ﴿ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ ٱثْنَىْ عَشَرَ نَقِيبًا ﴾ (اووليږل مونږله دوئ نه دولس تنه مشران) يعنی مونږموسی ته امرور كړچي له دوئ څخه دولس تنه نقيبان واخلی نقيب دقوم مشرته وايې هغه چي دخپل قوم په وعده كولوباندی ضامنان وي زمخشري وايې كله چي بنی اسرائيل دفرعون له هلاک څخه وروسته په مصركښې ځاى په ځاى شول نوالله تعالی ورته وفرمايل چي دشام په هيوادكښې (اريحاء) ته ولاړشي چي هلته كنعاتيان اوسيدل هغه چي جبابره اوسركښه وو الله دوئ بنی اسرائيلوته وفرمايل چي دامځكه مي ستاسولپاره داستقراراوسوكالۍ هستوګنځي ټاكلی تاسي له هغه چاسره چي هلته دي جهادوكړي زه تاسوته نصرت دركوم اوموسی ﷺ ته يې حكم وكړچي له دوئ څخه دولس تنه مشران غوره كړي هغسي وشواوچي دكنعان خواوشاته ورسيدل خلګ يې واستول چي اخبارراټول كړي بياهغوئ چي ددې كارلپاره ګومارل شوي وو ويې ليدل چي كنعانيان دغټ تن اوبدن خاوندان دسترقوت اوشوكت څښتنان دی څينی وبيريدل اوقوم ته راستانه شول داټول حال يې په ټكي په ټكي ورته ووايوسره له دي چي موسی ﷺ ورته ويلی ووتاسوبه حال نه واياست څكه نودوئ وعده ماته كړه اوټولوحال ووايه يوازي دوه تنه پاتی شول چي خبريې لوڅ نكړ.(۱) ﴿ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مَعَكُمْ ﴾ اووفرمايل (الله) (بنی اسرائيلوته) بيشكه زه له تاسي سره يم (په نصرت اومعاونت سره) ﴿ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيْتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ (اوويې فرمايل قسم دي) خامخاكه قائم كړئ تاسي (سم اداكړي له ټولوحقوقو سره) لمونځ اووركړئ زكات) لام دقسم لپاره دی يعنی زماقسم دی ای بنی اسرائيلوكه هغه زمافرض لمونځونه اوزكاتونه اداكړئ ﴿ وَءَامَنتُم بِرُسُلِى وَعَزَّرْتُمُوهُمْ ﴾ اوايمان راوړئ تاسي په رسولانواوتعظيم وكړئ تاسي ددوئ (يايقين وكړئ تاسي په رسولانواومرسته وكړئ ددوئ اوله دښمنانوڅخه يې منع كړئ) ﴿ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ (اوقرض وركړئ تاسي الله ته نيک (دزړه له اخلاصه بی احسانه) يعنی

(۱) الكشاف ۱ / ۴۷۸

انفاق وکړئ دالله په لار کښي دالله دخوښې لپاره ﴿ لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾ (نو خامخا لري به کړم زه له تاسي څخه ګناهونه ستاسي) اودغه ځواب دقسم دی بیضاوي وايي چي دلته دقسم ځواب دشرط دځواب پرځای دریدلی دی (۱) ﴿ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ﴾ (اوخامخا داخل به کړم هرومروزه تاسي (هسي) جنتونو ته چي بهېږي له لاندي (دونو اومانیود) دهغوویالې) داوبو، شیدو، شرابو اوعسلو ﴿ فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ (نو هرڅوک چي کافرشو وروسته له دې (وعدې) له تاسي نه نو په تحقیق ورکه کړي يې ده سمه صافه لاره) یعنی څوک چي وروسته له دغه میثاق نه کافر شول سمه لاره ځینی ورکه او داسی ګمراهان شول چي په ګمراهې کښي يې هیڅ شک نشته ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَـٰقَهُمْ لَعَنَّـٰهُمْ ﴾ نو په سبب دماتولو ددوئ دکلکې وعدې خپلې لعنت وکړمونږ پردوئ) یعنی په سبب دماتولو دعدې مونږ دوئ له خپله رحمته وشړل ﴿ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَـٰسِيَةً ﴾ اوګرځولی دی مونږ زړونه ددوئ سخت (چي د ایمان قبول اومنل نه کوي) (۲) ﴿ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ﴾ (چي اړوي دوئ کلمې (د تورات) له ځایونو خپلو) یعنی داسي يې تأویل کوي چي الله هماغسی نه وي نازل کړي او په الله ﷻ باندی هغه څه تړی چي الله نه وی ویلی (۰) اوتردي ستره ګناه چیرته ده چي دالله ﷻ کلام تغیر کړي ؟ ! ﴿ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ﴾ اوهیره کړي ده دوئ (غته) برخه اخیستل له هغه شي چي پندورکول شوي وو دوئ ته په هغه سره (په تورات کښي) ﴿ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ﴾ (اوهمیشه به یې ته (ای محمده !) چي خبرېږي په کوم خیانت (له دی یهودانو) نه مګرلږکسان له دوئ نه) یعنی ای محمده تل به ته ددوئ په خیانتونو، وعده ماتولو اومکرونوفریبونو خبرېږي ځکه غدراو خیانت ددوئ دوداوعادت دی اوهمدارنګه ددوئ دنیکونو داخوئ ووخولږکسان دی چي هغه داسې نه کوي او هغه مسلمانان دی ﴿ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ (نو عفوه وکړه (ای محمده) ! له دوئ نه اومخ وګرزوه (له دوئ نه) بیشکه چي الله خوښوی احسان کونکي) ددغه آیت حکم دسیف اوجزیې په آیت سره منسوخ دی لکه چي جمهورعلماء وايي ﴿ وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَـٰرَىٰٓ أَخَذْنَا مِيثَـٰقَهُمْ ﴾ (اوځینی له هغو کسانو څخه چي وايي دوئ بیشکه مونږ نصرانیان یواخیستي وومونږ محکم عهد ددوئ) یعنی اوهغه کسان چي دوئ دعوی کړي چي انصارالله دی اوځانونه یې پدی نومولی دی له دوئ څخه هم مونږ کلکه وعده اخیستی چي دالله په توحید اودمحمد په رسالت به ایمان راوړئ ﴿ فَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ﴾ نوهیره کړه دوئ (غته) برخه اخیستل له هغه شي چي پندورکړل شوي ووي دوئ ته) یعنی دوئ هغه

(۱) البیضاوي ص ۱۴۷.
(۲) دادابن عباس قول لکه په بحرکښي راغلی.

دانجيل مأموربه چي دغه ايمان وو پرېښودا او وعده يې ماته کړه ﴿ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ (نو وا چاوو مونږ په مينځ ددوئ کښي دښمنی او کينه ترورځي دقيامته پوري) ابن کثيروايي تل به دغه دنصارا وو طائفي يوله بله دښمنان وي او کېني به پالی يو پربل به لعنت وايي اوهره ډله به بلې ته اجازه نه ورکوي چي معبدته يې ورشي (١) اوهمدارنګه مونږ دلويديزملتونه وينوچي له دي سره سره چي ديو دين پيروان دي خو يو دبل په له منځه ړلو کښي هڅې کوي اووينوچي داتومي بم له جوړولو بياتر هيدروجينې پوري اونوری کيمياوي ډول ډول هلاکونکي وسلې چي عقل يې دتصورامکان نلري چي څومره وراني به رامنځ ته کړي همدوئ جوړي کړي دي (انما يريدالله ان يعذبهم بها في الحيوة الدنيا وتزهق انفسهم وهم کافرون) بياالله تعالی فرمايي: ﴿ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴾ اوژر به خبر ورکړی دوئ ته الله په هغو کارونوچي وودوئ چي کول به يې) دا ددوئ لپاره تهديددی يعنی دخپل بدعمل جزاء به ووينی ﴿ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ ﴾ (ای اهل کتابو ! په تحقيق درغلی دی تاسي ته رسول زمونږ(محمد) چي بيانوي تاسي ته ډيرله هغوشيانوچي وئ تاسي چي پټول به موله کتابه) يعنی له تورات او انجيل څخه لکه درجم آيت يا داصحاب السبت کيسه هغوئ چي بيزوګان مسخ شول.

﴿ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾ اوتيريږي له ډيرو(شيانو) يعنی نه يې بيانوي بلکه هغه څه بيانوي چي دده په نبوت حجت اودليل وي اويايې په رښتنولی شاهدوی که ټول څه بيان کړي تاسي به رسواشئ په تسهيل کښي وايي چي په آيت شريف کښي درسول الله ﷺ د نبوت په صحت باندی دليل دی ځکه هغه څه يې بيان کړي چي ددوئ په کتابونو کښي وو ليکن دوی پټول سره له دې چي رسول الله ﷺ أمي وو ددوئ کتابونه يې نه وو لوستی (٢) ﴿ قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ ﴾ (په تحقيق درغلی دی تاسي ته له (طرفه د) الله څخه نوررڼا اوکتاب مبين) يعنی تاسوته نورچي قرآن دی درغلی داسي رڼاچي دشرک اوکفرتاريکي ليري کوي اوهغه روښانونکي دبيان کتاب هم دی ﴿ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ ﴾ چي هدايت کوي په (هريوه) له دي سره الله هغه چاته چي تابع وي درضادده لارې دسلامتې ته ﴿ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾ اوباسی دوئ له تيارو(دکفراو شرک) څخه رڼا(دايمان ته) (په توفيق اواراده دده سره) ﴿ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ (اوهدايت کوي دوئ ته (په طرف د) لارې سمې (دتوحيد) چي هغه دين داسلام دی وروسته بياالله تعالی دنصاراوو هغه افراط چي دحضرت عيسی ﷺ په باب يې کاوو داسی بيانوي چي دالوهيت مقام ته يې رسولی فرمايي: ﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ﴾ خامخاپه تحقيق کافران

---

(١) مختصرابن کثير١/ ٤٩٨

(٢) التسهيل١/ ١٧٢.

شوي دی هغه کسان چي وايې دوئ بيشکه چي الله هم دامسيح زوی دمريمې دی) يعنی هغه يې الله گرځولی اودادنصاراوويوه ډله ده چي زعم کوي الله په عيسی کښي حل شوي ځکه نومونږددوئ په کتابونوکښي گورو چي دوئ ليکي چي: (يسوع رب راغي) اويسوع ددوئ په نزدعيسی دی (١) ﴿ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ ٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ ووايه (ای محمده ادغونصرانيانوته نوڅوک به مالک شي د(منعې) له الله ځيني ديوشی ؟ که اراده وفرمايې (الله) ددی چي هلاک کړي مسيح زوی دمريمې اوموردده اوهومره خلگ چي په ځمکه کښي دی گردسره ټول (بلکه هيڅوک نشي کولاي !) يعنی ای محمده دوئ ته ووايه چي تاسي دروغ واياست که الله ﷻ دگردوخلگودهلاکت اراده وفرمايې اومسيح اومورېې هم هلاک کړي نوڅوک به يې ځينی وژغوري عيسی ﷺ هم يوفانی کيدونکي بنده دی لکه نورمخلوقات اوڅوک چي داسی وي هغه بياکله له الوهيت سره ښايې که چيري په رښتيا اله وای نوبه يې له ځانه مرگ دفع کړی وای . ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ﴾ اوخاص الله لره دی سلطنت د آسمانونواودځمکې او(سلطنت) دهغوشيانو چي په مينځ ددوئ کښي دی (له مخلوقاتواوعجائبو) ﴿ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ پيداکوي (الله هغه چي اراده وفرمايې دپيداکولو يې) نوځکه يې عيسی بې دده له پلاره پيداکړي دی ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوالله پرهرڅيزباندی (چي اراده وفرمايې) ښه قادردی (هيڅ شی يې عاجزکولای نشي بياوروسته الله ديهودانواونصاراووافتراگانې داسې بيانوي: ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَـٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ ﴾ (اوويل يهودانواونصرانيانوچي مونږ زامن دالله يواودوستان دده يو) يعنی مونږالله ته دومره په منزلت کښي نږدي يولکه زامن چي پلارته نږدي وي اومونږېې دوستان هم يوځکه دده په دين يوا بن کثيروايې چي معناداچي مونږدالله نبيانوته منسوب يواوهغه دده زامن دي.دالله هغوئ ته خاصه پاملرنه شته ځکه نومونږدوستان گڼي (٢) ﴿ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ﴾ (ووايه (ای محمده ! دی کتابيانوته) نوولی په عذابوي (الله) تاسي په سبب دگناهونوستاسي ؟!) يعنی که چيري تاسي هماغسی ياست لکه چي دعوه کوئ دالله زامنِ اودوستان يئ نوولی يې ستاسي لپاره ستاسي دکفراوافتراء په سبب دوزخ تيارکړي دی ؟ ﴿ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ﴾ (بلکه تاسي هم يو بشر(بنی آدم) يئ دهغومخلوقاتونه چي الله پيداکړي دی) اوالله پخپلوټولوبندگانوحاکم دی ﴿ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ﴾ مغفرت کوي (الله) هغه چاته چي اراده وفرمايې د(مغفرت يې) اوعذابوي هغه څوک چي اراده وفرمايې (دعذاب يې) دهغه په حکم اوامردچا اعتراض نشته ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا

(١) البحرالمحيط ٣ / ٤٤٨

(٢) مختصرابن کثير١ / ٤٩٩

بَيْنَهُمَا ۚ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴾ اوخاص الله لره دى سلطنت دآسمانونواوسلطنت دځمكې اودهغو شيانوچي په مينځ ددوئ كښي دى اوخاص هم ده ته دي بياورتلل) يعنى هرڅه دده ترپاچاهى اودده ترحكم لاندي دى اوهم ده ته بيرته ورتلل دى وروسته الله دوئ په خاتم المرسلين باندى ايمان راوړلو ته رابولي فرمايي:

﴿ يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلَىٰ فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ ﴾ (اى اهل كتابو په تحقيق درغلى دى تاسي ته رسول زمونږ(پيغمبرمحمد) بيانوي تاسي ته شرعي احكام په (وخت د) انقطاع درسولانو (اومعطل كيدلودوحى) كښي) اودغه موده چي دعيسى عليه السلام اومحمد ﷺ ترمينځ فترة وو هغه پنځه سوه شپيته كاله وه هيڅ استاذى اوپيغمبرپكښي رااستول شوي نه وو ﴿ أَن تَقُولُوا۟ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ ﴾ (چي بيا چيري ونه وايئ تاسي (په قيامت كښي) چي نه وو راغلى مونږته هيڅ زيرى كونكى (په خير) اونه ويرونكى (په شر) سره) يعنى چي تاسوبيادادليل ونه واياست چي مونږته كوم پيغمبرنه وو رااستول شوي چي دخيرزيري يې راكړي اوله شرڅخه يې ويرولى واى ﴿ فَقَدْ جَآءَكُم بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ ﴾ (نوپه تحقيق راغى تاسي ته زيرى دركونكى اوويرونكى) چي محمد ﷺ دى ﴿ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (او الله په هرشي ښه قادردى) ابن جريروايې چي دهغه چاپه سزاوركولوچي ګناه كوي اويادهغه چا په جزاوركولوچي طاعت كوي الله قادردى بياالله ديهودانوعناداوانكارداسى بيانوي ﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ اذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ (اويادكړه (اى محمده !) هغه وخت چي وويل موسى خپل قوم ته اى قومه (زما) يادكړئ تاسي نعمت دالله پرتاسي باندى) ﴿ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا ﴾ (چي وګرزول الله په تاسي كښي انبياء اووګرزول (الله) له تاسي نه باچهان) يعنى الله تاسوته انبياء رااستول چي ددين لارې چارې درونښيي اوداسى يې سوكاله اوآسوده كړئ چي لكه پاچهان ژوند كوئ هيڅوك په تاسي برلاسى نشته وروسته له هغه چي دفرعون مريان واست هغه درباندى چوپړ وهلوكله چي هغه الله غرق كړتاسوته يې نجات دركړاوله ده څخه يې وژغورلئ بيضاوي وايي په هيڅ امت كښي دومره زيات نبيان ندى را استول شوي لكه په بنى اسرائيلوكښي (١)﴿ وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ الْعَٰلَمِينَ ﴾ (اودربي كړل تاسي ته هغه چي نه يې وووركړي هيڅ يوه ته له خلګو(دزماني ستاسي) لكه چي دوريځې سيوري دمن اوسلوى خوراك اوپه سمندركښي لارې جوړيدل اوداسى نور ډير انعامات اوجائزې ﴿ يَٰقَوْمِ ادْخُلُوا۟ الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِى كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ (اى قومه (زما) ننوځئ تاسي ځمكې پاكي كړي شوي (بيت المقدس) هغه ځمكه چي الله تاسي ته مقرره كړي ده) بيضاوي وايي چي دادبيت المقدس ځمكه ده ځكه يې سپيڅلى بولى چي دانبياآوميشت ځاى اودمؤمنانومسكن وو او د ﴿ الَّتِى كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ معناداچي هغه له تاسوسره وعده شوي ځمكه چي ستاسوله پلارااسرائيل سره شوي

(١) البيضاوي ص ۱۴۸

اوتاكلى شوي وه تاسي ته به دركول كيږي ﴿ وَلَا تَرْتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ﴾ (اوبيرته مه ځئ تاسي په شاوخپلونووبه ګرزئ تاسي زيانكاران) يعنى تاسي ددښمنانوله ويرې شاته مه ځغلئ په تسهيل كښي وايې كله چي موسى ﷺ دوئ ته دننوتلوحكم وكړدوئ له جبابره ووځيني وويريدل او داسي يې وپتېيله چي بيرته مصرته ستانه شي (١) ﴿ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ ﴾ (وويل دغو(بنى اسرائيلو) اى موسى بيشكه پدې ځمكه كښي يوقوم دى ډيرزورور) لوى بدنونه اوچت قامتونه لري مونږله هغوئ سره دجنګ كولوتوان نلرودغه كسان دعاديانودقوم پاتى شونى عمالقه وو ﴿ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُواْ مِنْهَا ﴾ (اوبيشكه مونږله سره نه ورننوځوپه دغې ځمكې كښي ترهغې پورې چي ووزي دوئ له دغې ځمكې نه) يعنى مونږ ترهغونه ورځوځو چي هغوئ يې له جنګه پرته مونږته تسليم نكړي ﴿ فَإِن يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴾ نوكه ووزي دوئ له دى ځايه (بې له جنګه) نوبيشكه مونږ ننوتونكي يو ﴿ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ﴾ وويل دووسړيوله هغوكسانوچي ويريدل (له الله نه) چي انعام كړي ووالله په دوئ دواړو) يعنى كله چي بى زړه شول نودنقيبانوله ډلې دووتنوچي دالله دامرله مخالفت اوعذابه ويريدل دوئ ته يې وويل ﴿ ٱدْخُلُواْ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ ﴾ (چي ورننوزئ پردوئ (حمله كونكي) په دروازه كښي نوكله چي ورننوتئ تاسي دروازې ته نوبيشكه هم داتاسي به غالبان ياست) يعنى دوئ ورته وويل ددې كسانوڅخه مه ويرېږئ بدنونه يې غټ خوزړونه يې كمزوري دى اوچي دالله په حكم په دروازه ورننوتلئ په دوئ به بريالى ياست ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ اوخاص پرالله پس توكل وكړئ تاسي اكه يئ تاسي مؤمنان (په حقه) نوالله به مرسته درسره كوي ﴿ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴾ (وويل دغو(بنى اسرائيلو) اى موسى بيشكه چي مونږله سره نه ننوځودى ښارته هيڅكله خوچي وي دغه (عمالقه) پكښي پس ځه ته او(خي دى) رب ستانوجنګ وكړئ تاسي دواړه بيشكه مونږدلته ناست يو) دغه ددوئ خبره په عصيان اوسرغړونه كښي افراط دى اوتردي اندازې پورى سوء الادب دى چي كفرته رسيږي ځكه دا په الله اوپيغمبرباندى ملنډې وهل اودهغوئ سپكاوي دى څومره ډيرفرق دى ددوئ اومحمدى اصحابورضوان الله عليهم ترمينځ هغوئ چي رسول الله ﷺ ته يې وويل: مونږهسى نه وايولكه بنى اسرائيلوچي ويل بلكه وايوچي لاړشه ته اورب دى جنګ وكړئ مونږله تاسوسره جنګ كونكي ملګري يو ! ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ ووويل موسى ﷺ اى ربه (زما) بيشكه زه مالك نه يم (اختيارنلرم) مګردځان خپل اودورورخپل (هارون) نوبيلتون وكړه په مينځ زمونږ اودقوم دفاسقانوكښي (هغوى چي دفرمان له

(١) التسهيل ١/ ١٧٣

دائرې نه وتلي دی) یعنی پدی وخت کښې موسی ﷺ دعذرپه ډول پداسی حال کښې چې دسفهاوو له کړواو ویلوڅخه بیزاره وودغه خبره وکړه اودالله په عادل حکم یې دجدایې اوبیلتون غوښتنه وړاندی کړه ﴿ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ (نووفرمایل (الله) پس بیشکه دغه (مقدسه ځمکه) حرامه کړې شوي دی پردوئ باندی (تنوتل هغې ته) څلوېښت کاله چې حیران سرګردان به ګرزي دوئ په همدې) ځمکه کښې) معناداچې الله ﷻ موسی ﷺ ته وویل چې ددغې سپیڅلې ځمکې ته ددوئ تنوتل څلوېښت کاله پورې حرام دی ګرزي راګرزي به خولاربه نشی پیداکولای چې ووزي ﴿ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ نو مه خپه کیږه پرقوم فاسقانو) یعنی پردوئ باندی افسوس مه کوه ځکه چې دوئ دعذاب مستحق دی په تسهیل نومي کتاب کښې وایې چې روایت کیږي دوئ به کړی (توله) شپه په تګ کښې تېره کړه کله چې به ګهیځ شونوبیرته به پخپلوهغه پخوانیو ځایونو کښې وو.(١)

بلاغت:

پدې آیتونو کښې چې دبلاغت کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دادی :

١ - (ان یبسطوا الیکم ایدیکم) پدې کښې کنایه ده له نیولواوهلاکولوڅخه اودلاسونو(کف) منعه کول اوبندول ښیې.

٢ - (وبعثنامنهم) پدې کلام کښې دالتفات صنعت دی چې له غیبت څخه تکلم ته راغلی دظاهرمقتضا او غوښتنه خوداوه چې ویل شوي وای (وبعث) لیکن ددوئ شان ته دپاملرنې لپاره دالتفات صنعت راوړل شوي دی.

٣ - (ویخرجهم من الظلمات الی النور) دلته استعاره ده چې ظلمات یې له کفرڅخه اونورله ایمان څخه استعاره کړی دی.

۴ - پدې جمله کښې چې الله ﷻ فرمایې: (وجعلکم ملوکا) بلیغه تشبیه ده یعنی لکه پاچهان غوندی سوکاله ژوند ،ډاډه زړه اوپراخه روزي مې درکړې دتشبیه ادات اووجه شبه دواړه حذف شوي دی.

۵ - دطباق صنعت د(یغفر...ویعذب) ترمینځ.

٦ - اعتراضیه جمله چې وایې (انعم الله علیهما) څوچې په نیکانوبندګانو دالله ﷻ دفضل څرګندونه وشي

فوائداوګټې:

لومړی فائده : مقدسه ځمکه یې ځکه وبلله چې دسپیڅلوانبیاووهستوګنځي ووځکه مکان ته دمکین په سبب سپیڅلتیاورپه برخه شوه.

دوهمه فائده : ځینی عارفانوله ځینوفقهاووڅخه وپوښتل چې دقرآنکریم په کوم ځای کښې داشته چې دوست خپل دوست نه څوروي ؟ هغه چپ شواوځه یې ونه ویل وروسته بیاعارف ورته

(١) التسهیل ٤٧١/١

ولوستل (قل فلم يعذبكم بذنوبكم) نو په آيت كښي دا دليل شته چي محب خپل حبيب ته عذاب او ځورنه ورکوي دا د ول ابن كثير راوړي دى.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا
يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ
﴿٢٨﴾ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ
فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ اللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْءَةَ أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَىٰ
أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ ﴿٣١﴾ مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي
إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا
أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾
إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ
وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا
الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا
إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ أَنَّ لَهُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا
وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيَفْتَدُوا بِهِ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيدُونَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ
وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ
وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ
مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٠﴾﴾ المائدة: ٢٧ - ٤٠

مناسبت او تړاو:

كله چي الله د بنى اسرائيلو هغه سرغړونه چي د الله له امرنه يې د جبارينو د قتال په هكله وكړه ياده كړه وروسى يې د آدم زاد و دوو تنو كيسه راوړه چي يويې قابيل هغه چي د الله له حكمه يې غاړه وغړوله او ناحقه يې خپل ورور ووژه كوم چي الله يې قتل ورته حرام كړي وو نو يهود انو ګواكي په هغه پسى اقتداء كړي هغه چي په مخكه كښي لومړني قاتل او ګنهګار وو د دوئ شرير طبيعت او عصيان د آدم عليه السلام له همدي عاصى اول زوي څخه را اخيستل شوي دى نو د دوئ او هغه د واړه كيسى يو بل ته ورته والى لرى په دواړو كښي تمرد او سرغړونه نغښتى ده بيا وروسته الله تعالى دلاړي وهونكو، شوكونكو، غلو او داړه مارانو هغوئ چي د دولت په امن ورخيژي، د خلكو سر او مال ته زيان رسوى هغه كسان چي دوئ په مځكه كښي فساد اچونكي دى د دوئ سزا بيانوي.

لغتونه:

(قربانا) هغه څه دی چي الله ته دنږديوالی لپاره ترسره کيږي (تبوء) رجوع وکړي ته له (باء)څخه اخيستل شوي اوويل کيږي چي (باء رحله) کله چي څوک خپل منزل ته رجوع وکړي (فطوعت)نو(ښائسته) آسانه يې کړ (يبحث) پلټي (سوأة) عورت (شرمګاه) (ياويلتا) دافسوس اوحيرت کلمه ده سيبويه وايې چي داهغه کلمه ده چي دهلاکت په وخت کښي ويل کيږي (ينفوا) له نفی څخه اخيستل شوي اصل يې هلاک او شړلو ته وايې او ناکاره متاع ته هم ځکه (نفايه) وايې. (خزی) رسوايې اوذلت ته وايې لکه څوک چي وايې (اخزاه الله) الله شرمولی اوسپک کړي دی (الوسيلة) هرهغه څه چي دالله لپاره يې وسيله ګرځوی (نکالا) عذاب.

دنزول سبب:

انس ﷺ وايې دعرينی څخه يوه ډله خلګ رسول الله ﷺ ته راغلل اوهلته په مدينه منوره کښي ناروغه شول بيارسول الله ﷺ دزکات اوښانوته وروليږل چي شيدې اوبولې يې وڅښئ کله چي روغ شول درسول الله شپون يې ووواژه اوښان (چارپايان) يې له ځانه سره بوتلل نورسول الله ﷺ ددوئ په پله پسي خلګ واستول ترڅويې ونيول اورايې وستل وروسته ددوئ لاسونه اوپښې غوڅې شوي سترګې يې ړندې اوپه حره کښي وغورځول شول ترڅومړه شول بيادا آيت نازل شو: (انما جزاء الذي يحاربون الله ورسوله...) دآيت ترپايه([1])

تفسير:

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ﴾ (اوولوله (ای محمده !) په دغونبی اسرائيلو) خبردداړو ځامنو د آدم (چي هابيل اوقابيل وو) په حقه سره) يعنی ای محمده !دغوکينه ګرويهودانواوامثالوته يې دآدم ددووزامنو(چي هابيل اوقابيل) ووکيسه ورپه يادکړه هغه کيسه چي حق اوربښتوني ده ﴿إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ﴾ کله چي نژدې کړه دواړو قرباني نوقبول کړشوله يوه ددوئ نه (چي هابيل وو) اوقبوله نشوه له بله (چي قابيل وو) مفسرين کرام وايې چي سبب ددغې قرباني داووچي دآدم ﷺ به له حواء څخه هر واريوزوئ اويوه لورپيداکيدله اوبل ځل به بيايوزوي اولورپيداکيدله نوبه يې دلومړي ځل لورددوهم ځل هلک ته اوددوهم ځل لوردلومړی ځل هلک په نکاح کوله نوکله چي آدم ﷺ ددي اراده وکړه چي د(قابيل)خور(هابيل) ته په نکاح کړي (قابيل) ونه منله ځکه خوريې د هابيل ترخورښايسته وه نوآدم ﷺ ورته وويل تاسي دواړه قربانی وکړئ دهرچاچي قربانی ومنله شوه هغه به يې په نکاح کوي ، (قابيل) دکښت اوکروندې خاوندوو(هابيل) رمې درلودی نو(قابيل) ناکاره دغنموبرخه اوهابيل ښه چاغ پسه دقربانی دګرته وړاندی کړهغه ووچي د(هابيل) قربانی قبوله شوه اور راښکته شواوهغه يې وسوځوله نودقابيل قهراوغضب لازيات شواوهابيل ته يې دوژلو اخطارورکړ

([1]) القرطبی ۲/ ۱۴۸

داسی چې: ﴿ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ ﴾ (وویل (قابیل) چي خامخابه ووژنم تاهرومرو(ای هابیله) هغه ورته وویل ولې ؟ قابیل ورته زیاته کړه پدې چې ستا قرباني قبوله شوه اوزما قبوله نشوه ها بیل ورته وویل په دی کښي زماڅه ګناه ؟ ﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ وویل (هابیل قابیل ته) چي بیشکه هم دا خبره ده چي قبلوي (الله) قرباني له پرهیزګارانو) دچاچي نیت خالص وی بیضاوي وایې دوژلوتهدیدیې ځکه ورکړچي دهغه قرباني قبوله شوی وه نودده کینه لازیاته شوه اوهابیل خواب ورکړچي داخوستاله خپله لاسه ده زماپکښي څه قصوردی ته تقوی نلری اوپدې کښي دااشاره هم شته چي طاعت له متقی مؤمن څخه پرته له بل چاڅخه نه قبلیږي (٢) ﴿ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ ﴾ قسم دی خامخاکه دې راوغځاوتا(ای قابیله) لاس خپل ماته دپاره ددې چي ووژنی ما نو نه یم زه غځونکي دلاس خپل تاته چي ووژنم تا) ابن عباس ﷺ وایې چي معناداچي زه به دخپل ځان مرسته ونکړم ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (بیشکه زه ویریږم له الله چي رب (پالونکي) دګردوعالمیانودی) یعنی زه لاس ددې لپاره نه درغځوم چي له رب العالمین الله نه ویریږم زمخشري وایې چي (هابیل) تر(قابیل) قوی وخوددالله له ویرې څخه یې دوررله وژلودده وکړه (١) ﴿ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ﴾ په تحقیق زه اراده لرم چي رجوع وکړي (اخته شي) ته په ګناه (دوژلو) زماوګناه خپلی نوشي به ته له ملګرودااورددوزخ) ابوحیان وایې چي معنایې داده که دتقدیرهم دافیصله وی چي زه دی ووژل شم نوزمادا غوره ده چي په مظلوم والی کښي الله راسره مرسته وکړي نه دظالم توب په حالت کښي اوابن عباس ﷺ وایې چي معناداچي زه ستاپه وژلوپیل نه کوم ترڅوته زمادقتل په ګناه اخته شي اوهمدارنګه زماترقتل پخوانی ستاخپله ګناه به هم ستاپه غاړه وي نوته به ددوزخیانوله ډلې څخه شی ﴿ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ اوهمدا(اور) دی جزاء دظالمانو(چي په ناحقه وینی تویوي) دالله دامر عصیان اوسرغړونه کوي ﴿ فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ (نوښایسته کړدغه (قابیل) ته (اماره) نفس دده وژل دورورده (چي هابیل وو) بیاوواژه دغه قابیل) دغه هابیل) نوو ګرځید(قابیل) له زیانکارانو) ابن عباس ﷺ وایې چي هابیل هغه په اور وبیرول خوهغه ونه منل ﴿ فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي ٱلْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوَٰرِي سَوْءَةَ أَخِيهِ ﴾ نوولیږه الله (یو کارغه چي کورغالی یې کاووپه ځمکه کښي په منبوکه اوپنجو خپلوسره) لپاره ددې چي وښیې دغه (قابیل ته) چي څرنګه پټه کړي جثه دوررخپل) مجاهدوایې الله ﷻ دوه کارغان راواستول چي یوله بله سره په جګړه شول ترڅویې یوو واژه بیابیې دهغه دخښولولپاره ځمکه وکیند له اوهغه یې خښ کړاوهابیل دآدم ﷺ لومړي وژل شوی زوي وواوروایت شوي چي کله یې ووژل نوپه بیدیا کښی یې پریښوونه پوهید وڅرنګه یې پټ کړي څویې کارغه ولیدچي خپل

---

(١) الکشاف ٤٨٣/١

والقرطبی ١٤٢/٦ (٢) البیضاوي ١٤٩

(٣) الکشاف ٤٨٥/١

ملګري پښتوی نویې داسی وویل: ﴿ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ ﴾ (وویل (قابیل) ای افسوسه زماراشه دغه دي وخت دی آیاعاجزوم زه له دې نه چي کیدی په شان ددې کارغه (په پوهه کېښي) نوپټه کړي په مي وه جثه دوروړخپل) په خاورو کېښي په شان دهمدې کارغه ؟

﴿ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴾ نووګرځید (قابیل پدې نه پوهیدلو په دفن) له پښیماني کونکوڅخه) نه له قتلولودوروړڅخه ابن عباس ﷺ وایې که چیري یې پښیماني له وژلوڅخه وای نودابه دده لپاره توبه وه

(۱)﴿ مِنۡ أَجۡلِ ذَٰلِكَ كَتَبۡنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفۡسَۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ (په سبب ددې (قتل) لیکلی وو(حکم کړي وو) مونږ پربنی اسرائیلوچي بیشکه شان دادی هرڅوک چي ووژنی یونفس بی له (عوض بدل د) بل نفس نه یابی له فساده په ځمکه کښي) یعنی په سبب ددغې پیښې دقابیل اوهابیل اوظلم دقابیل پخپل ورورباندی مونږ پربنی اسرائیلوحکم کړي ووچي ددوئ نه یوڅوک کوم تن مظلوم ووژنی نه دقصاص په تور اونه هم په بل فساد) ردت اویاقطع طریق له وجهي نه ﴿ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا ﴾ نوګواکي وژلی یې دي خلک ټول ،بیضاوي له یوحدیث څخه په روایت وایې چي څکه هغه دوینودحرمت هتک (پرده دري) وکړه اودوژلولاره یې جوړه کړه خلک یې په وژلو روږدې اوزړوړکړل اومقصدله دي نه دنفس دوژلوتعظیم اوپه زړونوکښي یې سترتوب راژوندی کول دی ترڅو په یوچاتعدی اوتعرض ونکړل شی لکه چي ددې خبرې ترغیب هم دی چي دیونفس بایدساتنه اوپالنه وشي (۲)﴿ وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ ﴾ اوهرچاچي ژوندی کړودغه یونفس (چي سبب دژوندون یې شي) نوګواکي ژوندی کړی یې دی خلک ټول ابن عباس ﷺ ددې آیت په تفسیرکښي وایې: چاچي یوتن چي الله یې وژل حرام کړي وی وواژه داسی مثال لري لکه چي ټول خلک یې وژلی وی اوچاچي یوتن له هلاکت څخه وژغوره اوله وژلویې ممانعت وکړاوحرمت یې دالله له وېرې وساته هغه بیاداسی دی لکه چي ټول خلک یې ژوندي کړي وي (۳)﴿ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ﴾ اوخامخاپه تحقیق راغلی وودوئ ته رسولان زمونږ په حکمونوښکاره) یعنی وروسته له دی چي په بنی اسرائیلومو ددغه سترتشدیدحکم کړي وواوزمونږ استازي په څرګندونښانواوښکاره معجزاتوورته راغلی وو

﴿ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡأَرۡضِ لَمُسۡرِفُونَ ﴾ (بیاپه تحقیق سره ډیرله دوئ نه پس له دی دراتلود رسولانوهم) په ځمکه کښي خامخاله حده تیریدونکي وي) یعنی له دې ټولوویرونکوتهدیدونوسره سره بیاهم دوئ دوژلوپروانکوي ابن کثیروایې ددوئ لپاره په محرماتودعلم سره سره دارتکاب په هکله توبیخ دی اوامام رازي وایې چي: یهودانوسره له دې ستري مبالغې بیاهم دانبیاوو اوپیغمبرانو په وژلواقدام وکړاودا پدې دلالت کوي چي ددوئ زړونه خوراسخت اودالله له طاعت نه بیخې لیري ووا وځرنګه چي ددي کیسوله یادولوڅخه مقصد درسول الله ﷺ دادینه وه

(۱) البیضاوي ۱۵۱
(۲) مختصر ابن کثیر ۱/ ۵۰۹
(۳) التفسیر الکبیر ۱۱/ ۲۱۱

ځکه دوئ په رسول الله ﷺ اواصحابانوباندی دوژونکي حملې عزم کړي وونودبنی اسرائیلوتخصیص پدی سترې مبالغې سره له کلام سره مناسب اودمقصودتائیددی (١) بیاالله تعالی دلاري شوکونکوجزاداسی بیانوي : ﴿ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ بیشکه همداخبره ده چي جزادهغوکسانوچي جنګ کوي دوئ له شریعت دین او دوستانو داالله اودرسول دده سره ﴿ وَيَسْعَوْنَ فِي ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ﴾ اومنډې وهې په ځمکه کښي لپاره دفساد (اوبد امنې وینې تویولو) ﴿ أَن يُقَتَّلُوٓاْ ﴾ چي دوئ ووژلی شي (ددوئ دبغی په سبب) ﴿ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ ﴾ یعنی ووژل شی (اوپه دارکړل شي) صیغه دتکثیرلپاره ده چي دنورولپاره زجرځرګندشي ﴿ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ ﴾ یادی پرې کړل شي لاسونه اوپښې ددوئ سره مخالفې (ښي لاسونه اوکیڼې پښې) ﴿ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ ٱلْأَرْضِ ﴾ یادی وشړلی شي له ځمکې (له یوه ښارنه بل ته (٢) ﴿ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي ٱلدُّنْيَا ﴾ دا(مذکوره جزاء) دغو(غلوته) رسوایې ده په دنیاکښي ﴿ وَلَهُمْ فِي ٱلْأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ او(شته) دغو(غلوته) په آخرت کښي عذاب ډیرلوي (چي داورعذاب دی) ځینوعلماوویلي دي چي دوخت حاکم اختیارلري که یې وژني اوکه یې په دارکوي اوکه یې خوښه وي لاس اوپښې دي ورغوڅي کړي اوکه یې غوښتل له ښارنه دی وشړي اودغه دامام مالک رحمه الله مذهب دی ابن عباس ﷺ وایي ! ددغومحاربینودعمل سره سمه سزاګوښي ګوښي ده که چاوژل کړي وو ، وژل کیږي اوچي هم یې مرګ کړي وی اوهم یې مال وړي وی وژل کیږي اوله وژلووروسته په دارځړول کیږي اوچاچي یوازي مال وړي وي نولاس اوپښه دی مخالفی پری کړل شي اوچي نه یې وژل کړي وي اونه یې مال وړی وی یوازي یې خلګ ترهولی اوویرولی دی هغه دی نفی (وشړل شي) اودغه دجمهوروعلماووقول هم دی ( ) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ عَلَيْهِمْ ﴾ (مګرهغه کسان چي توبه وباسی پخوا له هغه چې قادرشئ تاسی په هغوي باندی یعنی هغه لاری وهونکی ستاسو تر برلاسی له مخه توبه وباسی ﴿ فَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ نوپوه شئ چي بیشکه الله ښه مغفرت کونکي ډیررحم والادی (ځوک چي له ګناه ورروسته توبه وباسی توبه یې مني اوګناه یې ښښي) ورروسته بیاالله تعالی مؤمنانوته دتقوی اونیک عمل دکولوامرکوي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓاْ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ ای هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) ووېرېږئ تاسي له الله اوطلب کړئ ده ته وسیله (په طاعت اوعبادت سره) قتادة وایي : الله ته نژدې شئ په طاعت اوهغه عمل سره چي داالله خوښ وی ﴿ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ اوجهادوکړئ په لاره دده کښي (لپاره داعلاء کلمة الله) لپاره ددی چي په مرادورسیږي (اودتل ترتله نعمت خاوندان شئ) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ

(١)امام شافعی وایي چي له یوښارنه بل ته دی وشړی اودنیولولته دی کوي ترځوهغه په تیښته وی ابوحنیفه یې بندي کیدل بولی ابن جریروایي چي مرادیې شړل اوبندي کول دی.

(٢) الفخرالرازي١١/ ٢١٥

كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ ﴾ بیشکه هغه کسان چې کافران شوي دی که وی دوئ ته هغه (اموال) چې په ځمکه کښې دی ټول او په اندازه ددی نورهم) له دی سره شي ﴿ لِيَفْتَدُواْ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ دپاره ددی چې فدیه کړي دوئ په هغه سره له عذابه دورځې دقیامت څخه نو قبوله به نکړه شی (دافدیه) له دوئ څخه او شته دوئ ته عذاب ډیر دردناک .

﴿ يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴾ غواړی به دوئ چې ووزي دوئ له اوره (ددوزخ) حال داچې نه به وي دوئ وتونکي له هغه اوره او شته دوئ ته عذاب دائم (تل ترتله) په حدیث شریف کښې راځي: دقیامت په ورځ به کافر راوستل شي او داسی به (دالله له لوري) ورته وویل شي آیا که دی دا دمځکې ټول مالونه درلودي هغه به دی ددي ورځې لپاره قرباني کړی وای ؟ هغه به وایې هو(بالکل به مې کړي وای) بیابه ورته وویل شي بیشکه له تاڅخه تردي ډیرآسانه څه غوښتل شوي ووچې له ماسره شریک مه نیسه خو تا ونه منل او بیا اورته داور(په لور) لویدلوامرورکول شي[1] وروسی الله ﷻ دغله جزاداسې بیانوي: ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا ﴾ اوغل(نارینه) اوغله (ښځه) نو پریکړئ تاسي لاسونه ددوئ دواړو ﴿ جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا ﴾ لپاره دجزاء دهغه (قبیح عمل) چې کړی دی دوئ دواړو ﴿ نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ عذاب (له جانبه د)الله ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ډیرقوی ښه حکمت والادی (په ظلم سره دچادلاس پریکولو حکم نه کوي ﴿ فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ ﴾ نوهرچاچې توبه وایسته (له غلا راوګرزیده) ﴿ وَأَصْلَحَ ﴾ اوښه یې کړ(عمل خپل) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ﴾ پس بیشکه الله یې توبه منی (په آخرت کښې عذاب نه ورکوی) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بیشکه الله ډیرمغفرت والادی د(ګناهونو) ښه مهربان دی (په انعام داجراوثواب سره) ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ آیانه پوهیږي (ای مخاطبه) چې بیشکه الله لره د آسمانونو او ځمکې ملکوت او پاچهې ده دلته استفهام دتقریرلپاره دی ﴿ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ په عذابوي (الله) هرهغه څوک چې اراده وفرمایې (دعذاب یې) اومغفرت کوی هرهغه چاته چې اراده وفرمایې (دمغفرت یې) اوالله پرهرشي باندی ښه قادردی (هیڅ شي یې مغلوب کولای نشي).

بلاغت:

١- طباق صنعت لکه په (قتل ...واحیا) او(یعذب ...یغفر) کلماتو کښې.

٢ - مجازلکه پدې کلام کښې چې : (یحاربون الله) دادمضاف په حذف سره راغلی څکه له الله سره خوجنګ نشي کیدای او تقدیرېې داسی دی چې (یحاربون اولیآء الله).

٣ - استعاره لکه چې پدې قول کښې راځي : (ومن احیاها) څکه مقصد دهغه پرینبودل اونه وژل دی اوژوندی کول وروسته له مرګه خویوازي دالله ﷻ په قدرت کښې ده بنده دغه توان نلري.

---

(٢)[1] أخرجه البخاري في كتاب الرقاب.

۴ - تمثيل چي پدى كلام كښي راځي : (ولو ان لهم مافي الارض جميعاومثله ليفتدوا به) زمخشري وايې چي پدى كښي دعذاب دلزوم تمثيل نغښتى دى يعنى په هيڅ شكل له اشكالوهم دوئ څنى نجات نشى موندلاى (۱).

۵ - دسلبي طباق صنعت چي فرمايي : (لئن بسطت ... ما انا بباسط يدي) .

فوائد اوګټي :

لومړۍ فائده : نفى له مخکې لکه څرنګه چي په شړلوترسره کيږي همداسى په بندمحکومولو کښي هم راځي اودغه سبب دى چي امام مالک رحمه الله فرمايې : نفى معنابندى کول څکه هغه له پراخى دنياڅخه يوې تنګې اومحدودې ځيلخانې ته شړل دى.

دوهمه فائده : د(سارق) تر(سارقة) په ړومبى راوړلوکښي اود(زانية)تر(زانى) په ړومبى راوړلو کښي دارازپروت دى چي نارينه په غلاکولوکښي زړه وروي اوزناله ښځوڅخه خورابده اوشنيع وى نودهريوه يادونه يې په مناسب ځاى کښي وکړه.[۲]

دريمه فائده : اصمعى وايې يوه ورځ مى دغه آيت (والسارق والسارقة) لوستل اوترڅنګ مى يواعرابى ناست وو ماسهوا داسى ختم کړچي : (والله غفور رحيم) اعرابى راته وويل داڅه ډول کلام دى ؟ ماورته وويل هودالله ﷻ کلام دى ده وويل دالله کلام هسى نه وى پوښتنه مى څينى وکړه چي ستاقرآن زده دى لولى يې ؟! ويل يې نه ! راته ويې ويل چي بيايې ولوله ماچي راوګرزول متوجه شوم اوداسى مى ولوست : (والله عزيز حکيم) نوويل يې همداسى دالله کلام دى ماورته وويل ته چي قرآن نشى لوستلاى څرنګه وپوهيدى چي ماخطا تلاوت کړ؟! ويل يې عجيبه خبره کوى ! دعزت اوغلبې خاونددى چي حکم يې وکړلاس دى غوڅ شي که چيرى يې مغفرت اورحم فرمايلى واى نوبه لاس نه غوڅيدو (۲)

څلورمه فائده : څينى ملحدينودالله په شريعت انتقادکړى دى چي ولى دغله لاس په لږڅه باندى پرى کيږي په داسى حال کى چي ديت يې خورازيات دى ؟ دحکمت خاوندانوعلماوو ځواب ورکړى چي کله لاس امين وى هرڅو ارزى اوچي کله خائن شى بياذليل اوسپک خوار شى.

دغله دلاس پريکولو په هکله يوه لنډه خبره:

څيني لويديزوال داسلامي شريعت پدې حکم چي دغله لاس بايدغوڅ شي انتقاداوګوت نيونه کوي اوداسي ګومان کوي چي داهسي سخت عذاب له مدنې تولني سره سم نه دى اووايې چي په بندي خانه سزا ورکول کفايت کوي اوددغې فلسفې چي په هيڅ سليم منطق باندى بناء نه وه پايله داښيې چي ورځ په ورځ جرائم زيات شول دداړه اچونکي مخنيوى نه کيږي بنديخانې په مجرمينواولاړې وهونکو(قطاع الطرق)خلکو باندى ډکې دى هغوئ امنيت ته ګواښ دى داستقرارد ښمنان دى څکه کله چي غلاکوي له هيچانه ويريږي پدې بيغمه وى که بندى هم شي خوهلته به خوري اوڅښي جامې به ورکول کيږي اودوضعى قانون تاکلى موده چي تيره کړى بيابه بهرته داسى راوزى چي دجرم لپاره به

(۱) الکشاف۱ / ۴۸۸

(۲) الفخرالرازى۱۱ / ۲۱۲

د يرزړوراو د شرلپاره به پياوړي شوي وی دغه خبره هغه څه چي مونږ يې لولواو يايې اوروتائيدوي او هره ورځ دغه ناورين لا پسی زياتيږي همدغه دبشري کوتاه عقل دعلاج هغه لاره ده چي دداسی يوې ستري ناروغۍ لپاره يې غوره کړي مګرداسلام مقدس دين وکړای شول چي شرله بيخه وباسی ، ديولاس پرې کول دټولو مجرمينواوغلولپاره عبرت دی چي څوک بيادغسی اقدام هيڅکله نه کوي . هو ! څومره له حکمته ډکه تشريع اوتګلاره ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن
قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ
مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ
شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٤١﴾
سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُمۡ أَوۡ أَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ
شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٤٢﴾ وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰةُ فِيهَا حُكۡمُ
ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٣﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا
ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ
فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ
﴿٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ
وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾
وَقَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ
ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلۡيَحۡكُمۡ أَهۡلُ ٱلۡإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ
أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ
وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾ وَأَنِ
ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن
يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ﴿٤٩﴾ أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ﴾

المائدة: ٤١ - ٥٠

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله دبنی آدم کیسه یاده کړه اوداچې یوه وروردله بل وروروسره کینه وکړه اوهغه یې وواژه نووروسته یې بیادغلا ، چورچپاول اوتاړاک حکمونه بیان کړل ورپسی یې دمنافقینواویهودانوهغه کینه چې له رسول الله ﷺ سره یې درلوده راوړه اوهغه ددوئ دبدوپیښنواوحوادثوانتظارچې دپیغمبرﷺ اواصحابانورضی الله عنهم په هکله یې درلود ذکرکړ اورسول الله ﷺ ته یې امروفرمایه چې دانسانیت ددښمنانوله خوا په تکالیفولیدلو دی نه خواشینی کیږي الله ﷺ یې ددوئ له شرڅخه ژغوری اوددوئ له دوکوڅخه یې ساتی اوبیا الله تعالی دتورات نورانی احکام چې ددوئ شریعت ووبیان کړل.

لغتونه:

(یحزنک) (حزن) او(حَزَن) دواړه دخوښحالې ضداوخفګان په معنی دی (السحت) حرام څیزته وایې په دی ونومول شوځکه دوئ طاعات له مینځه وړي اود(سحت) اصل هم هلاکت اوله بیخه ایستل دی الله فرمایې (فیسحتکم بعذاب) یعنی هلاک به کړی تاسي په عذاب سره (الاحبار) له (تحبیر) څخه اخیستل شوي اوتحسین ته وایې مرادځینی علماء دی (وقفینا) وروسته واستاوومونږ(مهیمنا) مهیمن (څارونکي) اوساتونکي له (هیمن) څخه اخیستل شوي اوڅارنې ته وایې اوپه یوشی باندی دلوړاوچت په معناهم دی. (شرعة) تګلاره (منهاجا) روښانه اوڅرګنده لاره.

دنزول سبب:

براء بن عازب وایې چې یوه ورځ درسول الله ﷺ په وړاندی یویهودی راوستل شوچې مخ یې ورتورکړي وواوپه درو یې واهورسول الله ﷺ دوئ راوغوښتل ورته ویل یې آیاستاسوپه کتاب کښې دزانی لپاره هم داحدتاکل شوي دی دوئ ویل هونویې ددوئ له علماوو څخه یوڅوک راوباله اوورته ویل یې په الله ﷺ قسم درکوم هغه چې په موسی یې تورات نازل کړی آیاستاسوپه کتاب کښې دزانی لپاره هم دغه حددی هغه ویل نه اوکه چیری دی لوړه نه وای راکړی دغه حال به می نه څرګنداوو زمونږ په کتاب کښې دزانی (محصن) لپاره رجم حددی خوزنازمونږ په اشرافوکښې ډیره رواج شوه نوکله چې به شریف په زناتورن شومونږ به پریښود اوکه به غریب اوبیوزله زناوکړه مونږ به حدورباندی جاری کاووبیاموداقیصله وکړه چې یوداسی منځنی حدوټاکوچې په ټولو دتطبیق وړوي اوداموداموږمخ په تورولواودرو وهلوبدل کړنورسول الله ﷺ وفرمایل: (اللهم انی أول من أحیا أمرک اذ اماتوه) الهی زه لومړنی څوک یم چې ستاهغه حکم چې دوئ وژلی وومابیرته ژوندی کړ) اوبیایې وړباندی امروکړاوپه رجم یې محکوم کړنوالله داآیت نازل کړ(یاایهاالرسول لایحزنک الذین یسارعون في الکفر)تردې پوری چې: (ان اوتیتم هذا فخذوه) دوئ به ویل چې محمدته ورشئ که یې دمخ په تورولواودرووهلوحکم درته وکړویې منئ اوکه یې په رجم کول درته حکم وکړ نومه یې منئ.[1]

---

[1] رواه مسلم.

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ ﴾ ای (زما) رسوله (محمده !) په غم کښې دې نه اچوي تا (فعل د) هغو کسانو چې تلوار کوي (او عناداً ځانونه غورځوی) په کفر کښې خطاب رسول الله ته د تسليت په ډول دی ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡ ﴾ (له هغو کسانو چې ويل دوئ ايمان راوړي دی مونږ (تش) په خولو خپلو حال دا چې ايمان نه وو راوړي زړونو د دوئ) يعنی هغه منافقين چې ايمان يې له خولې څخه زړونو د دوئ ته تجاوز نه وو کړي ﴿ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ ﴾ (او ځينې له هغو کسانو چې يهودان دی ﴿ سَمَّـٰعُونَ لِلۡكَذِبِ ﴾ ډير اوريدونکي دی (د اباطيلو او منلو دافترا ګانو د احبارو) د پاره د دروغو ويلو (په الله او تحريف د کتاب د ده) ﴿ سَمَّـٰعُونَ لِقَوۡمٍ ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَ ﴾ ډير اوريدونکي (منونکي) دی قوم بل ته چې نه دی راغلی تا ته (د تکبر) د ښمنۍ او بغض له کبله چې د خيبر يهوديان وو او (سماعون للكذب) د بنی قريضه يهودوو ﴿ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ ﴾ اړوي دوئ کلمې د (تورات) وروسته له هغو ځايونو خپلو څخه (چې الله ايښي دي) او مراد د الله د احکامو په نورو احکامو باندې تحريف او تغيير دی ابن عباس ﷺ وايي چې دا په تورات کښې د الله حدود دی چې رجم يې په دروو هلو او مخ تورولو اړولی وو ﴿ يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْ ﴾ (او وايي دغه يهودان خپلو استازيو ته) که درکړي شي تاسي ته دا (محرف حکم) نو وايې خلئ او که چيري درنکړی شو تاسي ته دا حکم نو وويريږئ تاسي (له منلو يې) يعنی که محمد د جلد (په دروو هلو) حکم درکړ و يې منئ او که رجم وو مه يې منئ الله د دوئ په رد کښې و فرمايل:

﴿ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ ﴾ او هر هغه څوک چې اراده وکړي الله د فتنې د ده (ګمراه کول يې) نو له سره به مالک نشی ته (ای محمده) د ده لپاره له الله نه د هيڅ شي (چې فتنه او هلاک تري دفع کړي) ! يعنی هيڅوک د دی توان نلري چې د ده کفر او ضلالت دفع کړي ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ ﴾ دغه (يهودان او منافقان) همغه کسان دی چې اراده نه ده فرمايلی الله چې پاک کړي زړونه د دوئ (له کفر ضلالت نه) د دوئ د بدو کارونو له کبله ﴿ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٌۖ ﴾ (شته) دوئ ته په دنيا کښې ذلت ﴿ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴾ او شته دوئ ته په آخرت کښې عذاب ډير لوي (د دوزخ په اور کښې) ابو حيان وايي چې آيت شريف د رسول الله ﷺ د دادينې لپاره راغلی چې له ده څخه هغه خواشينې سپکه کړي کومه چې: (دغه يهودان او منافقان) به کفر ته په منډه ورتلل او بل داچې ورته وښيې چې د دوئ له فلاح او نجات څخه دی تمه و شکوي (١) ﴿ سَمَّـٰعُونَ لِلۡكَذِبِ ﴾ ډير اوريدونکي دي

(١) البحر ٣ / ٤٨٨.

لپاره ددروغ ويلو (دغه يې د تاكيد او تفخيم لپاره مكرر راوړ) ﴿أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ﴾ ډير خوړونكي د
د حرامو (چي رشوت ، سود او يا نور دغسي شيان دي) ﴿فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ﴾ نو ك
راغلل دوئ تا ته نو پريكړه وكړه په مينځ د دوئ كښي يا مخ وګرزوه له دوئ نه (ته مختاره يې كه حكم كو
او كه ځيني مخ اړوي) ابن كثير وايې چي معنايې داده : كه دوئ تا ته د فيصلې لپاره راغلل په تا باند
حتمي نه ده چي دوئ ته حكم واوروي ځكه دوئ دغه فيصله د حق د پيروى لپاره نه غواړي بلكه داس
فيصله غواړي چي د دوئ له خواهشاتو سره برابره وي(¹) ﴿وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ﴾ او ك
مخ وګرزوي له دوئ نه (او حكم ونكړي) نو له سره به ضرر و نه رسوي دوئ تا ته د هيڅ شي (ځكه الله د
ساتونكي او د خلګو له شر څخه ژغورونكي دى.) ﴿وَإِنْ حَكَمْتَ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلْمُقْسِطِينَ﴾ او كه حكم (پريكړه) دى كو له نو حكم (پريكړه) كوه د دوئ په مينځ كښي په عدل سره) ك
څه هم دوئ ظالمان او د حق له لارې څخه وتلي او ګمراهان وى ځكه بيشكه الله عادلان خوښوي (په حك
كښي چي دوئ ته ثواب وركوي) .وروسته الله تعالى د دوئ هغه د تورات له حكمو نو څخه مخالفت غندي
او داسي فرمايې: ﴿وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ ٱللَّهِ﴾ (او څرنګه به حكم (منصف) وګرځو
تا (اى محمده) حال دا چي په نزد د دوئ تورات دى چي شته په هغه كښي حكم د الله) يعنى اى محمد
دوئ به څنګه تا (منصف) كړى او حكم به دى ومنى حال دا چي د دوئ په وړاندي د تورات (آسمانى
كتاب دى هلته د الله حكم شته خو دوئ ورباندى عمل نه كوى امام رازى وايې چي دغه د الله له جانب
پيغمبر ته تعجب وركول دى چي څرنګه به يهود تا حكم وټاكى سره له دى چي په تورات كښي د زانى پ
حد باندى علم لرى او بيا دغه حكم نه منى نو دوئ له هغه حكمه چي عقيده يې ده دا حق ده ګرزيدلى هغ
حكم ته چي هغه د باطل په عقيده ګنى او د ارخصت بولي نو پدى باندى د دوئ د جهل او عناد څرګندو
كيږي(²) ﴿ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ﴾ بيا ګرځى دوئ (له هغه حكم ستا څخه) پس له هغه (چي دو
ته حق څرګند شو او د دوئ له كتابه سره موافق وو ﴿وَمَآ أُو۟لَـٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ او نه دي دغه كسان باور
كونكي) ځكه دوئ پخپل كتاب تورات ايمان نلري چي ستاله حكمه پداسي حال كښي چي د دوئ له
كتاب سره موافق دي اعراض كوي په تسهيل نومي كتاب كښي وايې چي دغه د دوئ لپاره الزام دى
ځكه څوك چي د الله له كتاب څخه مخالفت كوي او بيا دعوى لري چي مسلمان دى دغه دعوه يې باطله د
(³) الله تعالى د تورات صفت داسى څرګندوى چي: ﴿إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ﴾ بيشكه مونږ نازل
كړى دي تورات چي (شته په هغه كښي هدايت (لارښوونه حق ته) او رڼاده ,چي شرعى احكام ورباندى
څرګند يږي او څوك په اشتباه كښي نه پريږدى ﴿يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟﴾ حكم به كاوه په هغه

(¹) مختصر ابن كثير ١/ ٥١٩.
٢- الفخر الرازى ١١ / ٢٣
٣- التسهيل لعلوم التنزيل ١ / ١٧٨

سره انبیاوود(بنی اسرائیلو) هغوچي حکم منونکی وودوئ (دالله) ﴿ لِلَّذِينَ هَادُواْ ﴾ هغوکسانوته چي یهودیان وو) یعنی حکم به یې کاووپه تورات سره یهودانو ته نه به یې پکښي څه تحریف کاوواونه به یې حکم بدلاوو ﴿ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ ﴾ (اوحکم به کاوو) پرې ربانی عالمانو فقهاوو ﴿ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ (په سبب دهغه شي چي حفاظت یې شوی ووله دوئ څخه چي کتاب (دالله دی) یعنی په سبب دالله دحکم چي دوئ ته شوی وودالله کتاب به له ضائع کېدلواو تحریف څخه ژغوری ﴿ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ ﴾ اووودوئ په هغه شاهدان (څارونکی چي تبدیل اوتغیرپکښي رانشی) ﴿ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ ﴾ اومه ویرېږئ تاسی له خلګونه (ای دیهودوعلماووچي دمحمدصلی الله علیه وسلم نعت پټ کړئ اویارجم)اووویرېږئ له ما(په پټولو دحق کښي) ﴿ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ ﴾ اومه پېرئ تاسي په آیتونو زماقیمت لږ(چي رشوت اخلئ اویاپخپله رتبه ویرېږئ) ﴿ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ اوهرچاچي ونکړحکم په هغه شی چي نازل کړی (لیږلی) دی الله نودغه کسان (هرڅومره چي وی) هم دوئ دی کافران زمخشری وایې څوک چي دالله په نازل شوی کتاب داستهزاء اوملنډې وهلوپه ډول حکم ونکړی نودوئ کافران ، ظالمان اوفاسقان دي دغه ددوئ دظلم وروستی پړاودی چي دالله په آیتونوملنډې وهی اوله احکامویې سرغړونه کوی په نورڅه حکمونه کوی (١) ابوحیان وایې چي ظاهردآیت که څه هم له سیاق څخه یې داسی څرګندېږي چي دیهودانوپه باب دي خوحکم یې عام دی اودټولولپاره دی(٢) اوهرآیت چي دکفاروپه هکله نازل شوی وی دمؤمنانو عاصیان یې په ترڅ کښي راځي ﴿ وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ ﴾ اولیکلی (فرض کړی) وومونږ پردغویهودانو) پدې تورات کښي چي بیشکه نفس دی ووژل شی په (بدل دبل) نفس کښي ﴿ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ ﴾ اوسترګه دی (ړنده شی) په بدل دبلي) سترګي ﴿ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ ﴾ او پوزه دي پرېکړی شي) په (بدل دبلی) پوزی کښي ﴿ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ ﴾ اوغوږدی (پرېکړی شی) په (بدل دبل) غوږکښي ﴿ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ ﴾ اوغاښ دي وایستل شی په (بدل دبل) غاښ کښي ﴿ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ ﴾ اوپرهارونه قصاص د(بدل) دي برابر) یعنی قصاص دي اخیستل کېږي دپرهارونوپه مثل د هغوله جنایت کونکي څخه په کوموکښي چي مماثلت ممکن وي اودهلاک وېره نه وي ﴿ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ ﴾ (نوهرچاچي عفوه وکړه ددي قصاص نودغه عفوه کفاره ده ده ته) ابن عباس وایې چي څوک جانی ته عفوه وکړی دغه تصدق دمطلوب لپاره کفاره اودطالب لپاره اجردی(٣) اوطبری وایې چي: معنایې داده

---

(١) الکشاف ١/ ۴۹۲

(٢)البحرالمحیط ٣/ ۴۹۲

(٣) مختصرابن کثیر١/ ۵۲۲.

خوک چي صدقه وکړي دحق له خاوندانواوعفوه وکړي نو دادهغوئ لپاره کفاره ده اودالله جل جلاله يې ګناهونه وربانډی رژوی ځکه ده عفوه اودحق اسقاط کړی دي (١) ﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴾ اوهرچاچي ونکړحکم په هغه شی چي نازل کړی (ليږلی دی) الله نو دغه کسان هم دوئ دی ظالمان (چي د الله له شرعي څخه يې مخالفت کړی دي) ﴿ وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ اووليږه مونږ وروسته له دغوانبياوو عيسی زوي دمريمي (يعنی دهغوئ دپښوپه منډودی هم روان وو) حال داچي رښتياويونکي وودهغه کتاب چي پخواله ده وو له توراته ﴿ وَءَاتَيْنَـٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ ﴾ اوورکړی وو مونږ ده (عيسی) ته انجيل حال داچي په هغه کښي هدايت وواورڼاوه (چي له شبهاتوڅخه سړی ته ښوونه کوي) ﴿ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ حال داچي رښتياکونکی وودهغه کتاب چي پخوادده وو له تورات) يعنی ددي اعتراف يې کاووچي دغه کتاب دالله له جانبه ده تکراردتاکيدلپاره راغلی دی ﴿ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ اولارښوونکی اوپندوودپاره دپرهيزګارانو ﴿ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ﴾ او(فرمايلی ووالله) حکم دي وکړی اهل (عالمان) دانجيل په هغه شی چي نازل کړی دی الله په هغه (انجيل) کښي ﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾ (اوهرچاچي ونکړحکم په هغه شی چي نازل کړی دی الله نودغه کسان هم دوئ دی فاسقان) سرغړونکي اووتلي له ايمان اوطاعت دالله نه ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ اوليږلی دی مونږتاته (ای محمده !) کتاب (قرآن) په حقه سره ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ ﴾ مصدق دی دهغوچي (نازل شوی دي) په مخ دده کښي له (آسمانی) کتابونوڅخه ﴿ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ﴾ اوساتونکی دی پر(مضامينود) هغه اوحاکم دی په پخوانيو(آسمانی) کتابونو زمخشری وايې چي څارونکی اورقيب دی په ټولوکتابونوځکه داقرآن دهغود صحت اوثبات شاهدی ورکوي (٢)ابن کثيروايې دمهيمن نوم دی ته ورشامل دی او هغه په ټولورومبنيو کتابونوامين ، شاهد اوحاکم دی پدی کتاب (قرآن) کښي الله دپخوانيوکتابونومحاسن خوندی کړی اونور زياتِ مزايا اوکمالات يې ورکړی چي په نوروکښي نشته ﴿ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ نوحکم کوه (ای محمده !) په مينځ ددوئ (خلګو) کښي په هغه شی چي ليږلی دی الله (تاته) (له دغه سترکتاب نه) ﴿ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ﴾ (اومه کوه متابعت د آرزوګانوددوئ (اومه اوړه) له هغه شی څخه چي راغلی دی تاته له حق څخه) يعنی ددوئ دفاسدو غرضونو موافقت مه کوه چي له قرآنی احکاموڅخه اوړی ابن کثير وايې معنايې داده چي له حق څخه مخ

---

(١) الطبری ١٠/ ٣٦٩
٢ - الكشاف ١/ ٤٩٧

مه اړوه چي دناپوهانواوبدمرغه کسانوله هواسره سم ددوئ متابعت وکړی(١) ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ (هرچاته مقررکړی مونږله تاسو(ای امتونو) یوشریعت اولاره روښانه) ابوحیان وایې دیهودولپاره شریعت لویه لاره اودنصاراوولپاره ځانله شریعت اوروښانه لاره چي په احکاموکښي به یې توپیردرلودخومعتقدات به یې سره متحدووچي دالله توحید ، په پیغمبرانواوټولو کتابونواودآخرت په ورځ اوجزاباندی ایمان لرل وو(٢)﴿وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً﴾ (اوکه اراده فرمایلی وي الله نوخامخابه یې ګرځولی وئ تاسی یوامت) په یوه شریعت باندی چي هیڅ احکام به یې دبل نه منسوخ کول ﴿وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ﴾ (اومګر(بیل بیل یې کړل) ځکه چي وازمویې تاسی په هغه کښي چي تاسی ته یې درکړی دي) چي آیادوئ الهی احکاموته غاړه ایږدی اوکه ځنی غاړه غړوی ؟ نویې دشرائعوترمینځ اختلاف راووړچي مطیعین له ګنهګارانوڅخه جلاکړی ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾پس وړاندی شئ تاسی یوتربله نیکیوته) هغه چي ستاسوپه باب خیروی دالله له طاعت نه اودشریعت له متابعت نه ﴿إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ﴾ (خاص طرف دالله ته بیرته ورتله دي ستاسي دټولو) نوخبربه کړی تاسی (په قیامت کښي) په هغه (امرددین) چي وی تاسی په هغه کښي به مواختلاف کاوو)اوجزابه درکړی ستاسی په عملونوباندی﴿ وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾(اولیږلی یې مونږاوداحکم مودرته فرمایلی دی) چي حکم کوه په مینځ ددوئ کښي په هغه شی چي نازل کړی دی الله اومه کوه متابعت دآرزوګانو ددوئ) یعنی داهل کتابوپه مینځ کښي په همدې قرآن حکم کوه ددوئ دناکاره آرزوګانواوهیلو پیروی مکوه ﴿وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾اوویره کوه ! له دوئ نه چي وانه اړوی تاله ځینی هغه شی چي نازل کړی دی الله تاته (ای محمده !) ځکه دوئ خائنان ، کافران اودروغجنان دي ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ﴾نوکه وګرزیدل دوئ (له نازل شووحکمونو) پس پوه شه ته (ای محمده !) چي بیشکه همدا خبره ده چي اراده لری الله چي ورسوی دوئ ته سزاپه دنیاکښي) په سبب دځینو ګناهونوددوئ ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴾ (اوبیشکه چي ډیرله خلګوڅخه خامخافاسقان دی) دالله له طاعت څخه وتلی دحق نه منونکی اوپه ګناهونوکښي غوپه دی) ﴿ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ﴾(آیاپس حکم دجاهلیت غواړی دوئ ؟ استفهام دانکارلپاره دی معنایې داچي آیادوئ ستاله حکمه غاړه غړوی اودالله له حکم نه پرته هغه حکم غواړی کوم چي دجاهلیت دی ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴾ اوڅوک دی ډیرښه له الله څخه له جهته دحکم هغه قوم ته چي یقین لری(په الله یعنی هیڅوک ښه نه دی) یعنی بل څوک شته ؟ تر الله (ج) ښه

---

٢ - مختصرابن کثیر ١/ ٥٢٤
٣ - البحرالمحیط ٣/ ٥٠٢

عادل په حکم کښي او ترهغه رښتوني په بيان کښي او دښه حکمت خاوند په تشريع کښي دهغه چالپاره چي په (العلی الحکيم) ذات ايمان لری!!

بلاغت:

۱-(يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ) د رسالت په لفظ سره خطاب د تشريف او تعظيم لپاره دی.

۲ - (يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ) دلته د (الی) پرځای د (فی) کلمه راوړل شوی چي دې ته اشاره وشی دوئ په کفر کښي تل ترتله اوسی هغه کله هم نه پريږدی او له يوفن څخه يې بل فن ته په تلواره ليږدی[1]

۳ - (سَمَّـٰعُونَ لِلْكَذِبِ) د فعال صيغه د مبالغې لپاره راوړل شوی دی يعنی دوئ د دروغو په اوريدو لو کښي زياته مبالغه کونکی دی.

۴ - (لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ) د (خزی) تنکير د تفخيم لپاره او د (لهم) مکرر راوړل د تأکيد لپاره دی همدارازد (ٱلدُّنْيَا .. والآخرة) د کلماتو په مينځ کښي د طباق صنعت دی.

۵ - (وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ) دلته تعجب د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تحکيم او منصف کولو څخه دی پداسې حال کښي چي دوئ وربانديی ايمان نه درلود او نه يې کتاب مانو.

۶ - (وَمَآ أُو۟لَـٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ) دلته اشاره د بعيد لپاره پدې راغلی چي د دوئ د سرکښي او کبر له کبله درجه ډيره ليری ده.

۷ - (فَلَا تَخْشَوُا۟ ٱلنَّاسَ) خطاب د يهودانو مشرانو او د دوی علماوو ته د التفات په صنعت کښي راغلی چي اصل يې: (فلا يخشوا) دی.

۸ - (فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِ) پدې کښي استعاره ده ځکه دلته يې د نيکی کونکو مشابهت له مسابقې کونکو سره کړی هغوئ چي په آسونو سپاره وي او هريو غواړی تر بل د مخه شی چي مقصود ته ورسيږي.[2]

فوائد او ګټي:

امام فخر الرازی وايې: الله پاک محمد صلی الله عليه وسلم ته په ډيرو ځايونو کښي په (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ) سره خطاب کوي او يوازي په دوه ځايونو کښي يې په: (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ) سره ورته خطاب کړی چي يو يې دلته: (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ) او دوهم يې هم پدې سورت کښي چي: (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ) او دغه خطاب يې له شکه چي د تعظيم او تشريف لپاره دی.

---

۱ - ابو السعود ۲/۲۷

۲ - تلخيص البيان ص/۳۱

تنبيه:

داسلام شهيد سيد قطب (رحمه الله) الله دى وبښي پخپل ظلال القرآن تفسير كښي ددې قرآني آيت په رڼاكښي چي فرمايي: (أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ) داسي راوړي وايي چي دغه دبشرحكم اوديوبنده لپاره دبل بندګي ده ، چي دالله الوهيت نه مني اودهغه له مريتوب څخه دبنده مريتوب ته غاړه ايږدي ؛ دغه دلاري مفرق (بيلتون ځاى) دى چي يابه دالله حكم وي اويادجاهليت ، ددوئ ترمينځ بله لاره اوبديل نشته يابه دالله (جل جلاله) شريعت دخلګوپه ژوند كښي نافذيږى اويابه دجاهليت حكم يعنى دهوا اوهوس شريعت اودغيرالله عبادت اومريتوب دجاهليت زمانه داسي يوه تاكلي موده نه وه بلكه هغه پرون هم وه نن هم شته اوسبابه هم وي اوخلګ به يادالله شريعت مني اوورته به غاړه ايږدي نوپدې وخت كښي به مسلمانان وي اويابه دبشرجوړكړى (وضعى) قوانين په ځان دشريعت په توګه حاكموى چي پداسى حال كښي دوئ دالله له شريعت څخه وتلي اوپه جاهليت كښي ګڼدى (١)

الله تعالى فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي
الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (٥١) فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ ۚ فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ
بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ (٥٢) وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ
جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ (٥٣) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ
يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ
اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (٥٤) إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ
رَاكِعُونَ (٥٥) وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ (٥٦) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا
دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَاءَ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (٥٧) وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ
اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ (٥٨) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا
أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَاسِقُونَ (٥٩) قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ
الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ ۚ أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ (٦٠) وَإِذَا جَاءُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَقَد دَّخَلُوا بِالْكُفْرِ
وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا بِهِ ۚ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا يَكْتُمُونَ (٦١) وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ
مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (٦٢) لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ (٦٣)﴾

---

١ – فى ظلال القرآن ٢ / ١٨٣ په لندډول.

﴿وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌ ۚ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا۟ بِمَا قَالُوا۟ ۘ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَـٰنًا وَكُفْرًا ۚ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۚ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَـٰهُمْ جَنَّـٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾﴾ المائدة: ٥١ - ٦٦

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د اهل کتابو هسې یادونه وکړه چې دوئ په تورات او انجیل عمل کول پرې ایښي وو او پدوئ باندی یې د کفر ظلم او فسوق حکم صادر کړ نو وروسته الله تعالی پدې آیتونو کښې د یهودو او نصارا او وله دوستی څخه منع وفرمایله او وروپسی یې د یهودانو هغه جرمونه کوم چې الله (ج) یې په بدو اقوالو او افعالو باندی متهم کاوو وشمیرل.

لغتونه:

(دائرة) مفرد او جمع یې دوائر راخي او هغه د زماني اوښتل او بلاګانی دی (حبطت) باطل او محو کیدل (تنقمون) تاسی منکریږئ او عیبونه یې وایاست (السحت) حرام او پخواتیر شو (مغلولة) په اتکړیو کښې تړل شوی او له بخل څخه کنایه ده (اطفاها) مړه کړی یې ده خوچې اثریې پاتې نشي (مقتصدة) عادله میانه روی او له قصد څخه اخیستل شوی او هغه عدل ته وایې.

د نزول سبب:

أ: - ابن عباس رضی الله عنه وایې چې: (رفاعة بن زید) او (سوید بن الحارث) اسلام ښکاره کړ خو بیا منافقان شول او ځینی مسلمانانو له دوئ سره د دوستی تعلقات ساتل بیا الله تعالی دا آیت نازل کړ: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾﴾ (١) د آیت تر پایه

ب: - ابن عباس رضی الله عنهما وایې چې څه کسان د یهودانو څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ځنی ویې پوښتل چې په کومو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان لری؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی وویل: ﴿ او من بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِىَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾﴾ البقرة: ١٣٦ معنا دا چې په الله ایمان لرم او په هغه کتاب چې مونږ ته یې رالیږلی او چې ابراهیم او اسماعیل ته یې راستولی آن تر دی چې ویې لوستل (وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ) کله چې یې عیسی علیه السلام ذکر کړ دوئ یې له نبوت څخه انکار وکړ او ویې ویل: زمونږ دی په الله سوګند وی که به د هیڅ بل دین خلګ په دنیا او آخرت کښې تر تاسی خواران وی او یا به ستاسو تر دین

١- اسباب النزول للواحدی ١ / ١١٤

بدتربل دين وی نو الله دا آیت نازل کړ: ﴿قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ ۚ أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ ﴿٦٠﴾﴾ [1]

تفسير:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ﴾ ای هغو کسانو چي ایمان يې راوړی (ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسی یهودیان او نصرانیان دوستان (چي ورسره موالات کوئ) دوئ ته مرسته ورکوئ او له دوئ څخه مرسته غواړئ او له دوئ سره داسی مخالطت کوئ لکه له مؤمنانو سره [2] ﴿بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ﴾ ځینی ځینی د دوئ دوستان دی د ځینونورو (ځکه ټول یو موټی او تاسو ته ګردمتفق دی) لکه چي وایې (ملة الکفرواحدة) ﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ﴾ او هرچاچي دوستی وکړه له دوئ سره له تاسی ځینی نو بیشکه چي دی له همدوئ څنی دي او دده حکم د دوئ حکم دی زمخشری وایې چي دغه دالله له جانبه دهغه چاپه هکله چي د دین مخالف وی تشدید او تغلیظ دی ځکه هغه له دین څخه ګوښه شوی دی او لکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی چي (ولاترای نارهما) دوي دي یو دبل اورونه سره ونهویني [3] ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ (بیشکه الله هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته) یعنی دایمان لورته ورته لارښودنه نه کوی ﴿فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ﴾ نو وبه وینی ته هغه کسان چي په زړونو د دوئ کښې رنځ د (نفاق) دی چي څغلی به په (دوستی) د (دوئ کښې) لکه د (منافقینو رئیس) عبدالله ابن أبی ابن سلول او دده ملګری دوئ به له یهودانو سره دوستانه تعلقات او د دوئ مرسته به یی په خورامنده کوله ﴿يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ ۚ﴾ (وایې به دوئ (دعذرپه ډول) چي ویریږو له دی نه چي وبه رسیږي مونږته کومه حادثه) یعنی دوئ وایې چي مونږ دډوند له ناخوالو ویریږو چي ګنې یهودان به په مسلمانانو برلاسی شی او د محمد په لاس کښې به هیڅ هم نه وی الله د دوئ دفاسد و ګومانونو په رد کښې فرمایې: ﴿فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ﴾ نو نژدی ده چي الله به راتله وکړی په بری (د رسول خپل په تقویت د اسلام سره) او دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو ته دمکې دفتح بشارت او زیری دی [4] ﴿أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ﴾ یا (به راوړی بل) یو حکم له خپل جانبه چي په هغه کښې به د مخلوقاتو هیڅ دخل نه وی لکه د دوئ په زړونو کښې د ویری اچول کوم چي د بنی النضیر په زړونو کښې یې واچوله ﴿فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ﴾ نو او به

١- القرطبی ٦ / ٢٣٣ ، مجمع البیان ٣ / ٢١٤
٢- البحر ٣ / ٥٠٧
٣- الکشاف ١ / ٤٩٩
٤- دا د (السدی) قول دی او ابن عباس رضی الله عنه وایې چي مراد بری د پیغمبر او مسلمانانو په ټولو خلکو دی.

ګرزي دوئ په هغه شي چي پټ کړی دی دوئ په نفسونوخپلوکښي (له دوستي دالله ددښمنانویهودانواونصرانیانوڅخه) ﴿ وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ﴾ اووايي هغه کسان چي مومنان دی (له تعجبه) آیاداهغه کسان دی چي قسمونه کول دوئ په الله سخت قسمونه خپل چي بیشکه دوئ خامخاله تاسی سره دي (په مرسته اوکومک کښي) لکه چي الله له دوئ څخه حکایت کوي(وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ) ﴿ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ ﴾ (نوفرمایي الله) (باطل شول عملونه ددوئ نو وګرځیدل دوئ زیانکاران) یعنی ددوئ عملونه دنفاق په سبب باطل شول اودوی خسرالدنیاوالآخرة وګرځیدل. ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ ﴾ (ای هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) هرڅوک چي مرتدشو(وګرزیدو) له تاسی نه له دین خپل څخه) خطاب دتحذیر(ویرولو) اووعیدپه ډول دی اومعناداچي څوک له خپله حقه دینه وګرزی اوپه بل دین یې بدل کړی یعنی له ایمان څخه کفرته وګرزی (١)﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ﴾ نوعنقریب به راولی الله داسی یوقوم چي محبت کوی (الله) له هغوئ سره اومحبت کوی دوئ له الله سره ﴿ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ ﴾ متواضع او مهربان به وی په مؤمنانوغالب او زبر دست به وی په کافرانوابن کثیروایي چي همدغه دکاملومؤمنانو صفات دي چي خپل مؤمن ورورته متواضع او مهربان اوپه کافرباندی سخت اوزوروروی لکه چي الله فرمایي: ﴿ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ﴾ [الفتح، ٢٩] اودالله د محبت نښه دمؤمن په باب داده چي مهربان اوخواخوږی وی نورومؤمنانوته اوپه کفارومنافقینوباندی زړه ور اوغالب قهرمان وی ﴿ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ﴾ جهادبه کوی دوئ په لاره دالله کښي (لپاره داعلاء کلمة الله اونه به ویریږی دوئ له ملامتیادهیڅ ملامت کونکی ، څکه دوئ به دالله په دین خورامضبوط وی دالله په لاره کښي په خدمت کولوبه له هیچاڅخه نه ویریږي ﴿ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ﴾ دا(مذکوره صفات محموده) فضل دالله اوتوفیق دی ورکوی یې هغه چاته چي اراده وکړی ﴿ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ او الله پراخ دی (فضل، رحمت ، احسان دده) ښه عالم (خبردارپه ټولواحوالو(چي څوک یې مستحق دی) وروسته څرنګه چي الله دوئ دکفاروله موالات څخه وویرول دلته یې دایادونه وکړه چي څوک ددوستانه تعلقاتوپه جوړولوحقداره دی ؟ نوویې فرمایل: ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا ﴾ بیشکه هم داخبره ده چي دوست ستاسی (خاص)-الله اورسول دده دي اوهغه

---

١ – په آیت شریف کښي دځینی مسلمانانو دارتداد خبرتیاده اودغه ترپخواله پیښیدلوڅخه یي اعلام بالغیب دی اوپه تحقیق سره چي له اسلام څخه ډیری ډلګی مرتدې شوی دی ځینی درسول الله (ص) په زمانه کښي ځینی دابوبکرالصدیق (رض) په خلافت کی اودمسیلمة الکذاب تېر بنوحنیفه مرتدان شول اومسیلمة رسول الله (ص) ته داسی ولیکل: (دمسیلمة رسول الله له طرفه لپاره دمحمدرسول الله امابعد: مځکه نیمایې ستااونیمایې زماده) رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی ځواب ورکړ دمحمدرسول الله له خوالپاره دمسیلمة الکذاب امابعد: (فان الارض لله یورثهامن یشاء من عباده والعاقبة للمتقین).

كسان دي چي مؤمنان دی يهوداونصارى ستاسى دوستان نه دى ﴿ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ ﴾ او(صفت كوو) دهغوكسانوچي قائموى لمونځ اوورکوی دوئ زكات اوهم دوئ ركوع كونكى دي اوعاجزى كونكى دى په (لمانځه اوزكات خپل كښې) دالله لپاره ,په تسهيل نومى كتاب كښې وايې چي الله (ج) دولِی لفظ مفردذكركړ چي دالله (ج) دافراد سره سم وى اوبيايې دالله په نوم باندى رسول اومؤمنان دتبعيت په توګه عطف كړل اوكه چيرى يې داسى فرمايلى واي چي (إِنَّمَا أَوْلِيَاؤُكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُ)نو په كلام كښې به اصل اوتبع څرګند نه وو(۱)﴿ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ اوهر څوک چي دوستي كوي له الله اورسول دده سره اوله هغوكسانوسره چي مؤمنان دي نوبيشكه چي ډله دالله همدوئ دي غالبان (په دښمنانوباندي) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا ﴾ اي هغوكسانوچي ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو) مه نيسئ هغه كسان چي نيولى دي دوئ دين ستاسي مسخره اولوبي (يعنى هغه ددين دښمنان چي ستاسي په دين ملنډي وهي دوستان مه نيسئ ﴿ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ ﴾ (له هغو كسانوڅخه چي وركړى شوى دى دوئ ته كتاب پخواله تاسى څخه او(مه نيسئ) كافران (دوستان) يعنى له دغوملنډي وهونكوڅخه يهوديان ، نصرانيان اوټول كافران پداسي حال كښې چي ستاسي دښمنان دي په دوستي يې مه نيسئ بلكه په تاسى لازم دى چي ورسره بُغض اوعداوت وكړئ ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ اوويريږئ له الله څخه(په ترک ددوستى دفجارواوكفاروكښې) كه يئ تاسى مؤمنان په رښتياسره) وروسته الله ددوئ مسخرې څه داډول بيانوي ﴿ وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ﴾ اوكله چي غږكوئ تاسى (خلګ رابولئ) لمانځه ته (يعنى اذان كوئ)نونيسى دوئ هغه لمونځ ياآذان مسخرې اولوبي ، په البحرالمحيط كښې وايې چي يهودانوله رسول الله صلى الله عليه وسلم سره تردې اندازې پورى حسداورخه درلوده چي كله به يې اذان واوريدونوبه يې ويل دانوى كار(بدعت) ده پيل كړى چي پخوانيوانبياوونه كاوودغه نارې دي دڅه وي ؟ ! همغسي لكه چي خر(العياذبالله) نارې وهى خومره بده چيغه اوناره ده نوالله جل جلاله داآيت نازل كړ(۲) نوالله (جل جلاله) ددى تنبيه وفرمايله چي څوک په لمانځه ملنډي وهى هغه په دوستى كولو نه ښايې بلكه هغه بايدورټل اوو شړل شى دغه آيت تاكيدغوندى دى دپخوانى آيت لكه ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴾ دا(په سبب ددي چي بيشكه دوئ يو قوم دى چي هيڅ عقل نلري) يعنى دغه كړنه ددوئ سبب ددي دي چي دوئ فاجران خلګ دى د لمانځه حكمت ورته معلوم نه دي اونه هم دلمانځه په پايله او عاقبت پوهيږي چي څرنګه نفوس سپيڅلى اوپاكوى عقل يې څكه څنى نفى كړچي دوئ په دينې امورو كښې

۱- التسهيل ۱۷۱/۱

۲ -البحر۳ / ۵۱۵ . ابوالسعودوايي چي روايت كيږي په مدينه منوره كښى يونصراني ووكله چي به يې دمؤذن له خولې دغه كلماتى واريدى چي (اشهد ان محمداً رسول الله) نوويل به يې الله دى دروغجن وسوځوى هغه ووچي يوه ورځ يې خادم كورته اوردننه راوړاوپويو بڅركى (سپرغى) څنى والوت دوئ ويده وونوپخپله نصرانى اوټوله كورنى يې وسوځيدله.

ورڅخه ګټه نه ده اخیستی که څه هم دوئ داسی عقلونه خولری چي دژوندنیوی مصالح وربا ندی پیژنی ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ ﴾ وروایه ای محمده !) چي ای اهل کتابو آیا عیب ګڼی تاسی له مونږه او کینه کوی ؟ (یعنی نه کوی) ﴿ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ ﴾ مګرپه سبب ددی چي ایمان راوړی دي مونږپه الله(ج) او پرهغه کتاب چي لیږلی شوی دی مونږته او پرهغو کتابونوچي لیږلی شوی دي پخواله دی نه/ابن کثیروایي چي معنایې داده آیاپه مونږباندی ستاسی له خواله دی پرته بل پیغوراو عیب شته ؟ اوداخوهیڅ عیب اوبدی نه ده نوپدې ډول به استثناء منقطع وبلل شی (۱)﴿ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴾ او(بل په سبب ددي) چي بیشکه زیات له تاسی فاسقان دي)یعنی له سمې صافی لاري وتلی دي ﴿ قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ ﴾ ووایه ای محمده (دوئ ته) آیا خبرکړم تاسی په هغه چاچي ډیربد(عیب لری) له دي چي تاسويې زمونږعیب ګڼئ) ﴿ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ﴾ له جهته دجزاپه نزد دالله (ج) په تسهیل نومی کتاب کښي وایې چي ثواب اوجزایې دعقاب اوعذاب په ځای دتهکم لپاره راوړی ده لکه چي الله فرمایي (فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) ﴿ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ ﴾ (۲) (ډیربد) هغه څوک دی چي الله وربا ندی لعنت کړی دي (له رحمته یې شړلی دي) ﴿ وَغَضِبَ عَلَيْهِ ﴾ (اوغضب یې کړی دی پرهغه)په سبب دکفر دده او په ګناهونودوبیدل دهغه سره له دي چي څرګند دلائل ورته راغلي وو ﴿ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ ﴾ اوګرزولی یې دي له ځینوددوئ څخه بیزوګان (اوله ځینوددوئ څخه) خنزیران ﴿ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ (اوګرځولی یې دي له ځینوددوئ څخه) هغه کسان چي بندګی یې کړی ده دشیطان په طاعت کولوسره ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ همدا(ملعونان) ډیربددی له جهته دځای (چي دوزخ دي) اوډیرګمراه دي له سمې صافی لاري د(حق دین څخه) ابن کثیروایې معناداچي ای کتابیانوچي زمونږپه دین کښي هغه چي دالله توحیدمنواوپه عبادت کښي دالله افرادکووعیب ګڼی نوله تاسوڅخه به داڅرنګه صادرشی پداسی حال کښي چي تاسوپورتنی ذکرشوی ټول کارونه ترسره کړی دي(۳) قرطبیؒ وایې چي کله داآیت نازل شونومسلمانانو دوئ ته وویل ای دخنزیرانواوبیزوګانوورونو ! نودوئ به سرونه کوزو ځړول . ﴿ وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا ﴾ (اوکله چي راشي دا(منافقان له یهودو) تاسي ته وایې دوئ چي ایمان راوړی دی مونږ) اسلام څرګندوي ﴿ وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ﴾ حال داچي ننوتلی دي دوئ (ستاسی په مجلس کښي) په کفرسره اودوئ په تحقیق وتلی هم دي(ستاسی له مجلسه) په کفرسره) دوئ ته ستاپه ویلوهیڅ علمی ګټه نه ده رسیدلی اونه ستا پنداونصیحت په دوئ څه اغیزه کړي ده ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟

---

۱ -مختصرابن کثیر۱/ ۵۳۰
۲ -التسهیل۱/ ۱۸۲
۳ -ابن کثیر۱/ ۵۳۱

﴿ يَكۡتُمُونَ ﴾ او الله ښه عالم دي په هغه چي وودوئ پټول به يې (له نفاقه) اوكفرخخه اوپډې كښي ددوئ لپاره سخت وعيد دى ﴿ وَتَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ ﴾ او ته به وينى ډيرله دغو منافقانو) څخه چي منډى به وهى په ګناه كښي اوپه ظلم كښي ﴿ وَأَكۡلِهِمُ ٱلسُّحۡتَۚ ﴾ اوپه خوراك ددوئ حرامولره ﴿ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ (خامخابددى هغه كارچي كاووبه دوئ) يعنى بددى اعمال اواخلاق د دوئ ﴿ لَوۡلَا يَنۡهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ ﴾ ولى نه منع كوي دوئ ربانى عالمان اوعارفان ﴿ عَن قَوۡلِهِمُ ٱلۡإِثۡمَ وَأَكۡلِهِمُ ٱلسُّحۡتَۚ ﴾ له ويلودوئ دګناه (ددروغوخبرو) اوله خوړلوددوئ دحرامو ﴿ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴾ خامخا ډير بددى هغه كارچي دوئ به كاوو(يعنى سكوت يې له نهى كولودمنكركارونو) ابن عباس وايې چي په ټول قرآن كښي ترډي خوراسخت دتوبيخ بل آيت دعلماوولپاره نشته ابوحيان وايې چي پډې آيت كښي دعلماوواوعارفانوپه چوپتياكله چي دګناهونواومحارموپه وړاندى يې غوره كوي توبيخ نغښتى دى ابن مبارك داسي شعرپېيلي دى وايي:

وهل أفسد الدين الاالملو ك وأحبارسوءورهبانها؟

يعني ايا پرته له پاچهانواوبي عمله عالمانواوپه نامه عارفانوبل چاهم دين ته هومره زيان رسولى دى ؟يعنى نه يې دي رسولي (١)﴿ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ ﴾ (اووو وايې يهودان لاس دالله بندكړى شوى دي) يعنى يهودملعونان وايې چي الله بخيل دي بندګانوته تنګه روزى وركوى ابن عباس وايې چي د(مغلولة) معنا(بخيلة) ده هسى نه چي دوئ ويل دالله لاس تړلي بلكه قصديې داووچي هغه بخيل دي (٢)﴿ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ تړل شوى دى لاسونه ددوئ (دادښيراپه توګه چي دوئ دى په فقراو مذموم بخل اوتنګه روزي اخته وي﴿ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ ﴾ اولعنت كړى شوى دى پردوئ په سبب دهغه چي وايې دوئ .

﴿ بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ ﴾ بلكه (يدين) دده غځول شوى دي يعنى هغه سخى اوانعام وركونكى دي هررنګه چي اراده وفرمايي ﴿ يُنفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُۚ ﴾ روزى وركوى) (هرچاته اوصرفوى يې) هررنګه چي اراده وفرمايې) ابوالسعودوايې : دروزى تنګسيادهغه په فيض كښي دكمبودپه معنانه ده بلكه دهغه نفقه وركول دهغه دارادې تابع ده هغه چي په حكمتونوبناوي اودحكمت تقاضااوغوښتنه داده چي ددوئ دګناهونودبدى په وجه تنګه روزى وركوى(٣)﴿ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۚ ﴾ او خامخازياتوى هرمروډيروته له دوئ نه هغه (قرآن) چي نازل كړى شوى دى تاته له ربه ستاسركښي اوكفر؛ څكه هركله چي كوم آيت نازل شى دوئ ورباندى كافران كيږي اوسركښي يې زياتېږي لكه څرنګه چي خواږه دروغ رمڼ كسانولپاره وى اودناروغانوناروغى زياتوى طبرى وايې چي الله پاك خپل نبى

١- البحرالمحيط ٥٢٢/٣.
٢ - الطبرى ٤٥٢/١٠
٣ -ابو السعود ٢ / ٤٣

(عليه السلام) پدی پوهولی دي چي دغه مذکورکسان دسرکښني اوعصيان خاوندان دي حق ته غاړه نه ايږدی که څه هم په رښتنولی بې پوهيږي خودوئ دعنادله مخی هغه نه منی اوپدې کښني دمحمدرسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره داډينه ده چي پدې خوابدی نشی چي دوئ له الله څخه ليری تللی اودده تکذيب يې کړيدی[1] ﴿ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ (اوغورځولی دی مونږپه مينځ ددوئ کښني عداوت(دښمنی)اونفرت ترورځي دقيامت پوری) نوددوئ خبره يوه نه ده زړونه يې سره بيل بېل دی يودبله سره دښمنان دي اودابه ترقيامته همداسی وی ﴿ كُلَّمَآ أَوْقَدُواْ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ﴾ هرکله چي بلاوودوئ اورلپاره دجنګ (درسول الله نو) مړکاووبه هغه (اور) الله ﴿ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ﴾ اوځغلی دوئ په ځمکه کښني لپاره دفساد اچولويعنی دوئ داسلام اومسلمانانولپاره دوکې او چلونه جوړوی اودمسلمانانوترمينځ دښمنی راپاروی ابن کثيروايې چي ددوئ په ختم کښني داشته چي په مځکه کښني به فسادکوی ﴿ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ اوالله نه خوښوی فسادکونکی، يعنی هغه څوک چي دايې صفت وی دالله خوښ نه دی [2]﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ ﴾ اوکه بيشکه اهل کتاب ايمان راوړی وي په (محمدصلی الله عليه وسلم) اوپرهيزيې کړی وی (له معاصيوڅخه) چي محرمات يې نه کولی ﴿ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾ نوخامخا ليری کړی به وي مونږله دوئ ځنی ګناهونه ددوئ(هغه چي ترسره کړی يې دي) ﴿ وَلَأَدْخَلْنَٰهُمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ (اوخامخانتې ايستلی به وومونږدوئ جنتونودنعمتونو ته) له دې سره سره ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُواْ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ (اوکه بيشکه دوئ درولی وی (احکام) دتورات اوانجيل (داحکاموپه تعميل سره يې) اوهغه (کتاب) چي نازل کړی شوی دی دوئ ته له (جانبه د) رب ددوئ (دمحمدصلی الله عليه وسلم په وسيله) يعنی دالله دامرېې امتثال يي کولی اوپه هغواحکاموچي په تورات اوانجيل کښني راغلی اوهم يې پدغه سترکتاب چي په خاتم الانبياء نازل شوی عمل کولی ﴿ لَأَكَلُواْ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ﴾ نوخامخاخوړلی به يې (ميوې) له پاسه د(سرونو) خپلواو(غلې) له لاندی دپښنوخپلو (دځمکي نه) يعنی الله به پراخ نعمتونه ورکړی وو ﴿ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ﴾ (ځينی له دوئ نه يوامت مقتصد(ميانه تلونکی) دي) يعنی له دوئ څخه يوټولګی مستقيم اومعتدل دي چي نه غلوکوی اونه هم تقصيراوکوتاهی او دوئ هغه کسان دي چي په محمدصلی الله عليه وسلم يې ايمان راوړی دي لکه عبدالله ابن سلام ، نجاشی اوسلمان (رضی الله عنهم اجمعين) ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴾ (اوډيرله دوئ څخه بددي هغه کارچي چي کوی يې دوئ) يعنی ډيرددوئ اشراردي اوبددي هغه اقوال اوافعال چي دوئ يې کوی

۱–الطبری ۱۰/ ۴۵۷

۲–مختصرابن کثير۱/ ۵۳۲

بلاغت:

۱ - (أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ) دلته د(أَعِزَّةٍ) او(أَذِلَّةٍ) ترمينځ دطباق صنعت دي اوهمدارازد(مِن فَوْقِهِمْ) او(وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم) دالفاظوترمينځ هم چي دادبديع له محسناتوګڼل کيږي.

۲ - (لَوْمَةَ لَآئِمٍ) ددي دواړوکلماتوپه نکره راوړلوکښي مبالغه ده ځکه چي (لَوْمَةَ) دلوم ځخه دکرت په معنا ده.

۳ - (إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ) دادتهيج اوپارونې لپاره راغلی ده.

۴ - (هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا) داهغه صنعت دی چي دبيان دعلم علمايې (تاکيدالمدح بمايشبه الذم) بولی اوهمداراز پرعکس ددي ځکه دلته په دين منګولی لګول اوداايمان ساتل دعيب اوپيغورموجب ګڼل شوی اوواقعيت يې برعکس دي.

۵ - (مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ) دادتهکّم په توګه راوړل شوی ځکه ثواب يې دعقاب په ځای استعمال کړی دي.

۶ - (شَرٌّ مَّكَانًا) دشرنسبت يې دلته مکان ته کړی خوپه حقيقت کښي هغه دمکان د اهل لپاره دي اودغه ته (مبالغه فی الذم) وايې.

۷ - (يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌ) دلاس تړل له بخل ځخه کنايه اودلاس غوړيدل اوغځول دسخاځخه کنايه راغلی دي.

۸ - (أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ) (داوربلول له جنګ جګړي ځخه يوه استعاره ده ځکه جنګ خواورنلري خوهغه يې له اورسره مشابه وګڼل لکه چي اورخس اوخاشاک سوځی همداسی جنګ دجنګ خلګ تباه کوی.

۹ - (لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم) دلته هم استعاره راغلی چي دغه يې ګواکي له پراخ رزق اوروزي ځخه اراده کړی لکه چي ويل کيږي هغه يې په نعمت کښي له سره ترپښوونغاړه.

فوائداوګټي:

لومړی فائده: روايت کيږي چي ابوموسی اشعری يونصرانی ليکونکی پخپل حکومت کښي په دنده ګومارلی وواوکله چي حضرت عمرخبرشونويې ابوموسی ته وليکل تاسی نصاراوته عزت مه ورکوئ چي الله سپک کړی دي، دوئ ته امانت مه سپارئ چي دوئ الله خائنان بللی دی؛ دوئ ځانته مه نژدی کوئ چي الله (ج) ليری کړی دي، نوابوموسی ورته وويل: بصره په همدې سړی باندی تکيه ده حضرت عمرورته زياته کړه که نصرانی مړشوبيابه څه کوئ؟[1]

دوهمه فائده: کله چي دابوبکرالصديق رضی الله عنه دخلافت په دوره کښي مسيلمة الکذاب دوحشی په لاس ووژل شونوبه وحشی ويل مادجاهليت په وخت کښي ترټولوخلګوغوره سړی وژلی

---

۱ - البحرالمحيط ۳/ ۵۰۷

اوهمدارازپه اسلام کښي مي بیاترټولو خلکوشریراوبدسړی وژلی دده به قصدپه غوره سړی سره حمزه (رضي الله عنه) اوپه شریرسره مسیلمة الکذاب وو([1])

دریمه فائده : مفسرین وایې چي د(عسی) کلمه چي دالله په کلام کښي راشي واجب ګڼل کیږي ځکه الله کریم ذات دی اوچي کریم چاته طمع ورکړی هغه به هرومروترسره کوي نودادزیری دوعدې په شان دي چي نفس ورپسی تعلق نیسی.([2])

څلورمه فائده : بیضاوی وایې چي دالله (جل جلاله) پدې قول کښي چي فرمایې : (لَوۡلَا يَنۡهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ) ددوئ دعلماووهڅونه ده چي له داسي کولوڅخه يې منع کړي (تکاسلي ونکړي) ځکه کله چي (لولا) په ماضي باندي داخله شي نوتوبیخ يې معناده اوکه چیری په مستقبل باندي داخله شي نوبیاهغه تحضیض افاده کوي

الله تعالی فرمایي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٧ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡۗ
وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۖ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ
٦٩ لَقَدۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ رُسُلٗاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُهُمۡ فَرِيقٗا
كَذَّبُواْ وَفَرِيقٗا يَقۡتُلُونَ ٧٠ وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ
كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ٧١ لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ وَقَالَ
ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ٧٢ لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖۘ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ وَإِن لَّمۡ
يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٣ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ
وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٤ مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ
كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٧٥ قُلۡ
أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا
تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ

---

١ – محاسن التاویل ۲۰۳۴/۲
۲ – الرازی ۱۲/۱۲

ٱلسَّبِيلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوۡ كَانُواْ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾ ﴾ المائدة: ٦٧ - ٨١

مناسبت او تړاو:

کله چې الله مؤمنان د کفارو له موالات څخه وویرول او څرنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت په ترڅ کښې د کفارو د احوالو پیغورا او د مخالفینو عیوب را تلل نو دا لامل وو چې دوی یې د رسول الله او د هغه د اتباعو دښمنی ته د رولی وو څکه الله تعالی په دې آیتونو کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بلنې د تبلیغ امر کوی او ور سره جوخت یې د ساتنې او مرستې وعده ورکوی بیا الله پاک د اهل کتابو فاسد عقائد او ناکاره ګروهې یادوی او په ځانګړې توګه د نصارا و وعقیده چې دوی حضرت عیسی (ﷺ) په الوهیت مانو او هغه یې د دریو دریم ګڼه د دوی دغه ناکاره عقیده یې په څرګندو دلائلو رد کړه.

لغتونه:

(يَعۡصِمُكَ) عصمت ،ساتنې او حمایت ته وایې (طُغۡيَٰنٗا) په ظلم کښې له حد څخه تجاوز ته طغیان وایې (فَلَا تَأۡسَ) مه خواشینی کیږه (أسي) غمګینی ته وایې (خَلَتۡ) د تېرشوو په معنا دي (صِدِّيقَةٞ) صدیق هغه چا ته وایې چې په صدق او رښتنولی کښې د مبالغې حد ته رسیدلی وی لکه چې ویل کیږي (رَجُلٌ سَكِينٌ)یعنی خورا چُپ او یا (رَجُلٌ سَكِيرٌ) یعنی خورا مست (يُؤۡفَكُونَ) له حق څخه ګرزیدونکی او له همدې څخه دی دا چې :(أجئتنا لتأفكنا) (تَغۡلُواْ) له غلو څخه اخیستل شوی او په یو کار کښې تشدد کول او له حد څخه تجاوزکولو ته وایې لکه چې دیو چا په باب وویل شی (غلافي دِينِهِ غُلُوًّا) یعنی سخت دریزه شو په خپل دین کښې آن تر دې چې له اندازې بهر ووت

د نزول سبب:

أ – ابن عباس (رض) وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کله چې الله تعالی په خپل استازیتوب و ټاکلم نو هوسانه وم او پدې وپوهیدم چې ځینی له خلکو څخه به می تکذیب کوی وروسته الله دا آیت نازل کړ: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (١).

ب : - او همدا راز ابن عباس (رض) وایې چې یهودانو یوه ډله نبی صلی الله علیه وسلم ته راغله ورته ویل یې: آیا ته پدې اقرار نکوي چې تورات د الله له لوري نازل شوی او حق دي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته

١-اسباب النزول / ١١۵

وفرمايل هوزه همداسي اقرارکوم نودوئ ورته وويل مونږ په همدی تورات ايمان لرو له هغه پرته په هيڅ کتاب ايمان نه راوړو بيا الله دا آيت نازل کړ: ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ﴾ (ای رسوله (زما) ورسوه ته هغه شی چي نازل کړی شوی دی تاته له (جانبه د) ربه ستا) دغه دتعظيم اوتشريف نداأوچيغه ده چي الله پاک په خوراسپيځلو صفتونو رسول الله (ﷺ) ستايلی چي دخپل رب استاذيتوب (پيغام) ورسوه دهيچاانتظارمه کوه له هيچاڅخه مه ويرېږه چي تاته به زيان ورسوی ﴿ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ﴾ اوکه دي و نه رساوه (تول) نونه دی رسولی تاهيڅ پيغام دده)دغه دابن عباس رضی الله عنهما غوره کړی معناده (١) اوپدې کښې دامت دعلماوولپاره تأديب دی چي دشريعت له احکامو څخه هيڅ هم ونه سپموئ اوپټ يې نکړئ ﴿ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ ﴾ اوالله ساتی تا (له شره) دخلکو ؛زمخشري وايې چي داد الله (جل جلاله) له لوري دساتني اوحمايت زيری ورکول دي معنايې داده چي الله (جل جلاله) ستادساتني ستاله دښمنانو څخه ضمانت کوي نوبياستاسوددوئ په مراقبت کښي څه عذرشته ؟ روايت کيږي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به تردي دمه دساتونکوله خواڅارل کېدوکله چي داآيت نازل شونوله خېمې څخه يې سردباندی راويوست اووېې ويل ای خلکو ! بيرته ستانه شئ بيشکه چي زه الله عز وجل پخپل عصمت کښي وساتلم (٢)﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ بيشکه الله نه ښيي (سمه لار) قوم کافرانو ته) يعنی په تاباندی يوازی تبليغ اورسول دی اوالله (جل جلاله)هغه ذات دي چي لارښوونه کوي چاته چي اراده يې وشی اودچالپاره چي د کفرفيصله يې شوی وي هيڅکله به لاره ونه مومی ﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴾ ووايه ته (ای محمده) چي ای کتابيانو نه يئ تاسی پر هيڅ شی (له حقه دينه) ترهغه پوری چي قائم کړئ تاسی (تول احکام) د(تورات) اوانجيل) په بشپړه توګه او دهغوئ له قائمولو څخه يوداهم دي چي په محمد صلی الله عليه وسلم باندی ايمان راوړئ ﴿ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ اوهغه (کتاب) چي نازل کړی شوی دي تاسوته له (لوری) دربه ستاسی) ابن عباس رضی الله عنه وايې يعنی قرآن کريم ﴿ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴾ اوخامخا زياتوي هرومرو ډيروته له دوئ څخه هغه شي چي نازل کړی شوی دی تاته له جانبه ذرب ستا(قرآن زياتوی دوئ ته) سرکښي او کفر) لام دقسم لپاره دی معناداچي زه قسم کوم چي دغه پرتامنزل قرآن دوئ ته په انکار

١ - القرطبی ٢/ ٢۴٢

٢-الکشاف ١/ ۵١۴

او ستادنبوت په تکذیب کولواودوئ ته په کفراوګمراهی کښي زیاتوب ورکوی[۱] ﴿ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَٰفِرِينَ ﴾ (نومه خفه کېږه (افسوس مکوه) په قوم دکافرانو) یعنی پدوئ مه خفه کیږه ځکه د انبیآوو تکذیب ددوئ عادت اودوددی دغه درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره دادینه اوتسلا اوله غمګینی څخه نهی نه ده[۲] ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئُونَ وَالنَّصَارَىٰ ﴾ بیشکه هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی (په الله اورسول الله (ص) باندی چي مسلمانان دي) اویهودیان اوهغه ترسایان (دنصاراوو هغه ټولی ته چي دستوروعبادت یې کاوو) اونصرانیان چي دعیسی علیه السلام پیروان دي (ددوئ حکم هم داسی دي) ﴿ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا ﴾ هرڅوک چي ایمان راوړي په الله اوپه ورځ آخره (دقیامت) اوعمل وکړی نیک (چي الله ته یې نژدی کړي) ﴿ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (نونشته (هیڅ قسم) ویره په د وئ باندی اونه به دوئ (هیڅکله) خفه کیږي) یعنی نه به دوئ دقیامت دورځي له کړاوونو ویریږي اونه به کله چي دالله له لوزی پراخ نعمتونه اوثوابونه ووینی په هغه پاتی شوودنیایې څیزونوخوابدی کیږي[۳] ابن کثیروایې چي هره ټولۍ به داسی وی چي په الله اودقیامت په ورځ ایمان راوړی صالح اعمال ترسره کړی خودا پردی شرط چي دمحمدی شریعت سره موافق وي هغه چي انسانانواوپیریانانوته راغلی دي نوکله چي داسی ایمان ولری اواعمال ترسره کړی بیابه نه په قیامت ویریږي اونه به خوابدی کیږي چي ترشایې څه پرېږي ایښي وی[۴] ﴿ لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ (خامخاپه تحقیق اخیستی ده مونږ وعده ټینګه له بنی اسرائیلو) یعنی مونږله یهودوڅخه ټینګ عهداخیستی چي په الله اودهغه په پیغمبرانوبه ایمان راوړی په البحرکښي وایې چي دغه دعهدنقض اوماتول دیهودانو داسلافو او پخوانیو څخه اخباردي کوم چي دوئ دالله سره کړی وعده ماته کړی اوسترګناهونه یې کړی انبیاء علیهم السلام یې دروغجن بللی اوځینی له هغوئ څخه یې وژلی دي دغه یهودان هم دهغوئ اولاددي نوځکه دارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ضرراوځوررسول اویایې له امرڅخه عصیان ددوئ داسلافومنل شوی دوددي[۵] ﴿ وَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَاءَهُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنْفُسُهُمْ ﴾ اولیږلی وومونږدغوبنی اسرائیلو) ته رسولان (چي ددین امورورونښیې اوسمې لاري ته یې رهبری کړی) هرکله چي به راغی دوئ ته کوم پیغمبرپه (هغه شرعی حکم) سره چي نه خوښاوو(هغه حکم) نفسونوددوئ (اومخالف به ووله شهوتونوددوئ سره) ﴿ فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴾ ځینی (رسولان) یې دروغجن وګڼل اوځینی رسولان به یې وژل بیضاوی وایې چي د (قتلوا)

۱-الطبری ۱۰/ ۴۷۴
۲-القرطبی ۶/ ۲۴۵
۳-الطبری ۱۰/ ۴۸۲
٤-مختصرابن کثیر۱/ ۵۳۵
٥-البحرالمحیط ۳/ ۵۳۱

پرځای یې (یقتلون) کلمه ځکه راوړه چي دماضی حال حکایت داستحضارلپاره وشی ترڅودقتل اووژلو فضاعت څرګنداوپدې تنبیه راشی چي دغه ددوئ پخوانی عادت دی په راتلونکی کښي به یې هم وي اودآیتونودپیل موافقت هم پکښي مراعات شوی دي ﴿ وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ ﴾ (اوګومان کړی دغو(بنی اسرائیلو) ددې چي نه به وی (نه به رسیږي دوئ ته) هیڅ فتنه) یعنی دوئ) بنی اسرائیلو) داسی انګیرله چي دانبیاووپه وژلواودپیغمبرانوپه دروغجن ګڼلودوئ ته هیڅ بلااوعذاب نه رسیږي دوئ دالله په مهلت ورکولوغره شوی دی ﴿ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ﴾ پس ړانده اوکانه شول یعنی دوئ په 5
فساداوسرکښي کښي دومره غوپه شول چي د حقي لاري لیدلوڅخه ړانده اودحق له اوریدلوڅخه کاڼه شول دغه ددوئ سمي لاري ته نه رهبري کیدل یې له ړندوکڼوسره تشبیه کړی دی ﴿ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ﴾ (بیارجوع (په رحمت سره) وکړه الله په دوئ باندی) قرطبی وایې چي په کلام کښي اضمار(پټ توری) شته هغه داچي الله دوئ ته فتنه ورولیدله اودوئ توبه وکښله الله یې توبه قبوله کړه (١)﴿ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ ﴾ (بیاړانده اوکاڼه شول (دحق له لیدلواواوریدلو څخه) ډیرله دوئ څنی) یعنی وروسته دحق له څرګندیدلودوهم ځلي بیاړانده اوکاڼه شول ﴿ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴾ (اوالله ښه لیدونکی (عالم) دي په هغوکارونوچي کوي یې دوئ) دادداوئ لپاره وعیداو تهدیددی له دي وروسته الله تعالی دګمراه نصرانیانو عقائدداسي څیړي ﴿ لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ ﴾ (خامخاپه تحقیق کافران شوی دي هغه کسان چي وایې دوئ (له ډیره جهله) چي بیشکه الله همدغه مسیح زوي دمریمی دی) ابوالسعودوایې چي دغه دیهودانوله قبائحو وروسته دنصرانیانوپه تفصیل شروع اوپیل دی چي ددوئ دفاسدواقوالوبطلان دي هغوئ (یعقوبیه) ډلګی به ویل چي (مریمي) اله وزیږاوو اوداسی ګومان یې کاووچي الله تعالی دحضرت عیسی په ذات کښي منحل او ورسره متحدشو(تعالی الله عن ذلک علوًاکبیرًا) (٢)﴿ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ ﴾ (اوویل به مسیح چي ای (اولاددیعقوبه !) عبادت کوئ تاسی (یوازی دهغه) الله چي رب دی زمااوستاسی) هغه ذات چي هرڅه دده په وړاندی ذلیل اوهرموجود ورته عاجزاوخاشع دی ابن کثیروایې چي لومړنی هغه کلمه چي حضرت عیسی عليه السلام په کوچنیوالی کښي وویله داوه چي (انی عبدالله) اوداسی یې ونه ویل: (انی انا الله) اویا(ابن الله) بلکه ویل یې: (انی عبدالله اتانی الکتاب وجعلنی نبیا) (٣) قرطبی وایې چي الله (جل جلاله) په دوئ باندی په غوڅه توګه دلیل راووړچي دوئ ورباندی اقرارکوی نوویې ویل: ﴿ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ ﴾ نوکله چي مسیح وایې یارب یاالله بیابه

١-القرطبی ٦/ ٢۴٨
٢-ابو السعود ٢/ ۴٩
٣-ابن کثیر ١/ ۵٣٦

څنګه خپل ځان په الوهيت ستايي ؟ دغه محال دى (۱) ﴿ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ ﴾ بيشکه شان دادى هرچاچي شريک ونيوله الله سره (په عبادت کښي بل شى) نو په تحقيق حرام کړى دي الله په ده باندى جنت) يعنى څوک چي دغيرالله په ألوهيت عقيده لرى نوهغه به هيڅکله جنت ته داخل نشى ځکه جنت دموحدينو هستوګنځي دى ﴿ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُ ﴾ اوځاى دده اورود(دوزخ) دى ﴿ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ﴾ (اونشته ظالمانوته هيڅ مدد کونکى) له اوره ژغورونکى چي عذاب ځنى دفع کړى ﴿ لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖ ﴾ (خامخاپه تحقيق کافران شوى دي هغه کسان چي وايي دوئ بيشکه الله دريم له دريو (معبودانو) څخه دى) دوئ نصرانيانويوه ډله ده چي النسطوريه اوملکانيه يې بولى چي عقيده لري الهيت(ددريوتنوترمينځ مشترک دى) الله ، عيسى اومريم اوهريوله دوئ ځنى اله دى ځکه نوددوئ دغه خبره چي وايي (الاب والابن وروح القدس) مشهوره شوى دى(۲) ﴿ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ﴾ حال داچي نشته بل هيڅ لائق د عبادت مګر(خو شته) معبوديو(چي الله دى) په وحدانيت موصوف اوله سيال اومثال نه منزه او متعال دى ﴿ وَإِن لَّمۡ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ ﴾ اوکه وانه وښتل دوئ له هغې خبري چي وايي (يعنى دتثليث له عقيدې) ﴿ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ (نوخامخاوبه رسيږي هرومروهغوکسانوته چي کافران شوي دى له دوئ ځنى عذاب دردناک) په دنيااوپه آخرت کښي ﴿ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥ ﴾ آيانوتوبه نکوى دوئ الله ته اونه غواړى ښنه له ده څخه ؟) استفهام دتوبيخ لپاره دي معناداچي آياله دغوباطلوعقائدوڅخه توبه نکوي او له دي ناروا ويلوچي الله ته داتحاداوحلول نسبت کوي ښنه نه غواړى ؟ ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ (اوالله ښه مغفرت کونکى (د خطيئاتو) ډيرمهربان دي) يعنى مغفرت ورته کوي اوورباندى رحم کوى که دوئ توبه وباسى بيضاوى وايي چي پدى استفهام ﴿ أَفَلَا يَتُوبُونَ ﴾ کښي ددوئ په کفرباندى داصرارکولوڅخه تعجيب دي ﴿ مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ ﴾ (ندى مسيح زوي دمريمى مګريورسول دي (اوځداى نه دى اګرکه پلارنلري اومړى ژوندى کوي) په تحقيق تېرشوى دي پخوا له ده څخه (نوړډير) رسولان) يعنى ندى مسيح مګررسول لکه نورپيغامبران چي دي مړى ژوندي کوى همداسى به دموسى عليه السلام په لاس کښي لکړه ژوندي کيدله هغه به ښامارجوړه شوه هغه تردي خوراعجيبه وه اوکه دى بې پلاره زيږيدلى اوپيداشوى دي نوپه تحقيق سره چي آدم عليه

۱-القرطبى ۲/ ۲۴۹

(۲) سدى وايي چي دغه آيت ددوئ په هکله نازل شوى چي دوئ به مسيح اومورېي له الله سره دوه خدايان يوځاى کول نو الله به يې ددريومعبودانودريم ګاڼه اوپه البحرالمحيط کښي وايي چي يوجوهراودرې اقانيم (اب ، ابن ، روح القدس) اودغه درې سره يو(اله)دي لکه چي لمر،وړانګو ، تکى اوتودوخى ته شامل دى دوئ ګومان کاوه چي پلاراله اوزوى اله اوروح القدس اله اوداتول بيايو اله دي دغه خبره خوپه ښکاره توګه باطله ده ځکه درې عددونه يونشي کيداى اونه هم ديوه عدد درې کيدلاى شي.

السلام بې له موره اوبې له پلاره پيدا شوى اودازيات نادره اوغريبه پيښنه وه داهرڅه تول دالله (ج) له
لوري اودغه موسى اوعيسى عليهما السلام دالله تعالى دافعالواوشئونومظاهردي ﴿ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٌ ﴾
اوموردده ډيره رښتنى) وه دغه په رښتنولى كښي مبالغه ده ﴿ كَانَا يَأْكُلَانِ ٱلطَّعَامَ ﴾ وودوئ
دواړه (موراوزوي) چي خوړه به يې طعام (په شان (دنورومخلوقاتو) يعنى هغه لکه نورمخلوقات
غوندي مخلوق وو له هډوكو، غوښواوړګونو، پلو(اعصابو) څخه جوړوو پدي كښي باريكه اشاره دې
ته ده چي هرهغه څوک چي خواړه خورى نوبه اورمرودهغوبيرته ايستلوته اړوي اوڅوک چي همداسى
وي نوبياله عبادت كولو سره نه ښايې چي په خدايي ونيول شي اوياڅنګه به څوک فكركوي چي هغه اِله
دى ؟ ﴿ ٱنظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ﴾ (وګوره څرنګه بيانوو مونږدوئ ته دلائل د(توحيد) يعنى
دغه ددوئ دحال څخه تعجب كول دى چي څرنګه يې د (عيسى)(عليه السلام) اومورد هغه دالوهيت دعوى
كوى وګوره چي څرنګه مونږددوئ دعقيدې دبطلان څرګنددلائل دوئ ته بيانوو ﴿ ثُمَّ ٱنظُرْ أَنَّىٰ
يُؤْفَكُونَ ﴾ بياوګوره (دوئ ته) چي څرنګه ګرزيدونكى دي (له حقه) يعنى دحق له اوريدلوڅخه
اوپه هغه كښي له تأمل كولوڅخه څرنګه ګرزى ؟ سره له دغه څرګندبيانه لکه دتكندي غرمې لمرچي
روښانه وي بياهم دوئ اعراض كوي ﴿ قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴾
ووايه اي محمده ! دوئ ته چي) آياعبادت كوئ تاسى بې له الله څخه دهغه شى چي مالک نه دي دپاره
ستاسى د(دفع كولو) دضرراونه د(رسولو) دنفعي (ګټي) (١) ﴿ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ اوالله هم دى ښه
اوريدونكى (ستاسودااقوالو) ښه عالم (ستاسوپه احوالو) دآيت په ترڅ كښى ددوئ ترټنه راغلى چي
دوئ دهغه څاعبادت كاووچي دضررله دفع كولواودګټي له رسولوڅخه عاجزوو ﴿ قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ
لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ﴾ ووايه اى محمده ! چي اى اهل كتابومه كوئ تجاوزله حده په (خبره)
ددين خپل كښي اوداسى مبالغه اوافراط مكوئ لکه چي ستاسوپخوانيوبه كاووچي تاسى به وواياست
چي عيسى اِله دى اوداله زوي دى قرطبى وايې چي ديهودانوغلودحضرت عيسى په هکله داوه چي هغه
حلالونى زوي نه دي بلکه دزنازوي (حرامزاده) دى (العياذبالله) اودنصاراووغلوبياداده چي ويل بې
هغه اله دى ؟ (٢) ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا۟ مِن قَبْلُ ﴾ اومه كوئ متابعت دچټي خواهشاتود
هغه) قوم چي (له ډيره جهله) په تحقيق ګمراه شوى دي په خوا(له دى نه) يعنى تاسودخپلو اسلافواو
امامانوپيروي مه كوئ كوم چي درسول الله صلى الله عليه وسلم تربعثت پخوالاګمراهان وو ﴿ وَأَضَلُّوا۟ كَثِيرًا ﴾
اوګمراهان كړى دي دوئ ډيرخلک (وَضَلُّوا۟ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ) اوګمراه شوي دي دوئ له سمي صافى

---

١ – په البحر المحيط كښي وايې چي كله الله تعالى په عقلى اونقلي دلائلودحضرت عيسى الوهيت باطل كراودوئ يې توبې
كولوته راوغوښتل څوچي ښښنه وغواړى بيايې و فرمايل عيسى (ﷺ) دنفعي رسولواوزيان دفع كولوتوان نلري څوک چي
داسى وي هغه بياهډوكله هم له الوهيت سره ورنه دى دوئ يې په دې خبره چي اله يى بولى وترټل   البحر٣/٥٣٨
٢ –القرطبى ٢/٢٥٢

لاري قرطبي وايې چي د(ضلوا) دکلمې تکرارددي اشارې لپاره دی چي دوئ پخوااووروسته ګمراهان شوي وو له دوئ څخه مراددیهودانواونصرانیانواسلاف دي هغه چي دګمراهي لاره يې جوړه کړي وه اوبیاور باندی تلل اوعمل يې کاوو(١) ﴿ لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ﴾ (لعنت کړی شوی دي په هغوکسانوچي کافران شوي دي له بنی اسرائیلوڅخه په ژبه دداؤدسره او(په ژبه د) عیسی زوي دمریمی) یعنی الله عزوجل دوي په زبوراوانجیل کښي ملعون ګڼلی دي ابن عباس وایې چي دوئ په هره ژبه په لعنت ککړدي دموسی علیه السلام په وخت کښي په تورات، دداودعلیه السلام په وخت کښي په زبوردعیسی علیه السلام په عهدکښي په انجیل اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښي په قرآن کښي دوئ معلون بلل شوي دي(٢) مفسرین کرام وایې چي کله هم اصحاب السبت دشنبې په ورځ تجاوزوکړنوحضرت داؤدعلیه السلام ښېراورته وکړه الله هغوئ بیزوګان مسخ کړل او اصحاب المائده چي کله په عیسی علیه السلام کافران شول نوعیسی علیه السلام ورته ښېراوکړه او خنزیران جوړشول ﴿ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴾ دا(لعنت پردوئ) په سبب ددي ووچي نافرمانی يې کوله (له احکاموداالله څخه) اووودوئ چي تېریدل به(له حدودالله څخه) وروسته الله تعالی ددوئ بدحال داسی بیانوی ﴿ كَانُوا۟ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ﴾ وودوئ چي یوبل به يې نه سره منع کول له هغه بدعمله چي دوئ به کاوو ﴿ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴾ قسم دی(خامخا) بدووهغه کارچي دوئ به کاوو؛ زمخشري وايې دادوئ دبدکارپه هکله تعجیب دي چي په قسم باندی مؤکدراغلی نوافسوس دمسلمانانوپه حال چي دوئ هم له نهی عن المنکرڅخه داسی مخ اړولی ته به واهیڅ شی نه دی له دي سره چي دالله په کتاب کښي پدی باب مبالغې لولی(٣) په البحرالمحیط کښي راوړي چي دغه ددوئ منکرفعل په ښکاره کول اودهغه مخنیوی نه کول الله په قسم سره بدوګڼه اوګناه چي وکول شی ښایې چي پټه کړل شی څکه حدیث شریف داسی راغي چي: (من ابتلي منكم بشئ من هذه القاذورات فليستتر) څوک چي مبتلا شي له تاسی څخه په دغوپلیتوباندي نو هغه دي پټ کړي) کله چي په ښکاره توګه ګناه کول کیږي خلګ ورسره عادت نیسی اوڅوک يې مخنیوی نکوي نودغه ګواکي دګناه په کولوهڅونه اودهغې د خورولواوډیرولوسبب دی(٤) ﴿ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ (ته به وینی ډیرله دوئ چي دوستی به کوی له هغوکسانو سره چي کافران شوي دي) یعنی ته به ډیریهودان وینی چي له مشرکانوسره به دوستی پالی اودا په سبب دبغض اوکینې له رسول الله صلی الله علیه وسلم اومؤمنانوسره مرادله دغوکسانوڅخه(کعب بن الاشرف) اودهغه ملګري دي

١- القرطبی ٢٥٢/٦
٢- البحر ٥٣٩/٣
٣- الکشاف ٥١٩/١
٤- البحرالمحیط ٥٤٠/٣

﴿ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ ﴾ (بیاقسم دي چي) خامخابد ووهغه شی چي پخوا لیږلی دوئ ته خانونوددوئ) یعنی بددی هغه اعمال چي دوئ دآخرت لپاره استولي دي ﴿ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ (چي هغه شي موجب وو ددي) چي په غضب شو الله پردوئ دغه (مخصوص بالذم) دي یعنی بددی هغه څه چي دوئ دآخرت لپاره لیږلی دالله قهراوغضب پردوئ باندي ﴿ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴾ اوپه عذاب کښي به دوئ تل وي ﴿ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ ﴾ اوکه وي دوئ چي ایمان یې راوړی وي پرالله اونبی اوپه هغه کتاب چي نازل شوی دی ده ته نوبه یې دامشرکان دوستان نه وونیولی یعنی که یهودانوپه الله اونبی باندی په ربښتنوالی ایمان راوړی واي اوپرهغه کتاب چي دوئ ته نازل شوي دي نوبه یې مشرکان په دوستی نه نیول ﴿ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴾ اولیکن ډیر(کسان) له دوئ څخني فاسقان دي یعنی دایمان له دائرې اودالله له طاعت څخه وتلي دي.

بلاغت:

۱ - (لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ)پدې تعبیرکښي دومره تحقیراوتصغیردي چي تري پورته نشته؟(۱).

۲ - (وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ) دالله (جل جلاله) دربوبیت یې دوئ ته په دعوت کې دتلطف لپاره نسبت کړي دي.

۳ - (فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ) دلته یې اسم ظاهرپه مضمرباندی غوره کړځوچي پدوئ باندی دکفر رسوخ تثبیت شی.

۴ - (بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ) دمضارع صیغه یې ترماضی چاڼ کړه ترڅودماضی حال استحضاروشی چي ددوئ فضاعت انځورکړي اودآیتونودسرونو رعایت وشی.

۵ - (فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ) دالله (جل جلاله) اسم جلیل ظاهردضمیرپه ځای راوړل شوي چي دامر هیبت اوپه زړونو کښي ویرونه وروزي.

۶ - پدې کلام کښي چي فرمایي: (فَعَمُوا وَصَمُّوا) استعاره راغلی اوددوئ اعراض له هدایت اوایمان څخه یې له ړندوالی اوکوڼ والی سره تشبیه کړي دي.

۷ - (انظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ) (ثُمَّ انظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ) ابوالسعودوایي چي د(انظر) یعنی دکتلو امر یې په تعجب کښي مبالغې ته اشاره ده اود(ثم) کلمه بیاددواړو کتلو ترمینځ تفاوت ښیې یعنی دغه زمونږدآیتونوبیان یوبدیع اوخوراناداراوزښته څرګنداوواضح دي اوددوئ اعراض تردي لاهم عجیبه اونادردي.(۲)

۱ -ابوالسعود ۲ /۵۰
۲-ابوالسعود۲ /۵۰

٨- (لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ) ددوئ دبدواعمالوتقبيح اوتعجب دي چي په قسم سره ستايل شوي

فوائداوګټي:

ځينومحققينود الله (جل جلاله) پدي قول کښي چي فرمايي: (قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ) وايي چي ځرنګه دعيسى عليه السلام په حق کښي داسى راغلى نوبياستادولى په شان کښي څه خيال دي چي آياهغه دنفع اوضررخاوند کيداي شي ؟!.

تنبيه:

ابن کثيروايي چي دغه آيت کلماتي چي فرمايي: (وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ) پدې دلالت کوي چي حضرت مريمه نبى نه ده لکه چي ابن حزم ګومان کوى اويانورځوک وايي چي (ساره) اويادموسى (عليه السلام) مورنبى وه دوئ استدلال کوي چي ملائکوهغوئ (ساره) او(مريمي)ته خطاب کړى خوهغه څه چي جمهورعلماوايي دادي چي الله پاک پرته له نارينه وو ځخه پيغمبراونبى نه دى رااستولى (وَمَا أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡ) اوالاشعري پدې وروستى خبره باندي اجماع رانقل کړى ده[١]

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةٗ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقۡرَبَهُم مَّوَدَّةٗ لِّلَّذِينَ
ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانٗا وَأَنَّهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٨٢﴾
وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعۡيُنَهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَٰبَهُمُ
ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٨٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ
لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ
بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ
أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ
أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٨٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ
مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ

١-ابن کثير١ / ٥٣٧

وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَٱحْذَرُوا۟ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا عَلَىٰ
رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٩٢﴾ لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓا۟ إِذَا مَا ٱتَّقَوا۟ وَّءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟
ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَوا۟ وَّءَامَنُوا۟ ثُمَّ ٱتَّقَوا۟ وَّأَحْسَنُوا۟ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ
أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْتُلُوا۟ ٱلصَّيْدَ
وَأَنتُمْ حُرُمٌ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًۢا بَٰلِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّٰرَةٌ
طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو
ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ ٱلْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ
ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾ المائدة: ٨٢ - ٩٦

دنزول سبب:

أ - ابن عباس رضی الله عنهما وايي يو سړی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغي ورته ويل يې: ای دالله پيغمبره ! زه چي کله غوښه وخورم دښځولپاره تيارشم اوشهوت مې په سرواخلی اوبيشکه چي ما نورغوښه په ځان حرامه کړه الله پاک دا آيت نازل (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ) ([1])

ب: - انس رضی الله عنه وايي هغه ورځ چي دشرابو دحرمت حکم نازليد وماخلگو ته شراب وراويشل اوددوئ ساقی وم مونږ د(ابی طلحة) په کورکښي ناست وو دپخو اوخامو خرماوو اودانگورو(فضيخ) شراب ووچي يو غږکونکی داسی چيغه وکړه ؛ بيشکه چی شراب حرام شول نو(انس) (ﷺ) وايي چي خلگو دمديني منورې په کوڅوکښي شراب توی کړل (ابوطلحة) وويل ولاړشه اوشراب بهرتوی کړه ځينی کسانوو ويل چي هغه کسان بدمرغه دي چي په گيډه کښي يې شراب وي نو دا آيت نازل شو چي:

(لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓا۟) .

تفسير:

﴿ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ﴾ (خامخاموميې به ته ډيرسخت له تولو خلگو له جهته دعداوته له هغو کسانو سره چي مؤمنان دي يهوديان اوبل هغه کسان چي مشرکان دي) لام دقسم لپاره دي يعنی قسم دي ای محمده چي ډيرسخت دښمنان دمسلمانانو يهود او مشرکان دي

﴿ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰ ﴾ (اوخامخاموميې به ته ډيرنژدي له تولو خلگو څخه له جهته ددوستی له هغو کسانو سره چي مؤمنان دي هغه کسان چي وايي بيشکه مونږ نصاری يو) دا دحبشې دپاچا نجاشی او ملگرو په باب رانازل شوي دي زمخشري وايي چي الله

1- اسباب النزول ص / ١١٧ - القرطبی ٢ / ٢٦٠

تعالى دیهودانوهغه دحق نه منلولپاره سخت دریز او د نصاراوونرم دریزاواسلام ته آسانه میل وستایل اویهودان یې دمشرکانوسیالان وبلل چې له مسلمانانوسره سخته دښمني لري بلکه ترهغوئ لازیات دي خکه چي ترهغوئ یې دمخه ذکرکړل (١) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا ﴾ (دا دوستي) په سبب ددي چي بیشکه ځینې له دوئ رښتیني عالمان اوزاهدان پوهان دي) ځکه نو مسلمانانو ته نژدي دي .
﴿ وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ اوبیشکه چي دوئ نه کوی تکبراولویې (دحق له منلوځخه) لکه یهودان غوندی متکبرنه دي بیضاوی وایې پدې کښې دادلیل نغښتی دی چي دعلم اوعمل لاره خپلول اوله شهواتوځخه ځان ساتل دستاینی وړکاردي که څه هم له کافرځخه ترسره شی ﴿ وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ ﴾ (اوکله چي واوري دوئ هغه (کلام دالله) چي نازل شوی دي طرف دپیغمبر ته) یعنی کله چي قرآن کریم چي په محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوی کتاب دي اوري ﴿ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ ﴾ (نووینی به ته سترگی ددوئ چي بهیږي (تویوي) له اوښکو)دالله له ویري او دزړونودنرمي له وجهي چي دالله جل جلاله کلام وریاندی اغیزه کوي ﴿ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ﴾ (له جهته ددي چي وپیژانده دوئ له حق ځخه) یعنی له جهته ددې چې دغه دالله کلام اوحق دي ﴿ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا ﴾ (وایې دوئ ای ربه زمونږایمان راوړی دي مونږ) یعنی دوئ وایې ای زمونږ ربه مونږایمان راوړی ستاپه نبی اوکتاب اودهغه موتصدیق کړی دي ﴿ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴾ (نوولیکه مونږ له شاهدانو(منونکو) یعنی له محمدی امت سره موملگری کړه هغوئ چي دقیامت په ورځ په نورو امتونو باندی شاهدی وایې ابن عباس رضی الله عنه وایې چي دغه آیت دنجاشی اودهغه دملگروپه هکله نازل شوي کله چي جعفربن ابی طالب ﷺ په حبشه کښې دوئ ته دقرآن کریم آیتونه ولوستل نوهغوئ وژړل آن تردي چي ږیری یې په اوښکولمدې شوي (٢) ﴿ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ ﴾ (اوڅه باعث دي پرمونږچي نه به راوړوایمان په الله اوپه هغه چي راغلی دي مونږته له حق ځخه (چي رسول او قرآن دي) یعنی دوئ به ویل ولی به مونږایمان نه راوړو؟ پداسی حال کښې چي حق راته ځرگند اوښکاره شودوئ دغه خبره دهغه یهودوپه ځواب کښې کوله چي دوئ ته یې داسلام په راوړلو پیغور ورکاووپه البحرالمحیط کښې وایې چي دغه انکاراواستبعادددوئ له نه ایمان راوړلوځخه سره له دي چي موجبات یې شته دحق پیژندنی په معناده (٣) ﴿ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴾ حال داچي طمع (هیله) لرووددي چي داخل به کړی مونږ رب زمونږسره له قوم صالحانو(جنت ته چي محمدی امت دي) ﴿ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا ﴾(پس بدل به ورکړی دوئ ته الله په سبب دهغه څه چي ویلی دوئ) یعنی په ایمان اوتصدیق اودحق په اعتراف

١-الكشاف ١/٥٢١
٢-ابن كثير ١/ ٥٣٩
٣-البحر ٤/ ٦

کولوسره به الله داسی بدل ورکړی ﴿جَنَّٰتٍ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ﴾ جنتونه چي بهیږي له لاندی (دونواومانیو) ددئ ویالې چي تل به وی په هغوکښي ﴿وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴾ (اودا(جنت) جزادنیکی کونکوده) چاچي نیک عمل کړی اونیت یې صفاکړی دی بیا وروسته الله جل جلاله دبدمرغه کسانوحال داسی بیانوی ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ﴾ اوهغه کسان چي کافران (منکران) شوی دي اونسبت ددروغویې کړی آیتونوزمونږته همدغه کسان صاحبان ددوزخ (جحیم) دي ابوالسعودوایې چي ددوئ ذکرکول دالله دآیتونودمصدقینوپه مقابل کښي دترغیب اوترهیب لپاره دي (۱) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ﴾ (ای هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دي (ای مؤمنانو) مه حراموئ تاسی پاک لذیذ له هغوشیانونه چي حلال کړي دي الله لپاره ستاسی) طبری له عکرمه رضی الله عنه څخه روایت کوی چي دنبی صلی الله علیه وسلم په اصحابانوکښی ځینی داسی کسان ووچي قصدیې وکړځان(خصی) کړی اوله غوښوخوړلواوخپلومیرمنوسره له جماع (کوروالی) کولوڅخه ډډه وکړی اوحرام یې وګڼی نودغه آیت نازل شوچي تاسی داسی مکوئ چي دزهداوتقوی په پلمه حلال شیان دپرېښودلوپه مبالغه حرام بولئ ﴿وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾ اوتېری مکوئ (له حدودو دالله څخه)چي حلال حرام کړي یعني افراط اوتفریط مکوي ﴿وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ﴾ اوخورئ تاسی له هغه څیزه چي روزی درکړی ده تاسی ته الله جل جلاله (چي) حلاله پاکیزه (ده) په التسهیل کتاب کښي وایې چي معناداچي له حلال خوراک اومیرمنواونوروشیانوڅخه خوندواخلی اوچي خوراک یې ځانګړی ذکرکړځکه هغه دانسان ترټولوسترحاجت اواړ تیاده (۲) ﴿وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ﴾ (اووویرېږئ له هغه الله څخه چي تاسیورباندی ایمان لرونکی یئ!) دغه خبره دتقوی لپاره په خورانرمه لهجه بلنه اودعوت دی لکه چي هغه فرمایې: تاسوخپل ایمان دالله د طاعت دتقصیرپه وجه له لاسه مه ورکوئ چي بیابه دغه ستاسودافسوس اوارمان سبب وی ځکه ایمان په الله تعالی له الله څخه دتقوی اوپرهیزګاري دمبالغي موجب وي ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ﴾ (نه نیسی تاسی الله په لغوه سره په قسمونوستاسی کښي) یعنی الله پاک ستاسی په بیهوده قسمونوچي وایاست (لاوالله) اویا(بلی والله) نه مؤاخذه کوي چي ستاسی ژبه بې له قصده ورباندی ګرېدلی وي (بی اختیاره موله خولې وتلی وي) ﴿وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ﴾ ولیکن نیسی تاسی (په ماتولود)هغه (عهد) سره چي کلک کړی وي تاسی قسمونه (پرهغه دزړه له قصده) کله چي حانث شی ﴿فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ﴾ نوکفاره (دماتولو) ددې قسم طعام ورکول دی لسومسکینانوته له اوسطي (درجې) دهغو خوړلوچي طعام ورکوئ تاسی (په هغه سره) خپلوکورنیوته

۱-ابوالسعود۲/۵۵
۲-التسهیل ص/۱۸۲

ابن عباس رضی الله عنه يې د(اعدل) په معنابولی او ابن عمر رضی الله عنه وايې چي اوسط طعام ډوډۍ اوخرماده اوډوډۍ اوکشمش (زبيب) دي اوتر ټولوغوره چي مونږيې خپلوخپلوانوته طعام ورکووهغه ډوډۍ اوغوښي دي (۱)﴿ أَوْ كِسْوَتُهُمْ ﴾ ياجامې ورکول دي (دغولسومسکينانوته) چي دهريوه لپاره يوه جامه ده چي بدن يې پټ کړی ﴿ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ﴾ ياآزادول د(يوې) غاړی دي (دمريي) دالله لپاره په البحرالمحيط کښي وايې چي د علماوو اجماع پدې راغلی چي (حانث) ته اختياردي که ډوډۍ مسکينانوته ورکوی که جامې ورکوي اوکه مريې آزادوي (۲)﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ ﴾ نوهرڅوک چي ونه مومی (له دغومذکوره شيانوڅخه يوهم) نو روژه نيول ددريوورځو دي(۳)(دغه (ذکر شوی)شيان کفارت دقسمونوستاسی دي کله چي قسم يادکړي (اوبيايې مات کړی) ﴿ وَاحْفَظُوا أَيْمَٰنَكُمْ ﴾ اووساتی تاسی قسمونه خپل (له هرډول نقصانه) يعنی له ضرورته پرته قسمونه مه اخلئ ابن عباس رضی الله عنهما يې داسی معنا کوي چي قسم مه آخلئ !ابن حجروايې معنا داچي قسمونه مه پريږدئ بغيرله تکفيره ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ داسي (چي ديمين احکام يې بيان کړي) بيانوي الله تاسي ته آيتونه خپل دشرعی احکامو) لپاره ددي چي شکروکاري دالله په هدايت اوتوفيق درکولوتاسوته) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دي (ای مؤمنانو) بيشکه همدا خبره ده چي شراب اوقمار ، ابن عباس رضی الله عنه وايې خمرټولوهغومشروباتوته ويل کيږي چي نشه لري او ميسر قمارته وايې چي دجاهليت په وخت کښي به يې کاوو ﴿ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَٰمُ ﴾ (اوبتان اوغشی) يعنی هغه بتان چي دعبادت لپاره درول شوی اوغشی هغه چي دبيت الله له واکمنواودبتانوله خادمانوسره به ايښودل شوي ووابن عباس او مجاهدرضی الله عنهما وايې چي(انصاب)هغه تيږي وې چي دوئ به خپل خيراتونه هلته حلالول او(ازلام) بياهغه دفال غشی وو(۴)﴿ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَٰنِ ﴾ (داځلوروارہ ټول) پليت دي له کارودشيطان څخه دي داسی مردارشيان دي چي عقل يې نه خوښوي اوشيطان يې خلکوته ښايسته کوي ﴿ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ نوځان وساتئ تاسی له دي (پليتو) څخه لپاره ددي چي نجات ومومئ تاسی (پدې ځان ساتلوسره) اوسترثواب موپه برخه شي ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَٰوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ﴾ بيشکه چي هم داخبره ده غواړی شيطان چي واچوي په مينځ ستاسی کښي دښمنی اوکينه په (څښلو) دشرابواو(کولو) دقمارسره

١-ابن کثيرا / ۵۴۳
٢-البحر۴ / ۱۱
٣ -دحنفی مذهب اوحنبلی مذهب علماء د(ايمانود) کفارت روژې پرله پسی بللی امام شافعی اوامام مالک رحمهما الله يې پرله پسی شرط نه ګڼی طبری وايې چي هرډول يې ونيولی روادي ۱۰ / ۵۲۲
٤-البحرالمحيط ۴ / ۱۴

﴿ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ (او اړوي تاسی له یاده دالله اولمانځه څخه) یعنی پدې شرابو او قمار وهلوتاسی شیطان دالله له یادولوچي په هغه ستاسی ددنیا اوآخرت سمون راځي او همدارازله لمانځه څخه چي هغه ستاسی ددین ستنی ده منع کوي ابوحیان وایې چي الله تعالی په شرابو او قمارکښي دوه وراني (مفسدي) ذکرکړي چي یوه یې دنیوی اوبله اُخروي ده دنیوی یې داچي شراوکینه ځینی راپورته کیږي اوڅوک چي یې څښي بالآخره یې شلون اوتقاطع ته مجبوروي اوقمار پیلسري یومخ ایزه فقرته رسوي ترهغوقمارکوي چي له شتوبې خلاص کړي آن تردي چي پخپل اهل اوعیال هم قمارکوي اودینی ورانی یامفسدي یې داده چي: شراب له ډیری مستی اوطرب څخه سړيٰ دالله له ذکرڅخه باسی (۱)﴿ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴾ آیایئ تاسی منع کیدونکی ؟ اوښتونکی له دي بدوکارونویعنی واوړئ) صیغه استفهام لپاره ده خومعنایې امردي ځکه نوحضرت عمررضی الله عنه وویل : (انتهینا ربنا انتهینا) یعنی منع شوای پروردګاره اِمنع شووپه البحرالمحیط کښي وایې چي دغه استفهام ترنهی لا أبلغ دي لکه چي ورته ویل شوي دي :پرتاسوهغه څه ولوستل شول چي مفاسدې درلودل هغه چي دمنع کیدلوموجبات یې موجودي نوآیاتاسومنع کیږئ اوکه پخپل حال پاتی کیږئ ؟

﴿ وَأَطِيعُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا ٱلرَّسُولَ وَٱحْذَرُوا ﴾ اوومنئ تاسی (حکم د) الله اوومنئ تاسی (حکم د) پیغمبراووساتئ ځان تاسی (له مخالفت ددوئ نه) ﴿ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ ﴾ پس که وګرځیدلئ تاسی (له احکامو ددوئ اووربا ندی موعمل ونکړ ﴿ فَٱعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ نوپوه شئ چي بیشکه هم داخبره ده چي پررسول زمونږ(محمدصلی الله علیه وسلم) هم دارسونه (دپیغام) ده ښکاره (روښانه په ښه وجه سره) یعنی دهغه په ذمه ستاسي هدایت نه بلکه یوازی رسونه اوتبلیغ دي اوستاسی جزابه زه درکوم طبری وایې چي دغه دالله جل جلاله له لوري هغه چاته چي دالله امراونهی نه مني وعیددی لکه چي الله تعالی ورته داسی وایې: که زماله امراونهی څخه وګرځیدی نوزمادعذاب انتظاروباسئ اوزماقهراوغضب ته سترګي په لاراوسئ (۲) ابوحیان وایې چي پدی کښي له مبالغې ډک وعیددی ځکه په ترڅ کښي یې دادي چي ستاسوعقاب به مرسل (استونکی) درکوي نه رسول (استازي) (۳)﴿ لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓا ﴾ (نشته پرهغو کسانوچي ایمان یې راوړي اوکړي یې وي ښه (عملونه)هیڅ ګناه په هغه شی کښي چي خوړلی دي دوئ (له حرمت څخه پخوا)ابن عباس وایې کله چي دشرابودحرمت آیت نازل شو نویو چا ویل چي دهغو به څه حال وی چي شراب به یې خوړل اومړه شول اویابه یې دقمارڅخه خوراک کاوونو داآیت نازل شو چي ګواکي ګناه اوبدي دګناهونوپه کولوپوری تړلی اودوئ چي تر تحریم پخوامړه شوي ګناهګاران نه دي ﴿ إِذَا مَا ٱتَّقَوا وَّءَامَنُوا وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ کله چي راتلونکوڅخه ځان وساتی او ټینګ وي په ایمان کښي اوکوی ښه (عملونه) نوپه دوئ

۱- البحرالمحیط ۱۵/۴

۲- الطبری ۵۷۵/۱۰

۳- البحر ۱۵/۴

دتيروشووخوړلو، بښلو ګناه نشته ﴿ثُمَّ اتَّقَوا وَّءَامَنُوا﴾ بيا خان ټينګ کړي (له محرماتو څخه چي په حرمت يې عقيده لري ﴿ثُمَّ اتَّقَوا وَّأَحْسَنُوا﴾ بيا (وروسته له هغه) پرهيز کوي (له شبهاتوهم) او احسان کوي (ښه کړي خپل عملونه) يعنی دوئ دالله دتقوی استمرار خپل کړي له محارمو څخه يې ځان ژغوری هغه نيک عملونه کوي چي الله ته يې نژدی کوي ﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ اوالله خوښوی نېکي کونکی په تسهيل نومی کتاب کښي وايې دتقوی تکرارېږي دمبالغې لپاره وکرچابياويلی چي لومړي ځل تقوی له شرک څخه دوهم ځل له ګناهونو دريم ځل بيا له هغو اعمالو څخه چي (لابأس به) وي ځکه دوئ ويرېږي چي پدې کښي به (بأس) وي[1] ﴿يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللَّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ﴾ ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دي (ای مؤمنانو) خامخا ازمويی تاسی هرومرو الله په يوه شی له ښکاره (په وخت داحرام کښي) چي رسيږي دځينو) دهغوته لاسونه ستاسی (چي واړه وي) اود ځينو وهغوته نېزې ستاسی چي غټ وي بيضاوي وايې چي دغه آيت دحديبې په کال نازل شواوسبحانه وتعالی دوئ وازمويل هلته ښکار دوئ ته دومره نژدې اوډيروو چي په لاسونو اونېزو سره هم دهغوئ اخيستل اوو ژل ممکن وو په داسی حال کښي چي دوئ محرمين وو[2] په البحرالمحيط کښي وايې چي ښکار هغه څه وو چي دعربو دژوندانه اومعيشت اړتياوي يې پوره کولی اوپه کولو به يې خونداخيست پدی هکله دوئ ډيراشعارويلي اوستايلي دي[3] ﴿لِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِالْغَيْبِ﴾ (لپاره ددي چي ښکاره کړی الله هغه څوک چي ويرېږي له ده نه په غيب سره) يعنی ددي لپاره چي الله جلا کړي ويريدونکی دقوی ايمان خاوندان له ضعيف الايمانو څخه ﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ نو هر هغه چي له حده تيري وکړی (په کولو دښکارپه احرام کښي)پس له دي (منعي دښکاره) نودي ده ته عذاب دردناک ﴿يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ ای هغه کسانو چي دوئ ايمان راوړي (اي مؤمنانو) مه وژنئ تاسی ښکار حال داچي تاسی محرمان اوسئ (په حج اوعمره باندی) ﴿وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ اوهرهغه چي ووژنئ داښکارله تاسی څخه په قصدسره نو(پري) بدل دي په مثل دهغه چي وژلی يې دي له چارپايانو څخه (چي اوښ ، غوايې اوپسه دي ﴿يَحْكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ﴾ چي حکم به کوي په هغه سره دوه خاوندان دعدل(انصاف) له تاسی (مسلمانانو) څخه ﴿هَدْيًۢا بَٰلِغَ الْكَعْبَةِ﴾ پدي حال چي هغه د(بدل حيوان) دنذرپه ډول ورسولی شی کعبې ته (هلته حلال کړی شی اوپه مسکينانو وويشل شی اوکه چيرته دښکارلپاره بيامثل له چارپايانو څخه نه وي لکه چوغکه (مرغی) اوملخ بيانو بيه يې ورکول کيږي ﴿أَوْ كَفَّٰرَةٌ طَعَامُ مَسَٰكِينَ﴾ (ياوربانديکفاره ده خوراک د(څوتنو) مسکينانو) يعنی که چيری محرم هسی څه

۱- التسهيل ۱/ ۱۸۷
۲- البيضاوي ص/ ۱۶۰
۳- البحر ۴/ ۱۲

دتیروشووخوړلو ،څښلوګناه نشته ﴿ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ﴾ بیاځان ټینګ کړي (له محرماتوڅخه چي په حرمت بې عقیده لري ﴿ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحۡسَنُواْۚ ﴾ بیا(وروسته له هغه) پرهیز کوي (له شبهاتوهم) اواحسان کوي (ښه کړي خپل عملونه) یعنی دوئ دالله دتقوی استمرارخپل کړي له محارموڅخه بې ځان ژغوری هغه نیک عملونه کوي چي الله ته بې نژدی کوي ﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ اوالله خوښوی نېکي کونکی په تسهیل نومی کتاب کښي وایې دتقوی تکرارېې دمبالغې لپاره وکړچابیاویلی چي لومړي ځل تقوی له شرک څخه دوهم ځل له ګناهونودریم ځل بیاله هغواعمالوڅخه چي (لاباس به) وي څکه دوئ ویرېږي چي پدې کښي به (باس) وي(۱) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ ﴾ ای هغوکسانوچي ایمان بې راوړی دي (ای مؤمنانو) خامخاازمويي تاسی هرومروالله په یوه شی له ښکاره (په وخت داحرام کښي) چي رسیږي دځینو) دهغوته لاسونه ستاسی (چي واړه وي) اود ځینووهغوته نېزې ستاسی چي غټ وي بیضاوي وایې چي دغه آیت دحدیبې په کال نازل شواوسبحانه وتعالی دوئ وازمویل هلته ښکار دوئ ته دومره نژدې اوډیرووچي په لاسونواونېزوسره هم دهغوئ اخیستل اووژل ممکن ووپه داسی حال کښي چي دوئ محرمین وو(۲) په البحرالمحیط کښي وایې چي ښکار هغه څه ووچي دعربودژوندانه اومعیشت ارتیاوي بې پوره کولی اوپه کولوبه بې خونداخیست پدی هکله دوئ ډیراشعارویلي اوستایلي دي (۳) ﴿ لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ ﴾ (لپاره ددي چي ښکاره کړی الله هغه څوک چي ویرېږي له ده نه په غیب سره) یعنی ددي لپاره چي الله جلاکړي ویریدونکی دقوی ایمان خاوندان له ضعیف الایمانو څخه ﴿ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ نوهرهغه چي له حده تېري وکړی (په کولودښکارپه احرام کښي)پس له دي (منعي دښکاره) نودي ده ته عذاب دردناک ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۚ ﴾ ای هغه کسانوچي دوئ ایمان راوړي (اي مؤمنانو) مه وژنئ تاسی ښکارحال داچي تاسی محرمان اوسئ (په حج اوعمره باندی) ﴿ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ ﴾ اوهرهغه چي ووژنئ دابښکارله تاسی څخه په قصدسره نو(پري) بدل دي په مثل دهغه چي وژلی بې دي له چارپایانوڅخه (چي اوښ ، غوابې اوپسه دي ﴿ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ ﴾ چي حکم به کوي په هغه سره دوه خاوندان دعدل(انصاف) له تاسی (مسلمانانو) څخه ﴿ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ ﴾ پدې حال چي هغه د(بدل حیوان) دنذرپه ډول ورسولی شی کعبې ته (هلته حلال کړی شی اوپه مسکینانوووېشل شی اوکه چیرته دښکارلپاره بیامثل له چارپایانوڅخه نه وي لکه چوغکه (مرغی) اوملخ بیانوبیه بې ورکول کیږي ﴿ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ ﴾ (یاوورباندی کفاره ده خوراک د(څوتنو) مسکینانو) یعنی که چیری محرم هسی څه

۱-التسهیل ۱/ ۱۸۷
۲-البیضاوي ص/ ۱۶۰
۳-البحر۴/ ۱۲

ونه مومي چي ښکارکړي يې دي نوبه هغه ښکارشوي بيه کړي اوپه هغه قيمت به يې خوراک رانيسي اوپه مسکينانو به يې وويشي هريوه ته به يوه پيمانه (مد) ورکول شي ﴿ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِۦ ﴾ ياپه برابري دهغه (طعام) روژه نيول دي لپاره ددي چي وڅکي سختي دعمل خپل داچي داحرام د حرمت يې هتک کړي دی په تسهيل نومی کتاب کښي وايې چي الله تعالى دمحرم دښکارکولو يادونه داسی وکړه چي لومړي يې دښکارپه مثل دچارپايانوبدل وفرمايه بياخوراک ورکول (اطعام) اوبياوروسته روژه نيول دامام مالک اوجمهوروعلماوودامذهب دي چي دی اختيارلري اوداهغه خبره ده چي د(او)په توری عطف يې هم غوښتنه کوي اوابن عباس (رضی الله عنه) وايې چي داپه ترتيب سره دي (۱)﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ ﴾ عفوه کړي ده الله له هغه شي چي پخواتېر شوي دي (پخواله تحريم څخه يې ښکاروي) ﴿ وَمَنْ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ ﴾ اوهرهغه چي بيرته وګرځيده (ښکارکولوته په احرام کښي) نو کسات به واخلي الله له ده څخه په آخرت کښي ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴾ اوالله ښه قوی غالب دي څښتن دبدل اخيستودي (له ګناهکارانو څخه) ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ ﴾ (حلال کړي شوی دي تاسی ته ! (ای مسلمانانو) ښکاردبحراوطعام د(بحر) يعنی ای خلګوتاسی ته دسيندښکاراوخوارځه که محرمين ياست اوکه نه روادي خوارځه هغه لکه ماهی اونور(مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ﴾ لپاره د نفع اخيستوستاسی اودپاره دنورو(مسافرانو) چي توښه يې کاندي ﴿ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ ٱلْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ﴾ اوحرام کړي شوي دي په تاسی ښکاردوچي خوچي اوسئ تاسی محرمان ﴿ وَٱتَّقُوا ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ اوويريږئ تاسی له الله هغه چي هم ده ته به ورتيول کړل شئ (تاسي) دقيامت په ورځ اوستاسی په اعمالوبه جزادرکړی پدي کښي وعداو وعيدنغښتي دي.

بلاغت:

۱-د(عداوة) او(مودة) ترمينځ دطباق صنعت دي چي له بديعی محسناتوڅخه ګڼل کيږي.

۲ - (تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ) يعنی له اوښکوپيمانه اوډکی شي اوددي لپاره يې بيا(فيض) خوتېدل توئيدل استعاره راوړه چي مبالغه يې وشی اويادا چي سترګي پخپله لډيری ژرا راخوټېږي(۲)

۳ - (تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ) پدې کلام کښي مرسل مجاز دي جزء يې راوړي مرادځني کل دي يعنی دغاړي له ازادولوڅخه مقصددمريې آزادول دي.

۴ - (فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ) دلته استفهام اومرادځني امردي چي معنايې داسی راځي ځني منع شئ اوداترنهی أبلغ ده ابوالسعودوايې چي دخمراوميسردحرمت تأکيدپدې آيت کښي په څوتوکو راغلی دي يوداچي په (اِنما) توري سره يې مصدره کړه اوبل داچي له بتانواوازلاموسره يې سيال وبلله بل داچي

۱-التسهيل۱/ ۱۸۸

۲-وګوره دکشاف حاشيه۱/ ۵۲۱

دشيطان کاراوپليت عمل بېي وباله اودهغوئ له (عين) څخه يې داجتناب کولوامروفرمايه اودايې دخلاصون سبب وګڼل اوبيايې په هغوئ کښې چې څومره دنيوي اواخروي مفاسدشته هغه يې په ګوته کړل ورپسې يې له هغوئ څخه منع کيدل د استفهام په صيغه راوړل چې (فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ) يې وفرمايل چې دوي ته خبرداري ورکړي چې دغه امرپه زجراوتهديدکښې خپلې وروستۍ مرحلې ته رسيدلې دي.

فائده:

دالله جل جلاله پدې قول چې فرمايې (فَاجْتَنِبُوهُ) تعبيرکول په حرمت کښې نص دي خوپه نهی اوتحريم کښې د(حرم) ترلفظ خورا ابلغ دی ځکه معنايې په بشپړه توګه له هغه څخه ليرې کيدل دي لکه دالله جل جلاله داقول چې فرمايې (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَى) ځکه کله چې نزديکت يوشی ته حرام شي نوپخپله هغه شی خوپه طريقه اولی حرام دي همداسې پدې ځای کښې.

تنبيه:

په قرآن کريم دشرعي احکاموتعليل نه بيانېږي اوکه چيرې بيا بيان هم شي نوهغه دلنديزپه توګه وي خودلته الله جل جلاله په تفصيل سره علت بيان کړداسې يې وفرمايل چې دشرابو خوړلواوقماروهلو په وجه دمؤمنانوترمينځ کينه اوعداوت پيداکيږي دالله جل جلاله له لاري اوذکرڅخه سړی راګرزوي له لمانځه څخه يې غافل کوي همدارازشراب اوقماريې داسې وسايل چې دغه دشيطان عمل اوپليت کاردي اوشيطان غواړي انسانان پدې سره وتښتوي اوبرمته يې کړی اوداټول ددې لپاره چې ددې دواړو رذيلوخويونواوکارونوضررونه اوخطرونه څرګندشي وګوره دقرآن کريم اسراروته (۱)

الله تعالی فرمايې:

﴿ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٨﴾ مَّا عَلَى
ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾ قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ فَٱتَّقُوا۟
ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِن تَسْـَٔلُوا۟
عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا۟ بِهَا كَٰفِرِينَ
﴿١٠٢﴾ مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ ۙ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾
وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُوا۟ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۚ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْـًٔا
وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهْتَدَيْتُمْ ۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ شَهَٰدَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ ٱثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ
ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَأَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةُ ٱلْمَوْتِ ۚ تَحْبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ

۱- روائع البيان ۱/ ۵۲۲

ٱرْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي بِهِۦ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ وَلَا نَكْتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلْءَاثِمِينَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا
فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْأَوْلَيَٰنِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعْتَدَيْنَآ إِنَّآ
إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٧﴾ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوٓا۟ أَن تُرَدَّ أَيْمَٰنٌۢ بَعْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْمَعُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا
يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿١٠٨﴾ ﴾ المائدة: ٩٧ - ١٠٨

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی په تېرو آیتونو کښي وفرمایل چی ښکار کول په محرم باندی حرام دي او په دي ترڅ کښي یې د مرغانو او وحوشو له ښکار څخه منع وکړه پدي آیتونو کښي یې بیا دا وفرمایل چي کعبه شریفه الله پاک د خلکو لپاره باعث د قیام او انتظام ګرځولی تر څو د دوئ په زړونو کښي د هغې تعظیم واچوي او د هغې په وړاندی یو څوک هیڅ ته هم زیان ونه رسوي نو څرنګه چي حرم د مرغانو او ځارویو لپاره دامن ځاي ده همدارازد خلګو لپاره دامن سبب دي چي له آفاتو او مخافاتو څخه یې ژغوري او په دنیا او آخرت کښي نیکمرغي او خوښي ورپه برخه کوي

د نزول سبب:

أ - ابن عباس رضی الله عنهما وایې ځینو خلګو به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د ملنډو په توګه پوښتني کولی مثلاً ورته ویل به یې زما پلار څوک دي ؟ چا به بیا ورته وویل زما اوښه ورکه شوي هغه چیرته ده ؟ نو الله جل جلاله بیا دا آیت نازل کړ چي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ
وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا۟
بِهَا كَٰفِرِينَ ﴾ (١)

ب: - ابن عباس رضی الله عنهما وایې چي (تمیم داری) او (عدی بن بداء) مکې ته د تللو په لاره وود (بنی سهم) له قبیلې څخه یو ځوان له دوئ سره ملګري شو او په لاره کښي هسی ځاي وفات شو چي هلته مسلمان څوک نه وو نو دوئ دواړو ته یې وصیت وکړ او خپل مال اسباب یې د وارثانو لپاره ورته پرېښود هغوئ یې مال سامان وارثانو ته تسلیم کړ یوازی یو د سپینو زرو جام یې چي سره زر پکښي کارشوي وو ځنی ستون کړ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ دواړو ته لوړه ورکړه چي د نوموړی د مال څخه موځه پټ کړي نه دي او نه یې په ورکه خبر یاست !! خو دغه جام بیا په مکه کښي وموندل شو د (سهمی) له قبیلې دوه تنه وارثان ورغلل او ویل یې دغه جام د (سهمی) دي د مکې خلګو ورته وویل دغه مونږ له (عدی) او تمیم) څخه رانیول وارثانو ورته قسم واخیست چي زمونږ ګواهي د هغوئ تر شهادت حقداره او مونږ څه تجاوز نه دی کړی جام یې ځني ترلاسه کړ او دا آیت شریف د دوئ په هکله نازل شو چي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ شَهَٰدَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ ٱثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ

١- اسباب النزول ص / ١٢٠

فِي ٱلْأَرْضِ فَأَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةُ ٱلْمَوْتِ ۚ تَحْبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي بِهِۦ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلْءَاثِمِينَ ﴾ .

لغتونه:

(البحيرة) له بحرخخه اخيستل شوي اوهغه شق ته وايي ابوعبيده وايي چي هغه داسى اوښه وي چي پنځه ځلى لنګه شي اوپه آخرځل يې نارينه جونګړی وزيږی نوبيا يې غوږونه ورڅيرى كړی اوخوشي يې كړی نه څوک وربانډی سپريږي اونه يې هم شيدې لوشي (۱) (السائبة) هغه په نذراويامثل دهغه پري ايښي شوي اوښي ته وايي (الوصيلة) هغي مېږي ته وايي چي اوه ځله لنګه شي اوپه اووم ځل غبرګوني يونراوبل ښځه وزيږوي نودوئ وايي چي دي خپل ورور وصل كړبياهغه نه حلالوي (۲) (حام) هغه فحل ته وايي چي له نسل څخه يې لس ځله اوښي بلاربی شوي وي نودوئ وايي چي ملايې وساتله نو وروسته نه څوک وربانډی سپريږي اونه يې له خوراک څښاک څخه راګرزوي هرچيرته چي وغواړي څښي اوڅري (عثر) څرګنديدل ويل كيږی (عثرت منه على خيانة) زه دده په خيانت خبرشوم (ماته يې خيانت څرګند شو) .

(اوليان) د (أولى) تثنيه اودحقداره په معناده.

تفسير:

﴿ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ ﴾ ګرځولى ده الله كعبه چي كوټه ده دبزرګي (اوعبادت) (باعث) دقيام (اوانتظام) لپاره دخلګو يعنى الله پاک كعبه مشرفه چي بيت الله الحرام ده دخلګو دصلاح اومعاش لپاره ددوئ ددين اودنيادامورودقيام لپاره سبب ګرزولي اوددوئ دمعاش اومعاد انتظام پكښي كيږي وير يدونكی پكښي پناه اخلی كمزوري ورته راځغلي سوداګران پكښي مالی ګټی وټی كوي دحج اوعمرې اداكونكی ديندارہ خلګ ورته رادرومي. ﴿ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ ﴾ (اومياشته بزرګه هم) يعنی بزرګي مياشتی لكه ذی القعده ، ذی الحجة ،محرم اورجب المرجب هم باعث دقيام دي چي له جنګه يې منع كوي ﴿ وَٱلْهَدْيَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ﴾ اونذرشوي مذبوحه كعبې ته (هم) اوامېل داره چارپايان (هم) چي دكعبې دحرم له ونوورته امېل غونډي غاړه ګی اچول شوي وي هغه اوڅښتنان يې په امن دي داهم الله سبب دقيام لپاره دخلګو ګرزولی ﴿ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ دا (تېربيان) دپاره ددي دي چي پوه شي تاسی چي بيشكه الله عالم دي په هرهغه شي چي دي په آسمانونوكښي اوپه هرهغه شي چي دی په ځمكه كښي اوبيشكه الله په هر شی باندی ښه عالم دی) يعنی دغه دبيت الله الحرام حرمت اودبزرګومياشتواونذرشوي ، اميل داره مذبوحې احترام ددې لپاره دي چي تاسووپوهېږئ چي الله جل جلاله دځمكي اواسمانونودامورو په تفاصيلو پوهيږي او ستاسی مصلحتونه ورته معلوم دي ځكه يې حرم دامن ځاى كړچي هرڅه پكښي واوسيږي د الله لطف اومهربانی

۱-القرطبى ۶/ ۳۴۲

۲-غريب القرآن ص/ ۱۴۷

ته په بنده ګانو باندی وګوروئ سره له دي چي ځينی ددوي په کفراوګمراهي کښي دي ﴿ اَعۡلَمُوۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴾ پوه شیء تاسی چي بيشکه الله ډير سخت دي عذاب د ده د(هغه چالپاره چي ځنی سرغړوي) اوبيشکه الله ښه مغفرت کونکی دي (هغه چاته چي توبه کاږي اورجوع کوي) نوهغه يې له نقمت څخه بيغمه کيږي اونه هم له رحمت څخه ناهيلی ﴿ مَا عَلَى الرَّسُوۡلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ ﴾ نشته (په غاړه ،ذمه) درسول (زما) مګررسونه د(پيغام) ده) اوپه تحقيق سره چي خپل واجب يې سرته رسولی هيڅوک عذرنلري چي خبرنه وم ﴿ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا تَكۡتُمُوۡنَ ﴾ (اوالله عالم په هغه شی چي ښکاره کوئ يې تاسی اوپه هغه شی (هم) چي پټوئ يې) يعنی الله ستاسی په احوالواو اعمالوعالم دي وربانديې به جزادرکړي ابوحيان وايې چي پدې جمله کښي تهديد پټ دی څکه چي الله داسی اخبارورکړ چي هغه دبندګانوپه پټورازونواوڅرګندواحوالوخبردار دي په هغوبه جزاورکوي که ثواب وي اوکه عذاب (۱)﴿ قُلۡ لَّا يَسۡتَوِى الۡخَبِيۡثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوۡ اَعۡجَبَكَ كَثۡرَةُ الۡخَبِيۡثِ ﴾ ووايه (ای محمده ! دوئ ته) نه برابريږي ناپاک او پاک اګرکه ښه درښکاره شی تاته (ای سامعه) ډيروالی دناپاک) داهسی مثال دي چي الله پاک دحلال اوحرام د جلاوالی په هکله فرمايلي اويادمطيع اوعاصی ترمينځ توپيردی ياد کره اوناکره بيلتون ښيې قرطبی وايې چي دا لفظ عام اوپه ټولوامورو کښي راځی ددي انځورپه کسبونو، اعمالو، خلګواوعلوموکښي راځي نو ناپاک له دي ټولوڅخه بدمرغه دي انجام يې ستايلی نه وي که څه هم ډيروی اوپاکيزه که څه هم لږوي ګټه يې زياته ،پايله يې غوره اوعاقبت يې ښکلی وي(۲)ابوحيان وايې چي پاک اوناپاکه دواړه عام راغلی اوحلال ، حرام طاعت عبادت اوګناه ښه خلګ اوناکاره دسمي عقيدې والااودناکاره عقيدې خلګ ټول پکښي راځي لکه پدي آيت شريف کښي ﴿ وَالۡبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذۡنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِىۡ خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ اِلَّا نَكِدًا ﴾ الأعراف۵۸ (۳) ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰۤاُولِى الۡاَلۡبَابِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴾ نوويريږئ تاسی له الله ای خاوندانود (صافو) عقلونو لپاره ددي چي تاسي نجات وموميء) دالله رضوان اوتل ترتله نعمتونه موپه برخه شی ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَسۡــَٔلُوۡا عَنۡ اَشۡيَآءَ اِنۡ تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ ﴾ (ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړي دي (ای مؤمنانو) تاسی پوښتني مکوئ له (هغو) شيانوکه ښکاره کړشی تاسی ته (ځواب د هغو) نوخپه به کړي تاسی (هغه ځواب) يعنی ای مؤمنانوله بی ضرورته پوښتنوڅخه ځان وژغورئ که درته ځواب ملاوشي نوبه موخپه کړي زمخشري وايې چي معناداچي له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ډيری پوښتنی مکوئ آن تردي چي له سختوتکاليفوڅخه يې پوښتئ که چيري يې فتوی درکړه اووربانديې مکلف شوئ بيابه غمجن اوهغه به بياپرځای کولائ نشئ اوپه پوښتلوبه يې پښيمانه شئ (۴)﴿ وَاِنۡ تَسۡــَٔلُوۡا عَنۡهَا حِيۡنَ يُنَزَّلُ الۡقُرۡاٰنُ تُبۡدَ لَكُمۡ ﴾ (اوکه پوښتنی وکړئ تاسی له

۱-البحرالمحيط۴ / ۲۷
۲-القرطبی ۶ / ۳۲۷
۳- البحرالمحيط ۴ / ۲۷
۴-الکشاف۱ / ۵۳۳

حاله د(هغوشيانو) پداسی وخت کښي چي نازل کاوه شی قرآن (وحی راځي نو) ښکاره به کړل شی تاسي ته) يعنی که تاسي له دغو سختوتکاليفوڅخه دوحی دنزول په وخت کښي پوښتنی کوئ نوپرتاسوبه څرګند(اوفرض شي) بيابه خفه شئ نوله هغوئ څخه سوال اوپوښتنه مکوئ (١) ﴿عَفَا اللَّهُ عَنْهَا﴾ عفوه کړي ده الله (له تېرو پوښتنو څخه) بيادغسی مکوئ ﴿وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ اوالله ښه ښنونکی دګناهونو اوډېرتحمل والادي (په تأخيرد عقوبت (لپاره دانابت اوتوبې) ﴿قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ﴾ په تحقيق پوښتنه کړي وه ددا سی خبرويوقوم پخواله تاسی) خوکله چي ورباندی فرض شول نو يې پرځای کولائ نشوورباندي کافران شول څکه فرمايې ﴿ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كَافِرِينَ﴾ بياوګرځېدل پري کافران (منکران) يعنی په هغه باندی دعمل نه کولوپه سبب کافران شول اودا په بنی اسرائيلوکښي ووچي له انبياووبه يې استفتاوي کولی چي هغوئ به ورته امروکړبيابه يې پرينښودنوبه هلاک شول ﴿مَا جَعَلَ اللَّهُ مِن بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ﴾ (ندي رواکړي الله له هيڅ بحيری اونه سائبې او نه وصيلی اونه حام) دجاهليت په زمانه کښي به کله چي اوښه پنځه ځله بلاربه اوجونګي به يې وزيږاوو نودوئ به يې غوږونه ورڅيری کړل او ورباندی سپريدل به يې حرام کړل دي ته به يې (بحيره) ويله اويوسړي به په ځان داسی نذراېښودل چي که چيری له دي ناروغی څخه جوړشوم اوياله سفره څخه په خيريت راستون شوم نوزمااوښه (سائبه) خوشي ده لکه د(بحيری) غوندی هيڅ ګټه به يې ځينی نه اخيستله اوکه به چيری مېږي (وری) وزېږوله هغه به ددوئ وه اوکه به يې نر(وری) وزيږاووهغه به دبتانوپه نامه وواوکه به غبرګونی لنګه شوه نر اوښځه دواړه به يې وزيږول دوئ به ويل وروريې وصل کړ(وصيله) به يې بلله اوکه به بيادنارينه (فحل) اوښ څخه لس ځله اوښه بلاربه شوه نودوئ به ورته ويل چي ملايې وژغورله اوبيابه يې ورباندی سپرلي نه کوله دی ته به يې (حام) وايواودايې ټول حرام کړی ووکله چي اسلام راغی دغه دجاهليت ګرد رسوم يې باطل اعلان کړل نونه بحيره نه سائبه نه وصيله نه حام الله رواکړی بلکه:

﴿وَلَكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾ ولکن هغه کسان چي کافران شوي دی تړی دوئ په الله دروغ (بهتان) اوډيرله دوئ ځينی نه پوهيږي (په حق اوباطل) يعنی هغه کسان چي کافران دي دوئ په الله دروغ تړي اودالله لوری ته دحرمت نسبت کوي وايې چي مونږته دغه امرالله کړي دي خوډيرددوئ په دې نه پوهېږي چي دغه افتراء ده څکه دوئ دپلرونو تقليدکوی لکه چي الله فرمايې:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ﴾ اوکله چي وويل شی دوئ ته چي راشئ تاسي هغه شي ته چي نازل کړي (رالیږلی) دي الله او(راشی) په لوري د(حکم) درسول (کوم چي ستاسولپاره يې حرام

١-ابن عباس رضی الله عنه وايې چي دآيت تفسيرداچي تاسی ډيری پوښتنی مکوئ چي دهغوئ داخبارپه ترڅ کښي به تاسی غمجن کړئ يادا چي شرعي تکاليف به درباندی راشی اويادا سی خبرچي تاسی به خواشينی کړي مثلاچي پوښتنه کوئ زماد پلاربه څه حال وي ؟ (جنتی ده که دوزخي ؟) اوکه چيري قرآن نازليږي يوامرراځي تاسی يې پوښتنه کوئ نوڅرګنديږي البحرالمحيط ٣١/٤

اوحلال ګاڼلي دي) ﴿ قَالُوا۟ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ﴾ نو وايې دوئ بس دي مونږ ته هغه دين چې مونډلی دي مونږ په هغه (دين) پلرونه خپل ﴿ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾ (آيا(بس دي دوئ ته ؟) اګرکه وو پلرونه ددوئ چې نه پوهيدل په هيڅ شي اونه به يې لاره مونډله وحق ته) همزه دلته دانکارلپاره دي اوغرض ځنی توبيخ دي يعنی آيادوئ هلته هم دپلرونومتابعت کوي که څه هم هغوی ګمراهان ، په دين ناپوهان اوحق ته لاره نه موندونکی وي ؟ ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ (ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دي (يعنی ای مؤمنانو) لازمه ونيسئ پرځانونو(ساتنه اواصلاح) دځانونوخپلواو ګناهونه مکوئ) ﴿ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهْتَدَيْتُمْ ﴾ هيڅ زيان نه رسوی تاسی ته (ګمراهي) دهغه چاچي ګمراه شوي دي کله چي تاسی په صافه سمه لاره اوسئ زمخشري وايې چي مسلمانانوبه ډيرحسرت کاووچي کاشکی کافران هم په اسلام کښي داخل شوي وای نو دوئ ته به وويل شول چي تاسوپخپله په سمه لاره اوسئ اوځانونه اصلاح اوله ګناهونوڅغوری که تاسی په سمه لاره روان واست ددوئ ګمراهی تاسوته څه زيان نه رسوي لکه چي الله پاک خپل استاذي ته فرمايي : ﴿ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ﴾ (۱) ابوالسعود وايې چي هيڅوک دي ددي توهم نه کوي چي په آيت شريف کښي دامربالمعروف اونهی عن المنکر دپريښودلو په هکله څه رخصت شته ځکه داهتداء په ضمن کښي داده چي له منکرڅخه نهی وشی اوروايت کيږي چي ابوبکرصديق رضی الله عنه يوه ورځ په منبردپاسه ويل چي ای خلکو تاسی دغه آيت شريف لولئ خو پخپل ځای کښي يې نه لګوئ بيشکه چي ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلی چي ويل يې : کله چي خلګ منکراوبدکاروګوري اومنع يې نکړي الله به دوئ ټول په عذاب کښي راونغاړي (۲) ﴿ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ﴾ خاص بيرته دالله طرف ورتله ستاسي دي دټولو ﴿ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ نوخبربه کړي الله په قيامت کښي) تاسی په هغوعملونو چي وئ تاسي چي کول به مو(په دنياکښي) بيضاوی وايې چي دغه ددواړو لو(نيکانواوبدانو) لپاره وعداووعيددی اودا تنبيه ورکوي چي يوتن دبل په ګناه نه نيول کيږي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ شَهَٰدَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ حِينَ ٱلْوَصِيَّةِ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) شهادت په مينځ ستاسی کښي کله چي حاضرشي يوه دستاسی ته (علامې د) مرګ په وخت دوصيت کښی (شهادت) کول ﴿ ٱثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ (ددوتنودي چي دواړه خاوندان دعدل وي له تاسي (مسلمانانو) څخه يادوه تنه نورشاهدان غيرله تاسی (مسلمانانو) (که مو پيدا نکړل) ﴿ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَأَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ (که تاسی سفرکاوه په ځمکه کښي بياورسيږي تاسی ته مصيبت د

۱-الکشاف۱/۵۳۴

۲ -ابوالسعود۲ / ۲۵ ددغي خبري تائيدداحديث هم کوي چي : أئتمروابالمعروف وتناهواعن المنکرحتی اذارأيت شحا مطاعًا و هوی متبعا ودنيامؤثرة واعجاب کل ذی رأی برأيه فعليک نفسک) اخرجه الحاکم

مرګ) اودځانګندن علامې ﴿ تَحْبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ چي بندوي به تاسی دغه دواړه وروسته له لمانځه (دمازيګر) ځکه دغه دخلګو داجتماع وخت وي اوهم داسی درسول الله صلی الله عليه وسلم فعل ووچي (عدی) او(تميم) ته يې له منبره سره مازيګرله لمانځه وروسته لوړه (قسم) ورکړ﴿ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِى بِهِۦ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ﴾ نوقسم دي وکړي دواړه په الله که شکمن يي تاسی (په شهادت ددوئ کښي) اووايي به) نه بدلووپدي قسم سره مال اګرکه وي دامشهودله خاوندد خپلوي (هم) ابوالسعودوايې که چيری په دوئ دواړه شاهدانووارث شکمن شي چي خيانت به يې کړي وی اويابه يې له ترکي څخه څه پټ کړی وي نودوئ ته به په الله لوړه ورکړي (١) چي دوئ قسم کوی وايي به مونږپخپله شاهدی کښي دچاپلوي نکوواونه پدې سره دمال بدلولوهڅه کووچي په دروغوشاهدي ديوچاسره دخپلوي په تړاوو وايواومال ترګوتوکړو﴿ وَلَا نَكْتُمُ شَهَـٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلْـَٔاثِمِينَ ﴾ اونه پټوومونږشاهدی دالله بيشکه مونږپه وخت دپټولودشهادت کښي خامخاله ګناهکارانو به يو﴿ فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا ﴾ نوکه اطلاع حاصله کړه شوه پردې چي بيشکه دا دواړه مستحق شوي دی دګناه (دحقي خبري په پټولواوخيانت کولوسره) ﴿ فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْأَوْلَيَـٰنِ ﴾ (نونوردوه کسان دي ودريږي په ځای ددي دواړوله هغو کسانوچي ثابت شوي پرهغو (وصيت ياشاهدي) له قريبانودميت نه) يعنی دوه نورکسان دی د مستحقووارثانوله ډلي ددي خائنوشاهدانو پرځای ودريږي ﴿ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَـٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَـٰدَتِهِمَا ﴾ (نوقسم دی وکړي دادواړه په الله چي خامخا شاهدي زمونږ ښه حقه (اوربښتيا) ده له شاهدی دهغو (ړومبنو) څخه) نوزمونږ شاهدی واوريځ چي ددي خائنانو ترشاهدی داعتباروړ او رښتيا ده ﴿ وَمَا ٱعْتَدَيْنَآ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ اوڅه تجاوز موندي کړي بيشکه مونږپه دغه وخت (دتجاوز) کښي خامخا له ظالمانوبه يو(که موخيانت وکړاويامودروغ وويل) ﴿ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِٱلشَّهَـٰدَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَآ ﴾ (داتيرحکم (چي ردکول دقسم دي پروارثانو) ډيرنژدي دي دی ته چي راتله وکړي دا(شاهدان) په شاهدی سره په هغه شان چي حق دي) پرته له تغيراوتبديل څخه ﴿ أَوْ يَخَافُوٓا۟ أَن تُرَدَّ أَيْمَـٰنٌۢ بَعْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ﴾ او(نژدي دي دي ته) چي وويريږي دوئ له دي نه چي بيرته به ردکړل شی قسمونه (په ورثه وو پس له قسمونوددغو(وصيانو) او دوي به رسوا شي ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْمَعُوا۟ ﴾ اوويريږئ له الله نه تاسی (په دروغوقسم مکوئ)اوواوريځ تاسی (دالله احکام دزړه په غوږونوسره) ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴾ اوالله نه ښيي سمه صافه لاره د(خيراوجنت) قوم فاسقانوته (هغوئ چي دالله له طاعت څخه وتلي وي.

٢-ابوالسعود٢ / ٦٦

بلاغت:

١ - پدې قول کښې چې فرمايې (الهدى والقلائد) عطف د قلائد په هدى باندې عطف د خاص پر عام باندې دې او دايې په يادولوسره خاص او ځانګړې خکه کړه چې ثواب پکښې زيات او د حج سمبالښت پکښې څرګند دې.

٢ - (ماعلى الرسول الا البلاغ) دلته يې بلاغ مصدر راوړ او مقصد ځنى تبليغ دې داد مبالغې لپاره.

٣ - پدې کلماتو کښې چې : (الخبيث والطيب) د طباق صنعت او پدې کلماتو کښې چې : (اصابتکم مصيبة) د اشتقاق جناس دې او دادواړه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

۴ - (شهادة بينکم) داخبريه جمله په لفظ کى او په معنى کښې انشائيه ده چې مراد ځني امردې يعنى ګواهى دې اداکړې ستاسى ترمينځ.

فوائد او ګټې:

لومړې فائده: داچې امام شاطبى وايې ډيرى پوښتنى کول ښه کارنه دې او ددې ډيرځايونه دې چې مونږ يې لس ځايه دلته غورچاڼ کوو.

١ - هغه پوښتنه چې په دين کښې څه ګټه نلري لکه ديوچاپوښتنه چې زماپلار څوک دى ؟.

٢ - هغه چې له اړتيازياته پوښتنه وشى لکه ديوسړې سوال دحج څخه چې (أكل عام؟) يعنى اى پيغمبره حج کول هرکال فرض دې ؟.

٣ - داسى پوښتنه کول چې سمدستې ورته هيڅ اړه نه وي لکه چې رسول الله فرمايې : (ذرونى ماتركتکم).

۴ - داچې دسختومسائلوپوښتنه کوي لکه چې داغلاطاتوڅخه سوال کوي اوله هغه منع شويده.

۵ - لکه چې دحکم له علت څخه پوښتى لکه دروژې قضايې راوړل په حائضه ښځه باندې پرته دلمانځه له قضايې څخه.

٦ - داچې په سوال کښې هغه حدته ورسيږي چې تکليف او تعمق غواړي لکه دبنې اسرائيلوپوښتنى دغواپه هکله چې کومه غواده ؟ څه رنګ لري ؟ او.........

٧ - کله چې له پوښتنوڅخه دکتاب او سنت معارضه څرګنده شى څکه نويوچاته سعيد وويل آياته عراقى يې ؟ !

٨ - له متشابهاتوڅخه پوښتنى لکه چې له امام مالک رحمه الله څخه داستواء په هکله وپوښتل شول چې هغه په ځواب کښې ورته وويل استواء معلومه او کيف غيرمعلوم دې......ترپايه .

٩ - له هغوپيښواوشخړوڅخه پوښتنې چې دسلف صالحينوترمينځ پيښى شوي او عمربن عبدالعزيز پدې باب داسى وايې : داهغه توى شوي وينى دي چې الله جل جلاله ورباندې زمونږلاس له ککړتياڅخه ساتلى نوزه خپله ژبه هم ورباندې نه ککړوم.

١٠- په پوښتنو کښي تعنت او مجادله کول ترخو غلبه ومومی په حدیث شریف کښي راځي (ابغض الرجال الی الله الالد الخصم) ترټولو کرکجن سړی دالله په نزد هغه دي چي په خصومت او مجادله کښي خوراټینګار کوي(١)

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾ إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ
اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَإِذْ عَلَّمْتُكَ
الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي
وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِالْبَيِّنَاتِ
فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا
وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ
قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ
الشَّاهِدِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِّنكَ
وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَّا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ
﴿١١٥﴾ وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ
أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ مَا قُلْتُ
لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ
صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾ ﴾ المائدة: ١٠٩ - ١٢٠

مناسبت او تړاو:

کله چي الله داجل درانژدي کيدلو په وخت کښي دوصيت کولو يادونه وکړه او دالله دتقوی او طاعت کولو امريې وفرمايه وروسته يې دهغې هيبت لرونکی ورځي ذکر راووړچي هغه دقيامت ورځ او الله به پکښي رومبنی او وروستنی راټول کړی څو ورسره حساب کتاب وکړی او په جزايې ورسوی بيايې هغه معجزاتي بيان کړی چي خپل بنده او استازی حضرت عيسی عليه السلام ته يې ورکړي دي چي يوه يې

١- محاسن التأويل للقاسمی ٢/ ٢١٧٢

هم له آسمانه (مائدة) راتلل وواوبيايې مبارک سورت دحضرت مسيح عليه السلام د الوهيت له دعوی څخه په برائت ورکولو پای ته ورساوو.

لغتونه:

(كففت) يعنی منع می کړل اوله دي څخه كفيف هم راغلی چي له رؤيت اوليدلو څخه منع دي (أيدتک) ټينګ کړی می وي ته له تائيد څخه دي چي هغه قوت ته وايې (أوحيت) وحی په پټه توګه په نفس کښي ديوې معنا اچولو ته وحی وايې اوداپه درې ډوله ده يوه وحی دالهام په معنا بله داعلام په معنی چي په وينـه اوخوب کښي وي دريمه وحی دحضرت جبريل عليه السلام درا استولو په معنادی چي پيغمبرانو ته به راتو[1] (مائدة) ددسترخوان په معنی هغه چي وربانـدی خواړه (طعام) ايښي وي که خواړه وربانـدی نه وي مائده نه بلل کيږي [2] (الرقيب) دافعالوڅارونكي (ابدا) تل ترتله پرله پسې (بلاانقطاع).

تفسير:

﴿يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ﴾ يادکړئ (ای خلګو) هغه وخت چي جمع به کړي الله ټول رسولان (اوخلګ دحساب لپاره) پس وبه وايې (الله رسولانو ته) چي څه ځواب درکړي شوي ووتاسو ته (له طرفه دامتيانوستاسی کله چي ايمان اوتوحيدته موورابلل؟) ﴿قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَآ﴾ وبه وايې (ګرد رسولان الله ته) نشته هيڅ علم مونږته (ستاد علم په مخکښي) ابن عباس وايې زمونږ هيڅ علم نشته مګرهغه علم چي ترمونږته وربانـدی زيات عالم يې ﴿إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ﴾ (بيشکه ته چي يې هم ته يې لوئ عالم په غيبو(اسرارو) يعنی ته په هغه څه پوهيږي که پټ وي اوکه ښکاره چي مونږ وربانـدی نه پوهيږو، ابوالسعودوايې چي پدې کښي دشکايت ښکارندونه اودامرسپارښتنه دالله علم ته ده چي پروردګاره! ته پوهيږې چي مونږ له خپلوقومونوڅخه څومره ناخوالی ليدلی ده اوڅومره تکاليف موګاللی دي اوالله ته پناه وروړل دي چي ددوئ کسات له هغوئ څخه واخلي [3] ﴿إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ﴾ يادکړي (هغه وخت چي) وبه فرمايې الله ای عيسی زوي دمريمې يادکړه احسان زماپرتااوستاپرمووربانـدی ابن کثيروايې چي الله دهغه نعمت يادونه کوي کوم چي پخپل بنده اورسول يې کړي اودده په لاس يې معجزې اوخوارق ښکاره کړي وويعنی يادکړه هغه نعمت زماپرتا باندی چي له موره مې بې پلاره پيداکړي اوته مې پخپل قدرت باندې ښکاره دليل وګرزولي اوهمدارازستاپه موربانـدی مې کله چي ظالمانوهغه په زناتورولـه دهغې دبرائت ترلاسه کولولپاره دليل

1- القرطبي ۶/ ٣۶٣
2- البحر۴/ ٣٠
3- القرطبي ۶/ ٣۶١ ابن کثيروايې چي دغه له الله پاک سره دادب کولوپه معناده چي زمونږ علم ستاد علم په وړاندی چي په هرڅه محيط دي هډو نشته ته په هرڅه خبرداريې ستاعلم ته زمونږ علم لکه نيستي داسی دي

کړي (۱) قرطبی وايي دغه دقيامت دورځي له حالاتوڅخه انځوردي لکه چي وايي په يادکړي هغه ورځ
چي الله ګردپيغمبران راټول کړي اوکله چي عيسی ته داسی وايي (۲) اودماضی په لفظ يې ددي لپاره
ذکرکړي چي (اذقال) يې راوړي ترڅو قيامت نژدي وښيي ځکه هرراتلونکی نژدي دي ﴿إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ
الْقُدُسِ﴾ کله چي قوت مي درکړي ووتاته (ای عيسی په روح القدس (جبرائيل) سره چي پاکه سپيڅلی
روح ده ﴿تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا﴾ چي خبري به دي کولي له خلګوسره په مهد (ځانګو)
ياطفوليت کښي (اوپه حال دکهولت (پوره عمر) کښي چي نبی وي ﴿وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ
وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ﴾ (کله چي مي درزده کړتاته کتاب (ليکل) اوحکمت (ګټور علم) اوتورات اوانجيل
﴿وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي﴾ اويادکړه کله چي جوړه به دي کړله له خټوڅخه په مثل دصورت
دمارغه په اذن (حکم) زما ﴿فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي﴾ پس پوکول به دي په هغه صورت کښي پس
شوبه هغه هيئت مارغه په اذن (حکم) زما ﴿وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي﴾ اوروغول به دي مورزاده
ړونداوبرګ (پيس) په حکم (اومشيت) زما ﴿وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي﴾ اوچي رااېستل به دي مړی په
حکم زما (ژوندي کول به دی) ﴿بِإِذْنِي﴾ لفظ يې په هره معجزه کښي مکررراووړدي لپاره چي په هغه
چا ردوکړي چاچي حضرت عيسی ته دربوبيت نسبت کاووا ودغه ټکی دڅرګندولولپاره چي دغه خارق
العادة پيښي دالله له لوري دي يوازي يې دحضرت عيسی په لاس څرګندي کړي دي چي معجزه يې وي
﴿وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِالْبَيِّنَاتِ﴾ اوکله چي مي بند کړ (شر) دبنی اسرائيلوله تانه
(ای عيسی چي دوئ ستادقتل عزم کړي ووکله چي دوئ ته دي واضح دلائل راوړي وو ﴿فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا
مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ﴾ نوويل هغوکسانوچي کافران شوي وو له دوئ څخني چي نه دي دغه معجزي
ستامګرسحردي ښکاره ؛ څرګند ﴿وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي﴾ (اوکله چي مي په
زړونوکښي ورواچول حواريونو ته چي ايمان راوړئ تاسی په مااوپه رسول زما) داهم دالله داحسان يوه
بله برخه ده چي حواريونوته يې دعيسی عليه السلام په ژبه امرکړي چي په الله اورسول يې (عيسی عليه
السلام) ايمان راوړئ ﴿قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ﴾ نوويل حواريونوچي ايمان موراوړي دي (په
الله اوعيسی) اوشاهداوسه (ای عيسی) چي بيشکه مونږ مسلمانان يو) يعنی حواريونوويل چي ای
الله څه چي دي راته امر فرمايلی په هغه زمونږ ايمان دي اوپدي ايمان کښي مخلصان اوستاامرته غاړه
ايښودونکی يو ﴿إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ﴾

۲- ابوالسعود۲/ ۷۰
۱- ابن کثير۱/ ۵۲۱

يادکړه هغه وخت چي وويل حواريونو اى عيسى زوي دمريمې آياکولاى شي رب ستاچي نازل کړي پرمونږ ډکې خوانچې له آسمانه ؟ قرطبى وايې دغه خبره ددوئ څخه په لمړي سرکښي کله چي دالله جل جلاله يې بشپړ معرفت لانه وو کړې صادره شوه اوداهم کيداى شي چي دځينو ناپوهانو له خولې به راوتلې وي لکه چي دموسى عليه السلام دقوم ځينى کسانو وويل: ﴿ اجْعَل لَّنَا إِلَـٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ ﴾ ابوحيان وايې چي ددغه لفظ ظاهرداغوښتنه کوي چي دالله په قدرت اوتوان کښي دى شک ولري چي آياله آسمانه ډک دسترخوان راښکته کولاى شي ؟ اوزمخشرى هم دي پلوته تللى دي (۱) اونورومفسرينو ويلي چي حواريون مؤمنان اودعيسى خواص ملګرى دوئ پدې کښي شک نه درلود آن ترديي چي حسن ويلي دوئ دالله په قدرت کښي شک نه درلودبلکه دغه پوښتنه يې دمعلوماتوترلاسه کولولپاره کوله چي آيانازلوي يې که نه ؟ که چيرى يې رانازلوي نوزمونږلپاره ورته سوال وکړه (۲) نوددوئ پوښتنه داطمينان اوتثبت لپاره ده ﴿ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ وويل عيسى (عليه السلام) وويريږئ له الله (په داسى سوالونو کښي) که يئ تاسى مؤمنان (په قدرت دالله) ﴿ قَالُوا نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا ﴾ وويل (حواريونو) اراده لرومونږ(په دغه سوال سره) چي وخوروددغې دسترخوان څخه (دتبرک لپاره) اوبطمئن شي (په دغه خوراک سره) زړونه زمونږ(ديقين په زياتوالى سره) ﴿ وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا ﴾ اوپوه شوپدې چي په تحقيق تارښتياويلي وومونږته) يعنى مونږ په علم يقين سره داسى علم چي شک اوشبه پکښي پاتى نه دي وپوهېږوچي ستادنبوت دعوه رښتونى اوحق ده ﴿ وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴾ اواوسومونږ پردې (دسترخوان) له شاهدانو ځنى (هغوئ ته چي غائبان دي له خلګو) ﴿ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ اووويل عيسى زوى دمريمې اى الله ربه زمونږرانازله کړه پرمونږ باندى ډکه خوانچه (له طرفه) دآسمانه) عيسى عليه السلام ددوئ دمائدې په هکله سوال ومنل ترڅو په هغوئ باندى دکلک دليل الزام وشى اوداسى روايت کاوه شى چي کله عيسى عليه السلام دعاکوله نودوينښتانو (اوزغنو) اوبدل شوي څادريې واغوست اوهمدارازيې چپنه (قبا) واغوستله په لمانځه ودرويدو اوپروردګارته يې په ژړاکښي دعاکول پيل کړل ابوالسعودوايې چي عيسى عليه السلام دوه ځله الله ته ندا کړى وه يوځل دالوهيت په صفت سره چي دټولوکمالاتوجامع دي اوبل ځل دربوبيت په وصف سره چي دروزنى څخه خبروركوي اودتضرع وروستنى پوله اوغايه ده (۳) ﴿ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا ﴾ چي شي (وخت دنزول ددغې ډکې خوانچې) مونږ ته اختر(د خوشحالى ورځ)

---

۱ - زمخشرى وايې که چيرى وپوښتل شى چي دوئ څرنګه داسى ويل چي آيارب دى کولاى شى ؟ سره له دي چي مؤمنان وواواخلاص يې درلود نوځواب داچي الله دوئ په ايمان اواخلاص نه دي ستايلى بلکه دهغوئ دادعاحکايت يې کړى اودعوى يې باطله ده ځکه دالله په قدرت کښي شکمن دي داهسى عقيده اوخبره ده چي له مؤمن څخه نه صادريږي. کشاف ۱/ ۵۴۰

۲ - البحر ۴ / ۵۳

۳ - ابوالسعود ۲ / ۷۳

لپاره درومبنیوزمونږ او ورستنیوزمونږ ﴿ وَءَايَةً مِّنكَ ﴾ (اوبل داچي شي دغه خوانچه) دلیل له تانه (ستادنبی په صدق)﴿ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾ اوروزی راکړي مونږته اوهم ته يې غوره دروزي ورکونکو,ځکه ته الغنی الحمید یې ﴿ قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ﴾ وویل الله زه نازل کونکی یم ددي پرتاسوباندی (الله یې دعاومنله ﴿ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَّا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴾ نوهرڅوک چي ناشکری وکړی وروسته (له نزوله ددي دسترخوان) له تاسی څخی نوبیشکه زه عذاب ورکوم هغه ته داسی عذاب چي نه به په عذابوم په هغه سره بل هیڅ یوله (نورو) مخلوقاتو؛ په حدیث شریف کښي راځي چي له آسمانه مائده غوښي اوډوډۍ رانښکته کړل شوه اودوئ ته یې امرورکول شوچي نه به پکښي خیانت کوی اونه به یې هم دسباله پاره خوندی کوی دوئ دواړه وکړل هم یې ذخیره اوزیرمه کړه اوهم یې پکښي خیانت وکړسباته بیرته پورته شوه اودوئ خنزیران اوبیزوګان مسخ شول ([1])په تسهیل نومی کتاب کښي وایې چي دالله جل جلاله عادت پدې جاری شوی څوک چي ترې کومه معجزه وغواړی اووریې کړی اوبیاورباندی کافرشي سخت عذاب ورکوي اوڅرنګه چي ځینی ددغوکسانوورباندی ناشکری وکړه نوهغوئ الله په خنزیرانو(بدوځناورانو) مسخ کړل ([2])﴿ وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ (اوکله چي وویل الله ای عیسی زوی دمریمې ! آیاتاویلي ووخلګوته چي ونیسی مااوموروزما(دواړه) خدایان بی له الله نه ؟) دغه عطف دیوې کیسې دی پربلی باندی چي لومړي یې ﴿ إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ ﴾ ده ابن عباس (رض) وایې چي داوینابه دالله جل جلاله له لوري د خلګوپه وړاندی وي چي کفارپدې وپوهیږي دوئ په باطله لاره روان وو ([3]) دغه خبره دالله له لوری د کفارولپاره توبیخ اوتبکیت دي چي: ای عیسی تاخلګ دي ته رابللی وو چي ستا اوستادمور د الوهیت عقیده ولري ؟ قرطبی وایې چي دغه پوښتنه الله دهغه چادتوبیخ لپاره کوي کوم چي دغه دعوی یې کړی ده ترڅودعیسی علیه السلام انکارووروسته له پوښتلوپه تکذیب کښی أبلغ اوپه توبیخ اوتقریع کښي اشد او سخت وی ([4])﴿ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ﴾ وبه وایي عیسی چي پاکی دی تالره (ای الله له شریکه) اوهغه څه چي تاسره نه ښایې) نده لائقه ماته داچي ووایم زه هغه خبره چي نشته ماته حق(دویلو دهغې) ﴿ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ ﴾ (که وم زه چي ویلي مي وای داخبره نوپه تحقیق معلومه به وه تاته) یعنی که چیرته دغه خبره له ماڅخه صادره شوي وای ته به ورباندي خبروي له تاڅخه خوهیڅ هم پټ نه دي اوته پدې خبرېې چي مانه دي ویلي دغه خبره هم عذراوهم له ویلوبرائت دی اوهمدارازدادب په ساتلوکښي هم مبالغه ده چي دذوالجلال الله په

۱-اخرجه الترمذی فی باب التفسیر
۲-التسهیل ۱۹۴/۱
۳-البحر۴ / ۵۸
۴-القرطبی ۳۷۵/۲

وراندي خپل ذلت او مسکنت څرګندوي. ﴿ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ الْغُيُوبِ ﴾ تاته معلوم دي هرهغه شي چي په نفس زما کښي دي اونه پوهېږمه زه په هغه شي چي په ذات ستاکښي دي (له معلوماتوستا) يعنی تاته زمادذات حقيقت اوهغه څه چي پکښي دي معلوم دي اوماته ستادذات حقيقت اوهغه ستادکمال صفات چي لري يي ندی معلوم تاته ټول خفاياواونوايامعلوم دي ستاعلم په (ماکان اوما يکون) دواړوچاپېر(محيط) دي. ﴿ مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ ﴾ (ندي ويلي مادوئ ته هيڅ شي) مګر هغه چي تاامر(حکم کړي) ووماته په هغه سره) امام رازي وايي چي دلته يې قول دامرپرځاي راوړي چي ادب پرځاي کړي ترڅوخپل ځان اوپروردګاردواړه امران ونه ښيي ﴿ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ﴾ (چي عبادت کوئ تاسي دالله رب زما اورب ستاسي)زمااوستاسي دخالق عبادت کوي زه هم تاسوغوندي بنده يم ﴿ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ﴾ اوومه زه (په اقوالوافعالود) دوئ باندي خبردارترڅوچي ومه زه په دوئ کښي ﴿ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ﴾ پس کله چي دي زه قبض کړم (په بېولوسره آسمان ته) نووي ته هم داته څارونکی پردوئ (ددوئ اعمال اوافعال دي ليدل) ﴿ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ اوته په هرشي باندي ښه حاضرښه خبرداروي يې (هيڅ درڅخه پټ نه دي) ﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ﴾ (که عذاب ورکړي ته (ای الله) دوئ ته نوبيشکه دوئ ستابندګان دي) ته يې مالک يې څرنګه چي وغواړي هسي تصرف کولای شي پرتاڅه اعتراض نشته ﴿ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ اوکه ببښنه وکړي دوئ ته نوبيشکه ته هم داته يې ښه غالب (په امرخپل کښي) اولوي حکمت والاپخپل صنعت کښي ﴿ قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ ﴾ اووبه وايي الله دقيامت په ورځ) دا ورځ ددي ده چي نفع به رسوي صادقينوته صدق ددوئ) ځکه دادجزاورځ ده ﴿ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾ (مقرردی) دوئ ته جنتونه چي بهېږي له لاندي (دونواومانيو) دهغوويالې (داوبو ، شېدو شرابو اوشاتو) تل به وي دوئ په هغه کښي ﴿ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ﴾ راضي شوي دی الله له دوئ نه (په طاعت سره) اوراضي دي دوئ له الله څخه (په مونډلودثواب) ﴿ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ دغه (خلوداو رضوان) بری دی ډېرلوي ﴿ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ خاص الله لره دی ملک دسلطنت دآسمانونواو(سلطنت) دځمکي او(سلطنت) دهغوشيانوچي په دوئ کښي دي اوالله په هرشي باندي (چي اراده يې وفرمايي) ښه قادردی.

تنبيه:

امام مسلم په خپل صحيح کښي روايت کوي چي: رسول الله صلى الله عليه وسلم دالله جل جلاله داقول چي دحضرت ابراهيم عليه السلام په هکله يې فرمايلي تلاوت کړچي: (رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ) اودارنګه دعيسی عليه السلام قول چي ﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ

وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ نوبې لاسونه اوچت کړل او ويل يې (اللهم امتی امتی) اوويې ژړل الله جل جلاله جبريل عليه السلام ته وويل محمدته ورشه پوښتنه ځني وکړه چي څه شي دي ژړوي ؟ (وربک اعلم) جبريل عليه السلام ورته راغی پوښتنه يې ځنی وکړه اورسول الله صلی الله عليه وسلم دهغه ويلو خبرورکړنو الله جل جلاله ويل ای جبريله محمدته ورشه ورته ووايه ژرده چي مونږ به ستا دامت په هکله تاراضی کړونه دی غمجن کوو.

دالله په مرسته دالمائدة سورت تفسيربشپړشو

***

دالانعام سورت مکي اويوسل اوپنځه شپېته آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالانعام سورت يودهغومکي اوږدوسورتونوڅخه دی چي محوريې د(عقيدې) اوايمان په اصولو راڅرخي اودادمدني سورتونوڅخه په اهدافواومقاصدوکښي ګوښي اومختلف دي کوم چي پخوا تېرشوي لکه : البقرة ، آل عمران ، النساء ، المائده اوپدي سورت کښي دمسلمانانودټولني تنظيمي احکاموته ګوته نده نيول شوي لکه روژه حج ، عقوبات ، اودکورکهول احکام اونه هم پکښي داسلامي دعوت له خارجينوسره د جهاد کولوپه هکله څه راغلی لکه چې له اهل کتابو اومنافقينوڅخه يی هم خبري نه دي کړی بلکه ستري قضاياوي يې رااخيستي چي هغه دايمان اوعقيدې اصول دي اوپه لنډه توګه هغه قضاياوي دادي:

۱-دالوهيت قضيه
۲-دوحي اورسالت قضيه
۳-دبعث اوجزاء قضيه

* مونږپدي سورت کښي زښته زياتي داسي خبري لولوچي داسلامي دعوت په اساسي اوبنسټېزو اصولوبنادي اوپدې کښي سترحجتونه اوځرګند دليلونه دي لکه چي دالزام اواقناع لپاره پکښي غوڅ براهين شته ځکه سورت په مکه کښي هلته چي مشرکان اوسيدل نازل شوی دي اوهغه څه چي پدې سورت کښي نظر جلبوي دوه ښکاره اسلوب اوتګلاري دي چي له دي پرته په نوروسورتونو کښي ميندل کېداي نشي يويې دتقرير اسلوب اوبل دتلقين اسلوب.

١ - دتقرير اسلوب قرآنکريم دالله په توحيداودهغه په وجوداوقدرت ، سلطان اوقهرباندي داسې دلائل چي بيخي منل شوي وي راوړي اوهغه په غائب ضميرچي له حاضرحس څخه بهردي رااخلي هلته چي سليم عقل اوراشدعقل پکښي هيڅ شک اوشبهه نکوي چي الله جل جلاله دکائناتوپيداکونکی اودفضل اواحسان خاونددي نودغه رازد(هو) په تعبيرچي دتدبيراوحکمت په خاونداوخالق باندې دلالت کوي مونږته رااوروي فرمايي: ﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ﴾ ﴿وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلْأَرْضِ﴾ ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ﴾ ﴿وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ﴾ ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ﴾ دايتونوترپايه.

٢ - دتلقين اسلوب بې له شکه چي درسول الله صلى الله عليه وسلم په تعليم کښي دحجت تلقين له ورايه برېښي ترڅوخصم پرکړي دهغه په زړه اوغوږونواغيزه وکړي ترتاثيرېي لاندي کړي اوبياهيڅ دخلاصون لاره نه لري دغه اسلوب دسوال اودځواب په ډول راځي يوځل ځني پوښتنه کوي بياورته ځواب اوروي لکه ﴿قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُل لِّلَّهِ ۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ﴾ ﴿قُلْ أَىُّ شَىْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ﴾ .

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ﴾ ﴿وَقَالُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾ همداسي سورت دمشرکينومناقشه کوي هغوی ته قاطع اوغوځونکي دلائل وړاندي کوي چي دباطل ملا ور ماته کړي له دي امله ده چي دانعام سورت دمکي نوروسورتونوپه لړکښي ديوسترشان اوعظمت خاوند دي چي داسلامي دعوت ترکېزپکښي شته (١)حقائق يې ځرګندوي ستني يې دروي دمخالفينواشتباه ګاني په يو عجيبه اونادره ډول مناظره کښي پورته کوي پدي سورت کښي دالله دتوحيدپه خلق اوايجادکښي همدارازپه تشريع اوعبادت کښي بيانوي دپيغمبرانودمنکرينواودروغجنوبلونکودريزښيې او هغوی ته دپخوانيوامثالو کيسې ورپه يادوي چي څه ورپېښ شول ددوئ اشتباهات دوحی اورسالت په هکله راوړي دآخرت اوجزاد ورځي بيان کوي اودغوټولوته په پراخ ډول دهغودلائلوتنبيه کول راوړي چي په ځانونواوآفاقوکښي يې هر څوک ګوري اويايې دبشري طبيعت دسختيواوسوکاليوپه وخت کښي وينې همدارازدانبياووپلارحضرت ابراهيم اودهغه زامن څوپيغمبران راوړي اوپيغمبر صلی الله عليه وسلم بيادهغوی دهدايت پيروي ته رابولي اود ستونزواومشکلاتوپه وړاندي دزغم اوصبر تلقين ورکوي لکه چي دکافرانودحال انځوردقيامت په ورځ کاږي اوپه مختلفورنګونوبې وړاندي کوي بيادجاهليت دوخت تصرفات بيانوي چي ددوئ شرک هغوي ديوځيز تحليل ياتحريم ته هڅولي وواودهغه ابطال

---

١ - امام رازي وايي دغه سورت دوه ډوله دفضيلتونو امتيازلري يوداچي په يوځل ټول رانازل شوي دوهم داچي اويازرو ملائکويې بدرګه کوله اودغه امتيازسبب داچي دتوحيد ، عدل ، نبوت او معاد خبري پکښي دی اوملحدينو دمذاهبوداِبطال په دلائلو مشتمل دي. امام قرطبي وايي چي دغه سورت داستدلال دقاعدې په ډول دمشرکينواومبتدعينواوهغه چاچي له بعث اونشورڅخه منکروي په کارېږي اودادي غوښتونکي دي چي يوځل ټول رانازل شي.

اوماتول بیانوي وروسته سورت (دیوجزء په څلورمه برخه کښې) په لسووصیتونوچې په ګردوپخوانیوکتابونوکښې راغلي اوټولو انبیاووعلیهم السلام دهغوي بلنه ترسره کړې مشتمل دي فرمایي: ﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ پای یې پداسې یونادره اوښکلي آیت سره بشپړیږي چې دانسان هغه مرتبه چې پدې ژوند کښې دلوي الله په وړاندې لري راښکاره کوي هغه داچې دي یې په مځکه کښې خلیفه دي اوالله پاک دکائناتو آبادي اوتعمیردانسان ترلاس لاندې کړي چې نسل وروسته له نسله به یې ترسره کوي اوداچې الله جل جلاله مواهب د انسانانوترمینځ متفاوت ویشلي چې پدې کښې ستر حکمت اولوړمقصد نغښتی دی چې هغه ازموینه اوابتلاء دي چې دا ژوند به په څه شان تیروي کوم چې له دې پیدا ښت څخه مقصوداومطلوب دي ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ﴾.

تسمیه اونومول یې:

دغه سورت ته دالانعام ، سورت څکه وایي چې دانعام (چارپایانو) یادونه پکښې راغلي ده الله تعالی فرمایي ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا﴾ اوداچې دبراحکام دمشرکینودجهالت اوناپوهي چې دبتانودتقرب لپاره یې درلودل پکښې واضح شوي دي اوله څانګړتیاووڅخه یې یودادی چې ابن عباس رضی الله عنه وایي: (سورت الانعام) په مکه مکرمه کښې یوموتی په داسې حال کې نازل شوی چې خواوشایې اویازره ملائکي وي تسبیحات یې لوستل(۱).

الله تعالی فرمایي:

﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ﴾ ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ طِينٍ ثُمَّ قَضَى أَجَلًا وَأَجَلٌ مُسَمًّى عِنْدَهُ ثُمَّ أَنْتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ﴿٣﴾ وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ آيَةٍ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنْبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ قَرْنٍ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَكُمْ وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ عَلَيْهِمْ مِدْرَارًا وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ وَأَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٦﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿٧﴾ وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا لَقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُونَ ﴿٨﴾ وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَجَعَلْنَاهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَا يَلْبِسُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾ قُلْ سِيرُوا

۱- محاسن التاویل ٦ / ۲۲۳۲

فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ ٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾ قُل لِّمَن مَّا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُل لِّلَّهِ ۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ
ٱلرَّحْمَةَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾ ۞ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِى
ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ۗ قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ
أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾ قُلْ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ مَّن
يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ
بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٨﴾ ﴾ الأنعام: ۱ - ۱۸

لغتونه:

(يعدلون) برابروي عدل سيال اوشريک ويل کېږي (عدل فلان بفلان) يعنی ساری اوبرابرېې کړفلانی له فلاني سره (تمترون) شک کونکي یاست ویل کېږي (امترى فى الامر) کله چي شکمن شي په يوشي کښي (قرن) پېړۍ اوامت مقترن په يوه زمانه کښي اوله دي څخه هغه حديث هم راغلی چي (خيرالقرون قرنی) دقرن اصل سل کاله مودې ته وايې بيايې اطلاق په هغه ټولۍ خلگو کېږي چي په يوه زمانه کښي سره هم عصره اوسي. (مدرارًا) په شېبوشېبوزيات باران (قرطاس) هغه پاڼه چي پکښي ليکل کېږي (لبسنا) گډ کړي وومونږ (لبس) خلط اومشتبه ته وايې (حاق) نازل شوي اورسيدلي وو (وليًا) مرستندوئ اومعاون.

دنزول سبب:

روايت کېږي چي دمکې مشرکانو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: ای محمده! ترهغو مونږ درباندي ايمان نه راوړو چي دالله له لوري ليکلي کتاب راوړي چي څلورپرښتې ورسره اود رښتنولي تصديق يې وکړي چي داکتاب دالله له لوري اوته په رښتيا دالله جل جلاله استازي اوپيغمبرېې نو الله جل جلاله داآيت نازل کړ: ﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَـٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾.

تفسير:

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ (ټولي ثناوي ستايني خاص هغه الله لره دي چي پيداکړي يې دي آسمانونه (بې له نموني) او ځمکه (بې له مادې) الله پاک دغه سورت په حمدپيل کړي چي بندگانو ته تعليم ورکړي څوپه دغي دتعظيم او تبجيل په اقساموشتمله صيغه يې ثناووايې اوددي خبرتيالپاره چي هغه دټولو محامدواوستاينووړاو مستحق دي نه يې سيال اونه شريک شته اونه يې مثل اونه نظيريعني دهغه الله حمدووایاست چي پرتاسوېې ډول ډول انعامات لورولي دي هغه چي بې نمونې اومادې يې آسمانونه اوځمکي پيداکړي چي په هغوي کښي ډول ډول عجائب اوقسماقسم بدائع خوندي دي دصنعت عجائب اودحکمت بدائع چي عقلونه اوافکار حيرانوي پدوی کښي دهوښيارانولپاره يادوني اوذکريات دي ﴿ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَـٰتِ وَٱلنُّورَ ﴾ (اوپيداکړي يې دي رنگارنگ) تيارې اورڼا) اوشپه اوورځ چي يوپه بل پسي اوړي رااوړي اودعالم پکښي خورازياتې منافع اوگټي خوندي دي چي شمېرېې نشي کېداي او(ظلمات) يې دجمعي په صيغه راوړل څکه دگمراهي ښاخونه متعدددي اولاري يې گوښي گوښي دي او(نور) يې يوازي راوړي څکه چي مصدرېې يودي اوهغه رحمان ذات چي

دکائناتو روښانونکي دی . په تسهیل کښي وايې چي پدي آيت کښي په مجوسيانو (آتش پرستانو) رد راغلی چي دوي داوراو يانورو رڼاگانو عبادت کوي او وايې چي خيرله نورڅخه او شرله تاريکي څخه زېږېدلی دی څکه مخلوق هيڅکله اله کيدلای نشي اونه هم دحوادثو فاعل راځي ﴿ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ﴾ بياهم هغه کسان چي کافران شوي دي په رب خپل سره برابروي (نورشيان په عبادت کښي له الله سره) يعنی وروسته له همدومره څرگندو دلائلو او روښانه براهينو د الله په وحدانيت او وجود باندي کافران شرک خوښوي اوله الله سره په عبادت کښي نوربتان برابروي چي پخپل لاس يې کيندلي اوپخپل فکر يې سنجولي دي پدي کښي خورا تعجب اوددوي توبيخ دی . ابن عطيه وايې چي په آيت شريف کښي دکافرانو په بدفعل باندي دلالت شته څکه ددي معناداچي هغه ذات چي آسمانونه اوځمکي يې پيداکړي او آيتونه يې ښکاره او انعامات يې څرگند شوي نوله دي تولو وروسته بياهم دوي له الله جل جلاله سره بتان اونورڅه په عبادت کښي برابروي لکه چي ته چاته وايې : ای سړيه څومره احسانات مي درسره کړي خوبياهم ته راته ښکنځل کوي ؟[١] ﴿ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ﴾ دغه (الله) هغه ذات دي چي پيداکړي يې ياست تاسي له خټو(چي ستاسو پلار آدم يې تري جوړکړ) ﴿ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًاۖ ﴾ پس له هغه مقررکړي يې دي يووخت (لپاره دمرگ) ﴿ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥۖ ﴾ اويوه موده معلومه (دقيامت) ده په نزد دالله (ترڅو ټول بيارا پاڅوي لومړنی (اجل مرگ) ته وايې اودوهم دبعث اونشورپه معنادی ﴿ ثُمَّ أَنتُمۡ تَمۡتَرُونَ ﴾ بياهم تاسي شک کوي (په توحيداوبعث کښي) چي دومره دلائل موو کتل ﴿ وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلۡأَرۡضِۖ ﴾ (اوهمدی دی الله (مستحق دعبادت) په آسمانونو کښي اوپه ځمکه کښي) ابن کثيروايې چي دآسماني اوځمکني موجوداتومعبود اود هغه په الوهيت اقرارکونکي دده دوحدت منونکي اوده ته له وېري اورغبت څخه دعاگاني کوي الله بولي [٢] ﴿ يَعۡلَمُ سِرَّكُمۡ وَجَهۡرَكُمۡ ﴾ عالم دی الله په پټ (حال) ستاسي اوعالم دی الله په ښکاره (حال) ستاسي ﴿ وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُونَ ﴾ اوعالم دی الله په هغو (اعمالو چي کوئ يې تاسي (اوژر به ورباندي جزادرکړي) وروسته ددوئ له عناداواعراض څخه داسي خبررا کوي ﴿ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ ﴾ اونه راځي دي (کفاروته) هيڅ کوم (دليل) له دليلونو يامعجزه له معجزاتو او يا يو آيت له آيتونو د (قرآن) درب ددوئ ﴿ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴾ مگروي دوئ له هغه څخه مخ گرزونکي (نه کتونکي هغه ته) قرطبي وايې چي مرادله نه کتلو څخه هغه آيات دي چي پردوئ لازم وو دالله دتوحيد استدلال يې په هغو کړي وای اومرادله معجزاتو څخه هغه چي نبی عليه السلام ته الله ورکړي دی او په دي دلالت کوی چې په صدق اورښتينولي رالېږلی دی او ټول هغه څه چي له رب جل جلاله څخه يې راوړي حق دي .[٣] ﴿ فَقَدۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ ﴾ (نوپه تحقيق نسبت

١-البحر المحيط ٦٨/٢

٢-ابن کثير١/ ٥٢٨

٣-القرطبي ٣٩٠/٦

ددروغوو کړدوي حق ته کله چې راغی دوي ته) یعنی کله چې قرآن دوي ته له ربه راغی دوي يې تکذيب وکړ ﴿ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنْبَـٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ (ژربه راشي دوي ته (ظاهربه شي) اخبار (حقیقت دهغه شي چې وو دوي چې پرې خندل به يې) يعنی ژربه پردوي عذاب نازل شي که عاجل وواوکه آجل اودهغه شي حقیقت به ورته څرګند شي چې دوي ورباندي ملنډي وهلي دغه په عذاب اوعقاب باندي وعیددي چې دوي به داستهزاء سزاووینی وروسته بیاالله تعالی دوي دي ته هڅوي چې له پخوانیوامتونوڅخه دعبرت سبق واخلی فرمايي : ﴿ أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ ﴾ آیاندي کتلي (ندي خبرشوي) دوي چې څومره (ډېر) هلاک کړي دوي مونږپخواله دوي نه له (نورو امتونو) قرنونوڅخني (چې دنبیانوتکذيب به يې کاوو) ﴿ مَّكَّنَّـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ ﴾ (چې ښه قوت ورکړي وومونږدوي ته په ځمکه کښي دومره قوت چې نه مودي درکړي تاسي ته) یعنی اي دمکې خلګومونږدوي ته دومره دعيش پراخي اوتمکین فی الارض ورکړي ووچې تاسي ته مونه دی درکړی. ﴿ وَأَرْسَلْنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا ﴾ اوراښکته کړي وومونږ باران پردوئ پرله پسي اوربدونکي ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلْأَنْهَـٰرَ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمْ ﴾ اوګرزولي مووي ویالي چې بهیدلي له لاندي دمانیو او ونو ددوي یعني دمېووویالو اوشنو خړوبوفصلونوخاوندان وو ﴿ فَأَهْلَكْنَـٰهُم بِذُنُوبِهِمْ ﴾ (نوهلاک کړل مونږدوي په سبب دګناهونو ددوي) یعنی دوي ناشکري وکړه اوسرېې وغړاووبیامونږددوئ دګناهونوله امله هلاک کړل دغه دکفارولپاره تهدیداواخطاردي چې دوي ته به هم هغه څه رسېږي چې رومبنیوته رسیدلي ووسره له دي چې هغوي خوراپه قوت اوتوان کښي وو ﴿ وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴾ اوپیداکړل مونږوروسته له دوي نه (اهل) دقرن نور. ابوحیان وايي چې پدي کښي دمخاطبینولپاره تعریض دي چې دوي به هم که يې عصیان کاوو داسي هلاکېږي لکه پخواني قرنونه (۱) ﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَـٰبًا فِى قِرْطَاسٍ ﴾ (اوکه نازل کړی وای مونږ پرتاکتاب (لیکلی) پرکاغذ) یعنی ای محمده که می پرتالیکلی کتاب لکه چې دوي وايي نازل کړی وای ﴿ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ ﴾ پس مس کړی وای دوي داکتاب په لاسونوخپلو (اوپخپلوسترګو يې هم لیدلی وای چې هرډول شک اوشبه له مینځه تللی وای) ﴿ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ نو خامخاویلي به ووهغوکسانوچې کافران شوي دي چې نه دي داخومګرسحر (کوډي) دي ښکاره ؛ (. غرض داچې دوي ایمان نه راوړي که څه هم خورا څرګند دلائل اوښکاره معجزې ورته راشي) ﴿ وَقَالُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ﴾ اوویلي (کفارو) ولي نه نازلېږي په دغه (محمد) پرښته (له آسمانه) ؟ چې دده دنبوت تصدیق وکړي (لَوْلَآ) دهلا په معناده اودتحضیض اوهڅوني لپاره راغلي ابوالسعود وايې چې معناداچې ولي نه نازلېږي په ده پرښته چې مونږ يې وينواومونږته خبراکړي چې دي نبی دی ؟ دغه ټولې خبري ددوي اباطيل اوخرافات دي کله چې پلمه

۱- البحرالمحيط ۴ / ۷۷

وربا ندي ودربړي نوبيادابولالي پيل كړي (۱) ﴿ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ ٱلْأَمْرُ ﴾ (اوكه نازله كړي واى مونږ پرښته نوخامخافيصله شوي به وه خبره) يعني داكه چيري مونږ پرښته نازله كړي واى اودوي لكه چي غوښتي دي هسي په خپلوسترګوليدلي واى بياكافران شوي واى نوبه ارومرودوي هلاكېدل (۲) لكه چي دالله جل جلاله عادت همد اسي جاري دى څوك چي كومه معجزه اوآيت وغواړي اوبياور باندي ايمان نه راوړي سمدستي يې الله ذوالجلال هلاكوي ﴿ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴾ بيابه دوي ته مهلت نه وورکړل شوي آيت شريف لكه ددوي دطلب او غوښتني دنه منلولپاره چي تعليل راغلى وي څكه دوي په دغسي غوښتنه داسي مثال لري لكه څوك چي دخپل مرګ لپاره لټون كوي ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَٰهُ رَجُلًا ﴾ اوكه ګرزولي واى مونږ دارسول پرښته (نه بشر) نوخامخاګرزولي به وه مونږداپرښته (په صورت ديوه) سړي (څكه دوي دپرښتې دليدلوپه خپل اصلي صورت باندي توان نلري) ﴿ وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ ﴾ (اوكه ګرزولي واى مونږ پرښته په صورت دسړي) نوخامخاپه شبه كښي به اچولي وو مونږدوي په همغسي اشتباه كښي چي اوس پكښي پراته دي دوي اوضعيفان ددوي څكه دوي كه پرښته دانسان په صورت كښي ويني هسي به وايې چي دغه انسان دى اوپرښته نه دى ابن عبا س رضى الله عنه وايې چي كه چيري پرښته ورته راتلاى هم به دانسان په شكل وه څكه دوى دپرښتې دليدلوتوان نلري هغه له نورڅخه پيداشوي له دي وروسته الله پاک پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته دډاډيني په توګه فرمايې: ﴿ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ او(قسم دى) خامخامسخرې كړي شوي دي په رسولانوچي پخواوولـه تانه (دټولوامتونو كافرانوپخپلوورته رالېږل شوو رسولانوملنډي وهلي دي ﴿ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴾ نوچاپېراومحيط شوپه هغوكسانوپوري چي مسخرې يې كولي (هغه عذاب) چي ودوي په هغه پسي به يې مسخرې كولې په دغه اخباركښي دكافرانولپاره تهديدخوندي دى. ﴿ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ ٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴾ (اووايه (اى محمده ! دوي ته) وګرزي تاسي په څمكه كښي بياوګوري چي څرنګه وو(عاقبت) ددروغجن كونكو (درسولانو) يعنى وګورئ چي په پخوانيوكافرانوڅرنګه دردناک عذابونه رانازل شوي دي اودعبرت اخيستونكي كسانولپاره پنددي ﴿ قُل لِّمَن مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ووايه اى محمده ! دوى ته) چي چالره دي ټول كائنات خلقاًملكاً وعبيداً) هغه شيان چي په آسمانونواوځمكي كښي دى (سره له آسمانونواوځمكي) دغه پوښتنه دكافرانولپاره د تبكيت په توګه اوپه هغوئي باندي دليل راوړل دي ﴿ قُل لِّلَّهِ ﴾ (ووايه اى محمده !) دوي ته چي خاص الله لره دي) يعنى دوي ته دتقريراوتنبيه په ډول ووايه چي ټول دالله لپاره دي څكه كفارپدي باندي اكه پكه موافقه كوي ياخوداچي ددي اعتراف كوي

۱-ابوالسعود۲ / ۸۳

۲-چابياويلي كه پرښته نازله شوي واى نودوي به يې دليدلوتوان نه درلود سمدستي به هلاک شوي وودادابن عباس رضى الله عنهما قول دى.

چي ددي ګردو خالق الله دی او ياپدي چي ورته دليل وړاندي شوي ﴿ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ﴾ (لازم کړي دي الله (تفضلاً) پرخپل ځان رحمت) دلته غرض په نرمي سره دوي ته دايمان بلنه ورکول دي ځوالله جل جلاله ته رجوع وکړي ﴿ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ (۱)خامخاتول به کړي الله هرومرو تاسي دقيامت په ورځ کښي چي نشته هيڅ شک(په راتلود) هغه کښي (اوجزابه درکړي) ﴿ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (هغه کسان چي زيان يې رسولی دی ځانونوخپلوته نودوي ايمان نه راوړي) يعني هغه څوک چي په دنياکښي يې دکفراوبدواعمالوپه نتيجه کښي ځانونوته زيان اړولی نودوي به ايمان رانه وړي اونه به دهغه په آخرت کښي پرته له عذاب اودوزخ څخه بله کومه ونډه وي ﴿ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِى ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ اوخاص دغه (الله) لره دي هغه شيان چي اوسيږي په شپه اوورځ کښي (ټول دهغه ملک دي اودهغه ترتصرف اوسلطان لاندي دي يعني هرڅه دالله مخلوق اوبندګان دي ﴿ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ اوهمدغه (الله) دی ښه اوريدونکی (دټولواقوالو) ښه عالم دی (پرګردواحوالودبندګانو) ﴿ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا ﴾ ووايه ای محمده ! دوی ته) چي آيابې له الله ونيسم زه (بل ولی (مددګار) استفهام دتوبيخ لپاره دی يعنی ای محمده ! دغومشرکينوته ووايه چي آياپرته له الله بل معبودغوره کړم ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (هسي الله چي پيداکونکی (بيمثاله) دآسمانونواوځمکي دی (بلکه نه يې نيسم) ﴿ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ﴾ حال داچي دغه الله روزي ورکوي (ګردومخلوقاتوته) اونور ده ته روزي نشي ورکولای . ابن کثيروايي الله دخلګورازق دی پرته له دي چي هغوي ته محتاج وي (۲) ﴿ قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ ﴾ ووايه ای محمده ! دوي ته)بيشکه زه مأموريم (حکم راته شوی دی) چي شم اول دهغوچي غاړه يې ايښي ده (له دي محمدي امت څخه) ﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ (اوويلي شوي دي ماته) چي مه کيږه له سره له مشرکانونه زمخشري وايې چي معنايې داده چي داسلام راوړلوماته حکم شوی اوله شرک څخه منع شوی يم (۳) ﴿ قُلْ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ ووايه ای محمده دوي ته) بيشکه زه ويريږم که نافرماني وکړم له ربه خپله له عذابه دورځي ډيري لويې نه (چي قيامت دی) ﴿ مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ﴾ هرهغه څوک چي بچ کړي شي له عذابه پدي ورځ کښي نوپه تحقيق رحم کړي الله په ده ﴿ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ﴾ اودا (مهرباني) بری دي ښکاره ﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ﴾ اوکه ورسوي الله تاته څه سختي (له فقراوناروغي څخه) نونشته هيڅ ليري کونکی دهغه

۱ -ابو السعودوايې دغه دقسم ځواب دی اوجمله استيناف ددوي په اشراک باندي دوعيدلپاره راغلی ده يعني قسم دي چي تاسي به په قبرونو کي را جمع کړي

۲ -مختصرابن کثير۱ /۵۷۰

۳ - الکشاف۲ /۷

مګرهم دی دی ﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ او که ورسوي تا ته څه خير(لکه صحت او غنا نو دی په هرشي (چي اراده فرمايې) ښه قادر دي (نو خيراوشر نفع اوضررتل دالله په اراده رسېږي) په تسهيل کښي وايې چي آيت شريف په وحدانيت باندي دليل دی ځکه يوازي الله پاک دزيان او خير خاوند دی همدارازوروسته له دي اوصافو په مشرکينو باندي نورهم دلائل راوړي (۱)﴿ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴾ (اوهم دی غالب زورور دی د پاسه د بندګانو خپلو(په قدرت ،قوت ، قهراوغلبه) اوهم دی ښه حکمت والا ښه خبرداردي له هرشي) ابن کثيروايې : دی هغه ذات دي چي د جبابره وو غاړي ورته کږې دي په هرشي باندي قاهرپه ټولو کړووړو کښي دحکمت خاوند او د شيانو په ځايونو خبرداردی(۲)

بلاغت:

د (الحمدلله) صيغه دقصرافاده کوي يعنی دحمداوثنالائق اوورېل ځوک نشته پرته له الله رب العالمين څخه.

۲ - پدې جمله کښي چي فرمايې: (جعل الظلمات والنور) دلته له بديعي محسناتوڅخه دطباق صنعت راغلی دی.

۳ - (ثم الذين کفروابربهم يعدلون) پدي کلام کښي استبعاددي چي وروسته له داسي ځرګندوآيتونو بياهم بل ځوک له رب سره برابروي ؟اوداچي په (ربهم) کي يي (رب) ظاهردضميرپرځای راووړدزياتي تقبيح اوتشنيع لپاره دي.

۴ - ددي کلماتوترمينځ چي(سرکم وجهرکم) دی دطباق صنعت راغلی دی.

۵ - پدي کلام کښي چي فرمايې: (من قرن) (مجازمرسل) دی يعنی (اهل قرن).

۶ - (وارسلناالسماء مدرارًا) دلته يې له باران څخه په (سماء) تعبيروفرمايه ځکه هغه له آسمانه راورېږي نوداهم مرسل مجازدی.

۷ - پدې جمله کښي چي: (استهزئ برسل) دلته د(رسل) تنکيرد تفخيم اوتکثيرلپاره دي

۸ - (السميع العليم) دغه دواړه صيغې دمبالغې دي

فائده :

په قرآن کريم کښي پنځه سورتونه شته چي په (الحمدلله) سره پيل شوي يويې سورة الفاتحه دی چی ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ بل سورت الانعام دی ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ﴾ بل سورت (الکهف) دی ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ الْكِتَابَ ﴾ بل سورة سبا دی ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ او وروستي سورة فاطردی ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ .

۱-التسهيل ۲ /۴
۲-ابن کثير۱/۵۷۱

الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ
آلِهَةً أُخْرَىٰ قُل لَّا أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ (١٩) الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمُ
الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٢٠) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ (٢١) وَيَوْمَ
نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ (٢٢) ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا
مُشْرِكِينَ (٢٣) انظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ (٢٤) وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن
يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ
(٢٥) وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ (٢٦) وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ
بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (٢٧) بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (٢٨) وَقَالُوا إِنْ هِيَ
إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ (٢٩) وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا
كُنتُمْ تَكْفُرُونَ (٣٠) قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوا يَا حَسْرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا وَهُمْ يَحْمِلُونَ
أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ (٣١) وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ
(٣٢) قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ (٣٣) وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن
قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّىٰ أَتَاهُمْ نَصْرُنَا وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِن نَّبَإِ الْمُرْسَلِينَ (٣٤) وَإِن كَانَ كَبُرَ
عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاءِ فَتَأْتِيَهُم بِآيَةٍ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ
فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ (٣٥)﴾ الأنعام: ١٩ - ٣٥

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی پخپل قدرت اووحدانيت باندي دسورت له پيل څخه تراوسه دلائل اوبراهين ذکرکړل وروسته يې دمنکرينواوهغوکسانوچي وحی يې دروغ ګڼله دريزڅرګندکړاوبيايې هغه ددوی دحسرت اوافسوس حالت چي دقيامت په ورځ وربانديي راځي راوړ.

لغتونه:

(لانذرکم) چې ومو ويروم انذارهغه خبرتياته وايې چي تخويف پکښي وي (فتنتهم) فتنه ازمويني ته وايې (اکنة) دکنان جمع اوپردي ته وايې (وقرا) دروندوالي ته وايې ويل کېږي (وقرت أذنه) کله چي کوڼ شي. (اساطير) خرافاتوته وايې دأسطورة جمع ده جوهري وايې چي اساطيربيهوده ته وايې چي (ترهات) يي بولي [1] (ينأون) ليري کېږي (بغتة) نابېره ناڅاپي (فرطنا) له فرط څخه اخيستل شوي او سره له دي چي

١-مجمع البيان ٤ / ٢٨٢

دکولوتوان یې لري تقصیرته وایې ابوعبیدوایې چي (فرط) یعنی ضائع یې کړ(اوزارهم) د(وزر)جمع اوګناه ته وایې (یزرون) باروي (لهو) له جدڅخه هزل ته ځان ګرزول اوهرشي چي تامشغول کړي هغه لهودي.

دنزول سبب یې:

أ- روایت کېږي چي دمکې سردارانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل : ای محمده مونږ هیڅوک نه وینوچي ستادنبوت دربښتنولي تصدیق کوي مونږله یهودانواونصرانیانوپوښتني وکړي هغوي راته ویل چي ستاپه شان کښي له دوي سره هیڅ کومه یادونه اوصفت نشته. نویوداسي څوک راوښیه چي ستادرسالت شاهدي ووایې لکه چي ته فکرکوي نوالله داآیت نازل کړ: (قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ) (۱)

ب : - له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کېږي چي : (ابوسفیان اوولیدبن مغیرة اونضربن الحارث) رسول الله ته په داسی حال کی چې هغه دقرآن کریم تلاوت کاوو کیناستل نو دوي نضربن الحارث ته وویل محمدڅه وایې ؟ هغه ویل دغه پخواني اساطیروایې لکه چي مابه دپخوانیوکیسې درته کولي نوالله جل جلاله داآیت نازل کړ: (وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ).

ج: -روایت کیږي چي (اخنس بن شریق) له (ابوجهل بن هشام) سره ولیدل نوورته وېې ویل ای (ابوالحکم) دمحمدحال راکړه چي هغه پخپله دعوی کښي رښتوني اوکه دروغجن دي له مونږ سره خوپرته له مونږ بل هیڅوک نشته ابوجهل ورته ویل په خدای قسم چي محمدرښتوني اوصادق دی هیڅکله یې دروغ ندی ویلي خوکله چي (بنی قصی) دلواء ،سقایت، حجابت اونبوت واګي په لاس کي واخلي نو نورو قریشوته ته به څه پاتي شي ؟ نوالله داآیت نازل کړ: (قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ) (۲)

تفسیر:

﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً﴾ (ووایه ای محمده دوي ته) چي کوم یوشي لوی دی له جهته د شاهدي (پدي چي زه دنبوت په دعوی کښي صادق یم) ﴿قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ﴾ (ووایه (په ځواب کښي دوي ته) چي الله (لوي دی دشهادت له کبله) بل ځواب نشته) (اوالله ښه شاهددی زمااوستاسي په مینځ کښي) یعني دوي ته هسي ځواب ورکړه ورته وایه چي الله زمادنبوت اورسالت شاهدي ورکوي اودالله شهادت زمالپاره کافي دی. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي الله خپل نبی حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته ویلي چي دوي ته ووایه چي کوم یوشي لوی دي له جهته د شاهدۍ که یې ځواب درکړ خوښه تر ښه اوکه نه نوورته ووایه چي الله زمااوستاسي ترمینځ شاهددي (۳)﴿ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ ﴾ (وحی کړي شوي دي ماته داقرآن لپاره ددي چي وویروم (خبردارکړم)تاسي پدي سره اوهغه څوک چي ورسیږی

۱-اسباب النزول ص۱۲۲
۲التفسیرالکبیر۱۲/ ۲۰۵
۳-البحر۴/ ۹۰

(ده ته داقرآن په هرزمان اومکان کښي) يعني ماته داقرآن ددي لپاره وحی کړل شوی دی چي وويروم تاسي ای دمکې خلکواونورټول هغه څوک که عرب وي اوکه عجم چي ورته ورسېږي قرآن دقيامت ترورځي پوري ابن جزي وايې چي : پدي آيت کښي مقصدپه الله جل جلاله سره استشهاددي هغه چي درسول الله په رښتنولي باندي خوراسترشهادت دی او دالله شاهدي درسول الله دنبوت په صحت باندي دالله جل جلاله علم اودهغه دمعجزاتو اظهاردهغه په تصديق باندي دلالت دی(۱) ﴿ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ ﴾ (آيابيشکه تاسي خامخاشاهدي لولي په دي چي شته سره دالله خدايان نور؟) دغه استفهام دتوبيخ لپاره دی يعني ای مشرکانوتاسي دااقرارکوي چي له الله جل جلاله سره نورخدايان شته ؟ څرنګه تاسي داسي شاهدي واياست وروسته له دي چي څرګندلائل اوواضح حجتونه درته راغلي دي ﴿ قُل لَّا أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ﴾ ووايه ای محمده ! دوي ته) زه خوشاهدي (پدي سره) نه ورکوم ووايه خبره هم داده چي الله دي معبودديو (واحدٌ) , احدٌ ، فردٌ ، صمدٌ دی) ﴿ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴾ (اوبيشکه زه بېزاره يم له هغوشيانوچي تاسي يې له الله سره شريکان کوي) (چي بتان دي) وروسته الله دارابښيې چي کافران دجهل اوعنادترمينځ دي ﴿ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمُ ﴾ (هغه کسان چي ورکړي دي مونږدوي ته کتاب پېژني دوي دا(رسول) لکه چي پېژني دوي زامن خپل) يعني يهوداو نصاری هغه کسان دي چي پيغمبر يې پېژانده خوعناديې ورسره کاووپيغمبر يې پخپلوصفاتواونعتونوسره کوم چي په تورات کښي اوهمدارازپه انجيل کښي ستايل شوي ووهغسي پېژانده لکه چي دوي به پخپل زامن پيژندل پدي کښي يې هيڅ شک اوشبه نه لرله زمخشري وايې چي دغه دمکې دخلکولپاره استشهاددی چي اهل کتابودپيغمبرمعرفت درلوداود نبوت په صحت يې علم لاره (۲) ﴿ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ هغه کسان چي زيان يې رسولی دی ځانونوخپلوته نودوي ايمان نه راوړي) يعني هغه کسان ځکه زيانکاران دي چي سره له څرګندو دلائلوبياهم په پيغمبرايمان نه راوړي ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ﴾ (اوڅوک دی ډېرظالم له هغه چاچي وتړي پرالله دروغ يانسبت ددروغوکوي آيتونودده ته ؟ (بلکه نشته) استفهام انکاري اومعنايې نفی دی يعني هيڅوک ترهغه چاظالم نه دي څوک چي په الله دروغ تړي قرآن اوڅرګندي معجزاتي کوډي بولي ابوالسعود وايې : (لوْ) کلمه پدي خبرتياورکوي چي هر يودتکذيب اوافتراء يواځي يواځي دظلم وروستي غايه ده خودوي دواړه سره يوځاي کړي نوهغه څه يې ثابت کړي کوم چي الله نفی کړي اوهغه يې نفی کړي کوم چي الله ثابت کړي دی (قاتلهم الله أنیٰ يؤفکون) (۳) ﴿ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴾ (بيشکه شان دادی چي خلاصي نه مومي ظالمان) يعنی افتراء کونکي اودروغ تړونکي خلاصي نه مومي اوپدي کښي دي ته اشارت دی چي که چيري دنبوت مدعي دروغګوي وي نو په الله باندي افتراکونکی دی

۱-التسهيل ۲/ ۵
۲-الکشاف۲/ ۹.
۳-ابوالسعود۲/ ۸۸

اوبیاخود هغه په لاس معجزاتي هدوځرګندیدلای نشي ﴿ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا ﴾ او(یادکړه) هغه ورځ چي راجمع به کړودوي ټول (دحساب) لپاره بیابه ووایو (دخلګوپه وړاندي هغوکسانوته چي شرک یې کړي دي ﴿ أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴾ (چي چیرته دي ؟ شریکان ستاسي هغه (شریکان) چي وئ تاسي چي ګڼل به مو(دالله شریکان) بیضاوي وایې چي مرادله استفهام څخه توبیخ دی او(تَزْعُمُونَ) معنایې داده چي (تزعمونهم آلهة وشرکاء مع الله) دواړه هغه مفعولان دي حذف شوي دي اوښایې چي ددوي اوددوي آله ووترمینځ به حائل واقع شي چي دوي یې پداسي ګړی اوساعت کښي چي ټولي هیلي اوآرزوګاني یې پسي تړلي وي ونه ویني (۱) ابن عباس رضی الله عنه وایې هره د (زعم) کلمه چي په قرآن کریم کښي راشي هغه دکذب په معناده ﴿ ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ ﴾ (بیابه نه وي (عاقبت) دفتنې (کفر، فریب ، عذر)ددوي) یعنی کله چي پدي پوښتنه باندي وازمویل شي اوحقائق ووینی ﴿ إِلَّا أَن قَالُوا وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ (مګرداچي وایې به دوي چي په الله قسم چي رب زمونږدي چي نه وومونږمشرکان) یعني په دروغوبه قسم آخلي چي مونږمشرکان نه ووقرطبي وایې کله چي دوي دمؤمنانولپاره دالله مغفرت ووینې دوي به له شرک څخه بېزاره شي اوهغه به نه مني ابن عباس (رضی الله عنه) وایې چي الله به داخلاص خاوندانوته ګناهونه وروبښي نوکله چي مشرکان دا ووینې وایي به چي راځی مونږ ووایوچي مونږ ګنهګاران وو خومشرکان نه وونوالله به یې په خولوباندي مهرولګوي اولاسونه ، پښې به یې په هغوکړو(شاهدي ورکړي چي ترسره کړي یې وو(۲)) ﴿ انظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ ﴾ (وګوره (ای محمده !) څرنګه دروغ یې وویل پرځانونوخپلو) یعني ای محمده وګوره دوي څرنګه پخپلو ځانونو دروغ وویل چي شرک یې ندي کړي دوي دغه خبره د(علام الغیوب) ذات په وړاندي وکړه دغه خبره ددوي دصریح اوبربنډ دروغوپه هکله دتعجب لپاره دي ﴿ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ (اوورک شول له دوي نه هغه چي وودوي چي تړل به یې دروغ (پرالله په نیولودشریکانوسره) یعنی له دوي څخه به هغه چي ددوي دشریکانوشفاعت کول ګومان درلوداوهمداسي هغه افتراء چي له الله سره به یې شریکان نیول ورک شي وروسته الله پاک دمشرکانوهغه حالت چي کله به یې قرآن اوریدل داسي بیانوي : ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ﴾ اوځینی له کفارو(مشرکینو) هغه څوک دي چي غوږنیسي تاته ای (محمده) (دقرآن دتلاوت په وخت کښي) ﴿ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ ﴾ اواچولي دي مونږپه زړونوددوي پردي (له دي جهته) چي ونه پوهیږي دوي پدي (قرآن) ﴿ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ او(ایښي مودي په غوږونوددوي کښي در ندوالی (کوڼ والی چي حق وانه وري) ابن جزي وایې چي الله پاک ددوي اوپه قرآن دپوهیدلو ترمینځ مانع پیداکړي اودلته یې په پرده اودروندوالي دمبالغې لپاره تعبیرفرمایلي

۱-البیضاوي ۱۲۹
۲-التسهیل ۲/۲

دی ﴿ وَإِن يَرَوْا كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا ﴾ او که ووینی ګرد (دلائل دقدرت نو بیاهم) ایمان نه راوړي (ځکه عنادیې وروستي مرحلې ته رسیدلی دی. ﴿ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴾ ترهغو پورې کله چې راشي دوي تاته چې جګړې کوي له تا سره وايې هغه کسان چې کافران شوي دي ندي دا قرآن مګر باطلې کیسې دي د پخوانیو خلکو ﴿ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ ﴾ او هم دا کسان منع کوي خلک (له قرآن کریم او د محمد صلی الله علیه وسلم له متابعت نه او (پخپله هم) لیري کېږي له ده (چې ایمان پرې نه راوړي) ﴿ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴾ او نه هلاکوي دوي مګرخانونه خپل او نه پوهېږي دوي (پدې چې ضررېې هم دوي ته عائددی) ابن کثیروایې چې دوي دوه قبیح اوناکاره فعلونه سره یوځای کړي یوداچې پخپله نفع نه آخلي او نه بل څوک نفع اخیستلوته پرېږدي اودوئ داسې کارکوي چې وبال یې دوئ ته راجع دي خو پدې نه پوهېږي(١) ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ ﴾ او که ووینې ته (ای محمده !) کله چې ودرولې شي دوراندې دوي پر اور(ددوزخ) نو وبه وینې یولوي امرچې دسرویښتان به یې له هیبته سپېنه وړی کېږي بیضاوي وایې چې د(لو)ځواب محذوف دی یعني یوحیرانونکی هیښونکی حالت به ووینې (٢)اوددې لپاره یې حذف کړي ترڅوچې اوریدونکي ته ترهغه څه چې اټکل یې کوي لاهم ابلغ وي ﴿ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا ﴾ نو وبه وایې دوي (دعذاب د انواعو دلیدلو وروسته) ای کاشکې مونږ بیا بوتلې شو (دنیاته) او نه به کړو تکذیب په آیتونو درب خپل ﴿ وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ (او شوبه مونږ له مؤمنانو) یعني کله چې دنیا ته بوتلې شونوبه په الله ایمان راوړو ربښتوني ایمان دوي ددې هیله کوي چې دنیاته راوګرزولې شي او خپل عملونه اصلاح کړي الله پاک ددغې تمناپه رد کښې فرمایې : ﴿ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴾ او که بېرته بوتلې شي دوي دنیاته نوخامخا به بیاهم راوګرزي دوي همغه شي ته چې منع کړي شوي وو دوی له هغه شي څخه (چې کفراومعاصي دي) او بیشکه دوي هرومرو دروغجنان دي (په دعوی دایمان کښې) یعني که بالفرض دنیاته راوهم ګرزي څکه بېرته دنیاته راتلل وروسته له مرګه محال وي خوبیابه هم دوي دایمان په دعوی کښې دروغجن وي ﴿ وَقَالُوا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴾ او وایې دوي (کفارفجار)ندي ژوندون مګرداژوندون زمونږ دنیوي دی او نه یو مونږ بیا راپاڅول شوي ﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ وُقِفُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾ او که ووینې ته ای محمده !) هغه وخت چې ودرولی شي دوي خپل رب ته (دحساب لپاره لکه چې ګنهګارمریي دخپل بادار په وړاندې دعذاب څکلولپاره دریږي د(لو) ځواب دموقف دهول اوهیبت دخوندي ساتلولپاره محذوف دی یعني نو وبه وینې یولوی امر) ﴿ قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ ﴾ فرمایې (الله) آیاندی دا(دوهم ژوندون) په حقه سره ؟دلته داستفهام همزه دتقریع اوتکولولپاره راغلی

١-ابن کثیر١ / ٥٧٣
٢-البیضاوي ١٢٩

دی چي دوي د دغسي ژوند تکذيب کاوو ﴿ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ﴾ وبه وايي دوي هو ! حق دي قسم مو دي په رب خپل ﴿ قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ (نو بيا به) وفرمايي (الله) پس وڅکئ دا عذاب په سبب د دي چي وي تاسي چي کافران شوي وي (په دنيا کښي) او پيغمبران به مو دروغجن ګڼل بيا الله پاک د دغو کفارو حال داسي بيانوي: ﴿ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ ﴾ نو په تحقيق زيانکاران دي هغه کسان چي دروغ ګڼي ملاقات له الله سره (په عقبی کښي) ﴿ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً ﴾ (تر هغه پوري کله چي راشي دوي ته قيامت ناڅاپه) داچي دوي ته يې وخت معلوم نه وي قرطبي وايي چي قيامت ته ځکه ساعت وويل شو چي حساب پکښي په سرعت کېږي (۱) ﴿ قَالُوا يَا حَسْرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا ﴾ (نو) وايي به دوي ای افسوسه زمونږ په هغه شي چي تقصير کړي وو مونږ په دنيا کښي (چي ايمان) او ښه اعمال وو) ﴿ وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ ﴾ حال دا چي دوي به واخلي پيټي د ګناهونو خپلو په شاوو خپلو ابن جزي وايي چي دغه د ګناهونو د پيټي په اوږ وا خيستلو څخه کنايه راغلي روايت کېږي چي د کافر په ځمکه کښي به د هغه عمل چي خورا بد رنګه شکل به يې وي ورسپوروي (۲) او همدارنګه په مسلمان باندي به د هغه عمل چي خورا ښه شکل به يې غوره کړی وي بار وي ﴿ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ﴾ (خبردار شي چي بد دي هغه شي چي په شايې دوي ګرځوي (له ګناهونو څخه) ﴿ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ﴾ (او نه دي ژوند د دنيا مګر لوبي او ساعت تېري) يعني باطل او تېرايستنه ده ځکه لذت يې فنا مومي او وخت يې ډېر لږ وي ﴿ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ﴾ (او خامخا دار آخرت بهتر دی لپاره د هغو کسانو چي پرهېزګاري کوي) يعني آخرت او د هغه ډول ډول نعمتونه د پرهېزګارانو بندګانو لپاره بهتر دی چي تل ترتله او خوښي يې نه ورکېږي ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ نو آيا عقل نه چلوي تاسي چي آخرت تر دنيا غوره دي ؟ وروسته الله پاک رسول خپل ته ډاډينه ورکوي چي الله د ده د قوم په تکذيب خبر دی ﴿ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ ﴾ په تحقيق مونږ پوهېږو چي بيشکه شان دا دي چي خامخا خفه کوي تا (ای محمده !) هغه شی چي وايي دوي (ستا په تکذيب کښی) نو بيشکه دوی نه کوي تکذيب ستا (په واقع کښي) حسن وايي چي دوي به ويل هغه کوډګر، شاعر کاهن او لېونی دی . يعني دوي په زړه کښي ستا تکذيب نکوي بلکه ستا تصديق کوي خو دوي له عناده ستا انکار کوي نو ته پدي مه خفه کېږه ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په امين پېژندل شوي وو نو دوي پوهېدل چي هغه دروغ نه وايي خو دوي جحود او انکار کاوو ابو جهل به ويل مونږ ستا تکذيب نه کوو ته زمونږ په نزد رښتوني يې خو مونږ د هغه څه تکذيب کوو چي تا راوړی دي (۳) ﴿ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴾ ولکن دا ظالمان په آيتونو د الله

۱-القرطبي ۴۱۲/۲
۲-التسهيل ۷/۲
۳-البحر المحيط ۱۱۳/۴

انکار (اومسخرې کوي) ﴿ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ ﴾ (نوته مه خفه کېږه ! ځکه چې:) اوخامخا په تحقيق دروغجن بللی شوي دي ډېر رسولان پخوا له تا نه نوصبربه يې کاووپه دروغجن بلل کېدلو (دکفاروله جانبه) ﴿ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ﴾ اوضرررسيدلو (دکفاروله جانبه) ترهغه پورې چې راغی دووي ته مرسته زمونږ، په آيت شريف کښې دصبراوزغم ارشاددي اودنصرت اومرستي زېرې ﴿ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ (اونشته هيڅ اړونکي دکلماتودالله) ابن عباس رضی الله عنه وايې چې مرادله کلماتوڅخه مواعيددي اوپدې کښې دوعدتائيدهم دی ﴿ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِن نَّبَإِي۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ (اوخامخاراغلي تاته (څه خبره) له حالاتود(تېرو) رسولانو(چې تسلادي وشي) يعني دهغوانبياووچې څرنګه مونږ هغوئ ژغورلي اوپخپلو قومونو موبری ورکړي دي نوته به غمګيني نه کوي ځکه الله ستامرستندوي اوناصردي ﴿ وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ ﴾ اوکه وي چې سخت وي پرتاباندي مخ ګرځول ددوي (له حق دين څخه) ای محمده !) ﴿ فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ پس که توان لرې ته چې ولټوي ته کوم سوری په ځمکي کښې ﴿ أَوْ سُلَّمًا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴾ يا (ولټوي) کومه زينه په (طرف د) آسمان (چې ورباندي وخيژي) ﴿ فَتَأْتِيَهُم بِـَٔايَةٍ ﴾ نوراوړې ته دوي ته کوم معجزه (چې دوي يې غوارې نوهسي وکړه خوفائده نکوي) ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى ٱلْهُدَىٰ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ (اوکه اراده کړې وي الله (دهدايت ددوي نوهرومروبه يې راټول کړي وو دوي ګرد په سمه لاره پس له سره مه کېږه له ناپوهانوڅخه) چې دالله جل جلاله حکمت اوازلي مشيت ددوي په ايمان نه راوړلوکښې دی له پامه وتلی وي.

بلاغت:

۱: - پدې کلام کښې چې (کمايعرفون أبناءهم) مرسله مجمله تشبيه راغلي ده.

۲ - : (الذين کنتم تزعمون) دلته ايجازبالحذف صنعت دي چې تقديريې داسي دی چې (تزعمونهم شرکآء).

۳ - (انظرکيف کذبوا) دلته صيغه دتعجب لپاره ده يعني ددوي دغه نادردروغوته وګوره !.

۴ - پدې جمله کښې چې فرمايي : (وفی آذانهم وقرا) کله چې يې دزړونوپه هکله دپردواودغوږونوپه باب په دروندوالي تعبيروفرمايه دغه له قرآن څخه ددوي دمخ اړولو اوددوي داعراض لپاره استعاره ده.

۵ - (يقول الذين کفروا) دلته وضع دظاهرپرځای دضميرراغلي ددي لپاره چې پردوي باندي کفرولېکل شي.

۶- پدې کلام کښې چې (ينهون وينئون) دلته دناقص جناس صنعت راغلی دي.

۷- (وانهم لکاذبون) پدې کلمه کښې دوه دتأکيدادات راغلي چې يويې (ان) اوبل يې (لام) دی ترڅو د دې آګاهي ورکړې چې دروغ ددوي په خټه کښې شته.

٨ - پدي كلام كښي چي فرمايي: (وما الحيوة الدنيا الالعب ولهو) دلته بليغه تشبيه ده څكه دنيايي پخپله لهولعب وګڼله او مبالغه مقصد دي لكه چي خنساء وايي (فانماهى اقبال وادبار). دغه دنيا راتله او تله دي.

٩ - (افلاتعقلون) استفهام د توبيخ لپاره دي

١٠ - (كذبت رسل) د (رسل) تنوين د تفخيم او تكثير لپاره دي.

تنبيه:

امام فخررازي وايي دالله (جل جلاله) داقول چي فرمايي (ولوترى اذ وقفوا على النار) دځواب غوښتونكي دي خوځواب دشان د تعظيم او دامر د تفخيم لپاره حذف شوي دي او وددي امثال په قرآن كريم كښي او همدارازپه اشعاروكښي ډېردي او دغه دځواب نه راوړل ترراوړلو خورااغيزه لرونكي وي لكه چي ته خپل مريې ته ووايې: كه درولاړشوم - او نور ځواب څرګندنكړي نو دهغه فكر به دډول ډول عذابونو خواووته ځغلي چي وژل، وهل، تړل، هدوکي ماتول او نوردي نو به يې ويره زياته شي څكه هغه نه پوهېږي ته به څرنګه عذاب ورباندي ولوروي ! او كه چيري ورته ووايې كه درولاړشوم په والله چي هرو مرو به دي ووهم نو دلته دى چي عذاب څرګند كړ هغه پوهيږى چې پرته له دې بولوبل تكليف نه وررسوي نو دا ثابته شوه چي دځواب نه راوړل دوېري په وركولو كښي د قوي اغيزي درلودونكي دي (١)

الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ وَالْمَوْتَى يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٣٦﴾ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ
عَلَىٰ أَن يُنَزِّلَ آيَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ۚ مَّا فَرَّطْنَا فِي
الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا صُمٌّ وَبُكْمٌ فِي الظُّلُمَاتِ ۗ مَن يَشَإِ اللَّهُ يُضْلِلْهُ وَمَن يَشَأْ
يَجْعَلْهُ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٩﴾ قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ أَغَيْرَ اللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ
﴿٤٠﴾ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَاءَ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُم بِالْبَأْسَاءِ
وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾ فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ
﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿٤٤﴾
فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٥﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ
غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾ قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً
هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الظَّالِمُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ
يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ
الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ وَأَنذِرْ بِهِ

١- التفسير الكبير ١٢ / ١٩٠

ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِىِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓا۟ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾ وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٥٥﴾ قُلْ إِنِّى نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ قُلْ إِنِّى عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ۚ مَا عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ ۚ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْفَٰصِلِينَ ﴿٥٧﴾ قُل لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٨﴾ الأنعام: ۳۶ـ۵۸

مناسبت:

کله چي الله پاک دمشرکینو له قرآن اوایمان په پیغمبرڅخه اعراض اومخ اړونه یاده کړه نودلته یې ددغه کار(سبب) بیان کړهغه داچي قرآن نوراوشفاده مؤمنان وربادني سمه لاره مومي اوکافران دمړوپه منزلت دي نه اوري اونه څه ته ځواب وایي بیاوروسته یې دمشرکینو غوښتني یادي کړي اوهغوي یې له کڼواوګونګیانوسره چي په هیڅ نه پوهیږي تشبیه کړل.

لغتونه:

(تضرعوا) چي دوی عجز وکړی له ضراعة څخه اخیستل شوي اوهغه بیا عجز، ذلت ته وایي (الباسآء) له بؤس نه صادره اوفقرته وایي (الضرآء) له ضرڅخه اوهغه بلاته وایي قرطبي وایي (بأساء) په اموالوکښي او(ضراء) په ابدانوکښي وي دغه داکثرعلماوورایه ده([1]) (مبلسون) مبلس ناهیلي ته وایي اوله دي مادي څخه ابلیس هم راغلی دی ځکه هغه دالله عزوجل له رحمت څخه ناامیده دی ([2])(دابر) آخراوپاي او(دابرالقوم) دقوم خلف ته وایي یعني له بیخه ایستل اوهلاکول دغه دقطرب قول دي (یصدفون) اعراض کوي صدف اعراض ته وایي (تطرد) ته وشړی له طردنه اخیستل شوی اوهغه له سپکتیاسره جوخت ابعاداوشړلوته وایي (الفاصلین) حکم کونکي (یافیصله صادرونکي).

دنزول سبب:

ابن مسعودرضی الله عنه وایي چي دقریشو ډله درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس تېرېدله اوله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست صهیب، بلال، خباب، عمار، اونوربېوزله مسلمانان یې ولیدل نودوي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: آیاترخپل قوم اوتېردي دغه کسان غوره ګڼلي !؟ آیامونږپردوي پسي پیروي وکړو؟! آیاداهغه کسان دي چي الله وربادني احسان کړي دی؟ دوي له څانه

۱-القرطبي ۶ \ ۴۲۴
۲-غریب القرآن قتیبه ص ۲۳

وشره او کله چي دي وشرل بيا به مونږ ستا پيروي او متابعت وکړو الله جل جلاله دا آيت نازل کړ. (وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَوٰةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّٰلِمِينَ) ( ) .

تفسير:

﴿ إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَالْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴾ (بيشکه قبلوي بلنه ستا (ايمان ته) هغه کسان چي اوري (پند ستا او دلته کلام بشپړ شو وړوسته بيا پيلېږي)او مړي به ولاړ کړي الله بيا خاص هم ده ته به ور وستي شي) ابن کثير وايي چي پدغو مړو سره مراد کفار دي ځکه زړونه يې مړه دي نو الله له مړو سره تشبيه کړي هغوي چي وجودونه يې مړه وي دغه تشبيه دتهکم او استهزاء لپاره دی (١)طبری بيا وايي معنادا چي الله ﷻ به کافران له مړو سره راپاځوي نو الله پاک دوي هم دمړو په ډله کښې ودرول هغوي چي نه څه اوري او نه په څه پوهيږي ځکه دوي دالله ﷻ په دلائلو کښې هيڅ سوچ نه کاوو او نه يې له آيتونو څه پند اخيست او نه هم درسولانو له تکذيب څخه منع کيدل (٢) ﴿ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴾ بيا خاص هم ده (الله) ته به وروستي شي (دحساب او جزا لپاره) ﴿ وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ (او وايي کفار ولې نه نازلاوه شي په دغه (محمد) باندي کومه معجزه (دليل دقدرت) چي مونږ يې غواړو) له (جانبه) درب دده) يعني دمکې کافرانو به ويل ولي په محمد کومه معجزه نه نازلېږي چي دده په رښتنولي دلالت وکړي لکه : اوښه دصالح عليه السلام) يالکړه د(موسي عليه السلام) يامائده (ډک دسترخوان)د (عيسی عليه السلام) قرطبي وايي دغه خبري دوي دتعنت له کبله کولي وروسته له دي چي غوځ براهين او څرګند دلائل لکه دقرآن اعجاز ورته ښکاره شو هغه چي دوي يې په شان يو سورت هم جوړولای نشوای (٣) ﴿ قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةً ﴾ ووايه ای محمده ! دوي ته) بيشکه الله قادر دی پدي خبره چي نازل کړي (هغه ستاسي غوښتل شوي) معجزه ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (لکن اکثره کسان له دوي څخي نه پوهېږي (چي دغه معجزه دعذاب سبب دي) ځکه کله چي ددوي له غوښتني سره معجزه راواستوي او بيا هم وربا ندي ايمان نه راوړي نو ژر ترژره به په عذاب اخته شي لکه چي په پخوانيو امتونو هم داسي شوي دي ﴿ وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ ﴾ او نشته هيڅ (حيوان خوځېدونکی په ځمکه کښي) ﴿ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ ﴾ او نه هيڅ مارغه چي الوزي په دواړو وزرونو خپلو(په هوا کښي) ﴿ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ﴾ مګر(تول سره) امتونه (مخلوقات) دي په شان ستاسي) چي الله پيدا کړي احوال، روزي او دمريني وختونه (آجال) يې ورته ټاکلي دي بيضاوي وايي له دي څخه مقصد دالله په بشپړ قدرت ،پراخ تدبير او شامل علم(٤)

١-ابن کثير ١/ ٥٧٦
٢-الطبري ١١/ ٣٤١
٣- القرطبي ٦/ ٤١٩
٤-البيضاوي ص/ ١٧٠

باندي دلالت دي چي همدا الله كولای شي چي معجزه راواستوي (١) ﴿ مَا فَرَّطْنَا فِي ٱلْكِتَٰبِ مِن شَيْءٍ ﴾ ندی پري ايښي مونږ په كتاب (قرآن) كښې هيڅ شی (له امردرين څخه چي خلګ ورته اړوي مګربيان کړي مودي) چاپياويلي چي مرادله كتاب څخه (لوح محفوظ) دي نومعنابه يې داوي چي مونږ هيڅ شي ندي پري ايښي په لوح محفوظ كښي چي ليکلي مونه دی (٢) ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴾ بيابه داټول رب خپل ته ورټول شي (دحساب اوجزالپاره) زمخشري وايې يعني ټول امتونه له خوځيدونكوحيواناتويا الوتونکومرغانوڅخه به راټول کړل شي اوترمينځ به يې فيصلې وشي دچاچي په بل چاحق وي هغه څخني ورواخيستل شي لكه چي روايت کېږي دبې ښكرووزې حق به له ښكروري څخه ورکول شي (٣) ﴿ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَا صُمٌّ وَبُكْمٌ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ ﴾ اوهغه كسان چي دروغ ګڼي آيتونه زمونږ کاڼه دي اوګونګيان دي (دحق له اورېدلونه) په تياروكښي دي (دكفر) ابن كثيروايې چي دغه ددوي دناپوهي ،جهل اونافهمي لپاره متل دی دوي دکاڼه په ډول دي هغه چي نه اوري اودګونګي په ډول دي هغه چي خبري نه كوي اوله دي سره سره په داسي تياروكښي دي چي هيڅ نهويني نوداسي سړي به څرنګه سمه لاره وموميي اويابه له هغه څه ووزي چي پکښي لوېدلي دي ؟ (٤) ﴿ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضْلِلْهُ وَمَن يَشَأْ يَجْعَلْهُ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوهرچاته چي اراده وفرمايې الله د(ګمراهي يې) نوګمراه كوي يې اوهرچاته چي اراده وفرمايې (الله دهدايت يې) نوګرزوي هغه په سمه صافه لاره (دحق) اودا سلام دين ته به يې رهنمايې کړي ﴿ قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيْرَ ٱللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (ووايه ای محمده دوی ته) خبرراکړي ماته که راشي تاسي ته عذاب دالله ياراشي پرتاسي قيامت) استفهام دتعجب لپاره دی يعني ماته خبرراکړي كه تاسوته دالله عذاب ياقيامت راشي څوک به بولي ؟آيابې له الله بل څوک به بولي تاسي (چي ضرردرڅخه دفع کړي) كه يې تاسي صادقان (چي بتان تاسوته ګټه رسوي) ﴿ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ ﴾ بلكه خاص هم دغه الله بولي تاسي بيالېري كوي الله له تاسي هغه (مصيبت) چي بولي تاسي (الله) دهغه دپاره كه اراده وفرمايي ﴿ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴾ (اوهيروي تاسي (په وخت دسختي كښي) هغه (باطل معبودان) چي شريكوي يې تاسي (له الله سره) په داسي وخت كښي يې بيانه يادوي ځکه تاسوپدي باورلري چي يوازي الله جل جلاله ضرردفع كولای شي نه بل څوک ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ اوخامخاپه تحقيق استولي وومونږ(رسولان) دېروامتونوته پخواله تانه(ای محمده !) دغه د رسول صلی الله عليه وسلم لپاره ډادينه اوتسلاده يعني په الله لوړه چي مونږ دېروامتونوته ترتاپخوالا پيغمبران استولي وواوهغوي يې تكذيب کړی وو ﴿ فَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْبَأْسَآءِ

١- البيضاوي ص ١٧٠/

٢ - دغه دطبري ، زمخشري اوجلالين غوره دی ابوحيان په بحرمحيط كښي دی ته ترجيح ورکړي ده چي مرادله كتاب څخه عظيم الشان قرآن دی اوبياوايې چي همدا آيت شريف دسياق غوښتنه هم ده.

٣ - الكشاف ٢ / ١٢

٤ - ابن كثير ١ /٥٧٧

وَالضَّرَّاءِ ﴾ نوونيول مونږ دوي په سختيواو تكليفونوسره (چي فقرناروغي او دردونه وو) ﴿ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴾ دپاره ددي چي دوي زاري عاجزي وكړي (خپل رب ته اورجوع وكړي له گناهونو) ﴿ فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا ﴾ نوولي كله چي راغي دوي ته عذاب زمونږ عاجزي ونكړه دوي ؟(لولا) كلمه دهڅوني اوتحضيض لپاره دى يعني ولي يې زاري ، عاجزي ونكړه چي عذاب ورته راغى؟ دغه دوي ته عتاب دى چي دوى سره له عذابه هم عاجزي ونكړه ﴿ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ وليكن سخت شوي ووزړونه ددوي (نوځكه يې تري عبرت وانه خيست چي زړونه يې دايمان لپاره نرم شوي واى) ﴿ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ اوښايسته كړي وو دوى ته شيطان هغه كارونه چي وودوي چي كول به يې) يعنى گناهونه اوپه گمراهيو باندي اصراريې ورته ښايسته كړي وو ﴿ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ ﴾ پس كله چي هېركړدوي هغه شي چي پندوركړى شوي وودوي ته په هغه سره ﴿ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ نو پرانستل موپردوي باندي ورونه دهرډول نعمت (داستدراج په توگه) ﴿ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا ﴾ ترهغه پوري كله چي خوشحال شي دوي پرهغو شيانو چي وركړى شوي وودوي ته (له انواعو دنعمتونو لازيا ت يې غروراوتكبروكړ) ﴿ أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴾ نوونيول مونږ دوي ناڅاپه پس ناڅاپه پدي وخت د(ليدلو دعذاب) كښي دوي ناهيلي شي (چي دهيڅ خيرتمه نلري) ﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ نوپرې كړى شوبيخ دقوم هغه چي ظلم يې كړي وو) يعني له بيخه وايستل شول اوهلاک شول ﴿ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ (اوټولي ثناوي اوصفتونه خاص الله لره دي چي پالونكى دټولو عالميانو دى) يعني الله لره حمداوثنادى چي پيغمبرانو ته نصرت اومرسته وركوي اوكافران هلاكوي حسن رحمه الله وايې دكعبې په رب مى قسم چي خطا ايستل شوي يوقوم چي اړتياوي يې وركړل شوې او بيايې ونيول (١) په حديث شريف كښي راځي كه چيري الله پاک بنده ته دهغه له گناهونوسره ټول هغه څه وركوي چي دى يې خوښوي نوبيشكه دغه استدراج دى بيارسول الله صلى الله عليه وسلم داآيت ولوست : (فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ) (٢) ﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ ﴾ ( ) (ووايه اى محمده ! دوي ته) خبرراكړي ماته كه واخلي الله (قوت) داوريدلو ستاسي (چي كاڼه شي) او(قوت د) ليدلو ستاسي (چي ړانده شي) يعني اى محمده ! دغو دمكي معاندينو اومكذبينو ته ووايه چي خبرراكړي كه الله موحواس درڅخه واخلي اوكاڼه ړانده شي ﴿ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم ﴾ (اومهرولگوي (الله) په زړونو ستاسي) چي عقل اوپوهه يې وركه شي ﴿ مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ﴾ نوبل كوم معبود دي بې له الله نه چي بيرته راوړي تاسي ته هغه (اخيستل شوي له

١-مختصرابن كثير ١/ ٥٧٨

٢-اخرجه الامام احمد .

تاسو نه ؟) ﴿ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْآيَٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴾ وګوره (ای محمده !) چي څرنګه مونږ راز رازبيانونودلائل (په وحدانيت زمونږ) بياهم دوي تري ډډه کوي (اوعبرت نه اخلي) ﴿ قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً ﴾ووايه ای محمده ! دوی ته) خبرراکړي ماته که راشي تاسي ته عذاب د الله ناڅاپه يابنکاره شي (دشپې يادورځې) ﴿ هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ آياهلاک به کړی شي (په دغه عذاب سره بل څوک؟ مګرقوم ظالمان (يعني پدي عذاب بل څوک نه هلاکېږي مګرتاسوچي کافران اومعاندين ياست ﴿ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾اونه لېږومونږه رسولان مګرزېری کونکي (مؤمنانوته په نعيم سره) او وېرونکي کفاروته (په جحيم سره) نه ددي لپاره چي دکافرانوغوښتني ترسره کړي اومعجزي راوړي ﴿ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾پس هرچاچي ايمان راووړاواصلاح يې کړعمل په (اطاعت سره) نو نشته (هيڅ قسم) وېره په دوي باندي اونه به دوي (هيڅکله) خفه کېږي (ځکه آخرت دجزادارد متقيانولپاره دي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلْعَذَابُ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴾ اوهغه کسان چي نسبت دد روغ کوي دوي آيتونه زمونږ ته وبه رسيږي دوي ته عذاب په سبب دهغه چي وو دوي چي فسق به يې کاوو (دالله له طاعت څخه به وتل ابن عباس رضی الله عنه وايې چي مراد له (يَفْسُقُونَ) څخه يکفرون دی ﴿ قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ ﴾ (ووايه ای محمده ! دوي ته) چي نه وايم زه تاسي ته چي ماسره خزانې دالله دي اونه (وايم زه) چي پوهېږم په غيب باندي يعني ای محمده ! دغوکفاروته چي له تاڅخه دمعجزاتوغوښتنه کوي ووايه چي زه ددې دعوی نه کوم چي ماته دالله خزانې سپارلی شوي دي ترڅوتاسي ته هرډول معجزې راوړم اونه هم ددې دعوی کوم چي زه په غيبوخبريم چي تاسوراڅخه دعذاب دراتلووخت پوښتي ﴿ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ ﴾اونه وايم تاسي ته چي په تحقيق زه پرښته يم (ترڅوتاسي راڅخه دآسمان ته ختلوغوښتنه وکړي اوياداچي په کوڅو کښې ونګرزم اوڅښاک خوراک ونکړم صاوي وايي دغه آيت هغه وخت نازل شوکله چي دوي وويل: که ته رسول اوپيغمبريې نوپروردګارڅخه دي وغواړه چي پراخه روزي راکړي اومونږته زمونږمصالح اوزيانونه راوښيه نودوي ته اخباروشوچي دادالله په قدرت کښي دی نه دپيغمبرپه لاس کښي (١) معناداچي زه ددي شيانوڅخه ديوه شي هم دعوی نلرم چي تاسوزمادغه عدم اجابت ددي دليل وګڼئ چي رسالت يې په رښتوني نه دي. ﴿ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ ﴾ زه پيروي نه کوم مګرد هغه شي چي وحی کړي شوي دي ماته ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ووايه (ای محمده !دوی ته.) ايابرابرکيدی شي ړوند اوليدونکی؟)يعنی اياکافراومومن اوګمراه اولاره موندونکی سره برابر دي؟ ﴿ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴾ آيانوفکرنه کوی تاسي؟ دغه دتوبيخ اوتکوني لپاره دي چي اياتاسواورئ خو غوراوفکرنکوئ ؟ ﴿ وَأَنذِرْ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾.(اوووېروه ای محمده !) پدي وحي سره هغه کسان چي

١- حاشية الصاوي على الجلالين ٢ / ٢١

ويريږي دوي له دې چي تول به کړل شي دوي رب خپل ته ،يعني اى محمده پدى قران سره مومنان هغه کسان چي دالله ﷻ په وعداووعيد ايمان لري اودحشرپه عذاب باور لري وويروه ابوحيان وايي: چي معنايي دالکه چي وويل شي په قران کريم سره هغه څوک وويروه چي دايمان راوړلوتمه يې کيږي اوکافران اعراض کونکى خپلى رايي ته پريږده ! ﴿لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ﴾ پداسي حال کښې چي نه وي دوي ته بي له دغه (الله) هيڅ ولي دوست (ناصرپه دنياکښې) اونه شفاعت کونکى (دعذابونو د دفع) ﴿لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ﴾ دپاره ددې چي دوي وساتي ځانونه (خپل) ﴿وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ﴾ اومه شړه هغه کسان چي بولى دوي (عبادت کوي د)رب خپل په اول دورځي اوپه اخردورځي کښې (سبااوبيګا) چي غواړي دوي (پدي عبادت سره رضاد) ذات دالله) يعني اى محمده دغه بيوزله مومنان چي سبا بيګا دالله ﷻ عباد ت دالله ﷻ درضا لپاره کوي له خپله درباره مه شړه طبرى وايي چي دغه ايت دبيوزله مسلمانانو په باب دى هغه چي مشرکانوبه رسول ﷺ ته وايل که دغه کسان دي وشړل نومونږبه ستاخواوشاته راټول اوپه مجلس کښې به دي کښينو[1] اورسول الله ﷺ ددوي داسلام راوړلو په تمه دغه اراده وکړه الله فرمايى: ﴿مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ﴾ (نشته په تاله حسابه (داعمالو) ددوي هيڅ شي اونه له حسابه (دعمل ستاپه دوي هيڅ شئ) يعني ته ددوي په ګناهونو نه مواخذه کيږي لکه چي نوح عليه السلام وايې :(إِنْ حِسَابُهُمْ إِلاَّ عَلَى رَبِّي) صاوى وايې دغه لکه تعليل غوندى دى معناداچي ته ددوي په ګناهونو اودزړه په نيتونوکه چيري بالفرض دوى بى دالله له رضاڅخه ستاپه مجلس کښې ناست وي لکه چي مشرکانو به ويل نه مواخذه کيږي خوداسي نه ده څکه الله ﷻ ددوي په اخلاص ګواهي ورکړي چي ﴿يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ﴾ يې فرمايلي دي[2] ﴿وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ﴾ دغه دکلام دتاکيدلپاره راغلي يعني نه هم دوئ ستاپه حساب نيول کيږي نوولي يې شړې؟اوچا ويلي: چي مراد په حساب سره رزق دي يعني ددوي روزي په تاباند ي نه ده اونه ستاروزي په دوي باندي ده بلکه تااودوي ټولو ته رب العالمين روزي ورکوي) ﴿فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ نوچي وشړي ته دوي پس شى به ته له ظالمانو څخه دغه داحکامو دبيان له پاره ده اوداسي خوهيڅکله هم پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه کوي قرطبي وايي چي دالکه دالله ﷻ هغه قول غوندي دي چي فرمايي: ﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ الزمر: ۶۵ اوالله ښه پوهيږى چې پيغمبرهيڅکله هم له الله سره شريک نه نيسي او خپل عمل نه باطلوي [3] ﴿وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ﴾ اولکه چي ازمويلي مووپخواني امتونه په اختلاف داحوالو ددوي،همدارنګه ازمويلي دي مونږ ځيني (غنيان ،خانان) په دي امت په ځينو نورو (خوارانو اوبې وزلانو) ﴿لِّيَقُولُوٓا۟ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ﴾ لپاره

---

[1] -الطبرى ۱۱/۳۷۴.

[2] -حاشيه الصاوي ۲/۱۷

[3] -قرطبى ۶/۴۳۴.

ددې چي ووايي ا(غنيان) اياهم دا (خواران) فضل كړي دي الله ﷻ پردوي په منيځ زمونږ كنبي (په هدايت سره اواسلام ته په ړومبی والي سره) دغه خبره به يې داستهزاء اوانكارپه ډول كوله لكه چي ويل به يي: (أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا) الله تعالى ددوئ په رد كښې داسي فرمايي: ﴿ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ ﴾ ايا ندي الله ښه عالم په شكر كونكو) يعني الله ﷻ ښه عالم دی په شاكر بندګانو نوورته هدايت كوي اوخوك چي كفران كوي هغه رسواكوي استفهام دلته دتقرير لپاره دي ﴿ وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ ﴾ اوكله چي راشي تاته (ای محمد) هغه كسان چي تصديق كونكی دي په آيتونو(قران) زمونږ نووايه (ای محمده) دوي ته) سلام دي پرتاسي) قرطبي وايي داايت دهغو كسانو په هكله رانازل شوي كوم چي الله ﷻ خپل نبی ته ددوي له شړلو څخه نهي اوممانعت وكړنو كله چي به رسول الله ﷺ دوي وليدل سلام به يې وارد مخه كاوو اوداسي به يې ويل: (الحمد الله الذى جعل فی أمتي من امرنی أن أبدأهم بالسلام)[1] اورسول ﷺ ته امرشوي ووچي ددوي دخوشامندي اودزړونو دخوښي لپاره په سلام اچولو وارد مخه كړي ﴿ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾ ليكلي دي رب ستاسی پرځان خپل رحمت (تفضلا اوداحسان له مخی) ﴿ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ﴾ (او داسي يې لازم كړي پرځان خپل چي) بيشكه شان دادی هرڅوك چي وكړي له تاسوڅخني بدی په نا پوهی سره (بې له قصده)مجاهد وايي معنا داچي حلال اوحرام سره بيلولی نشي اوكومه ګناه څني صادره شي ﴿ ثُمَّ تَابَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ بياتوبه وكړي پس (له كولود) هغي او اصلاح كړي (عمل خپل) نوبيشكه الله ښه ښنونكی (دخطيئاتو) ډيرمهربان دي ,داجراوثواب په انعام سره، هغوي ته ښنه كوي دغه دمغفرت اورحمت لورولو لپاره زيری دي هغه چاته چي توبه وكاږي او اعمال سم كړي ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ ﴾ (اوهمداسي (چي بيان موكړل) په تفصيل سره بيانوو آيتونه) يعنی لكه څرنګه چي پدې سورت كښې مو دمشركينو په ګمراهيو براهين اودلائل بيان كړل همداسي ددين اموردرته څرګند وو ﴿ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ ﴾ اولپاره ددې چي ښكاره شي (حق اوظاهرشي) لاره دګنهګارانو ﴿ قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ﴾ اووايه (ای محمده دوي ته)چي بيشكه زه منع كړي شوی يم له دي نه چي عبادت وكړم دهغوشيانوچي عبادت كوي تاسي د(هغوي) چي غيرله الله دي) يعني ای محمده دغو مشركينو ته ووايه چي زه له دي نه منع شوي يم چي ددغوبتانو كوم چي تاسو يې دالوهيت ګومان كوي عبادت وكړم ﴿ قُلْ لَا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) چي متابعت نه كوم زه دخواهشاتو ستاسی (په عبادت ددوي كښې) په دي كلام كښې ددوي دګمراهي دسبب تنبيه نغښتي ده ﴿ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴾ په تحقيق به ګمراه شم زه په دغه وخت كښې اونه به يم زه له لاره موندونكو څخه ﴿ قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي ﴾ ووايه (ای

---

[1] -القرطبی ۶/۴۳۵.

محمده دوي ته !) بیشکه زه په ښکاره دلیل یم له ربه خپله (چي قرآن او وحي ده) ﴿ وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ﴾ او تاسي دروغ ګڼلی هغه (حق چي ما ته له الله څخه راغلي دي) ﴿ مَا عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ ﴾ نشته ما سره هغه (عذاب) چي غواړي یې، دوي به غوښتل او ویل یې: ﴿ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ الأنفال: ۳۲[1] ﴿ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ﴾ نه دی حکم (په تعجیل او تاخیر د عذاب او نورو کښي) مګر خاص الله ته دي ﴿ يَقُصُّ ٱلْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْفَٰصِلِينَ ﴾ بیانوي (الله ﷻ) حقه خبره او دي بهتر د بیانوونکو (یا فیصله کوونکو) دی ﴿ قُل لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ ﴾ وو ایه ای محمده ادوي ته که په تحقیق واي ما سره هغه شي چي تاسي په تلوارسره غواړي هغه (چي عذاب دي نو) ﴿ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ﴾ خامخا فیصله شوي به وه جګړه په مینځ زما او ستاسی کښي (ما به عذاب درکړي وو تاسی ته چي درنه هوسا شم لیکن عذاب د الله کار دی) ابن عباس رضی الله عنهما وایي معنا دا چي یوه ګړۍ به مي هم پرې اینښی نه وایي سمدستي به می هلاک کړي وایی[2].

﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او الله ﷻ ښه عالم دی په ظالمانو (که اراده یې شوه ژر به یې هلاک کړي او که یې وغوښتل تعذیب به یې وځنډوي پدي کښې وعید او تهدید دی.

بلاغت:

۱- ﴿ وَٱلْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ ﴾ دلته استعاره راوړله شوي څکه مراد له مړو څخه کفار دي چي زړونه یې مړه دي.

۲- ﴿ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ ﴾ دغه کلام دلته د مجاز د وهم دفع کیدلو لپاره راغلي دی څکه کله کله طائر دعمل لپاره هم مجاز استعمالیږي لکه (الزمناه طائره فی عنقه).

۳- پدې کلام کښې چي فرمایي: ﴿ صُمٌّ وَبُكْمٌ ﴾ بلیغه تشبیه ده یعني دوي لکه کاڼه او ړانده غونډي دي چي نه اوري او نه خبري کوي د تشبیه ادات او وجه د تشبیه حذف شوی ده نو بلیغه تشبیه یې بولي.

۴- ﴿ إِيَّاهُ تَدْعُونَ ﴾ دلته قصر د صفت په موصوف پوري دي یعني له هغه پرته د زیان دفع کولو لپاره بل څوک مه بولی.

۵- پدې کلمه کښې چي ﴿ ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴾ دي د کافر او مومن څخه استعاره راغلي ده.

۶- ﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ ﴾ دغه د دوی د یو مخه ایزه هلاکت څخه کنایه ده.

۷- ﴿ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ ﴾ پدغو دوو جملو کښي د بدیع د علم هغه صنعت دي چي (ردّ الصدر علی العجز) یې بولي.

---

[1] الکشاف ۳/۲.

[2] القرطبی ۴۳۴/۶.

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: زمخشري وايي دالله ﷻ پدي قول کښې چې فرمايي: ﴿فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ ددې خبر تيادی چې دظالمانو دهلاکت په وخت کښې دي دالله حمد په لازمي توګه وويل شی څکه دا دنعمتونو خوراستر نعمت د ی چې دظالمانو له شر څخه سړی وژغول شي؟([1])

دوهمه فائده: ځيني مفسرين وايي چې په دعاکښې اخلاص واجب دی څکه الله ﷻ فرمايي ﴿يُرِيدُونَ وَجْهَهُ﴾ همداراز ټول طاعات او عبادات ښايي چې د دنيوي اغراضو او مقاصدو لپاره نه وي

الله تعالى فرمايي:

﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا
حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم
بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ
فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوٓا إِلَى
ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ ۚ أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ ٱلْحَٰسِبِينَ ﴿٦٢﴾ قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ تَدْعُونَهُۥ تَضَرُّعًا
وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَىٰنَا مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ
ٱلْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ
نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوْمُكَ وَهُوَ ٱلْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ
تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا
تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ
لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ
نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾ قُلْ أَنَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا
يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُۥٓ أَصْحَٰبٌ
يَدْعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلْهُدَى ٱئْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ

---

[1] ـ الکشاف ۱۸/۲.

﴿وَٱتَّقُوهُ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَيَوۡمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ قَوۡلُهُ ٱلۡحَقُّ وَلَهُ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ﴾ .

مناسبت او تړاو: کله چې الله تعالی په خپل وجود او وحدانيت دلائل وړاندي کړل وروسی يې خپل قدسي صفات لکه علم، قدرت، عظمت او نور دجمال او جلال صفات يادوي او خلکو ته له کړاوونو څخه دنجات نعمت وريه يادوي او بيا خپل قدرت هغه چا ته ښيې چې دالله او پيغمبر له امره سرغړونه کوي

لغتونه:

(کَرۡبٍ) غم او خفګان ته وايي (شِيَعًا) طائفې يوه په بله پسي(أُبۡسِلُوا) ابسال دانسان خپل خان هلاکت سپارلو ته وايي (عَدۡلٍ) بدل (فديه) (حَمِيمٍ) ګرمي او تودې اوبه (حَيۡرَانَ) له حيرانتيا او تردد څخه دي چې ديو کار په هکله مخرج نشي موندلای (ٱلۡغَيۡبِ) پټ خيزونه چې له حواسو څخه الونيا وي (وَٱلشَّهَٰدَةِ) هغه چې څرګند او ښکاره وي (تُحۡشَرُونَ) راټول به کړل شي.

تفسير:

﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَ﴾ او خاص هم دغه الله لره دي کلي ګاني (کنجياني) دخزانې دغيب چې نه پوهيږي په هغو مګر عالم دی پرې (هم دي) يعني دالله ﷻ په نزد دغيبو خزانی او پټ اموردي چې بل هيڅوک پرې نه پوهيږي او نه يې دعلم په احاطه کښې راځي مګر يوازی الله پرې خبر دی ﴿وَيَعۡلَمُ مَا فِى ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ﴾ او پوهيږي الله ﷻ په هغه چې په (وچه) کښې او په درياب کښې دي ، له حيواناتو څخه په بشپړه توګه او هغه څه عجائبات چې ددوي دي دالله ﷻ په علم کښې راځي ﴿وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا﴾ (او نه لويږي هيڅ يوه پاڼه (له ونې) مګر چې عالم دی په هغه الله) دادهغه دعلم په احاطې کښې مبالغه ده چې هيڅ کومه پاڼه له کومې ونې نه لويږی مګر دهغې دلويدلو وخت او هغه ځکه چې ورباندې راپريوتې ده الله ته معلومه ده ﴿وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ﴾ او نه (لويږي کومه) دانه په تيارو دځمکې کښې) مګر هغه ته يې ځای دلويدولو او داچې زرغونيږی او که نه خومره داني به ځني پيدا کيږی او څوک به يې خوري ؟معلوم دي ﴿وَلَا رَطۡبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ او نه دی هيڅ لوند او نه هيڅ وچ مګر(ثابت شوي دي) په کتاب مبين (لوح محفوظ) کښې يعني هرهغه څه چې پکښې لمدوالی او وچوالی شته الله ته معلوم او په لوح محفوظ کښې کښل شو ی دي) ابوحيان وايي[1] چې ددغو

---

[1] - البحر المحيط ۱۴۲/۴.

معلوماتو حسن ترتیب ته وګوره لومړی یې هغه دادراک ور وړاندي کړی چي ﴿ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ﴾ دی بیا یې
دوه باریک امورو ته اشاره فرمایلې چي یویې (علوی) چي د پاڼي لویدل او بل یې (سفلی)د دانې لویدل
دمځکي په تل کښې دي نو دغه پدي دلالت کوي چي الله پاک په کلیاتو اوجزئیاتو ټولو باندي عالم
او پوه دی[۱] ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ﴾ او الله هغه (لوی ذات)دی چي وفاتوي
(ویده کوي) تاسي په شپه کښې او پوهیږي په هرهغه څه چي کسب کړي وي تاسي په ورځي کښې (له
طاعت او معصیت څخه) قرطبي وایي چي دغه حقیقي وفات نه دی بلکه د روح ایسارول دی ابن عباس
رضی الله عنهما وایي معنا داچي ستاسی ارواح په خوب کښې درڅخه قبض کوي [۲] اوپدې کښې
دبیاراپاڅیدلو (بعث) په هکله استدلال او پند اخیستل دي دی ﴿ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ﴾
(بیاپاځوي تاسي (له خوبه) په دغه (ورځ) کښې چي پوره کړی شي نیټه مقرره شوي) ستاسي دژوند
پاي ته .فیه ضمیر ورځی ته راجع دی ځکه غالباً ویښه په ورځ اوخوب په شپه کښې وی ﴿ ثُمَّ إِلَيْهِ
مَرْجِعُكُمْ ﴾ بیا خاص همده ته بیرته ورتلل دي ستاسي (دقیامت په ورځ) ﴿ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾
بیا به خبرکړی (الله ﷻ) تاسي په (جزاء)دهغه څه چي وي تاسي چي کول به مو که خیر وو دخیر جزا به
درکړی او که شرو نو دشر سزا به ومومئ وروسته الله تعالی دخپل عظمت اوکبر یا هسي ستاینه کوي
﴿ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ﴾ اوهمدی غالب دپاسه په بندګانو خپلو یعني ټول څه دده جلال، کبریا
اوعظمت ته خضوع کوي ﴿ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ﴾ لیږي پرتاسو ساتونکي (له ملائکو چي هغه ستاسي
اعمال ساتي کرام الکاتبین دی) ابوالسعود وایي چي پدی کښې جمیل حکمت اوجلیل نعمت نغښتی
دی ځکه کله چي مکلف پدي پوه شي چي اعمال یې ساتل کیږي اوبیا دخلکو په وړاندي ورته ویل کیږی
نوهغه له دي څخه راګرزوي چي بداعمال ترسره کړي اوګناهونه وکړي[۳] ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ

---

[۱] -داسلام شهید سیدقطب پخپل تفسیرفی ظلال کښې ددې آیت پخواوشاکښې عجیبه خوندوري خبری لیکلی چي دایوه برخه یې رااخلو هغه رحمه الله وایي چي دغه ایت دالله ﷻ دشامل علم انځور دی چي په هیڅ وخت اوځای کښې ځښي یوشی الونیا اوپټ نه دی نه په مځکه نه په اسمان کښې نه په وچه اونه په بحر کښې نه دمځکي په تل کښې اونه په فضا کښې نه مړی نه ژوندي نه وچ اونه لوند بشری خیال کله چي ددغه ایت په پله ولاړشي نو دمعلوم اومجهول ساحه چي له دغه مشهود کون څخه بهرده ټوله ووهي وجدان لړزیږي چي دماضی ، حاضر او مستقبل ټولي پټي مهر شوي پردي راسپړي هغه چي خورا پلنی ،ژوري ،او اوږدي دي ددې ټولو کنجیانی له الله سره دي له الله پرته بل څوک وربانډي خبر نه دي دوچي په مجهولاتو ،دریابونو په تل کښې ټول الله ته څرګند دي هغه بی شمیره راتوی شوی پاڼي له ونوبوټو څخه ټولي الله ته معلومي دي چي دلته هلته لویږي له الله څخه هیڅ یوه دانه چي په مځکه کښې لویږي پټه نه ده ټول وچ اولانده الله څاري دهغه له محیط علم څخه هیڅ ندی وتلي داهسی تګ دی چي په سړی خپل سرڅرخوي عقل یې ستومانه کوی کله چي په منظور اومحجوب اومعلوم اومجهول پسی ګوري اوداپه یوڅو کلماتو کښې په پوره دقت راوړل شوي هوکي دغه ټول قرآني اعجاز دی او بس.
۱ فی ظلال القرآن ۲۴۷/۷.

[۲] -القرطبی ۵/۷.

[۳] -ابوالسعود ۱۰۷/۲.

﴿ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا ﴾ ترهغه پورې کله چې راشي یو ستاسی ته مرګ قبضوي روح دده لیږلي شوي (پرښتي زمونږ چي ستاسی داروا حود قبضولو لپاره لیږلی کیږي) معنا داچي دملائکو ساتنه داشخاصو لپاره داجل ترراسیدلو پورې وي کله چې یې اجل راورسي نو ساتنه یې هم بشپړه شي ﴿ وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ ﴾ (اودوی هیڅ کوتاهي (تقصیر)نه کوي داوامروپه تطبیق کښې) چې ساتنه اویاوفات کول دي ﴿ ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ ﴾ بیا به بیرته وروستل شي دوي طرف دالله ﷻ ته (دخپل عمل دجزالپاره) چې مولی (مالک) ددوي دی حق (عادل) یعنی هغوي به هغه خپل خالق اومالک ذات ته وروستل شي چې دحکم اوتصرف خاونداوپرته له عدل نه په بل څه حکم نکوي ﴿ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ ﴾ واورئ خبردارشئ! خاص هم ده ته دی حکم اوهمدی د هرڅرر دی له ټول حسابګروچې یو حساب یې له بل اویوشان یې له بل څخه نه مشغول کوي په یوه رپ دسترګو کښې دانسان دټول عمرنیکي اوبدي ورښکاره کوي له ټولو خلکوسره ددنیا دنیمي ورځي وخت په اندازه حساب بشپړ وي لکه چې په حدیث شریف کښې راغلی دي اوداسي روایت کا وه شي چې الله له خلکوسره دیوي ګړي دلوشلو دوخت په اندازه حساب کوي ﴿ قُلۡ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ ﴾ (ووایه (ای محمده !) څوک به خلاص کړي تاسي له تیار ودوچي اودریاب څخه؟ یعنی ای محمده دغو کفاروته ووایه چې څوک به تاسي دسفر په اوږدو کښې چې په بیدیا اودریاب کښې یې کوئ له سختیو اوکړاوونو څخه وژغوري؟ په هغه وخت کښې چې ﴿ تَدۡعُونَهُۥ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةٗ ﴾ (دعاکوئ تاسي له الله څخه په ښکاره (تضرع) اوپه پټه یې په زړه کښې زاري کوی دعاګانی غواړي ابن عباس وایي معناداچي تاسی په ښکاره اوپټه دعاګانی کوی، وایاست چې: ﴿ لَّئِنۡ أَنجَىٰنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ که خلاص کړي الله مونږ له دې تیاروا وسختیو څخه نوهرومرو سوبه مونږ خامخا له شکر ایستونکو څخه غرض داچي کله په هلاکت وویریږی نو دعاګانی کوی خو کله چې نجات درکړي بیا کافران کیږي قرطبی وایي چې الله پدي باره کښې دوی ته توبیخ کړي چې کله کړاوونه اوسختی درباندی راشي نو یوازی الله ﷻ ته دعاکوئ اوچې کله بیا اسانی اوسوکالي درته مخ کړي نوبیاورسره نورکسان هم په دعاکښې ګډوئ[1] ﴿ قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٖ ﴾ ووایه (ای محمده !دوی ته) چې الله خلاصوي تاسي له دې تیارو (اوسختیو) څخه اوله هری سختي څخه ﴿ ثُمَّ أَنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ﴾ بیاهم (پس له دغه نجاته) تاسی شریکوی (له الله سره نور په عبادت کښې) پدی کښی توبیخ اوتکول دی چې سره له دي تاسو په دې ټولو پوهیږی خوبیاهم ایمان نه راوړی اومشرکان کیږی ﴿ قُلۡ هُوَ ٱلۡقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ ﴾ ووایه (ای محمده !) هم دغه (الله) قادردی پدې چې ولیږي په تاسي عذاب له پاسه ستاسی) چې له اسمانه تندر اوتکي درباندی راوغورځوي یالکه تیږي دبري ، اورونه ،طوفانی

1- القرطبی ۸/۷.

هوا اوبادونه درباندي راوالوزوي لکه چي په پخوانيو امتونويې مسلط کړي وو ﴿ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ ﴾ یالاندي دپښوستاسي (لکه قارون او دمدين خاوندان چي په زلزلو اوخسف دمځکی تل ته په ډوبولو بې هلاک کړل ﴿ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ﴾ یاګډ کړي تاسي فرقې فرقې (چي هره ډله بله وژني) اوورڅکوي (الله ﷻ) ځينوستاسو ته جنګ (اوسختی) دځينو (نورو) بيضاوی وايي چي ګډ کړي دوی حزبونه حزبونه دهرچا غوښتنی ګوښې وی نوددوی ترمنځ جنګ جګړې پیښې شي (١) ابن عباس وايي چي ستاسو ترمنځ مختلف خواهشات خواره کړي اوتاسي ډلې ډلې شي پورتنی تعريفات ټول سره نژدې دي اوغرض ځني وعيد اوتهديد دی ﴿ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴾ وګوره (ای محمده!) څرنګه رازراز بيانوو مونږ آيتونه (خپل) لپاره ددې چي دوی پوه شي (پرې او ځني پند واخلي) له جابربن عبدالله (رض) څخه روايت شوي چي وايي کله چي دغه آيت نازل شو ﴿ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ ﴾ نورسول الله ﷺ وويل (اعوذبوجهک) او ﴿ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ ﴾ نويې وويل (اعوذبوجهک) ﴿ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ﴾ نورسول الله ﷺ وفرمايل (هذه اهون وايسر) يعنی دغه سپک اواسانه دی (٢) ﴿ وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ﴾ اودروغ وباله دا قرآن قوم ستا (چي قريش دي) حال داچي دغه (قرآن) حق دی ﴿ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴾ ووايه (ای محمده ! دوی ته) نه يم زه په تاسي وکيل (ساتونکی) زه يوازې ويرونکي (نذير) يم ﴿ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ﴾ هري خبري ته يووخت مقرردی (چي بې له تاخيراومخالفت څخه به پيښيږي) ﴿ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ اوژربه (پري) وپوهيږی تاسی (چي کله عذاب درته راشي) دغه خبره دوعيد اوتهديد لپاره دي ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا ﴾ اوکله چي ووينی ته هغه کسان چي جګړه کوي (پيغورورپوري ترې مسخري پري کوي ننوځي غوتي وهی) په آيتونو زمونږ کښې ﴿ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ﴾ نومخ واړوه له دوي نه (اوورسره مه کښينه اوکه ناست وي تري پاڅيږه) ترهغي پوري چي مشغول شي دوي په خبرو (نوروکښې) غير (له مسخرو) په قرآن (السدی) وايي چي مشرکان به کله له مومنانوسره کښيناستل نوپه نبی ﷺ اوقرآن کريم کښې به ګډشول ښکنځل اوملنډې به يې پوري کولی نوالله ﷻ امروکړچي له دوي سره دی مومنان نه کښينی ترڅوچي دوي نوري خبري شروع کړي (٣) ﴿ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ ﴾ اوکه هيرکړل له تانه (دا اعراض) شيطان او ورسره کښيناستلی بيا درپه ياد شو ﴿ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ نومه کښينه وروسته له درپه يادېدلو (ددغي منعې) سره له قوم ظالمانو ،فاسقانو اوکفارو هغوي چي په قرآنکريم اودين باندي ملنډې وهي ابن عباس

---

[1] -البيضاوی ص ۱۷۳.
[2] -اخرجه البخاری.
[3] -الطبری ۴۳۷/۱۱.

(رض) وايي چي معنا دا كله چي نهى درپه يادشي پاخه ولاړشه اوله مشركانو سره مه كښېنه !. ﴿ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ ﴾ (اونشته پرهغو كسانوچي پرهيزګاري كوي له حسابه ددغو(جګړه كونكو په قرآنى آيتونوملنډي وهونكو) څخه هيڅ شى له ګناه يعني په مومنانو باندى دكفارو ددغو ګمراهيو اوملنډي وهلو ګناه نشته كله چي ځان دهغوى له مجلس اوناستى وژغوري ﴿ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾ (لكن (دوي)باندي پند وركول دى دپاره ددې چي ځان وساتي دوي) يعنى لكن پردوي باندي داشته چي هغوى ته پندوركړي اوله دغه كاره يې منع كړي څومره چي ددوي وعظ اونصيحت كاركوي (¹)ورته دى ووايى چي دغه عمل دمسلمانانو خوښ نه دي ښايي چي دوي به نور دمسلمانانوله شرم څخه چي هغوي يې له مجلسه ولاړيږي بياداسي نه كوي (ابن عطية) وايي مسلمانانوته ښايې ددې ايت شريف دحكم امتحان دى هغه وخت وكړي كله چي له ملحدينواوجګړه مارو سره مخامخ شي (²)﴿ وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا ﴾ اوپريږده ته هغه كسان چي ګرځولى دى دوي دين خپل (چي پرى مكلف وو اواحترام تعظيم يې ښائيدل) لوبى اوعبث (چي پري مسخري كوي) ﴿ وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ﴾ اوغولولي دي دوئ ژوند ددنيا (چي داسي ګومان كوي بيا ژوندون نشته) ﴿ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ﴾ اوپند وركوه ته په دغه (قرآن سره خلكوته) څو ونه سپارل شي (هلاكت ته) هيڅ نفس په سبب دهغه عمل (بد) چي كړى يې وي ﴿ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ ﴾ حال داچي نه وي دغه نفس ته بې له الله نه كوم ولي (منع كونكى دافت په دنياكښې) اونه شفاعت كونكى (دفع كونكى دمصيبت په عقبى كښې). ﴿ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ ﴾ اوكه فديه وركړي دا(نفس) هرقسم فديه نووابه نه اخيستلى شي (دافديه) له نفس څخه قتاده رضى الله عنه وايي كه دمځكي سرتول سره زر په فديه كښې وركړي هم ځنى وبه نه منل شي (³)﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ ﴾(دغه (ذكرشوي ملنډى وهونكى) هغه كسان دي چي سپارلي شوي دي (هلاک ته) په سبب دهغو كارونو چي كړي دي دوى (له بدو اعمالو اوناولي عقايدوڅخه)﴿ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴾ (شته دوي لره څښل دډيرو ګرمواوبو اوعذاب دى دردناک په سبب ددې چي وو دوي چي كافران كيدل) يعني ددوي ګمراهانولپاره ايشيدونكي اوبه دڅښاک لپاره وركول كيږي چي كولمي يې ورپخوي اوپكښې جړهاړى كوي په بدنونويې اوربليږي څكه دوي تل ترتله په كفر كښې اوسيدل نواوس ددوي لپاره ايشيدونكي اوبه اودغه دردناک عذاب اودسپكتياحالت دي ﴿ قُلْ أَنَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا

---

¹-طبرى وايي چي دايت معنا دا چي دالله دامر وريه ياديدلوپه وخت كى دي ترې ځنګ وكړي ترڅوهغوى له الله ﷺ څخه وويريږي.

²-البحر المحيط ۱۵۴/۴.

³-الطبرى ۴۴۷/۱.

﴿ وَلَا يَضُرُّنَا ﴾ ووايه (اى محمده دوى ته) ايا عبادت وكړو غيرله الله نه هغه شي ته چي نه نفع رسولى شي مونږته اونه تاوان رسولى شي مونږته (په عبادت كول اويانه عبادت كولو كښې چي هغه بتان دى) دلته استفهام د انكاراوتو بيخ لپاره دى ﴿ وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا ﴾ اوبيرته وگرځولي شو مونږ په پوندو خپلو (گمراهى اوشرک ته) ﴿ بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ ﴾ وروسته له هغه چي سمه صافه لاروښودله الله ﷻ مونږته (داسلام) ﴿ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ په شان دهغه سړي چي بيولي وي دې پيريانانو شيطانانو په ځمكه (دچول بيابان) كښې اوژوره كنده كښې يې غورځولى وي ﴿ حَيْرَانَ ﴾ پداسي حال كښي چي (له وركيدلو دلارى) حيران وي ﴿ يَدْعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلْهُدَى ٱئْتِنَا ﴾ ده لره ملگرى وى بولي دوى داسړى (له ډيره شفقته)په لوري دصافې سمې لاري (چي ورته وايي) راځه مونږته (خوهغه يې نه منى) ﴿ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ﴾ (ووايه (اى محمده ادوى ته) چي بيشكه هدايت دالله همدادى هدايت) يعنى اى محمده دغو كفاروته ووايه چي دااسلام چي مونږ ورباندي ولاړ يوهمداهدايت دى نور څه له دې پرته گمراهي اوضلا لت دى ﴿ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ اوحكم كړى شوي دى مونږته چي اسلام راوړو (غاړه كښيږدو) رب پالوكى) دتماموعالميانوته دادهغه چا تمثيل دي څوک چي له سمې لارى گمراه شوي وى اوهغه اسلام ته رابلل كيږي خو بلنه نه مني ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي دادهغه لپاره مثال دي چي الله ﷻ دباطلو خدايانواودهغوي دپيروانولپاره راوړي اودهغه چالپاره چي دالله ﷻ لوري ته بلنه وركوي لكه څوک چي سمه لاره وركه كړي لالهاند سرگردان وي اوڅوک مبطل ورته ناره كړي اى فلانيه دلته لاره ده راشه خوهغه نورملگري هم لرى ورته ناره وهى دلته لاره ده مونږته ځان راورسوه نوكه چيري يې دلومړنى بلونكى خبره ومنله هغه يې دهلاكت كندى ته ور اچوى اوكه يې دهغه چا خبره ومنله چي په رښتيا يې سمى لاري ته وربولي نوبه لاره بيا مومى وايي :هغه څوک چي ددغو باطلو خدايانو عبادت كوي هغه گومان كوى چي په سمه لاره درومي ترڅوچي ورته مرگ راشي اوهلاكت ته ورشي بيا پښيمانى اوندامت كوي (١) ﴿ وَأَنْ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُ ﴾ اوبل (پدې حكم شو يدى)مونږته) چي قائموى (سم اداكوى سره له ټولو حقوقو) تاسي لمونځ اوويريږي تاسى له دغه (الله) نه (په ټولو حالتو كښې) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ﴾ اودغه الله همغه ذات دى چي پيداكړى يې دى اسمانونه ... حقه سره (نه بى فائدي) يعني الله سبحانه وتعالى هغه پيداكونكى ،مالک اودتدبيرخاوند ... مانونواوځمكى اودهغوي مخلوقات يې په حقه پيداكړي(پنځولى) دى اوهيڅ هم ... ﴿ ... كُن فَيَكُونُ ﴾ اوياد كړه هغه ورځ چي وبه وايي (الله) هرشي ته چي ... د (پيدا) به شي ابوحيان وايي چي دغه ديوشي له عدم څخه وجود

ته راوړلو لپاره مثال دي هسی نه چي يو څه شته اوورته به امر کيږي[1] ﴿ قَوْلُهُ الْحَقُّ وَلَهُ الْمُلْكُ ﴾ خبره دد غه (الله) حقه (رښتيا) ده او خاص دغه (الله) لره دي سلطنت (دقيامت په ورځي) ﴿ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ ﴾ په هغه ورځ کښې چي پوکی وکړل شي په شپیلۍ (صور) کښې (چي دوهم ځل پوکی دبیا راژوندی کیدلو لپاره حضرت اسرافیل علیه السلام وکړي ﴿ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ﴾ (عالم دی الله په ټولو پټو اوښکاره وو) يعني پوهيږي په ټول څرګند واوناڅرګندو هغه چي سترګی اوحواس يې نه ويني اوهغه چي تاسو يې شپه ورځ ويني ﴿ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴾ اوهم دی دی حکمت والاپخپلو کړو کښې چي هرکارپه تدبيراومصلحت سره کوی) خبرداراوښه پوه دي دبندګانو په امورو باندي.

بلاغت:

۱: ﴿ وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ ﴾ دلته يي کنجياني دپټوامورو لپاره استعاره کړي ګواکي لکه هغه چي خزاني وي زمخشري وايي دپټو امورو لپاره يې کنجياني استعاره راوړي څکه په کليانو باندي دقفل شو وخزانو دروازي پرانستل کيږي نو يوازي الله په پټو (غيبو) پوه اوخبردار دی.[2]

۲: پدي کلام کښې چي فرمايي ﴿ وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ ﴾ دلته چي وفات دخوب لپاره استعاره کړي څکه ددوي دواړو ترمنيځ دعدم احساس اودتعبيردزوال وصف مشترک اوګدي.

۳: ﴿ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ دلته دظاهر راوړل دضميرپرځاي چي (معهم) وو ددې لپاره راغلي چي پردوي دناکاره عمل ليکنه اوتسجيل وشي څکه دوي دروغ اوملنډي دتصديق اوتعظيم پرځای ترسره کړي اوظالمان دي.

۴: پدي جملو کښې چي وايي: ﴿ وَنُرَدُّ عَلَىٰ أَعْقَابِنَا ﴾ دلته په پوندو ګرزيدل تعبيريې له شرک څخه وفرمايل ترڅو دهغه تقبيح اوشناعت څرګند شي.

۵: پدي کلماتو کښې چي ﴿ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ ﴾ دلته دجناس اشتقاق موجود دی.

۶: دبديعی محسناتو څخه دطباق صنعت پدي ټولو جملو کښې راغلي لکه ﴿ رَطْبٍ ﴾ او ﴿ يَابِسٍ ﴾ ﴿ الليل ﴾ او ﴿ النهار ﴾ او ﴿ فوق ﴾ او ﴿ تحت ﴾ او ﴿ يَنفَعُنَا ﴾ او ﴿ يَضُرُّنَا ﴾ او ﴿ الْغَيْبِ، وَالشَّهَادَةِ ﴾ اوهمداراز سجع په ﴿ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ کښې والله اعلم.

[1] -البحر۴/۱۲۰.
[2] -الکشاف۲/۴۲.

تنبیه:

حاکم وایي دالله ﷻ داقول چي فرمايي ﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ﴾ دامامیه وو (اهل تشيع) دخبرې بطلان کوي څوک چي وايي: امام له غيبو څخه په يوځه پوهيږي(١) زه وايم دغه خبره دروغ او بهتان دی څکه پرته له الله ﷻ په غيبو هيڅوک هم خبر نه دي

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصۡنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوۡمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ (٧٤) وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ
مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ (٧٥) فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ
أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ (٧٦) فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ
(٧٧) فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ (٧٨) إِنِّي وَجَّهۡتُ
وَجۡهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ (٧٩) وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ
هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ (٨٠)
وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ
بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ (٨١) ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ (٨٢) وَتِلۡكَ
حُجَّتُنَآ ءَاتَيۡنَٰهَآ إِبۡرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٞ (٨٣) وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ
كُلًّا هَدَيۡنَاۚ وَنُوحًا هَدَيۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي
ٱلۡمُحۡسِنِينَ (٨٤) وَزَكَرِيَّا وَيَحۡيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلۡيَاسَۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ (٨٥) وَإِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطٗاۚ وَكُلّٗا
فَضَّلۡنَا عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ (٨٦) وَمِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡ وَإِخۡوَٰنِهِمۡۖ وَٱجۡتَبَيۡنَٰهُمۡ وَهَدَيۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ (٨٧) ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ
يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ (٨٨) أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَۚ
فَإِن يَكۡفُرۡ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدۡ وَكَّلۡنَا بِهَا قَوۡمٗا لَّيۡسُواْ بِهَا بِكَٰفِرِينَ (٨٩) أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقۡتَدِهۡۗ قُل لَّآ
أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰلَمِينَ (٩٠) وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓ إِذۡ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٖ مِّن شَيۡءٖۗ قُلۡ مَنۡ
أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورٗا وَهُدٗى لِّلنَّاسِۖ تَجۡعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبۡدُونَهَا وَتُخۡفُونَ كَثِيرٗاۖ وَعُلِّمۡتُم مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنتُمۡ وَلَآ ءَابَآؤُكُمۡۖ
قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِي خَوۡضِهِمۡ يَلۡعَبُونَ (٩١) وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ
وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَهُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ (٩٢) وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمۡ
يُوحَ إِلَيۡهِ شَيۡءٞ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثۡلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ

---

١ -مجلس التأويل ٦/٢٣٤٣.

أَنفُسَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدۡ جِئۡتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَتَرَكۡتُم مَّا خَوَّلۡنَٰكُمۡ وَرَآءَ ظُهُورِكُمۡۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمۡ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ أَنَّهُمۡ فِيكُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيۡنَكُمۡ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٩٤﴾ ﴾.

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله ﷻ دتوحيد په هکله څرګند دلائل اوښکاره براهين راوړل ورسره يې دشرک اودبتانو په عبادت کولو دبطلان کربښه راکښله نودلته يې دانبياوو دپلار حضرت ابراهيم على نبينا وعليه الصلوة والسلام کيسه راوړه ترڅو دعربو په مشرکانو چاچي دبتانو عبادت اوتقدس کاوو حجت راوړي څکه هغه (ابراهيم) دخالص توحيد پيروی کوله کوم چي له شرک سره منافی دی اوټولي پرګني اوټوکمونه دحضرت ابراهيم (عليه السلام) په بهتري اوستره مرتبه اقرارکوي وروسته بيايې دابراهيم عليه السلام دزامنو انبياوو شرافت وستايه اورسول الله ﷺ ته يې دهغوي اقتداء اوپه لاره تللو امر وکړ.

لغتونه:

(مَلَكُوتَ) اصلاً له ملک څخه اخستل شوي وواو(تا) دمبالغي لپاره ورپسي راغلي لکه رغبوت اورهبوت چي په اصل کښې له رغبت اورهبت څخه دي(جَنَّ) په تياره يې پټ کړ واحدي وايي چي (جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ) او(اجّنه الليل) اوهر هغه څه ته چي پټ وي جن ويل کيږي او جنت يی ځکه بولی څکه جنت الونيا اوپټ دی اوداسي جن ،جنون اوجنين دي اودغه ټول پټ والي ته راګرزي ([1]) (بَازِغٗا) ختلي ته ويل کيږي (بزغ القمر) کله چي راوخيژي أزهري وايي چي داسي بريښي دغه به له بزوغ څخه اخيستل شوي وي چي هغه څيرلو ته وايي اوددې په راختلو سره هم تياري څيرل کيږي ([2])(أَفَلَ) ورکيدل اولويدل (سُلۡطَٰنٗا) حجت اودليل (يَلۡبِسُوٓاْ) سر ه ګډوډ كول (لبس الثوب)معناداچي وايي غوستله جامه (وَٱجۡتَبَيۡنَٰهُمۡ) مونږ غوره کړي وو (قَرَاطِيسَ) دقرطاس جمع ده کاغذ ته وايي. (غَمَرَٰتِ) سختنه لالهانده اصل يې له (غمرة الماء) څخه اخيستل شوي اوهغه ديوشي په اوبوکي غوپه کيدلو ته وايي (خَوَّلۡنَٰكُمۡ) (تخويل) ورکولو اوبښلوته وايي (وَضَلَّ عَنكُم) ضايع اوباطل شو له تاسونه.

---

[1] - تفسير الرازي ۴۶/۱۳.

[2] - تهذيب اللغة مادة بزغ.

دنزول سبب:

سعید بن جبیر(رضي الله عنه) وايي چي ديهودانو له ډلی څخه (مالک بن الصيف) رسول الله ﷺ ته راغي اوورسره شخړه يې پيل کړه اورسول الله ﷺ ورته وويل: په هغه چالوړه درکوم چي تورات يې په موسی نازل کړي اياتا په تورات کښې نه دي لوستلي چي الله له چاغ حبر څخه کرکه کوي؟ (اودغه پخپله چاغ اوپلن حبروو) نو هغه په غضب شواووييې ويل قسم په الله باندي که به الله په هيڅ يو شي رانازل کړي وي نو هغه چي له ده سره ملګري وو ورته ويل يې افسوس ستاپه حال ايا په موسی يې هم نه دي نازل کړي؟ نوويې ويل قسم په الله که به يې په هيڅ هم نازل کړي وي نو الله ﷻ دا ايت نازل کړچي: ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَيْءٍ ۗ قُلْ مَنْ أَنزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِ ۖ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ۖ وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوا أَنتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ ۖ قُلِ اللَّهُ ۖ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ﴾ ([1])

تفسير:

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً﴾ (اوياد که (ای محمده!) هغه وخت چي وويل ابراهيم خپل پلار ازرته ايانيسي ته بتان په خدايي سره) يعني ای محمده ستا قوم ته هغه دابراهيم عليه السلام خبره ورپه يادکړه دوي خو دهغه (عليه السلام) دپيروي دعوی کوي هغه خبره کله چي ابراهيم خپل پلارته وويل چي اياته بتان په خدايي سره نيسي هغه الله دي پري ايښي چي ته يې پيداکړي اوروزي درکوي؟ ﴿إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾ بيشکه چي زه وينم تا اوقوم ستاپه ګمراهي ښکاره کښې (چي هيڅ شک پکښې نشته) ﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ او(لکه چي ومو ښودده ابراهيم ته دده دقوم ګمراهی) همدارنګه ښيو مونږ ابراهيم ته عجائبات داسمانونو اوځمکی) ﴿وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ﴾ لپاره ددې چي شي له (پخو) يقين کونکو يعنی هغه ته موهغه څرګند دلائل وښودل مجاهد وايي چي هغه ته اسمانونه اوځمکي پرانستل شوي ترڅو ملکوت اعلی اوملکوت اسفل ووينی.([2]) ﴿فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا﴾ (نو کله چي تياره شوه په ده باندي شپه نووليد (ابراهيم) يوستوري، يعني کله چي شپي په خپله تاريکي کښې هرڅه پټ کړل نوده يوروښانه ستوري وليد چي هغه په اسمان کښې زهره يا مشتري وو. ﴿قَالَ هَٰذَا رَبِّي﴾ ويې ويل دارب زما دي (په زعم ستاسوسره) دغه يې په دوي باندي د رد په توګه وويل اوهغوي يې توبيخ کړل همداراز ددوي استدراج يې کاوو ترڅو دوي ته ددوي جهل اوخطايې وروښيي اوپه ګوته کړي چي تاسي پرته له الله څخه دبل چاعبادت کوي زمخشری وايي چي دده پلار اوقوم يې دبتانو اوستورو عبادت کاوونو ده وغوښتل چي هغوي خپل ګمراهي ته متوجه اوسمي لاري ته يې رهنماي کړي اودغه کارپه استدلال اومناظره ترسره کړی

[1] -اسباب النزول ص ۱۲۶ القرطبی ۳۷/۷.

[2] - البحر ۱۶۵/۴.

دوي پدي وپوهوي چي سم دليل دادي چي دغه شيان له الوهيت سره نه ښايي ځکه له دوی شاته داسي
څوک شته چي دوي يې پيدا کړي ددوی راختل اوپريوتل دهغه په تدبير کې دی دهغوی ليږد (انتقال)
اوتګلاره (مسير) دهغه په تصرف کښې دي اوداچي ويې ويل (هذاربّی) ددې لپاره چي خصم وپوهوي
چي هغه په باطله لاره روان دي نودهغه دخبري داسي حکايت کو ي لکه چي دخپل مذهب په هکله
دتعصب څخه څوک کارنه اخلي ځکه دغه دحق لاري ته ښه رابلل دي بيا وروسته راګرزي اوهغه رايه په
حجت اودليل باطلوي (١)﴿ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ﴾ (نوکله چي ولويد اوغروب يې وکړ وويل
(ابراهيم) چي زه دوست نه ګڼم غروب کونکی) يعني کله چي ولويدو دغه ستوري اوغائب شو نوابراهيم
عليه السلام وويل چي زه دداسي چاعبادت نه کوم چي هغه لويدونکی وی ځکه پرودګار اوپالونکی
بايدتل ترتله اوتغيرنه موندونکی وي تغيرات خوداجرامو اوآسمانی ستورو خاصيت دی ﴿ فَلَمَّا رَءَا
ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ ﴾ (اوکله چي وليده (ابراهيم) سپوږمۍ راختونکي خليدنکي وويل (ابراهيم)
دارب زمادي (ستاسي په زعم سره) دغه يې هم د پخوانيو اسلوبو په شان وويل چي ددو ي حماقت ورپه
ګوته کړي﴿ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ نوکله چي غروب يې وکړ (غائبه
شوه) وويل (ابراهيم) که هدايت ونکړي ماته رب زمانوهرومرو به ګرزم له قومه ګمراهانو)پدي کښې
دې خبري ته تعريض دي چي قوم يې په ګمراهی کښې اوسي ﴿ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ
أَكۡبَرُۖ ﴾ اوکله چي وليد (ابراهيم) لمرراختونکي (ځليدونکی) وويل (ابراهيم) دادي رب زمادستاسي
په زعم سره) دا(له ګردو يعني ستورو اوسپوږمۍ څخه)لو ي دی ﴿ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا
تُشۡرِكُونَ ﴾ (کله چي لمر (هم غروب وکړ) غائب شو وويل ابراهيم ای قومه زمابيشکه زه له هغو شيانو چي
تاسي يې له الله سره شريکوی بيزاره يم) ابوحيان وايي کله چي يې دوی ته داورځرګند ه کړه چي دغه
ستوري چي ده وليدله خدايی (الوهيت) سره نه ښايي نودداسي څه ځارنه يې کوله چي ترلمړني
خوراځلاند اونوراني دي چي سپوږمي يې وليده په لومړني راختلو کښې اوکله چي هغه ولويده
نودلمرځارنه يې کوله ځکه هغه ترسپوږمۍ لا زيات روښانه ،ګټه يې عامه او(جرم) تن يې سترو نودغه
يې داحتجاج په توګه وويل چي داهم په لوُيدلو کښې لکه ستوري غوندي د ي اودحدوث صفت لري (٢)
ابن کثير وايي چي حقه خبره داده چي حضرت ابراهيم عليه السلام پدغه ځای کښې له خپل قوم سره
دمناظرې حال درلود دوي ته يې ددوي دباطلی عقيدې چي دبتانو اوستورو عبادت يې کاوو قاطع دليل
وړاند ي کول چي ترټولو روښانه اوځلاند لمر بيا سپوږمۍ اوروسته زهره ستوري دی کله چي له دو ي
څخه الوهيت نفی شی چي داهغه خورا روښانه اوځلانده شيان د ي چي ورباندي سترګي لګيږي نويې

١-الکشاف ٣١/٢.
٢-البحر المحيط ١٦٧/٤.

وويل: ﴿ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴾ (۱) ﴿ إِنِّي وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ ﴾ (بيشكه ما كرځولي دي مخ خپل مي) يعنى قصد مي كړي پخپل عبادت اوتوحيد سره. ﴿ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ ﴾ هغه ذات ته چي پيدا كړي بې د ي اسمانونه اوځمكه ﴿ حَنِيفٗا ﴾ حال داچي حنيف يم (ګرځيدونكى له ګردو باطلو اديانو څخه حق دين ته). ﴿ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ اونه يم زه له مشركانو (هغه څوك چي له الله سره دبل چاهم عبادت كوي ﴿ وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥ ﴾ (۲)اوجګړه وكړه له ده سره قوم دده (دتوحيد په هكله) ابن عباس (رضي الله عنه) وايي: دوي دخپلو خدايانو په باب ورسره مناظره اوجګړه وكړه اوهغه يې ورباندي وويرول نوده دهغوي په ځواب كښې ورته داسي نه منونكي ځواب واورول چي: ﴿ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ ﴾ وويل (ابراهيم) اياجګړه كوئ تاسي ماسره په (وحدانيت اووجودد) الله كښې؟ ﴿ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ ﴾ حال داچي په تحقيق هدايت كړي (لاره دتوحيد ښودلي الله) ماته ﴿ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ ﴾ اونه ويريږم له (ضرره د) هغوبتانو چي تاسي يې شريكان كوئ له الله سر ه (په هيڅ وخت كښې) يعني زه له دغو ګومانى خدايانو څه هيڅكله نه ويريږم ځكه هغه نه ګټه رسوي اونه تاوان,نه ويني نه اوري اونه هم په هيڅ شي قدرت اوتوان لري لكه چي تاسو ګومان كوئ ﴿ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ ﴾ مګر چي اراده وفرمايي رب زما دڅه (تكليف رسولو ماته نورسولى يې شي) ﴿ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ ﴾ احاطه كړي ده رب زما په ټولوشيانو له جهته دعلمه ﴿ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴾ ايانوتاسي پندنه اخلي؟ استفهام دتوبيخ لپاره دي يعني تاسو عاجز اوقادر سره بيلولاي نشى ؟ پدي خبره كښې ددي تنبيه ده چي دوي په بشپړه توګه دغفلت په سمندركښې لاهودي چي دداسي چا عبادت كوي چي نه ګټه رسوي اونه زيان,سره له د ي چي دوي ته دوحدانيت ځرګند دلائل شته خوبيا هم مشركان دي ﴿ وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ ﴾ اوڅرنګه وويريږم زه له هغه (بتانو) چي شريكان كړي دي تاسوله الله سره په عبادت كښې ﴿ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ

---

۱ -مختصر ابن كثير ۵۹۲/۱.

۲ -ځيني مفسرين وايي چي دابراهيم (عليه السلام)داقول چي وايي (هذا ربى) دغه دكوچينوالى ماشومتوب په وخت كښې وو چي دالله په معرفت كښې يې لانظر پوخ شوي نه وو خوصحيح خبره داده لكه چي جمهورعلماء يې كوي داچي دغه قول دمناظري په حالت كښې وو ترڅو پردوي باندي دستورو اوسپوږمۍ عبادت كول باطل ومني اوموافقت په عبارت كښې په مقابل لوري باندي دالزام په توګه اغيزمن دليل دى ددې مدعا لپاره دليل دالله ﷻ داقول هم كيږي چي فرمايي: (وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥ) اوداچي الله فرمايي (وتلك حجتنا اتيناها ابراهيم على قومه)او لكه حافظ ابن كثيرچي وايي دغه مقام دمناظري مقام دى نه دنظرمقام, اوپاكى ده حضرت خليل (عليه السلام) لره چي هغه دي د(رب) په هكله شكمن شي هغه خود انبياو وپلار اودحق پالونكى امام دي امام رازي دوولس دليلونه راوړي چي دجمهورو علماوو دتګلاري (مذهب) تائيد كړي اودا دتفسير كبير په ۱۳ ټوك ۴۷ مخ كښې همداخبره دمفسرينو دنوميالو خلكولكه قرطبى ،زمخشرى ، ابوالسعود ،ابن كثير دالبحر المحيط مؤلف او نورو غوره بلل شوي ده والله اعلم.

أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا ﴾ (اونه ويريږئ تاسي له دي چي بيشكه تاسي شريک کړی دي له الله سره هغه شی چي ندي راليږلی (الله) په (شريک کولو) دهغه پرتاسي هيڅ برهان (دليل سند)يعني تاسوله هغه قادراوتوانا الله څخه چي په هرشي يې زوربردي نه ويريږي چي ورسره موبی له دليله اوبرهانه شريک نيولی؟﴿ فَأَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ نوکومه يوه ډله دي دواړوڅخه مستحقه اولائقه ده په امن سره (له عذابه دالله) يعني څوک؟ ايا مونږ چي الله ﷻ موپه دلائلو پيژندلي اوعبادت لپاره موخانگړي کړي اوکه تاسوچي بتان موورسره شريکان نيولي اوپه وحدانيت يې کافران شوي ياست دالله له عذابه دامن وړاولايق دی؟) وواياست که يې تاسي چي پوهيږي ؟﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ ﴾ هغه کسان چي ايمان يې راوړي دي (يقين لرونکي دي)اوندي گډ کړي دوی ايمان خپل له ظلم (له لوي نقصان سره چي شرک دي)﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ دغه کسان چي ايمان يې له شرکه ساتلی) هم دوی لره شته امن (له عذابه) اوهم دوي دي لارموندونکي .روايت کيږی کله چي دغه ايت نازل شو نودرسول الله ﷺ اصحابان وويريدل چي کوم يوزمونږ ظلم ندي کړي پرځان خپل؟ نورسول الله ورته وويل هسي نه ده لکه چي تاسو گومان کوي بلکه خبره داسي ده لکه چي لقمان خپل زوي ته ويلي.([1] (يٰبُنَیّ لاتشرک بالله ان الشرک لظلمٌ عظيم) لقمان :١٣)﴿ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ ﴾ اوداچي تيرشو دليل زمونږ دي چي ورکړي وو مونږ هغه ابراهيم ته په (مقابله د) قوم دده چي پردوي غالب شي پدي کښې پخواني دلائلوته اشاره ده کوم چي الله ﷻ دخپل خليل ملاتړ وربانديکړي چي دالله دوحدانيت دلائل يې وربنودلي دي هغه چي دلمر سپوږمۍ اوستوري په لويدلو کښې نغښتي وو ترڅو يې پخپل قوم بريالي کړي﴿ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ﴾ پورته کو مونږ درجې هرچاته چي اراده وفرمايو (دپورته کولو يې په علم،فهم اونبوت سره)﴿ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴾ بيشکه رب ستا ډيرحکمت والادی (چي هرکار په تدبيراومصلحت سره کوي) ښه پوه اوعالم دی پرټولو احوالو)﴿ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ﴾ اووبانښه مونږ ابراهيم ته اسحاق اويعقوب موهم وروبانښه چي داسحاق زوي اودده لمسي وو ترڅويې په خلف (وروسته پاتي) سترگ يخي وي﴿ كُلًّا هَدَيْنَا ﴾ دغوټولو ته هدايت کړي وو مونږ(دنيکمرغي لاري ته اونبوت موورښنلي حکمت موورکړي وو) ابن کثير وايي چي الله ﷻ ددې يادونه کوي چي ابراهيم ته يې اسحاق اويعقوب ورکړي وو وروسته له دي چي دبوډاتوب وخت ته رسيدلي اوداولاد له راوړلو ناهيلي شوي وو اوددې زيري يې ورکړي وو چي دغه به انبياء اودنسل اوذوذات خاوندان وي اودغه نوبشپړ بشارت اوسترنعمت څرگند وي اودغه دابراهيم عليه السلام دهغه گوښه توب اوهجرت انعام وو چي هغه له خپله ټبره ولاړ اودالله عبادت ته يې مخه کړه نوالله ﷻ له خپل قوم اوټبر څخه په صالحانواولادونو اوذوذات ونازاوو ترڅويې سترگې وربانديخوږي وي﴿ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ﴾

[1]-الحديث اصله فی الصحيحين

اونوح ته موهدايت كړي وو (له ابراهيم څخه)پخواودلته الله ﷻ دنوح عليه السلام يادونه څكه وكړه چي هغه ابوالبشرثاني دى نو يوځل چي الله دابراهيم داولاد شرافت وښود بيايې داباء اواجدادويادونه وكړه اوشرافت يې بيان كړ ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَـٰنَ ﴾ او(هدايت موكړي وو) اولا دي دده څني داود اوسليمان عليهما السلام ته يعني له اولادي دابراهيم څخه (١) دغه انبياء دي الله ﷻ لومړى دداود اوسليمان عليه السلام ذكر وفرمايه څكه دوي پاچهي اونبوت دواړه چلول نو څكه يې پلار اوزوي چي داود اوسليمان دى ياد كړل ﴿ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ ﴾ اوايوب اويوسف ته دواړه يې يوځاى څكه راوړل چي په دواړو سخته ازموينه شوى وه ﴿ وَمُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ﴾ اوموسى اوهارون ته دواړه يې څكه يوځاى راوړل چي سره ورونه دي اوموسى عليه السلام يې په دې و ړاند ى ذكر كړچي كليم الله د ي ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ همداسي (لكه چي دغوانبياووته موبدل وركړي) بدل وركوو مونږ نيكانوته)يعني هرڅوك چي په عمل كښې محسن اوپه ايمان كښې صادق وي دابراهيم عليه السلام په شان نيكه جزاء وركوو ﴿ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ﴾ او(هدايت موكړي) زكريا ،يحيى ،عيسى اوالياس ته دوي چي يې يوځاى ذكر كړل څكه چي كلك زهديې درلود اوله دنياڅخه يې بيخي مخ اړولى وو ﴿ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴾ دوى ټول له صالحانو (كاملانو) څخه دي ﴿ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ﴾ (او(هدايت موكړى وو) اسماعيل يسع ته اويونس اولوط ته) اسماعيل عليه السلام دابراهيم عليه السلام زوي يونس عليه السلام دمتى زوى لوط عليه السلام دهاران زو ى چي دابراهيم عليه السلام وراره كيږي ﴿ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ اوداټولوته فضيلت وركړي وو مونږپرتمامو عالميانو دخپلي زماني ددوي په نبوت باندي ﴿ وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّـٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ﴾ او(فضيلت موروركړى وو) څينوته له پلرونوددوي اوله اولادي ددوي اوله ورونو دوي ډيروټولګيوته ﴿ وَٱجْتَبَيْنَـٰهُمْ وَهَدَيْنَـٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ اوغوره كړى وو مونږ داټول انبيا اولاربښونه كړي وه مونږدوي لره سمي صافى لاري ته (چي پكښې هيڅ كږوالي نشته) حضرت عبد الله ابن عباس (رض) وايي چي دغه نبيان ټول دابراهيم عليه السلام اولاد ته نسبت كولي شي كه څه هم يوڅوك دموراويا پلار له خوا ورسره نه ملحقيږي (٢) ﴿ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ﴾ دا(لاربښونه اوهدايت دالله دى چي لاربښوونه فرمايي (الله) پدې سره هغه چاته چي اراده وفرمايي له بندګانو خپلو نه ﴿ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ اوكه (فرضاً) شريك كړي وي دوي

١ - (فى ذريته) ضمير څيني علماوايي چي نوح عليه السلام ته راجع دى اودغه دفراء اوابن جريرغوره ده څوك بيا وايي چي ابراهيم عليه السلام ته راجع ده اودغه دعطاء قول اوابوالسعود غوره كړي ده څكه په آيت كښې دابراهيم عليه السلام دشنونو بيان دى.

٢ -البحر٢/١٧٣.

(له الله سره نور) نو خامخا به ضائع شوي وي له دوي نه هغه عمل چي وودوی چي کاووبه يې) يعني دوي دمرتبې له دومره اوچتوالی سره سره که چیری (بالفرض) مشرکان شي نوعمل به یې ضایع شي نورخلک خولاڅه کوي؟ ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ﴾ دغه (تیرشوي) پیغمبران هغه کسان دي چي ورکړي دي مونږ دوي ته کتابونه (آسمانی) اوحکمت (دشریعت علم) اوپیغمبري ﴿ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ ﴾ پس که کافرشي پدي (آیاتونودقرآن) دغه (کافران دمکې) پس په تحقیق مقرر کړی دی مونږپه (ایمان اوعمل) ددې داسي یوقوم چي ندي دوي (په دا قرآن) کافران یعني که چیري ستادزماني کافران دغه قرآن نه مني نومونږ دغه په انبیاوو اورسولانو ساتلي دي[1] ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ﴾ دغه (انبیاء) هغه کسان دي چي هدایت کړي دي الله (دوی ته) نو په لاره ددوی اقتداء وکړه اودهغوي دسیرت پلوي کوه ﴿ قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ﴾ ووایه (ای محمده) چي زه نه غواړم له تاسي په دغه (تبلیغ دقرآن سره) څه مزدوري اومال ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ﴾ نه دي دا (قرآن) مګر یوازي (پندوعظ) دي لپاره دټول عالمیانو ﴿ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ ﴾ اوتعظیم ندي کړي دغو (یهودو) دالله په حق دتعظیم دده سره،اونه یې پیژندلی دپیژندګلوي په حق سره ﴿ إِذْ قَالُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَيْءٍ ﴾ (کله چي وویل دوې چي ندی نازل کړی الله پرهیڅ بشرد (انسان) باندي هیڅ شي) یعني چي دوحی اودانبیاووله رااستولو څخه منکر شول دغه کسان ملعون یهودان دي چي داسي ستره بده خبره یې کړی چي دقرآن دنزول دانکار په هکله له مبالغې څخه کاراخلی وایي الله په هیڅا هیڅ کتاب هم ندی نازل کړی څه خولا داقران په محمدﷺ باندي ﴿ قُلْ مَنْ أَنزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِ ﴾ (اووایه)(ای محمده معاندینوته) چانازل کړي وو کتاب (تورات) هغه چي راوړي وو هغه موسی حال داچي نوراوهدایت دي لپاره دخلکو (بنی اسرائیلوته) ﴿ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ﴾ چي ګرځوي تاسي هغه (کتاب) پاڼه پاڼه ښکاروي یې (خلکوته چي ستاسي خوښ وي) اوپټو ي تاسي ډیري (تری چي ستاسي نه وي خوښي لکه محمدي نعت) طبری وایي هغه چي پټول به یې هغه دمحمدﷺ احوال اونبوت وو[2] ﴿ وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوا أَنتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ ﴾ اوښودلی شوي دی تاسي ته هغه (احکام دتورات) چي پوه نه وي (پري) تاسي ،یعني ای دیهودانو ټولي تاسي ته پدي قران کښې دالله دین اوهدایت وښودلي شو چي تاسو اوستاسو پخواني پلرونه ورباند ي نه پوهیدلاست ﴿ قُلِ اللَّهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي

[1] - چاویلی چي مراد له دغه ټولګي څخه دمدینی منوري انصاردی اودغه دابن عباس (رض) قول دی اوچابیا ویلی چي دغه پورتني اتلس انبیاء علیهم السلام ورڅخه مراد دې دغه دقتاده قول اودزجاج اوابن جریر غوره دي.

[2] - الطبری ۵۲۷/۱۱

خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ ﴾ (ووایه (ای محمده)چي الله (نازل کړي دي بل څوک نشته) بیا پرېږده دوی چي په خرافاتو خپلو کښېږ لوبي کوی (غوپې وهي مشغولیږي) یعني دوی ته په ځواب کښېږ ووایه چي الله دغه قرآن نازل کړي اونوریږ پرېږد چي پخپلو خرافاتو اباطیلو کښېږ لامبي دغه خبره ددوي دګناه په وړاندي تهدید اوددوي لپاره وعید دی ﴿ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ ﴾ (اوداکتاب قرآن دي چي نازل کړی دی مونږ هغه برکتناک) یعنی دغه قران کوم چي مونږ په محمدﷺ نازل کړی برکت درلودونکی فائده من اوګټوردي ﴿ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ تصدیق کونکی دهغه (کتابونو) د ي چي وړاندي له ده دی (لکه تورات اوانجیل) ﴿ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ اولپاره ددي چي وویروي اصل دټولو کلیو (دمکی اهل) اوهغه چي له دي چاپېرد ي ابن عباس وایي چي له دوي څخه مراد دټولي ځمکي خلک د ي ﴿ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْأَخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ﴾ اوهغه کسان چي ایمان یې راوړي د ي په اخرت ایمان لری دوي په قرآن ځکه دغه کتاب په وعداووعید مشتمل دي زیري اوتهدید پکښې دي ﴿ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾ (حال داچي دوي پخپلو لمنځونو ساتنه کوي) یعني لمنځونه په بشپړه توګه له ټولو حقوقو سره پخپلو وختونو کښې په دوام اداکوي صاوی وایي چي لمونځ یې په ځانګړي توګه یادکړ ځکه هغه دعبادتونو خورا شرافت لرونکی عبادت دي[1] ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴾ اوڅوک دي ډېر ظالم ؟یعني هیڅوک نشته دلته استفهام دنفی په معنی د ي)له هغه چانه چي تړی په الله دروغ (له هغه سره شریکان اوسیالان نیسي) ﴿ أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ ﴾ یاوایي چي وحي کړي شوي دی ماته حال داچي وحی نه وی کړي شوي ده ته (هیڅ شی) یعني ګومان کوي چي دی الله رااستولی لکه (مسیلمة الکذاب) او(اسود العنسی) چي ددروغو نبوت دعوی یې کړي وه سره له دي چي الله ﷻ نه وو را استولي ﴿ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ او(بل څوک دی ډېر ظالم ؟ یعني نشته له) هغه چاچي وایي ژر به (زه هم) نازل کړم (وبه لیکم) له ځانه) په مثل دهغه کتاب چي نازل کړ ي دی الله (تاته ای محمده چي قران دی) لکه د(فجار) قول چي ویل یې زه به هم داسي خبري وپیېم (نظم) کړم لکه چي الله ﷻ نازل کړی (ولونشاء لقلنا مثل هذا) ابوحیان وایي چي دغه د(نضربن حارث-) په هکله نازل شوی اوهغه کسان ملنډي وهونکي چي دده ملګري وو ده دقرآن کریم مخالفت په داسي سپک اوسخیف کلام وکړچي دیادولو نه دي[2] ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ ﴾ اوکه ووینې ته (ای محمده) ظالمان یعني کافران په هغه وخت کښې چي دمرګ په سختیو کښې وي د(لو) ځواب محذوف دي اودحذف وجه یې دهول اوهیبت څرګندونه ده یعني که ووینې نوډېر بوږنونکی حالت به ووینې ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ﴾ حال

---

[1] -حاشیه الصاوی علی الجلالین ۳۱/۲.

[2] - البحر المحیط ۱۸۰/۴.

داچي پرښتي د(عذاب) غځونکي وي دلاسونو خپلو (دروح دقبض کولو لپاره نووايي دوي ته چي) خپل ارواح ګان راوباسئ (که يی له عذابه خلاصوی شئ)يعنی کله چی دعذاب پرښتي دوي په مخونو اوشاوو وهی ترڅو دوي خپلي ساوي له بدنونو راوباسي پرښتي دوی ته وايي ځانونه له عذابه خلاص کړي ! زمخشري وايي چي ملايک به هغوي ته وايي راوکاږي خپلي ساوي له خپلوبدنونو دغه دقهر اوغضب حالت داسي الحاح ده چي دوي ته به دروح په ايستلو کښې هيڅ مهلت اووخت نه ورکول کيږي[1] ﴿ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ ﴾ نن ورځ به جزا درکړه شي تاسي ته عذاب سپکونکی (چي له سخت ذلت سره به تکليف اورسوايی هم وي) ﴿ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ﴾ په سبب دهغه چي وي تاسي ويل به موپرالله (وينا) ناحقه (چي هغه ته مودشريک اوولدنسبت کاوو) ﴿ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴾ اووي تاسي له آيتونودده څخه به موتکبرکاوو(اونه به مومنل نه به موپکښې سوچ اوتامل کاوو) ﴿ وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ اوخامخاراغلي تاسي مونږ ته يوازي يوازي (دپاره دحساب اوجزاء) لکه چي پيداکړي مووي تاسي اول ځلی(يوازی له مال، اهل، اولاد څخه ايبلی ،بربنډ ،ناسنته)لکه چي په حديث شريف کښې راځي :(ايهاالناس انكم محشورون الى الله حفاة ،عراة، غرلا ،كمابدأنا اول خلق نعيده)[2](وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ) اوپريښودل تاسي (په دنياکښې) هغه (شيان) چي درکړي وو مونږ تاسي ته وروسته دشاووخپلو (هيڅ ګټه يې درته ونه رسوله) ﴿ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ ﴾ (اونه وينومونږ له تاسي سره شفاعت کونکی ستاسي هغه چي ګومان کاووتاسي چي بيشکهٔ دوی (په استحقاق د عبادت د)ستاسي کښې شريکان دي) يعنی هغه کسان چي تاسودوی له الله سره په عبادت کښې شريکان نيولي ووهغه له تاسوسره نه وينو ﴿ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ ﴾ خامخا پري شو (هغه پيوند چي وو) په مينځ ستاسی کښې ﴿ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴾ اوورک شوله تاسي څخه هغه شی چي وي تاسي چي ګڼل به مو(چي داشفاعت کونکي اوشريکان د ي).

بلاغت:

۱–(وَكَذَٰلِكَ نُرِىٓ إِبْرَٰهِيمَ) دادتيرحال حکايت دی يعنی ده ته موورولید.

۲– (لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ) پدې کلام کښې دهغه دقوم ګمراهي ته تعريض دی اود (الهداية او الضلالة)ترمينځ داطباق صنعت دی چي له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

۳– پدې کلام کښې چي (وَجَّهْتُ وَجْهِىَ) داشتقاق جناس نغښتی د ی.

---

[1]–الکشاف ۳۶/۲.
[2]–متفق عليه.

۴- (هُدَى ٱللَّهِ) دلته اضافت د شرافت لپاره او په (يهدي) او (هدى) كښې د جناس اشتقاق شته.

۵- (مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَىْءٍ) دغه د نزول دانكار په هكله مبالغه ده چې الله په هيچا هم هيڅ وحی نه دي نازله كړې.

۶- (مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ) دلته استفهام د توبيخ او تبكيت لپاره دی.

۷- پدې كلام كښې چې فرمايي (تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ) د طباق صنعت دی.

۸- (أُمَّ ٱلْقُرَىٰ) مكه مكرمه ښيې او پدې قول كښې استعاره ده له مور سره يې مشابه كړه هغه هم پدې چې د كليو اصل دی

۹ -شريف رضی وايي د الله ﷻ پدې قول كښې چې فرمايي: (فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ) يوه عجيبه استعاره خوندي دي ځكه الله سبحانه وتعالى دوي چې د مرګ په پوله په سختيو اوكړ اونو كښې وي له هغه چاسره مشابه كړل چې داوبو په څپو كښې يوي بلي خواته غورځول كيږي او (غمرة) يې ځكه وبلله چې نغښتلو ته وايي او دا هم دانسان زړه رانغاړي.

تنبيه:

ځيني مفسرين كرام وايي: چې (ازر) دابراهيم عليه السلام تره وو پلار يې نه وو چا بيا ويلي چې هغه د بت نوم دي خو محققين (څيړونكي) علماو وايي: چې دغه دابراهيم عليه السلام د پلار نوم دی او پدې باندي كتاب او سنت هم دلالت كوي په آيت شريف كښې په صراحت ذكر شوي چې ازر كافر وو او دغه خبره د حضرت خليل له شان او مقام څخه څه نه كموي په بخاري شريف كښې يو حديث راځي چې حضرت ابراهيم عليه السلام به د قيامت په ورځ له خپل پلار ازر سره مخامخ شي او د ازر په مخ به دوړي ګردونه ناست وي. د حديث تر پايه .... او د هغه د ايمان دعوى په قرآني آيت او حديث سره نامنل شوي ده. والله اعلم.

الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَىِّ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٩٥﴾ فَالِقُ
ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهْتَدُوا۟
بِهَا فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ
فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا
نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ
ٱنظُرُوٓا۟ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ ۖ وَخَرَقُوا۟ لَهُۥ بَنِينَ
وَبَنَٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (١٠١) ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيْءٍ وَكِيلٌ (١٠٢) لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ (١٠٣) قَدْ جَاءَكُمْ بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ
أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ (١٠٤) وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ وَلِيَقُولُوا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُ لِقَوْمٍ
يَعْلَمُونَ (١٠٥) اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ (١٠٦) وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكُوا وَمَا
جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيلٍ (١٠٧) وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ
كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ مَرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١٠٨) وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَتْهُمْ
آيَةٌ لَيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ (١٠٩) وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ
يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ (١١٠) ﴾ الأنعام: ٩٥-١١٠

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله ﷻ توحید بیان کړ ورپسي يې دنبوت شان وستایه دلته الله پاک دخالق ذات په وجود اودهغه دعلم په کمال اوپه بشپړ قدرت اوحکمت باندي دلائل راوړي چي پدي تنبيه وشي چي اصلي مقصود دالله په ذات صفات اوافعالو کښی پيژندګلوي (معرفت) دي

لغتونه:

(فَالِقُ) چوونکی څیرونکي (سَكَنًا) هغه چي انسان ورته انس اوالفت لري اوارامي (سكن) رحمت ته وايي (حُسْبَانًا) په حساب سره زمخشري وايي چي (حسبان) دحسب مصدر دي لکه کفران اوشکران غوندي([1])(مُتَرَاكِبًا) څه سربيره په نور څه يودبل دپاسه (قِنْوَانٌ) دقنو جمع او دخرما وښکی ته وايي (وَيَنْعِهِ) پاخه دهغه ، ويل کيږی (ينعت الشجر واينعت) کله چي ونه پخه شي (وَخَرَقُوا) له جوړ کړي دروغ تپلي (بَدِيعُ) مبدع هغه پيدا کونکی دشي ته پرته له پخواني مثاله ويل کيږي ابداع دنوي شي پنځولو ته وايي ځکه نو يو څوک چي په کوم فن کښې چي پخوايي مثال نه وي څه ايجاد کړي نودوي وايي (انه أبدع) (نُصَرِّفُ) تصريف ديو شي له يو حال څخه بل ته ليږدول تصريف بولي.

دنزول سبب: ابن عباس (رض) وايي چي دقريشو کفارو ابوطالب ته وويل چي ياخو محمد صلى الله عليه وسلم اودهغه ملګري له دي څخه منع کړه چي زمونږبتانو ته ښکنځل وکړي اوبد يې ووايي اوکه نه مونږ به دده الله ته ښکنځل وکړو اوبد به يې وايونو الله ﷻ داايت نازل کړ:(وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

[1] -الکشاف ٢/٣٩.

﴿فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ دآيت ترپايه اوپه بل روايت كښې راځي چي مشركانو ويل: اى محمده يازموږ دخدايانو بدي مه وايه اوورته ښكنځل مكوه اويا مونږ ستادرب بدي وايوورته ښكنځل كووبيادغه ايت نازل شو.(١)

تفسير: بيرته خبره مشركانو ته دالله ﷻ دمصنوعاتو اونادروتدبيرونو په هكله دلائلو ويلوته راوګرزيده نوالله وفرمايل: ﴿إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ﴾ بيشكه الله (چوونكى) څيرونكى د دانې دى (په ايستلو دډكى سره) اودزړي دى (په ايستلودنيالګى سره)يعني دانه ترمځكى لاندى چووي چي زرغونه شي اوزړى (مندته) چووي (څيري) چي نيالګي ځيني راووزي قرطبي وايي چي مړه مندته (زړى) څيري چي زرغونه پانه ځيني راووزى اوهمداراز دانه زرغونوي (٢) ﴿يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ﴾ (راباسى ژوندي له مړي اوايستونكى دمړى دى له ژوندي) يعني تازه نبات له وچي دانى رازرغونوى اووچه دانه له ژوندى وده كونكى نبات څخه پيدا كيږي ابن عباس (رض) وايي معنا داچي مومن له كافرنه اوكافر له مومن څخه زيږوي پدي اعتبار نوژوندي اومړى له مومن اوكافرڅخه استعاره شوي دي ﴿ذَٰلِكُمُ اللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ﴾ دغه(ژوندي كونكى اومړكونكى) الله دى نوكوم طرف ته ګرزولى شي تاسى؟ دالله له عبادت څخه وروسته له دغه حقه بيا ن څخه ﴿فَالِقُ الْإِصْبَاحِ﴾ چونكى درڼا دسبادى (له تاريكيوڅخه) طبري وايي دسپيدوستنى يې دشپي له تياروڅخه وچودلى (٤) ﴿وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا﴾ اوګرزولي يې ده شپه ارام ځاى چي خلک له حركاتو څخه سكون پكښې مومي اواستراحت كوي ﴿وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا﴾ او(ګرزولى يې دى) لمراوسپوږمي (ننبى د)حساب (دپاره د اوقاتو)چي دخلكو مصالح پكښې دي اوشپه ورځ اودزمانې حساب وربانديكيږي. ﴿ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ﴾ دغه (ذكرشوي شيان) اندازه كول دي دښه غالب (ذات اوښه عالم) يعني دغه ګرزول په معلوم حساب باندي دغالب اوتوانا خداى تقدير دى هغه چي هيڅ څيز ترهغه لوړنه دي اوهمداذات دخلكو په مصلحتونو ښه خبردار اوتدبيرلرونكى دى ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ اودغه (الله) همغه (ذات) دى چي پيدا كړي يې دي تاسي ته ستوري لپاره د دې چي لاره وومومى دهغو (په وسيله) سره په تيارو دبراوبحر كښې (كله چي تاسو په سفرروان ياست اوكله چي يې په دوي باندي دستورو اوكواكبوپيرزوينه وكړه ددي لپاره چي په بيديا اوسمندركښې سفركونكي وربانديلاره وومومي اوخپلو مقصدونوته ورسيږي ﴿وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ﴾ اودغه (الله) هغه ذات دى چي

---

٢ -القرطبى ٦٢/٧.
١ -اسباب النزول ص ١٢٧.
٣ -القرطبى ٤۴/٧.
۴ - الطبرى ۵۵۴/٧.

پيداكړي يې تاسي (تول) له نفس يوه څخه (چي ادم عليه السلام وو) ﴿ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ﴾ نو(شته تاسي ته يو(ځای دقراری اويو ځای دامانت ابن عباس (رض) وايي چي دقراری ځای په ارحامو کښي اودامانت ځای په شاګانو(اصلابو) کښې يعني تاسوتد ډسيندو په ارحاموکښې دقراری ځای اودپلرونوپه شاګانوکښې دي ابن مسعود (رض) وايي چي دقرار ځای په ارحاموکښي اودامانت ځای په ځمکه کښې چيري چي هلته مړکيږي (١) ﴿ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْأَيَٰتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴾ په تحقيق ښکاره بيان کړي دي مونږ ايتونه له پاره دهغه قوم چي پوهيږي (اسرار اودقائق ورته معلوم دی) صاوي وايي چي دلته يې په ﴿ يَفْقَهُونَ ﴾ سره تعبير وفرمايل ددې لپاره چي دلته دانساني پيدا ابنت مختلف اړخونه اوداسي هيښونکی (حيرانونکی) حالات يادشوي چي عقلونه ورته هک پک حيرانيږي اودستورو حال خو ښرګند اوښکاره دي ځکه يې په (يعلمون) کلمه ارشاد وکړ.(٢) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ ﴾ اودغه (الله) هغه (ذات) چي نازلی کړي يې دي له (طرفه د) آسمانه اوبه نورايستلی دی مونږ پدي (اوبو) سره زرغونه دهرشي (زرغونيدونکی) يعنی غلې ،دانې، ميوې ،واښه ونی اونورنباتات موداسمان دباران داورښت له امله راټوکولي دي طبري وايي چي د(اخرجنا) معنی داچي په هغه موراايستلي دي تول هغه چي زرغونيږي اووده کوي سميږي (٣) ﴿ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا ﴾ نورايستلي دي مونږله هغه (زرغونه) څخه شين کښت ﴿ نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ﴾ چي بيارااباسو له دي (شنه ډکي) څخه داني بوپه بل سوري (لکه وږي) د اوربشی، غنم اونورو ابن عباس (رض) وايي چي دلته دغنم، اوربشي ،جواری او ږدنۍ وريجی اراده شوی ده ﴿ وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ ﴾ اورااباسو له (جنسه)دخرما څخه (داسی خرماچي راووزي) له لومړي وږي دهغي څخه وږي نژدی ځمکي ته چي اسانه ترلاسه کيږی ابن عباس (رض) وايي چي مراد له دې څخه وږي اواوښکي دي چي دټولونکی لپاره ځمکي ته نژدي راځوړندوي ﴿ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ ﴾ اورااباسو باغونه له انګورو(داوبوپه سبب) ﴿ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ﴾ اورااباسو (دغه رنګه په اوبوسره) دزيتون اوانار (ونی) پدي حال کښې چي يودبله سره مشابه وي (په پاڼو اومنظرکښې) اونه وی متشابه (بلکه بيل وي په خوند کښې) قتاده رضی الله عنه وايي چي بڼي اوپاڼي يې يورنګه وي خوميوه يې يورنګه نه وي اوپدی کښې قاطع دليل دي چي الله صانع مختار اوعليم القدير دي

---

١ - دمستقرتفسير په استقرار سره هم شوي دی چي دځمکي په سريې معناده اومستودع ترځمکی لاندي ته وايه شی اوطبری عامه معنی غوره کړي ده .

٢ - حاشية الصاوی علی الجلالين ٣۴/٢.

٣ - الطبری ٥٧٣/١١

﴿ انظُرُوا إِلَى ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهِ ﴾ وگورئ تاسي طرف دميوې دهرې ونې ته کله چې ميوه ونيسي اوپوخوالی دهغه ته چې څرنګه له يوه حاله بل ته ليږدي يو ځلی رنګ څه ډول وي اوبوی يې څرنګه ؟ايا بل ځلی څه ډول غوره کړی کوچنيوالی اولويوالی ته يې وګورئ او دا سوچ وکړئ چې په لومړي سرکښې څرنګه ميوه ځينې تروه اوځينې ترخه وي هيڅ ګټه ورڅخه نشی اخيستل کيدای خوکله چې پخه شي خوږه ،خوندوره ،ګټه وره اوښائسته شي فسبحان القدير الخلاق ! ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمْ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ (بيشکه په دغه (تيروټولو) کښې خامخا دلائل د (قدرت اووحدت) دي لپاره دهغه قوم چې ايمان لري يعنی په پيدايښت اودغه ميوو اوکښتونوسره له اختلاف درنګونو، جنسونو اواشکالو کښې دالله په قدرت اووحدانيت ښکاره دلائل شته دهغه چالپاره چې دالله په وجود تصديق کوی ابن عباس(رض) وايي چې دوي باورکوي څوک چې دغه نبات يې رايستلي پدي قادر دی چې مړی هم راژوند ی کړي ([1]) ﴿ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ ﴾ اومقرر کړي دي (کفارو) الله ته شريکان جنيان (پيريانان) چې دبتانو په عبادت کولو کښې يې ددوي پيروی کړي ده ﴿ وَخَلَقَهُمْ ﴾ اوحال داچې پيداکړي دی (الله) دغه (جن) نوڅرنګه يې دوی ورسره شريکان کوي ؟ داخوبيخي زيات حماقت اودجهالت وروستي سرحد د ی ﴿ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ اوتړي لپاره دالله زامن اولوڼي بی له علمه (په جهالت سره) چې دوی وايي عزير دالله زوی اوپرښتي دالله لوڼي دي داټول ويل په جهل اوسفاهت سره کوي ﴿ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴾ پاکي ده الله لره (له ټولو عيبونو)اوډير پورته دی (شان دده) له هغو (بدو) خبرو چې بيانوي (يې ورته)دوی ﴿ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ (الله)بې نمونې پيداکونکی داسمانونواوځمکي دی ﴿ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُ صَاحِبَةٌ ﴾ څرنګه به وي ده ته زوي ،لورحال داچې نشته ده ته هيڅ ښځه ؟ (اوزوزات خوله ښځي څخه زيږي) ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ اوپيداکړی دی (الله) هرشي اوهم دی پرهرشي ښه عالم دی اوڅوک چې همداسي وی هغه له هرڅه څخه بې پروا اوغنی دي په تسهيل نومی کتاب کښې وايی چې دلته په هغه چاچې دالله لپاره يې دولد نسبت کړی دي له دوو وجهو څخه ردشوي دي يوداچې ولدبه ارومرو دپلار له جنس څخه وي اوالله ﷻ له هم جنسو څخه پاک اومنزه دی ځکه هغه ټول څه پيداکړي اوخالق دی نوداسمه نه ده چې اولاد دی ورته منسوب شی دوهم داچې الله ﷻ اسمانونه اوځمکي پيداکړي څوک چې داسی وي هغه له ولد اوهرڅه څخه غني اوبې-پروا وي بيا الله تعالی په خپل وحدانيت ټينګارکوي چې همغه ذات په خلق اوايجاد کښې يوازی اولاشريک د ی فرمايي: ﴿ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ همدغه (ذات موصوف پدغو صفاتوسره) الله دی رب ستاسي نشته هيڅ معبود (برحق) مګرهم دي دي ﴿ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ ﴾ پيداکونکی دي دهرشي (اوڅوک

---

[1] تفسير الجوزی ۹۶/۳.

چي همداسي وي هغه يوازي دعبادت وړدي) نوعبادت کوي ددغه (الله يوازي) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴾ (اوهم دی پرهرشي وکيل (ساتونکي کارجوړونکی)دی خپل ټول کارونه هغه ته وسپاري اويوازي دهغه عبادت وکړي ﴿ لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ ﴾ نشي موندلی (احاطه نشی کولاي)پرالله سترګې اوالله مومي سترګې (ويني يي) ځکه دهغه علم شامل اوخفيات پټ رازونه هم ورته څرګند دي ﴿ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴾ (اوهمدی نهايت لطيف ښه خبردار دی) يعني پخپلو بندګانولطيف اودهغوي په مصلحتونو خبرداردي ابن کثير وايي چي نه موندل دسترګو الله لره :په ځانګړي توګه هغه دقيامت په ورځ ليدل نه منع کوي ځکه الله ﷻ به په هغه ورځ خپلو مومنو بندګانو ته چي څرنګه غواړي هسی ديداروركوي چي رؤيت بې وکړي اودالله ﷻچي څرنګه جلال اوعظمت دي سترګي له سره هغه نه شي احاطه کولاي ځکه به نو حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په اخرت کښې دالله ﷻ رؤيت اوپه دنياكښې دالله ﷻنه ليدل ثابتول اوپه تير آيت سره به يې دليل وايو[1] ﴿ قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ﴾ (ووايه ای محمده دوي ته)په تحقيق راغلی دی تاسي ته واضح دلائل له طرفه درب ستاسی چي هدايت اوګمراهي ،حق اوباطل سره بيل کړی زجاج وايي چي معنا يې داده تاسوته قرآن راغلي چي بيان اودلائل پکښې دي[2] ﴿ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ﴾ زمخشری وايي چي معنايې داده څوک چي حق ويني اوايمان وربانديې راوړي نودځان لپاره يې وليدل اوځان ته يې ګټه ورسوله اوڅوک چي ځان ړوند کړي اوليدنه نکوي نوځان يې ړوند اوپدې ړوندوالی يې ځان ته تاوان ورساوو[3] ﴿ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴾ (اونه يم زه پرتاسي ساتونکی) يعني زه پرتاسو څارونکی اوساتونکی نه يم بلکه زه رسول الله اوستاسو لپاره له عذابه ويرونکی يم پرتاسو څارونکی اوساتونکی يوازي الله تعالی دی ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ ﴾ اوهمداسي راز راز بيانوو مونږ آيتونه (دقدرت خپل دعبرت لپاره) ﴿ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ ﴾ اولپاره ددې چي ووايي دغه (کفارچي) لوستلي زده کړي دي تا (له بل چاڅخه) (يادي په کتابونوکښې لوستلي اوبيا دي دغه قران راوړی.لام د عاقبت لپاره دي ﴿ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ اولپاره ددې چي واضح بيان کړو داقرآن لپاره دهغه قوم چي پوهيږي (په حق اوپلوی يې کوي) ﴿ ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ﴾ پيروی کوه (ای محمده !) دهغه حکم (قرآن)چي وحي کړی شوي دي تاته له رب ستا څخه قرطبی وايي يعني داچي خپل خاطر اوزړه ددوي په هکله مه مشغوله کوه بلکه دالله ﷻ په

---

[1] -مختصر ابن کثير۱/۶۰۵.
[2] -تفسير ابن الجوزی.
[3] -الکشاف ۲/۴۳.

عبادت مشغول شه !(١) ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ نشته هيڅ لائق دعبادت مګر هم دي دی ﴿ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اومخ وګرځوه له مشرکانو (په خبرو يې پروامکوه اوداعتبار وړيې مه بوله) ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ﴾ اوکه اراده فرمايلي يې الله د(عدم شرک ددوي) نوشرک به نه وي کړي دوي) خوالله ﷻ هغه څه کوی چي اراده يې شي ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴾ الأنبياء: ۲۳ ﴿ وَمَا جَعَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴾ (اونه يې ګرزولی مونږ ته پردوی ساتوني) چي ددوي داعمالو جزاورکړي ﴿ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴾ اونه يې ته پردوي وکيل دارزاقو اوامورو ددوي ,صاوي وايي چي دغه پخواني حکم تاکيددی معنايې داچي ته پردوي ساتونکی اوڅارونکي نه يې چي په ايمان يې مجبورکړي اودغه حکم دجهاد ترفرضيت پخواوو(٢) ﴿ وَلَا تَسُبُّوا۟ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ اوښکنځل مکوي (ای مؤمنانو) هغو (معبودانو) ته چي عبادت کوي (دغه کفاردهغو) بی له الله نه ﴿ فَيَسُبُّوا۟ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ نوښکنځل به وکړي دوی (هم)الله ته (په ناحقه سره)له جهالته څکه دوی دالله ﷻ په عظمت نه پوهيږي ابن عباس(رضی) وايي چي مشرکانوبه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ويل يازمونږ بتانو ته بدردمه وايه اوکه نه مونږ بيا ستارب ته ښکنځل کوو نوالله ﷻ مومنان دبتانو له ښکنځل کولو منع کړل(٣) ﴿ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ﴾ په شان ددغه (ښائست دعبادت دبتانو دو ي ته)ښائسته کړي مونږهرامت ته عمل ددوي ابن عباس وايي چي پرهيزګارانو ته يې طاعت ښائسته کړ ی کافرانوته يې کفر ښائسته کړي دي ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ بيارب ددوی ته بياورتګ ددوي دی (په آخرت کښې) پس خبربه کړي (الله) دوی په هغه شي چي دوي به کول (په دنياکښې اووربانديې جزابه ورکړي) دغه دجزااوعذاب په هکله وعيد اوتهديد د ي ﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ﴾ (اوقسمونه خوري دغه کفار (په الله) باندي په ډيروسختوقسمونو خپلوسره)يعني دغه دمکي کفارخوراسخته قسمونه خوري ﴿ لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ﴾ چي خامخاکه چيري راغله دوي ته هغه معجزه (چي دوي يې غواړي)نوهرومرو به پري ايمان راوړي ﴿ قُلْ إِنَّمَا ٱلْـَٔايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) بيشکه خبره داده چي معجزه په نزد دالله دي يوازي هغه دمعجزی په څرګندولو قادر دي زه نه يم ﴿ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ اوڅه شي خبرکړي ياست تاسي (ای مومنانوبلکه ناخبره يې چي) بيشکه دا(مطلوبې) معجزی کله چي راشي (دوی ته بياهم)دوي ايمان نه راوړي ﴿ وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ اواړوو مونږ

---

١ – القرطبی ۶۰/۷.

٢ –حاشية الصاوی عل الجلالين ٣٧/٢.

٣ –ابن کثير ۶۰۷/۱.

زړونه ددوي (له قبلولو دحق اوسترګي ددوي (له ليدلو دحق نه نو ايمان نه راوړي)لکه چي ايمان بې نه دي راوړي (په نورومعجزاتو) لومړي ځل , صاوی وايي چي دغه استنياف اوددي لپاره راوړل شوی چي داځرګنده کړي چي دهدايت اوضلالت خاوند يوازي الله ﷻ دي چي دچادهدايت اراده وفرمايي زړه بې هغه لوري ته وګرزوی اوچي دچادبدمرغي اوشقاوت اراده بې وشي زړه بې هغه لوري ته وګرزوي (۱)

﴿وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾ اوپريږدو مونږ دوي په ګمراهي ددوي کښې حال داچي دوي حيران اومترددان دي.

بلاغت:

۱-(يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ) پدې کلمې کښې دطباق صنعت راغلي دي همدارازپه آيت شريف کښې يوبل بديعي صنعت هم شته چي هغه ته (رد العجزعلى الصدر)وايي ځکه په آيت شريف کښې داسي راځي (وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ).

۲-(فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ) استفهام انکاري دي اودنفي په معنا راغلي يعني ددليل له راتلو وروسته هيڅ دمخ اړولو وجه نشته.

۳-پدې آيت شريف کښې چي فرمايي :(فَأَخْرَجْنَا بِهِ)پدې کښې التفات دي اصل خوداووچي فرمايلي بې وايي: (فاخرج به) اوباريکي پکښې داده چي دغه دراوتلي شيانو په هکله پاملرنه اودنعمتونو دډيروالي اوستروالی ځرګندونه وشي.

۴-(وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ)دغه عطف دخاص په عام باندي د ي چي زيات شرف بې ښکاره شي اودغه دواړه له سترو نعمتونو څخه دي.

۵- پد ې کلماتوکښې چي فرمايي:(بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ) مرسل مجاز دی اوتسميه د سبب په اسم دمسبب سره راغلي ده يعني هغه دلائل اوبراهين چي تاسو دهغو ي سبب حقويني اوحقائق ليدلي شي.

۶-ددي ددوولفظونوچي فرمايي:(أَبْصَرَ و عَمِيَ) ترمنيځ طباق اوهمدارنګه د (بصائر ،أبصر) ترمينځ اشتقاقی جناس دي.

تنبيه: دالله ﷻ پدي قول کښې چي فرمايي (لَّا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ) داحاطي نفي راغلي اودرؤيت نفي نشته ځکه الله ﷻ هسي ندي فرمايلي چي (لاتراه الأبصار) نوهغه چاچي په آخرت کښې دالله ﷻ دعدم رؤيت عقيده خپله کړي لکه معتزله فرقه نودوي له حق څخه تجاوز کړي اولاړځيني ورکه شوي ده ځکه په کتاب الله اومتواتر سنت درسول الله کښې ددې خبرې اثبات شته چي په قرآنکريم کښې فرمايي (وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة) اوپه حديث کښې هغه چي امام بخاري روايت کړي فرمايي: (سترون ربکم کماترون هذ ا القمر لاتضا مون فی رؤيته ...) اوکتاب الله اوسنت درسول الله ښه دليل اولارښوونکی دي.

۱-حاشية الصاوي على الجلالين ۲/ ۳۹.

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ (١١١) وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا
وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ (١١٢) وَلِتَصْغَىٰ إِلَيْهِ أَفْئِدَةُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا مَا
هُمْ مُقْتَرِفُونَ (١١٣) أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ
أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ (١١٤) وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ
الْعَلِيمُ (١١٥) وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ (١١٦) إِنَّ
رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (١١٧) فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ (١١٨)
وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ
بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ (١١٩) وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ
بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ (١٢٠) وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ
لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ (١٢١) أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ
فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١٢٢) وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ
مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ (١٢٣) وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ
مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا
كَانُوا يَمْكُرُونَ (١٢٤) فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا
يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ (١٢٥) وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا قَدْ فَصَّلْنَا
الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ (١٢٦) ۞ لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١٢٧) ﴾ الأنعام: ١١١ - ١٢٧

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی د توحید، نبوت او بعثت دلائل وړاندي کړل او همدا ډول د مشرکینو ځیني وړاندیز شوی معجزي یادونه یې وکړه نو دلته یې داو فرمایل چي د معجزاتو لیدل د هغه چالپاره چي زړه یې د منلو دید نلري څه ګټه نه رسوي او که چیري هغه دوي ته هغه معجزاتي هم راواستوي چي دوي غوښتي لکه د پرښتو نازلیدل، د مړو ژوندي کول څو ورسره خبري وکړ ي او دارنګه د خزنده ګانو او پرندګانو راغونډول چي په رښتنولي د پیغمبري شاهدي ورکړ ي بیاهم دوي په رسول الله او قرآنکریم باندي ایمان نه راوړي ځکه ضلالت او ګمراهي یې په خټه کښې اغښل شوی ده.

لغتونه:

(قُبُلًا) مخامخ اوله دي څخه داهم راغلي چي وايي (اتيتک قبلا لادبرا) زه مخامخ درته راغلي وم نه دشاله لوري (وَحَشَرۡنَا) راټولول اوراوستل يې معنې ده هرې ټولې ته حشر ويل کيږي لکه (فحشرفنادي) (زُخۡرُفَ) زجاج وايي: چي زخرف زينت ته وايي اوابوعبيده وايي چي هرهغه شي چي ته يې ښائسته اومزين کړي خوهغه باطل وی ورته مزخرف ويل کيږي (وَلِتَصۡغَىٰٓ) د(صغي) معنا يوشي ته ميل کول دي اوپه حديث شريف کښې راخي (فاصغی اليه الاناء) يعني لوښي يې ورته مائل کړ(مُّقۡتَرِفُونَ) کسب کولوته وايي اوډير څله دشرپه کارونوکښې استعماليږي لکه چي وايي (اقترف بذنب) يعني ګناه يې وکړه(يَخۡرُصُونَ) دروغ وايي ازهری وايي چي اصل يې هغه ګومان ته وايي چي يقين ورباندي نه کول کيږي[۱] (صَغَارٌ) ذلت اوسپکتياته وايي (يَشۡرَحۡ) سپړلواو پراخولوته وايي (حَرَجًا) خوراتنګ اوضيق ته ويل کيږي ابن قتيبه وايي حرج هغه تنګسياته وايي چي دوتلو منفذونلري.[۲]

دنزول سبب:

ابن عباس (رض) وايي چي يوه ورځ ابوجهل ملعون حضرت محمد مصطفیﷺ په پليتۍ وويشت چي ناڅاپه حضرت حمزه رضی الله عنه درسول الله کاکاچي هغه وخت لامسلمان شوي نه وو له ښکار څخه راستيندلو چاورته دغه (څورونکي) پيښه بيان کړه نوهغه په قهر سره راغي اوپه ابوجهل يې دغيشي لينده ونيوه ابوجهل ورته ويل ته نه ګوری چي هغه زمونږ خدايانوته ښکنځل کوي ؟زمونږ پرعقلونو پسې خاندي اودپلرونو مخالفت کوي !حضرت حمزه (رضی الله عنه) ورته ويل ترتاسو بی عقل لاڅوک دي ؟ تاسوددبرو عبادت کوی اودالله ﷻعبادت موپرې ايښي دي (اشهدان لااله الاالله وأشهدان محمداً عبده ورسوله) بيا الله ﷻ داايت نازل کړ(أَوَمَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٖ مِّنۡهَاۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡكَٰفِرِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ)[۳]

تفسير:

﴿وَلَوۡ أَنَّنَا نَزَّلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلۡمَوۡتَىٰ﴾ اوکه بيشکه مونږ راليږلي واي (دغوکفاروته)(په غوښتنه ددوي)پرښتي ،اوخبري کړي واي له دوي سره مړودغه دمشرکانو ددروغو بيان دي چي قسمونه به يې خوړل (لئن جاء تهم اية ليومنن بها) معناداچي که چيري ټولې هغه ددوي غوښتل شوي معجزي ورته ښکاره کړو چي پرښتي ورته راکوزي کړو مړي ورته راژوندي کړو اوله دوي سره خبري وکړي دپيغمبر عليه السلام په رښتنولۍ شاهدي ورکړي ﴿وَحَشَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ كُلَّ شَيۡءٖ قُبُلٗا﴾ اوجمع کړی دي مونږ دوی

[۱]-تهذيب اللغة مادة خرص.
[۲]-غريب القران ۱۶۰ .
[۳]-اسباب النزول ص ۱۲۸.

ته هرشي مخامخ (له ټولو مخلوقاتو څخه څرګند او عیان ﴿ مَّا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ نو نه به وو دغه (کفار) چي ایمان راوړي (په هیڅ وخت کښې) مګر (په وخت) دارادي فرمایلو دالله (دایمان ددوي) یعني که دغه ټولي وړاندیز شوي معجزې هم ورکړو دوي به ایمان نه راوړي او غرض له دې څخه ددوي له ایمان راوړلو څخه دمسلمانانو ناهیلي کول دي . ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴾ لیکن زیات ددوي (مشرکانو) جاهلان دي طبرى وايي چي دوي پدي نه پوهیږی چي دایمان راوړلو واک دالله ﷻ په اراده کښې دي هغوي داسي ګومان کوي چي ایمان ددوي په لاس کښې دي کله چي وغواړي ایمان به راوړي 10
بلکه دغسي نه ده الله ﷻ فرمايي چي دایمان راوړل زما په اراده دي چاته چي اراده وفرمایم ایمان ته بې هدایت کوم او چاته چي دضلال اراده وکړم هغه کافر کوم (۱) ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ ﴾ او همداسی ګرزولي (پیداکړي) وومونږ هرنبی ته دښمن شیطانان دانسانانو او پیریانانو) یعنی لکه څرنګه چي می دغه مشرکان ستا دښمنان ګرزولي چي ستامخالفت کوي دښمني ته دي ولاړدي همداسی می دپخواینو پیغمبرانو لپاره انسي او جني شیطانان ګومارلي وو نو ته هم داسي زغم او صبر وکړه لکه چي هغو پیغمبرانو کاوو (ابن جوزي وايي معنایې داده :لکه چي تاته می په دښمنانو ازموینت او ابتلاء درکړي همداسي می نورو نبیانوته هم ورکړي وه ترڅو چي په ربړونو او تکالیفو صبروکول ستر ثواب ورپه برخه کړئ ﴿ يُوحِى بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ﴾ (وربښوول (وسوسه به یې اچوله) ځینو ددوي ځینو نوروته ښائسته کړي شوی خبري لپاره دغولولو)یعنی دشراو ګمراي وسوسې ځینی ځینو نورو ته وراچولی چي دخلکو دخطا ایستلو لپاره ښائسته شوي خبري وي مقاتل وايي چي ابلیس دانسانانو لپاره شیطانان مقرر کړي چي ګمراه یې کړي کله چي انسی شیطان له جني سره یو ځای شي یو بل ته وايي چي ما خو خپل ملګري پداسي داسي اباطیلو ګمراه کړنو ته دي خپل ملګري په دغه دغه ناروا وو اخته او ګمراه کړه دغه دځینو ځینو نوروته وحي او ښودل دي (۲) ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ﴾ (او که اراده فرمایلی وي رب ستا نو نه به وو کړي دوي دا (کارونه چي باطله وحی او غروردي)یعنی که الله اراده کړي واي نو دوي به ددغو نبیانو عداوت نه کاوو خو دالله حکمت داغوښتی چي دا ابتلاء ترسره شی ابن کثیر وايي دا ټول دالله تقدیر او ازموینت دي چي هرنبی لره دی له دغو کسانو څخه دښمنان وي ﴿ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴾ (پس پریږده دوي او هغه چي دوی له ځانه دروغ جوړه وي)یعني دوي پریږده او دچل او ول تدبیرونه یې چي الله ستالپاره مرستندوي او کافي دي ﴿ وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ (او لپاره ددې چي میل وکړي دي دروغو ته زړونو دهغو کسانو چي ایمان نه راوړي په اخرت (قیامت) باندي) یعنی ددي لپاره (دوي پریږده)چي دغه مزخرف قول ته ددغو کافرانو چي په قیامت ایمان نلری زړونه مایل شي ﴿ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا۟ مَا هُم

---

۱ –الطبری ۴۷/۱۲.
۲ –تفسیر الجوزی ۱۰۹/۳.

﴿ مُقْتَرِفُونَ ﴾ او لپاره ددې، چې خوښ کړی دادروغ او دپاره ددې چې وکړي دوي (له ګناهونو) هغه چې دوي يې کسب کونکي دي ﴿ أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا ﴾ ايا پس پرته له الله وغواړم زه حکم کونکی عادل (چې زما او ستا سوپه مينځ کښې فيصله وکړي) يعنی ورته ووايه ای محمده ؟ ابوحيان وايي چې دقريشو مشرکينو رسول الله صلی الله عليه واله وسلم ته وويل :ای محمده ! راشه زموږ او ستا ترمينځ به ديهودو اوياانصارااووکوم منځګړي قاضي وټاکو چې مونږته په هغه هکله بيان وکړي چې ستاپه باب ددوي په کتابونو کښې راغلي دي له هرې ډلې چې ستاخوښه شي غوره يې کړه نو دا تيرشوي ايت نازل شو(۱) ﴿ وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ﴾ حال دا چې دغه (الله)هغه (ذات دي)چې راليږلی دی تاسی ته کتاب (قران) حال دا چې واضح کړي شو يدي پکښې (حق او باطل ،هدايت او ضلالت) ﴿ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ ﴾ او هغه کسان چې ورکړي دی مونږ دوي ته کتاب پوهيږي دوی چې بيشکه دا (قرآن)رانازل شوي دي له (لوري د) رب ستاپه حقه سره يعنی ديهودو علماء پوهيږی چې دغه قرآن حق دی ځکه ددوی په کتابونو کښې يې تصديق شوی دي ﴿ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴾ نو مه کيږه ته (ای سامعه)له شک کونکو څخه ابوالسعود وايي چې دغه خبره دتهيج او پاروني لپاره راغلي او چابيا ويلي دي چې خطاب رسول الله ته دي او مراد ځني دهغه امت دي(۲) ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ﴾ او تمامه شوي ده خبره درب ستاله جهته دربښتينوالی اوله جهته دعدل يعني دهغه دخبري صدق او ربښتنولی او داحکامو عدل کمال ته رسيدلی دي اخبارې ربښتونی او قضاء قدريې په عدل او انصاف دي) ﴿ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ﴾ نشته هيڅ بدلونکی دالله دخبرو) يعني نه يی حکم بدليږي او نه يې قضا او فيصله بيرته اخيستل کيږي ﴿ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴾ او همدي د ي ښه اوريدونکي ښه خبردار دبندګانو خبري او ری په احوالوېې پوهيږی ﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ او که متابعت وکړي ته دزيا تره هغو کسانو چې په ځمکه کښې دي (له کفارو جهالو څخه) نو وا به اړوي تا(ای محمده) له لاري دالله طبری وايي چې دايي وفرمايل(اکثرمن فی الارض) ځکه اکثر هغه وخت ګمرهان کفارو و معنادا چې ددوئ بلني پيروي مکوه او که څيزي دې وکړه ددوي په ګمراهي به ککړشی ځکه دوی تاسمی لاري ته نه بولی هغوي سمه لاره خطاکړي ده (۳) ﴿ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴾ (او نه کوي دوي پيروی مګرد ګومان او نه دي دوي مګر دروغ تړی پر الله) يعنی دوي ددين په امورو کښې دواهمو او ګومانونو پيروي کوی پخپلو پلرونو پسې روان دي دوي سوچ کو ي چې هغه پرحقه لاره تللي خو دادروغ د ي ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴾ بيشکه رب ستاهم دی ښه

---

۱ -البحر المحيط/۲۰۶

۲ -ابوالسعود ۲۷۴/۴.

۳ -الطبری ۶۴/۱۲.

عالم په هغه چاچي ښوئيدلي دی له لاري دده اوهم دي ښه عالم دي په سمي صافي لاري موندونکوباندي په البحر المحيط کښې وايي چي دغه خبريه جمله په وعد اوعيد مشتمله ده ځکه چي دالله ﷻ پوهه په ګمراه اومهتدي دواړو باندي دهغوي له مجازات کولو څخه کنايه راغلي د ي[1] ﴿ فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴾ نووخوري تاسی له هغي مذبوحې څخه چي يادکړی شوی وي نوم دالله ورباندي که تاسي پرآيتونو دالله ايمان لرونکی يی ابن عباس (رض) وايي چي مشرکانو به مؤمنانوته ويل:تاسی ګومان کوی چي دالله ﷻعبادت کوي نوهغه چي الله وژلي وی (مړزګه)هغه نه خوري اوچي پخپله يې ووژني (مذبوحه)هغه خوری ترديي هغه دالله وژلي دخوراک وړدي نوبيادغه ايت نازل شو[2] ﴿ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ اوڅه مانع دي تاسي ته چي نه خوري تاسی له هغي مذبوحې څخه يادکړي شوی دي نوم دالله پرهغي (په وخت دذبحي کښې)؟ ﴿ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ﴾ حال داچي تحقيق واضح (څرګند) کړی دي (الله) تاسي ته هغه چي حرام کړی دي پرتاسي (اودغه مذبوحه باسم الله له هغه څخه نه ده) مګرهغه محرمات چي اړکړي شوی ياست تاسي (خوراک د) هغوته (نوهغه هم حلال دي) نوتاسي ولي شبهاتو اوشائعاتو ته غوږنيسي کوم چي کافران يې خوروي ؟ ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ (اوبيشکه ډيرله خلکوخامخاګمراه کوي (خلک په تحليل اوتحريم) په ارزوګانو خپلوپه جهل اوناپوهي سره) يعني ډيرله دغوکفارو شخړه کونکوڅخه داسي دي چي حلال حراموي اوحرام حلالوي داټول پرته دالله له شريعت څخه اويوازی دخپلو هوسونواوخواهشاتو په سبب ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ﴾ بيشکه رب ستاهم دي ښه عالم دی په تيريدونکو له شرعی حدودو څخه ، هغوي چي تحليل اوتحريم له شريعت څخه پرته پخپله خوښه کوي اوپدي کښې دهغه چالپاره چي له شرعی حدودوڅخه تيريږي سخت وعيداوتهديد دي ﴿ وَذَرُواْ ظَٰهِرَ ٱلْإِثْمِ وَبَاطِنَهُۥٓ ﴾ اوپريږدی تاسی ښکاره اوپټه ګناه (يعنی مطلقاً ګناه پريږدي هغه که پټه وي که ښکاره)مجاهد وايي معناداچي په پټه اوښکاره ګناه کول پريږدي السدی وايي چي څرګنده ګناه له زانياتوسره زناکول (دفحشاءپه مرکز ونوکښې) اوپټه ګناه له پټواشناياتو سره زناکولو ته وايي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْسِبُونَ ٱلْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُواْ يَقْتَرِفُونَ ﴾ بيشکه هغه کسان چي کسب کوي دګناه (په پټه ياښکاره)ژربه سزا ورکړه شي (په آخرت کښې) دوي ته په سبب دهغوګناهونوچي دوي به کول ﴿ وَلَا تَأْكُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ اومه خورئ تاسي له هغي (مرداری) چي نه وي يادکړي شوی نوم دالله په هغي باندي (عمدا) اوياهغه چي دبتانو نوم ورباندي يادشوی وي ﴿ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ﴾ اوبيشکه چي

[1] -البحر المحيط ٢١٠/٤.
[2] -زاد المسير ١١٢/٣

داخوراک خامخا گناه ده (دالله له طاعت څخه وتل دي) ﴿وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ﴾ اوبیشکه شیطانان خامخاوسوسې اچوي دوستانو خپلوته (چې کفاردي) لپاره ددې چې جګړه وکړي (دغه کفار) له تاسي سره پدې ډول چې ورته وايي هغه چې تاسووژلی خوري اوکومه چې الله وژلي (مرداری) هغه نه خوری؟ ﴿وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ﴾ (اوکه اطاعت وکړی تاسی ددوي نوبیشکه تاسي به هم مخامخا مشرکان شی) یعنی که چیري موددغو مشرکانو په حرام حلال ګڼلو کښې پیروي وکړه اوله دوي سره موددوي داباطیلو په خپرولو کښې مرسته وکړه تاسوبه ددوي په شان شی! زمخشري وايي داځکه چې دلته دالله په دین کښې اتباع دغیرالله کیږي نوله الله ﷻ سره شریک ونیول شو بیا دبصیرت خاوند ته لازمه ده چې له هغه مذبوحي څخه چې دالله نوم وربانډي یادشوی نه وي هرډول چې وي هیڅکله هم خوراک ونکړي څکه سخت عظیم تشدید پکښې راغلي دي ﴿أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ﴾ ایاهرڅوک چې وي مړ (په کفریاجهل) نوژوندي کړو مونږ دی (په اسلام یاعلم سره) ابوحیان وايي کله چې دمؤمنانو اوکافرانو یادونه وشوه نوالله دمؤمن مثال دژوندی سره تشبیه کړهغه چې روښنايي لري هرچیري چې درومي اوکافر یې له هغه چاسره مشابه کړ چې هک حیران په تاریکیوکی ډوب وي ترڅو ددوي دواړو فرق څرګند شي ﴿وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ﴾ (اووګرزوو (ورکړو) مونږده ته نورچې تګ کوي دي پدې سره په خلکو کښې) یعني اوګرزولي دی مونږ ده ته سره له دغه هدایته ستر روښانه نورچې شیان وربانډي بیلولي شي اوحق له باطل څخه جلاکوي ﴿كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا﴾ په شان دهغه چادي چې حال دهغه (داسي وي چې واقع وي) په تیاروکښې حال داچې نه وي وتونکي له هغه (تورتم نه ؟) بیضاوي وايي دادهغه چالپاره مثال دی چې په تیارو کښې واقع وي اوهیڅکله هم څیني نه وزي ([1]) ﴿كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ همداسي (لکه چې دوی تاریکیوکښې پاتي شوی) ښائسته کړي شوي دی کافرانوته هغه شي چې دوي یې کوي (له شرک اوګناهونوڅخه) ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا﴾ او(لکه چې موګرزولي په مکه کښې مشران چې حیلې کوي) همداسي ګرزولی مونږ په هرښارکښې مشران فاسقان دهغه ښار دپاره ددې چې مکرونه وکړئ دوي په هغه کلیو(ښارونو) کښې (چې فسادونه جوړکړئ) ابن جوزي وايي څرنګه چې هرښار کښې فاسقان هغه مشران ددوي وي داځکه چې هغوي دخپلو ریاستونواوامکاناتو په سبب کفرته نژدې وي([2]) ﴿وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ﴾ (اونه کوي مکرونه دوی مګرکه له خپلو ځانونوسره حال داچې نه پوهیږي دوی (چې وبال یې دوي ته راجع دي) ﴿وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ﴾ (اوکله چې به راغي دوی ته کوم آیت (وحی)

---

[1] -البيضاوي ١٨١.

[2] -زادلمسير ١١٧/٣.

نوويل به دوي له سره مونږ ايمان نه راوړو (پدغې وحی) ترهغې پوري چې راکړي شي مونږته په شان دهغو آيتونوچې ورکړې شوی وو (نورو) رسولانوداالله ته) يعنی کله چې دغومشرکينو ته دمحمدرسول الله صلى عليه وسلم دربښتنولی په هکله قاطع دلائل اوڅرګند براهين راشي بياهم دوي وايي له سره به مونږ دده په رسالت ترهغو ايمان رانه وړو څوچې مونږ ته داسي معجزاتی راکول شي لکه چې پيغمبرانوته ورکول شوي وي په البحرالمحيط کښې وايي چې دو ي دغه خبره داستهزاء اوملنډو په توګه کوله که چيري يې باوردرلودي اودښمني يې نه کولی نودالله دپيغمبرانوپيروی به يې کړي وه اوروايت کيږي چې يووخت ابوجهل داسي وويل دعبدمناف زامنوله مونږ څخه شرافت يوور آن تردي چې مونږ لکه دمسابقې دوه اسان غوندي شو دوي وايي په مونږ کښې نبی شته چې وحی ورته راځي قسم په الله چې دابه ونه منواونه به يې له سره پيروي وکړو ترڅو چې مونږ ته هم دغسی وحي راشی لکه چې دوی ته راځی نودا ايت نازل شو(۱) ﴿ اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ ﴾ الله ښه عالم (پوه) دي په هغه ځاي چې ږدي رسالت خپل هلته اودغه رنګه يې محمدمصطفی صلى الله عليه واله وسلم دپيغمبري لپاره غوره کړي دي اودمکي له نورومشرانولکه ابوجهل اووليد بن مغيرة څخه يې اعراض فرمايلی دي ﴿ سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِندَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ ﴾ ژربه ورسيږي هغو کسانوته چې مجرمان دي (په کفرسره) سپکوالي (ذلت) په نزد دالله اوعذاب سخت په اخرت کښې په سبب دهغه چې وو دوي چې مکرونه به يې کول (له مؤمنانو) سره په البحرالمحيط کښې راوړي چې ذلت اوسپکاوي يې ترعذاب دمخه ځکه يادکړچې دوي په لومړي پيل کښې دپيغمبرله پيروي څخه سرغړونه وکړه چې ځان يې سترګڼل اوعزت کرامت يې غوښتل نوپه سپکتيا اخته شول وروسته بيا په سخت عذاب واوښتل(۲) ﴿ فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ ﴾ پس هرهغه چې اراده وفرمايي الله چې هدايت وکړي ده ته نوپراخوي سينه (زړه) دده لپاره (دقبلولو) داسلام يعنی الله چې ديوچادهدايت اراده وکړي نوپه زړه کښې يې ځلا اونورغورځوي هغه پراخ شي اودغه داسلام لپاره دلارښووني اوهدايت ننبه ده ابن عباس (رضي الله عنه) وايي معنايی داده چې زړه يې دتوحيد اوايمان لپاره پراخوی کله چې رسول الله ﷺ له دغه آيت شريف څخه وپوښتل شو نورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:کله چې نورزړه ته دننه شي نو وغوړيږی اوپراخ شي پوښتونکوويل چې ايادي لپاره کومه ننبه شته چې وربانديوپيژندل شي وي ويل :داخرت لوري ته رجوع کول له دنيا څخه ځان راټول او دمرګ لپاره تياري نيول پخوا تردي چې مرګ ورته حاضر شي (۳) ﴿ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ ﴾ اوهرهغه چې اراده وفرمايي (الله) دګمراه کولودهغه (دايمان له لاري) (يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا) ګرځوي (الله)سينه (زړه) دده تنګ نهايته تنګ ،چې دهدايت څخه هيڅ هم پکښې نه ځائيږي اونه له ايمان څخه هيڅ شي ورننوزي عطاء وايي چې دخيرلپاره هيڅ منفذ

---

۱ –البحر المحيط ۲۱۴/۴.

۲ –البحر المحيط ۲۱۷/۴.

۳ –الطبری ۱۰۰/۱۲.

پکښې نه وي(١) ﴿ كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ (ګواکې پورته درومي دي (په زحمت اوزورسره) اسمان ته ،یعنی لکه چي دي داسمان ته ختلو هڅه کوي اوغیرممکن کارته یې لیخي رانغښتي وي ابن جریر (رح) وايي چي دغه مثال الله ﷻ دکافر دزړه لپاره فرمایلي چي خوراتنګ دي ایمان ورته لاره نه مومي لکه چي اسمان ته ختلي نشی اوځني عاجزدی همداراز دایمان له راوړلو څخه هم عاجزدی(٢) ﴿ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ همداسی (چي الله تنګ کړي دي زړونه دکفارو له قبلولودحق نه) نازلوی الله عذاب (سپکاوي) په هغوکسانوچي ایمان نه راوړي (په ایتونودالله) مجاهد وايي چي (رجس) هغه څه ته وايي چي خیرپکښې نه وي اوزجاج بیاوايي(رجس) لعنت په دنیااوعذاب په آخرت کښې دي ﴿ وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ﴾ (اوهم دااسلام) لاره درب ستادي سمه صافه) یعني دغه دین چي ته وربانديي مشرف یې ای محمده هغه سمه سیخه لاره ده کوږ والی پکښې نشته نووربانډ ټینګ اوسه ﴿ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴾ په تحقیق واضح بیان کړي دی مونږ آیتونه لپاره دهغه قوم چي پندتري اخلي (پکښې غورکوي په عقلونوخپلو سره) ﴿ لَهُمْ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ شته دی دغو (مومنانوپند اخیستونکوته) کور دسلامتیا (له مشکلاتو څخه چي جنت دي) په نزد درب ددوي یعني دمیلمستیااوتکریم په ډول ﴿ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ (اوهم دغه (الله) مددګار (ولي)ددووی دی په سبب دهغه (اعمالو)چي دوي به کول)یعني الله ﷻ ددوي ساتونکي مرستندوي اوملاتړدي ځکه چي دوي ښه اعمال کول ابن کثیر وايي الله ﷻ چي دلته جنت ته دارالسلام وفرمایل ځکه دوي سمه لاره تعقیب کړی اودانبیاء کرامو پیروي یې کړي ده نولکه څرنګه چي دوي له کږوالی څخه دسلامتیالاره غوره کړي وه هغسي الله ﷻ دوي ته دارالسلام ورکړ(٣).

بلاغت:

١-(وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ) دربوبیت وصف اواضافت یې درسول الله ضمیرته دتشریف اوتکریم لپاره دي اود تسلا په هکله دلطف مبالغه ده.

٢- (فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ) خطاب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته دپاروني اوتهیج لپاره دي.

٣-(وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ) دلته کلام مراد اوګواکي جزیې راوړي اراده یې دکل ده اودمرسل مجاز صنعت پکښې راغلي دي.

١-ابن کثیر ٦١٧/١.
٢-الطبری ١٠٩/١٢.
٣-مختصرابن کثیر ٦١٨/١.

۴-پدي كلماتو كښې چي (وَذَرُوا۟ ظَـٰهِرَ ٱلْإِثْمِ وَبَاطِنَهُۥٓ) د (ظاهر) او (باطن) ترمينځ د طباق صنعت راغلي دي.

۵-(أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَـٰهُ) دلته (موت) او (حيات) (نور) او (ظلمت) ټول له استعاراتو څخه دي لکه څرنګه چي كفر يې له مرګ څه او ايمان له ژوند څخه استعاره كړي هغسى يې (نور) او (ظلمات) د هدايت او ګمراهي لپاره راوړي دي.[1]

۶-پدي كلام كښي چي فرمايي: (يَشْرَحْ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَـٰمِ) دلته مراد له شرح څخه د حق او هدايت منل دي هغه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړي دي او بياد (شرح) او (ضيق) ترمينځ د طباق صنعت راغلي دي.

فائده:

وايي چي (حكم) تر (حاكم) ابلغ او په رسوخ باندي دلالت كونكي دي ځكه د هغه اطلاق يوازي په عادل باندي او هغه چاچي په وار او ارځيني حكم صادريږي راځي او حاكم د غسى نه وي.(۲)

تنبيه:

امام رازى رحمه الله وايي: چي د غه ايت شريف چي فرمايي: (وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ) پدي دلالت كوي چي په دين كښې په يوازي (دهوس او خواهش) تقليد باندي خبري كول حرام كاردي ځكه په يوازي (داسى) تقليد سره خبره د هوا او شهوت منل دي او د غه په دين كښې حرام پيژندل شوي چي د غه ايت ور باندي دلالت كوي(۳).

الله تعالى فرمايي:

﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَـٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ ۖ وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ
وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِىٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّى بَعْضَ
ٱلظَّـٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾ يَـٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَـٰتِى وَيُنذِرُونَكُمْ
لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَـٰذَا ۚ قَالُوا۟ شَهِدْنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَا ۖ وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَـٰفِرِينَ ﴿١٣٠﴾ ذَٰلِكَ أَن لَّمْ
يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا غَـٰفِلُونَ ﴿١٣١﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجَـٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٢﴾
وَرَبُّكَ ٱلْغَنِىُّ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنۢ بَعْدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ
قَوْمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَـَٔاتٍ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يَـٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَامِلٌ ۖ
فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَـٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۗ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿١٣٥﴾ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلْحَرْثِ

---

[1] -البحر ۴/۲۱۴.
[2] -محاسن التاويل ۶/۲۴۷۴.
[3] -التفسير الكبير ۱۳/۱۶۷.

وَٱلْأَنْعَٰمِ نَصِيبًا فَقَالُوا۟ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ
وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ
مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا۟ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ
فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا۟ هَٰذِهِۦٓ أَنْعَٰمٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ
ظُهُورُهَا وَأَنْعَٰمٌ لَّا يَذْكُرُونَ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا ٱفْتِرَآءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا۟ مَا فِى بُطُونِ
هَٰذِهِ ٱلْأَنْعَٰمِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ
إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓا۟ أَوْلَٰدَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا۟ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ
ضَلُّوا۟ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾ الأنعام: ١٢٨ ـ ١٤٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ دا یاد کړل چې بشر په دوه ټولګي ویشل کیږي یوه موندونکي او بله یې ګمراهان دي هغه کسان چې الله ﷻ یې سینه پراخه او زړه ته یې نور وردننه کړي نو ایمان راوړي او هدایت یې په برخه شي او څوک چې د شیطان پیروي کوي او د خپلو نفسي غوښتنو پابندوي هغه ګمراه کیږي وروسته دلته دا ذکر کوي چې خلک به ټول په قیامت کښې راپاځي او حساب به ورسره کیږي هرچاته به د خپل عمل او دژوند د کړو وړو سره سمه جزا ورکول کیږي

لغتونه:

(مَثْوَىٰكُمْ) هستوګنځی ستاسي ویل کیږي (ثوی بالمکان) یعني په ځای کښې واوسیدو (يَقُصُّونَ) حکایت کوي ویل کیږي (قص الخبر) حکایت یې وکړ (ذَرَأَ) پیدایې کړ (ٱلْحَرْثِ) کښت (لِيُرْدُوهُمْ) چې هلاک یې کړي (ارداء) هلاکولو ته وایي (حِجْرٌ) حرام ته وایي چې په اصل کښې معنایې منع ده او عقل ته هم (حجر) ویل کیږي ځکه هغه خپل خاوند له بدو افعالو ،اقوالو رامنع کوی لکه چې الله فرمایي: (هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ) (سَفَهًا) حماقت او جهالت ته وایي او سفه هم داسی د عقل سپکوالي ته ویل کیږي.

تفسیر:

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ﴾ او (یاده کړه) هغه ورځ چې جمع به کړي (الله) دوي ټول (انسانان او پیریانان د حساب له پاره) او ورته به وویل شي ﴿ يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ ۖ ﴾ (ای جماعته د پیریانو په تحقیق ډېر مو تابع کړي دي تاسي له انسانانو) یعني ډیر مو ګمراه کړي او تبنتولي دي ابن عباس (رض) وایي چې تاسو له دوي څخه ډېر کسان ګمراه کړي دي او دغه خبره د توبیخ او تقریع په توګه ده ﴿ وَقَالَ أَوْلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ ﴾ او وبه وایي دوستان د دوي له انسانانو څخه ای ربه زمونږ نفع اخیستی ده ځینو زمونږ په ځینو ۰ نورو)بیضاوي وایي چې انسانانو په پیریانو داسي ګټه اخیستي

چي هغوي يې شهوتونو اودهغولاروچاروته رهبري کړي اوپيريانوبيا له انسانانو داګته پورته کړي چي ددوي پيروي يې کړي اوددوي مقصد ترسره شوی ده.(١) ﴿ وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِيٓ أَجَّلْتَ لَنَا ﴾ اورسيدلي يو مونږنيتي خپلي ته هغه نيته چي تا مونږته مقرره کړي ده (چي دمرګ اوقبرده) دغه ګواکي ددوی له لوری اعتذاراوپخپل حال اقراردي چي دوي دشيطانانو پيروي کړي اوهواهوس يی غوره کړي وو اوس افسوس کوي ﴿ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ ﴾ وبه فرمايي (دوی ته الله) چي ستاسي ځای اور دي ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ حال داچي هميشه به اوسي تاسي په دغه اورکښې مګر(کله) چي اراده وفرمايي الله (دعدم خلود ددوي) طبري وايي چي داهغه موده ده چي دددوي له پاڅيدلو اوبيادا ورته لويدلو ترمينځ وي(٢) اوزمخشري بياوايي چي دوي به تل ترتله په دوزخ کښې وي مګر هغه موده چي دوي له اورڅخه زمهريرته ليږدي په تحقيق سره داسي روايت کېږي چي دوي به دزمهرير کندي ته ورلوېږي اوهلته به چيغي وهی غوارِ ي به چي بيرته جحيم ته ستانه شي (٣) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴾ بيشکه رب ستا به حکمت والا (دی پخپل کارکښې) ښه عالم د ي(دبندګانو په کړووړو باندي) ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴾ اوهمداسی (لکه چي انسی اوجنی کفارمو يوپه بل باندي مسلط کړی) مسلط کوو مونږ ځيني ظالمان په ځينو نورو په سبب هغه اعمالو ددوي چي کول به يي قرطبی وايي چي دغه دظالم لپاره تهديداواخطارد ي که چيري له ظلم څخه لاس وانخلي نوبه بل ظالم ورباندي مسلط کاندي ابن عباس (رض) وايي کله چي الله ﷻ له يوقوم څخه راضي اوخوښ وی نوترددوي غوره څوک ورباندي وګوماري اوکه چيري الله پاک له چاڅخه ناراضه وي نودچارو واک يې اشرارو ته په لاس ورکړي اوهغه ورباندي پاچاکړي (۴) مالک بن دينار وايي چي مادحکمت اوپوهي په ځيني کتابونو کښې ولوستل الله ﷻ وايي (اني انا الله مالک الملوک قلوب الملوک بيدی فمن اطاعني جعلتهم عليه رحمة ومن عصاني جعلتهم عليه نقمه فلاتشغلوا انفسکم بسب الملوک ولکن توبوا اليّ اعطفهم عليکم (۵) يعنی زه دپاچهانوپاچاه يم ددوی زړونه زماپه واک کښې د ي کوم کسان چي زما اطاعت کوي په هغوي باندي به دپاچازړه مهربان اوڅوک چي له ماڅخه سرغړونه کوي پاچابه ورته په قهرکړم نوتاسی دپاچهانوپه ښکنځلو ځان مه مشغولوي خوماته توبه وکاږي چي پاچهان درباندي مهربان کړم ﴿ يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِي ﴾ (ای جماعته دپيريانواوانسانانو ايانه وو راغلي تاسوته رسولان له تاسی ؟(بلکه راغلي وو)چي بيانول به دوي پرتاسو آيتونه زما ،دغه ندا اوغږبه دقيامت په ورځ اواستفهام دتوبيخ لپاره دی ﴿ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ

---

١ -البيضاوي ١٨١.

٢ -الطبری ١١٨/١٢.

٣ -الکشاف ٥١/٢.

۴ -القرطبی ٨۵/٧.

۵ الفخر الرازی ١٩۴/٣.

يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ ﴾ اوويرولي به يې تاسې له ملاقاته دورځې ستاسې څخه چي داده (سخته ورځ) ﴿ قَالُواْ شَهِدۡنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ ﴾ (نووايي به چي شاهدي وايو پرخانونوخپلو) يعني دوى به پرته له اعتراف څخه بله لاره نه مومي اووايي به چي موږ شاهدان يوچي ستاپيغمبران مونږ ته راغلي اومونږبې له دغې ورځې څخه ويرولي يو ابن عطيه وايي چي دغه ددوي پخپل كفر باندى اقراردى لكه چي دوى وايي ﴿قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا﴾ ﴿ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا ﴾ (اوغره كړي وو دوى ژوندون ددنيا) يعني په ښكلااونعمتونو يې غوليدلي وو ﴿ وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ﴾ اوشاهدي وركړه دوى په خانونوخپلو باندي چي بيشكه دوى كافران وو (په دنياكښې) بيضاوي وايي پدي كښې ددوي دناسم نظر اوخطارايي څرګندونه ده ځكه دوي ددنيا په فاني لذتونو غوليدلي و اوله اخرت څخه يې مخ اړولى وو ترديې چي اوس پخپل ځان باندي په كفر اعتراف كوي اودتل ترتله عذاب لپاره ځانونه سپاري پدي كښې داوريدونكولپاره ويرونه ده چي دهغوي په شان نشي.([1]) ﴿ ذَٰلِكَ أَن لَّمۡ يَكُن رَّبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا غَٰفِلُونَ ﴾ (دغه راليږل درسولا نو دپاره ددې دي چي ستارب هلاكونكى دكليو(ښارونو) نه دى په ظلم سره حال داچي ددې كليو(ښارونو خلك بى خبر(غافلان)وي طبرى وايي معناداچي اى محمده دغه درسولانو ليږل مو ددې لپاره كړى چي دوي ته زمونږ ايات ولولى اوداخرت له ورځي څخه يې وويروي اوداپدي چي ستارب پرته له خبرداري ،تنبيه اويادوني دوى داسي نه هلاكوي چي دوى ناخبروي([2]) .

﴿ وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ ﴾ (اوهرچاته درجې دى له (جزاء) دهغو اعمالو چي دوي يې كوي)يعنى دهرچالپاره دعمل په مساوي ميچه چي طاعت يې كړي وي يامعصيت مرتبې دى چي په اخرت كښې به يې مومي كه ښه يې كړى وي ښه به پيداكړي اوكه چيرې يې بد كړي وي بدبه ورته ورسيږي ابن جوزي وايي چي پدي وجه يې درجات وبلل چي ديوه دبله به لكه دزينوپه شان لوړوالي اوټيټوالي لري([3]) .

﴿ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ﴾ (اوستارب غافل نه دي له هغوشيانو چي دوي يې كوي)يعني الله ﷻ دخپلو بندګانوله كړو وړوڅخه غافل اوخطاكيدونكى نه دي پدي كښې وعيداوتهديد نغښتي دي

﴿ وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ﴾ اورب ستابې پروادي ،له خلكواوعبادت ددوي نه ،نه ددوي عبادت ورته ګټه رسوى اونه هم ددوي معصيت الله ﷻ ته زيان رسوي ﴿ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ ﴾ خاوند درحمت دي (بشپړ)ابن عباس (رض) وايي چي په خپلو اولياوو اوطاعت كونكوبندګانوباندي درحمت خاونددي بل څوك بياوايي په ټولو خلكو مهربان دي اودهغه له رحمت څخه داهم دي چي له مخالفينوڅخه سمدستي انتقام نه اخلى هغه يې ځنډولي دي ابوالسعودوايي چي پدي كښې داتنبيه هم شته كومه هغه پخواني خبره چي درسولانوليږل

---

[1] -البيضاوي ١٨٢.

[2] -الطبرى ١٢٤/١٢.

[3] -ابن الجوزى ١٢٦/٣.

دي دادالله ﷻ دګټي لپاره نه بلکه پخپلو بندګانو درحم له کبله وو(١) ﴿إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ﴾ (که اراده وکړي نوتاسي به بوزي) يعنی که دالله اراده وشي نو تاسی ګنهکاران به يومخ هلاک کړي ﴿وَيَسْتَخْلِفْ مِنۢ بَعْدِكُم مَّا يَشَآءُ﴾ اوځای نيونکی به کړی وروسته له تاسی هرهغه څوک چي اراده يې وفرمايي (او تر تاسی ښه حکم منونکي اواطاعت کونکي وي) ﴿كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ ءَاخَرِينَ﴾ لکه چي پيداکړي يې تاسي له اولادي دقوم نورونه ابوحيان وايي چي دايت شريف په ترڅ کښې دالله ﷻ له سمدستي نيولو (هلاکت) څخه تحذير شته (٢) ﴿إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَءَاتٍ﴾ بيشکه هغه څه چي له تاسي سره يې وعده کړل شوي راتلونکي دي خامخا ﴿وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ﴾ اونه يې تاسي عاجزکونکي (دالله په قدرت کښې) چي له واکه يې ووزی اوله عذابه يې خلاص شی که څه هم دتيښتي ټولي لاري چاري وسنجوي ﴿قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ﴾ (محمده) ووايه چي ای قومه زما عمل کوی، تاسي پرحالت خپل سره (چي کفراودښمنی ده) يعني وربانديي ټينګ اوسی امردلته دتهديد لپاره دي لکه چي بل ځای فرمايي (اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ) ﴿إِنِّى عَامِلٌ﴾ زه هم عمل کونکی يم په خپل حال سره (چي ايمان اواستقامت دي لکه چي الله راته فرمايلي دی) ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ﴾ پس ژر به پوه شی تاسي چي چاته به (محمود) عاقبت (دار داخرت وي) ماله اوکه تاسوته ؟ ﴿إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ شان دادي چي نه مومي بري ظالمان زمخشري وايي په ايت شريف کښې دويروني څرک شته چي په خوراښه ادبي انځور سره په انصاف يادشوي سره له دي چي سخت وعيد دي اوپدي باندی ښکاره شوي چي ويرونکي (پيغمبر) په حق اوقوم په باطل دي (٣) ﴿وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلْحَرْثِ وَٱلْأَنْعَٰمِ نَصِيبًا﴾ اومقرر کړی دي دغو(مشرکانو)الله ته له هغه شي چي پيداکړي دی الله تعالی (هغه) له کښته اوڅارپايانويوه برخه ،چي په فقيرانويې ويشي اودغه رنګه دبتانولپاره يې ونده ټاکلي چي خپلو مشرانوته يې ورکوي ابن کثيروايي چي دغه دالله ﷻ له لوري ددوي توبيخ اوذم دي چې دوي هسي بدعت ،کفراوشرک غوره کړی دي له الله ﷻسره يې شريکان نيولی حال داچي الله پاک هرڅه پيداکړي دي(٤) ﴿فَقَالُوا۟ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ﴾ نووايي دوي دغه برخه لپاره دالله ده په عقيده ددوي سره (بی له شرعي دليله) په تسهيل نومي کتاب کښې وايي چي (زعم) ډيرځله په دروغو کښې استعماليږي

---

١ -ابوالسعود ١٣٨/٢.
٢ -البحر المحيط ٢٣۵/۴.
٣ -الکشاف ۵۴/٢.
۴ -مختصرابن کثير٦٢٢/١.

(١)﴿ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ﴾ اودا (بله) برخه لپاره د شريکانو زمونږ ده (چي خدايان ددوی اوبتان دي)ابن عباس وايي د الله ﷻ دښمنانو چي به کله کرونده وکړله فصل به یې وشو اویابه یې میوي واخیستي نویوه برخه به یې د الله لپار ه بله به دبتانو په نامه ګڼله: رده هغه چي دبتانو ونډه به وه هغه به یې وساتله اوو ګڼله اوکه به د الله له برخی څه ولویدو هغه به یې هُم دبتانو په برخه کښیښوده اوویل به یې چي الله غني د ي اوبتان خورامحتاج دي (٢) ﴿ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ نوهغه برخه چي لپاره دشريکانو ددوي ده پس هغه نه رسيږي الله ته ﴿ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمْ ﴾ اوهغه برخه چي وی لپاره د الله هغه رسيږی ددوي شريکانو ته مجاهد وايي چي دوی به یوه برخه دکښت کروندي حاصل د الله په نامه کړاوبله برخه به یې دبتانو په نامه نوکله به چي هوا (باد) د الله له برخي څخه دبتانولوري څه وروو ړهغوي به پريښود اوکله به چي دبتانو له برخي څخه د الله برخي ته باديوڅه راوړل بيرته به یې دبتانوبرخي ته ستون کړاوکله چي به کاختي (قحط) راغي نود الله ﷻ له برخي څخه به یې خوړل اودبتانو برخه به یې خوندي کوله ﴿ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ (ډير)بددي هغه حکم چي دوي یې کوي ﴿ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ ﴾ او(لکه چي ښائسته شوي وودوي ته دمالونودغه ويشل) همداسی ښائسته کړي دي ډيردمشرکانوته وژل داولاد ددوی خپلو شريکانو ددوي (چي شيطانان دي) نوياخپل اولادونه ژوندي ښخوي اويا یې دخپلو خدايانو په نامه حلالوي زمخشری وايي چي په جاهليت کښې به يو سړي داسي لوړه (قسم)کاوو که چيري زماهومره اولادونه وزيږيدل يوبه حلالوم لکه چي عبدالمطلب هم دغسي لوړه کړ ي وه (٣)﴿ لِيُرْدُوهُمْ ﴾ لپاره ددې چي هلاک کړی دوي (په سرغړونه) ﴿ وَلِيَلْبِسُوا۟ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ﴾ اولپاره ددې چي (داشيطانان) ګډ کړي پردوي باندي دين (اسماعيلی) ددوي(وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ) اوکه اراده فرمايلي وی الله (په نه کولو ددغه کار) نودوي به دغه (بد) کارنه ووکړي ﴿ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴾ نوپريږده دوي اوهغه چي دروغ وايي دوي (په الله باندي پدي کښې تهديد اووعيددي) ﴿ وَقَالُوا۟ هَٰذِهِۦٓ أَنْعَٰمٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ ﴾ (اووايي چي (دغه برخه دبتانو که) چارپايان د ی اوکه کښت ممنوع (حرام) دی (په بل چا)دغه دمشرکانو له جرائمو اوبدو افعالوڅه حکايت دي ﴿ لَّا يَطْعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ ﴾ نه به خوری له دي مګرهغه څوک چي زمو نږ خوښ و ي ﴿ بِزَعْمِهِمْ ﴾ په ګومان دډوي سره (هغه بی دليله باطل ګومان) ﴿ وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا ﴾ او(ځيني) چارپايان دي چي حرامې کړي شوی د ي شاګاني ددوي

١- التسهيل ٢٢/٢.
٢- مختصرابن کثير ٦٢٢/١.
٣- الکشاف ٥٣/٢.

(چي څوک وربانديي نه سپريږي) لکه بحائر، سوائب، اوحوامي ﴿ وَأَنْعَـٰمٌ لَّا يَذْكُرُونَ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا ﴾ او(ځيني) نورحيوانات د ي چي نه يادوي (دغه مشرکان په وخت د(ذبحې کښې) نوم دالله پردوي (بلکه نوم دبتانو پري يادوي) ﴿ ٱفْتِرَآءً عَلَيْهِ ﴾ (اونسبت کوی ددغواحکامو الله ته) په طريقه ددروغ تړلو په الله باندی ﴿ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴾ ژربه سزاورکړي دوی ته الله په سبب ددې چي په الله به يې دروغ تړل اودغه سخت تهديد او وعيد د ي ﴿ وَقَالُوا۟ مَا فِى بُطُونِ هَـٰذِهِ ٱلْأَنْعَـٰمِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا ﴾ (اووايي دوي چي هغه شي په ګېډوددغو حيواناتوکښې دي خالص دي لپاره دنارينه ووزمونږ)دغه ددوي له قبائحو څخه يوبل ډول قبيح عمل ته اشاره ده چي ويل به يې ددې بحائرو، سوائبو حيواناتو په ګېډو کښې چي څه دي هغه زمونږ دنارينه وو لپاره حلال دي ﴿ وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ﴾ (اوحرام کړي شوی دي په ښځوزمونږ) ،چي هغوي به څني څه نه خوري ﴿ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ﴾ اوکه وي هغه مرداره نودوی (نراوښځه) پکښې شريکان دي (چي دغه مردار زيږيدلی حيوان وخوري) ﴿ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ﴾ (ژربه سزاورکړي (الله) دوی ته د(دې) تقريرددوی چي په تحليل اوتحريم کښې يې په الله ﷻ دروغ تړلي وو ﴿ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴾ بيشکه دغه (الله) ښه حکمت والادي پخپلو کړوړوکښې اوښه پوه دي په مخلوقاتو خپلو ﴿ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓا۟ أَوْلَـٰدَهُمْ ﴾ (بيشکه زيان کړي د ي هغوکسانوچي وژلي يې دي اولادخپل) يعني قسم دي چي دغه کسان چي خپل اولادونه يې وژلی بی عقلان دي زيان يې کړي دي زمخشري وايي: دغه ايت دربيعة اومضراونورو عربو په شان کښې رانازل شوی کوم چاچي ژوندي لوني به يې دلوږي اوبندي کيدلو له ويري ښخولي([1]) .

﴿ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ له جهته دعقل دسپکتيا اوسفاهته اوداچي پدي نه پوهيدل چي الله دوي اوددوي اولادونوته روزي ورکوي ﴿ وَحَرَّمُوا۟ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ (اوحرام کړی يې دي هغه شيان چي روزي ورکړي ده دوي ته الله) يعنی حرام کړي يې دي پرځان باندي بحيره ،سائبه اونورامثال دهغو ﴿ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ﴾ له جهته ددروغ تړلو په الله باندي ﴿ قَدْ ضَلُّوا۟ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴾ بيشکه ګمراهان شوی دی دوي اونه دي دوي لاره موندونکي (حق ته) يعنی دوی له سمي صافي لاري څخه خطاوتلي لاره يې ورکه کړي ده چي داهسی بدعمل يې ترسره کړي اودوي په لومړي پيل کښې هم لاره موندونکي نه ووځکه سيرت يی بدوو ابن عباس (رض) وايي: که پدې خوښحاليږي چي دعربو ناپوهی درته معلومه شي نوسوره

---

[1] –الكشاف ٢/٥٧.

انعام له یوسل او دیرشم ایت نه وروسته ولوله چي الله فرمايي ﴿ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوْلَٰدَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُواْ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴾ (۱)

بلاغت:

۱:پدي کلام کښې چي الله فرمايي(قَدِ ٱسْتَكْثَرْتُم مِّنَ ٱلْإِنسِ) يعني ډيرمو گمراه کړي اواغواء کړي دي دلته ایجازبالحذف دی همداراز پدي کلام کښې چي(ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ) يعني داچي گټه اخيستي ځيني انسانانو په ځيني پيريانانو اوگټه اخيستي ځيني پيريانانو په ځيني انسانانو.

۲:(ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ) دواړه خواوي معرفه ذکرشوي چي حصرافاده کړي.

۳:(أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ)استفهام دتوبيخ اوتقريع لپاره دي.

۴: پدې جمله کښې چي (وَلِكُلٍّ) ،تنوين له محذوف څخه عوض راغلي دي معناداچي دهرعامل لپاره.

۵:پدي آيت شريف کښې چي:(إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَءَاتٍ) توعدون دمضارع صيغه ددي لپاره غوره شوی چي په تجددي استمرار دلالت وکړي اوهمداراز(ان) او(ل) دتاکيد لپاره راوړل شوی ځکه مخاطبين له بعث اوپاڅيدلو څخه منکروونوې دوه تاکيدات راوړل.

۶:(مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ) دلته داسم جليل اظهار کول دضميرپه ځای کښې ددوي دزياتي سرغړوني له کبله شوي اوداچي دوي گمراهان دي.(۲)

فوائد اوگټې:

لومړی فائده :جلال الدين سيوطي په اکليل نومي کتاب کښې د(وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًا) آيت سره ليکی چي داسي دحديث شريف معناهم ده چي فرمايي:(كماتكونون يولى عليكم) لکه چي ياست هغسي څوک به درباندي گومارل کيږي.فضيل بن عياض وايي چي: کله ووينې چي يوظالم له بل څخه کسات اخلي نوورته ودريږه ننداره يې وکړه.

دوهمه فائده:

جمهور علماء داسي وايي چي پيمغبران يوازي له انسانانوڅخه غوره شوی اوله پيريانوڅخه هیڅوک نه وو راغلي اوداچي الله ﷻفرمايي(أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ) دغه دتغليب له پلوه راغلي دي لکه چي الله فرمايي : ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ الرحمن:۲۲ .بلکه دغه يوازي له مالگين درياب څخه راوزی له خوږه درياب څخه نه وي.

۱-مختصرابن کثير.

۲-دغه خبره ابوالسعود راايستلي ده ۲/ ۱۴۴.

دريمه فائده:

قرطبی پخپل تفسير کښې ليکي چي داصحابانورضوان الله عليهم له ډلي يوځوک هميشه درسول الله صلى الله عليه وسلم په مخ کښې پريشان ناست وو نورسول الله ﷺ ورته وويل (مالک تکون محزونا؟) ولى خفه يې ؟! نوهغه ورته وويل اى دالله استازي ماپه جاهليت کښې ګناه کړي پدي ويريږم که مسلمان هم يم چي الله به يې راته ببښنه ونکړي نورسول الله ورته وويل ستاګناه راوښيه هغه وويل زه په جاهليت کښې دهغوکسانوله ډلى څخه وم چي لوڼې به يې ښخولي نوزماپه کورکښې لوروزيږيدله ښځي مى راته زاري جګي وکړي چي له وژلو يې تيرشم هغه مي پريښودله ځولويه شوه اوبلوغ ته ورسيده خورانښائسته ښځه شوه چاراڅخه وغوښتله چي په نکاح يې کړي خوماته غيرت وراندي شو زړه مي نه غوښتل چي هغه واده کړم اويايې بې له واده پخپل کورکښې پريږدم نومي ښځي ته وويل چي زه غواړم دخپلوانوکره ولاړشم نودانجلي هم له ماسره وليږه هغه خوشحاله شوه هغه يې په ګېڼه سينګاره کړه ښې جامي يې ورواغوستي اوله ماڅخه يې ژمني اوټينګي وعدي واخيستى چي خيانت ورسره ونکړم نوهغه مى کوهى ته وروستله اوکوهى ته مى لاندي وکتل هغى ته داسي څرګنده شوه چي زه يې په کوهى کښې غورځوم نويې ترلمن ونيولم په ژړاشوه اوزمازړه ورباندي وسوځيده اوبيامى کوهى ته وکتل غيرت راباندي غلبه وکړه اوشيطان راباندي زورورشونوهغه مى سرپه ځيږې په کوهي کښې وويشتله ترهغوپوري هلته تم شوم څويې غږبندشو اوبياراوګرزيدم نورسول الله ﷺ اواصحابانوژړل اورسول الله ﷺورته وويل: که ماته ددې امرشوي واي چي يوچاته دجاهليت په کړنه سزاورکړم نوتاته به مي درکړي وه. (١)

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّـٰتٍ مَّعْرُوشَـٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَـٰتٍ وَٱلنَّخْلَ وَٱلزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ
مُتَشَـٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَـٰبِهٍ ۚ كُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ ۖ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ
(١٤١) وَمِنَ ٱلْأَنْعَـٰمِ حَمُولَةً وَفَرْشًا ۚ كُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ (١٤٢)
ثَمَـٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۖ مِّنَ ٱلضَّأْنِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْمَعْزِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ
ٱلْأُنثَيَيْنِ ۖ نَبِّـُٔونِى بِعِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ (١٤٣) وَمِنَ ٱلْإِبِلِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ
ٱلْأُنثَيَيْنِ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۖ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَـٰذَا ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ
عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ (١٤٤) قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ
طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۚ فَمَنِ
ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٤٥) وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِى ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ

وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلْحَوَايَآ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا
لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾ سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ
أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَىْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا۟ بَأْسَنَا ۗ قُلْ
هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآ ۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلَّهِ ٱلْحُجَّةُ ٱلْبَٰلِغَةُ ۖ فَلَوْ شَآءَ
لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾ قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ
أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾ الأنعام: ١٤١ ــ ١٥٠

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله ﷻ دا یادونه وکړه چې مشرکینو د الله ﷻ په نعمتونو او ارزاقو کښې ځینې شیان په ځان حرام کړي وو نو د دغو بد مرغه کسانو ځینې قبائح یې وشمیرل دلته یې بیا هغه څه وفرمایل چې الله ﷻ ور باندې احسان کړی او روزي یې ورکړ ي خو دوي له خپله لوري پکښې تصرفات کوي او په الله ﷻ باندې دروغ تړي ورپسې یې د ددوي هغه په شرک احتجاج او په قضا و قدر باندې د ایمان نه راوړلو بیان وکړ چې دا هم د دوي د کذب، بهتان او په الله باندې د افتراء یوه برخه ده.

لغتونه:

(مَّعْرُوشَٰتٍ) لوړ شوي په لرګیو او چت پورته کړی ته وایي (حَصَادِهِۦ) د میوو د راټولو وخت (د رمند اخیستل) (حَمُولَةً) هغه اوښ چې درانه بارونه په شا وړي (فَرْشًا) هغه واړه اوښان (جونګیان) چې بارونه نشي وړلای زجاج وایي چې (فرش) کوچني اوښان (جونګریان) د ي (ٱلْحَوَايَآ) د پچوځای (غوز) هغه کولمې چې ورباندې وازدې وي ځکه د غوته حوایا وایي چې نس (لړمون) ورباندې راتاودي (هَلُمَّ) راشئ (يَعْدِلُونَ) ورباندې مشرکان کیږ ي

تفسیر:

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّٰتٍ مَّعْرُوشَٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَٰتٍ ﴾ او الله هغه ذات دي چې پیدا کړي یې دي باغونه (د انګورو له ځمکي نه) هسک کړي شوي (په لرګیو) او غیر هسک کړی شوی (پراته پر ځمکه) ﴿ وَٱلنَّخْلَ وَٱلزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُۥ ﴾ (او د خرماونه او کښت چې مختلفي وي میوي د هغو (په رنګ او خوند کښې) یعني الله پاک ستاسو لپاره میوه لرونکي د خرماوني هغه چې غذا او فاکهة وي همدارازنور غذایي غلی داني کښتونه چې په رنګ او خوند کښې مختلف وي او دا دول په بوي او حجم کښې یو له بله توپیر لري ﴿ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ﴾ او زیتون او انار چې متشابه وي (په رنګ او شکل کښې) او غیر متشابه و ی (په خوند کښې) ﴿ كُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ ﴾ خورئ تاسي له میوې د هغې ځینې کله چې میوي ونیسي (له لمدو خرما او انګورو او نورو څخه) ﴿ وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ ﴾ او اداکوی حق

دهغې په ورځ دربیلودو دي یعني مسکین اوفقیرته دشکولو په وخت کنبې یې چې څه موزره غواړي نققه ورکوي ابن عباس (رض) وايي چې معنايې هغه فرض شوی زکات دي چې ددرمند اخیستلو په وخت کنبې کله چې یې پیمانو کوی ورکړي (۱) ﴿ وَلَا تُسْرِفُوٓاْ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴾ اوبې ځای یې مه لګوی بیشکه چې الله نه خوښوي مسرفان (تیریدونکي له حده) یعني په خوراک اومصرف کولو کنبې یې اسراف مه کوی ځکه پدي کنبې دعقل اوبدن زیان دي طبری وايي چې دعطاء قول ترټولو غوره دي هغه وايي چې مرادله دې څخه نه اسراف کول په هرشي کنبې فرمايل شوي دي (۲) ﴿ وَمِنَ ٱلْأَنْعَٰمِ حَمُولَةً وَفَرْشًا ﴾ او (پیداکړي مودي) له چارپایانوباروړونکی اوغځیدونکی په ځمکه (حلالیدلو لپاره) ابن اسلم وايي چې (حمولة) هغوچارپایانوته ویل کیږي چې دسورلی وړوي او (فرش) بیاهغوته وايي چې تاسي یې غوښې اوشیدي خورئ ﴿ كُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ خوری تاسی له هغه څینی چې الله رزق درکړي دي تاسوته (له میوو کښتواوچارپایانونه) ﴿ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ (اومتابعت مه کوی (مه ځی) تاسی په قدمودشیطان) یعني دشیطان دلارو اوحکمونوچي تاسي ته یې په تحلیل اوتحریم کنبې کوي متابعت مکوی لکه چې به دجاهلیت دزمانی خلکو دهغوي پیروي کوله ﴿ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ بیشکه داشیطان تاسی ته دبنمن ښکاره دی ﴿ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ مِّنَ ٱلضَّأْنِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْمَعْزِ ٱثْنَيْنِ ﴾ (الله پیداکړي دي حلال اته جوړي (نراو ښځه) له میږو څني دوه (نراوښځه) اوله وزوڅخه دوه (نراوښځه) یعنی له چارپایانوڅخه یې اته جوړي حلال درته پیداکړي له میږو څخه نراوښځه اوله وزو څخه نراوښځه قرطبی وايي چې اته افرادمراددي اوهرفرددعربوپه نزدزوج ته اړوي نونارینه ته هم زوج وايي اوښځینه ته هم زوج اومراد دمیږوله زوجین څخه نارینه پسه (ګډ) اومیږه ده له وزوڅخه یې مرغومي اووزه مراددي ﴿ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ ووایه (ای محمده دوي ته) چې ایا (الله) دواړه نران حرام کړی دمیږو اواوزوکه دواړه ښځي (له دوي څخه) دغه ددوی دهغه عمل چې دالله حلال یې حرام ګرزولی وو انکاردي یعني اي (محمده ﷺ)دوی ته دتوبیخ په توګه ووایه چې ایاالله پاک دواړه نارینه دمیږو وزو حرام ګړي اوکه دواړه ښځینه دمیږو اووزو ﴿ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ (یاکه حرام کړی یې دي)هغه بچي چې مشتمل وی په هغوباندې (څونه) ددغوددواړو ښځینه (چارپایانوهغه که نروي که ښځه) ﴿ نَبِّـُٔونِى بِعِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ راوښئي تاسي ماته سند (چې علم دي نه دروغ اوافتراء) که یې تاسي صادقان دربنتوني په تحریم ددې شیانو کنبې الله ته ﴿ وَمِنَ ٱلْإِبِلِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ ٱثْنَيْنِ ﴾ او (الله پیداکړي دي)له اوښانودوه (نراوښځه چې اوښ او اوښه ده)اوله

---

۱ -مختصرابن کثیر۱/۶۲۴.

-الطبری ۱۲/۱۷۶.

غوایانو دوه (چي غوا اوغوبي دي) ﴿ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ ووایه (ای محمده دوي ته) چي آیا دواړه نران حرام کړي دي الله که دواړه ښځي یاهغه (بچي یې حرام کړي دي) چي مشتمل دي پري رحمونه ددې دواړو ښځو) دغه خبره یې دتوبیخ اوترټني لپاره مکرره راوړه ابوالسعودوایي چي مراد دلته ددې خبرې انکار دی چي الله دي دغه څلورډوله حرام کړي دي اوپدې هکله ددوي دډروغو څرګندونه ده ځکه دوي به کله نارینه چارپایان حرام ګڼل اوکله به یې ښځینه کله به یې دهغوي اولادونه حرام ګڼل ([1]) ﴿ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَا ﴾ ایاوی تاسي حاضران کله چي وصیت (حکم) کاووالله تاسی ته پدي شیانو (دتحریم)؟دغه دزیات توبیخ لپاره راوړل شوي اودتهکم په توګه راغلي دی ﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ نوڅوک دي ډیرظالم؟(یعني نشته لوي ظالم) له هغه چاچي تړی پرالله باندي دروغ (تحریم دحلالو) دپاره ددې چي ګمراه کړي خلک بی له علمه (دلیل اوبرهان څخه!) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ بیشکه الله نه کوي هدایت قوم ظالمانوته (په عامه توګه ګردوظالمانو ته) بیاالله خپل پیغمبرته امرکوي چي دوي ته هغه چي الله حرام کړي بیان کړي فرمایي: ﴿ قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ ﴾ ووایه (ای محمده دوي ته) چي نه مومم زه په هغه کنبې چي وحی شوي ده ماته (تراوسه) یوشئ حرام کړي شو ي پرکوم خوړونکی چي خوري هغه مګرکه وي داشئ مرداره یاوینه بهیدونکی یاغوښه دخنزیرنوبیشکه دغه خنزیرپلیت دي) یعنی ای محمده دمکي کفاروته ووایه چي زه په قرآني وحی کنبې په هیڅ انسان باندي حرام څیزنه مومم مګرهغه چي مرداره وي یابهیدلي وینه اویادخنزیرغوښه وي ځکه چي خنزیر مردار اومردارخوړونکي دي ﴿ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ﴾ یاناجائزه ذبیحه چي وي ورباندي بی دالله (له نامه) غږکړي شوی وي (په وخت دذبحي کنبې) لکه دبتانوپه نوم چي حلاله شوي وي اودالکه چي (ګواګی) پخپله فسق وي ځکه دبتانو نومورباندي یادشوي دي ﴿ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (بیاکه څوک (له لوږي) بی اختیاره شی په دغه حال چي نه وي ظالم اونه تیریدونکی نوبیشکه رب ستالوي بښونکی نهایت مهربان د ي) یعني که چیري څوک داضطراراوضرورت په وخت کنبې دغه محرمات وخوري خونه یې دتلذذ اوخونداخیستلو قصدوي چي بی له ضرورته یې خوری اونه هم ترضرورت زیات (هغه چي هلاکت څني منعه کوي) خوري نوپه ده ګناه نشته اوالله.لوي بښونکي اوزیات مهربان د ي ﴿ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ﴾ اوپرهغوکسانو باندي چي یهودان دي حرام کړي وو مونږ هرنوک داره ابن عباس (رض) وایي چي دغه لکه اوښان،شترمرغ،مرغابی دي هغه چي پراخی ګوتي نلري ﴿ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ

[1]-ابوالسعود ۲/۱۴۲.

وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ ﴾ اوغوايانواوله ميږوحرام كړى وو مونږپردوي باندي وازدي ددوی دواړو ﴿ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلْحَوَايَآ ﴾ مګرهغه وازده چي باركړي وه شاګانوددوي دواړو يا كولمو باندي به وه ﴿ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍۚ ﴾ ياهغه وازده چي لګيدلى به وه له هډوكي سره (لكه د پښتورګي وازده) يعني دغه وازدي ټولي دوي ته رواد ي ﴿ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴾ (داتحريم ددي شيانو)جزاوركړي وه مونږدوي ته (په هغه سره)په سبب دظلم ددوي اوبيشكه مونږ خامخا رښتياويونكي يو) يعني دغه تحريم ددوي دظلم اودښمني په سبب وو چي پخوابه دوي نبيان وژل اودسود خوړل اوپه ناروا توګه دخلكومالونه به يې وړل اومونږ پدي كيسه كولو كښي رښتياويونكي يو پدي كښې دي خبري ته تعريض دي چي هغه څوك چي حلال حرام ګڼي دروغجن دي اودغه دروغجنان يهودان دي ﴿ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ ﴾ نوكه نسبت ددرغوكړدوي تاته (پدغه وحي كښې) نووايه (اى محمده دوي ته) چي رب ستاسى څښتن درحمت پراخ دي ،چي تاسوته ژرترژره په عذاب سره سزانه دركوي سره له دي چي سخت مجرمان ياست په البحرالمحيط كښې وايى چي ددې مثال داسي دي لكه چي ته يوستر معصيت اوګناهويني خوبياهم وايي چي الله څومره دزيات حلم خاوند دي ستامطلب داوي چي څومره زيات حلم لري چي ګناه ګاريې پري اېښي دي له دي وروسته ئې په رحمت پسي سخت وعيد ذكركړ ﴿ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ (اونه ګرځاوه شي عذاب دالله له قومه ګنهګارانو) يعنى دالله په پراخ رحمت مه مغروره كيږي دالله عذاب له ګنهګارانوڅخه نه ګرزي (پدي امهال سره)بلكه هغه له رحمت سره سره دسختونيولو (بطش) خاوندهم دي پدي آيت شريف ترغيب اوترهيب دواړه راوړل شوي ترڅوګنهكارله رحمته دالله ﷻ ناهيلي نشي اونه هم ګنهګار دالله ﷻ په حلم باندي مغرورشي ﴿ سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَيْءٍۚ ﴾ ژربه ووايي هغه كسان چي شرك يې كړي دي كه اراده فرمايلي وي الله نوشرك به نه ووغوره كړي مونږاونه پلرونوزمونږ اونه به حرام كړى وو مونږ هيڅ شي ،دوي داسي انګيري چي ددوي شركۡ اوحراموول دشيانو دالله ﷻ په اراده شوي دي كه الله ﷻ غوښتي واي چي دوى دى هسي نه كوي نودوي به نه ووكړي ګواكي دوى دالله ﷻ اراده خپل دليل ګڼى لكه چي يوڅوك په ګناه كښې اخته وي اوڅوك ورته ووايي چي داكارمه كوه نوګنهكارورته وايي چي دغه زماڵپاره تقديرليكلي د ي نوهيڅكله څني تښتيدلاي اوخلاصيدلاى نشم خودغه دليل هيڅ ګټه نلري څكه دوي مكلف دي چي ښه كارونه وكړي اوله بدوڅخه ځانونه وژغوري خودغه جبريه آند دي چي ناپوهان بله لاره نلري وربا ندى آستدلال كوي كوم چي الله تعالى ددوي په ردكښې فرمايي: ﴿ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأْسَنَاۗ ﴾ لكه همدغه (مكذبان) نسبت ددروغوكړي وو هغوكسانو (دامتونو)چي پخواله دوي څني ووترهغه پوري چي وڅكل دوي زمونږعذاب ﴿ قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآۖ ﴾ (ووايه (اى محمده دوي ته)اياتاسي سره څه علمى سند شته چي مونږته هغه راوباسئ) دلته استفهام انكاري اومراد ورڅخه تهكم دي.

﴿إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ﴾ پیروي نه کوی تاسي (دهیڅ شي) مګردتش ګومان (اټکل) او نه یې تاسی مګرخودروغ وایي (په الله) ﴿قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ ووایه (دوي ته ای محمده اکه تاسي سره څه دلیل نه وي) نو الله لره دي کامل دلیل (څرګنداوقناعت ورکونکی) نو که اراده فرمایلی وي(الله دهدایت ستاسی نو) خامخا هدایت به یې فرمایلي ووتاسي ټولوته ، خوالله تعالی اختیارخلکوته پرې ایښي د ي چي ایمان راوړي اوکه کفر غوره کوي ؟ خوچي تکلیف بشپړشي ﴿وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ (الكهف: ٢٩) ﴿قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا﴾ (ووایه اې محمده دوي ته !) راولي شاهدان خپل هغوي چي شاهدي ورکوي دوي (پدي) چي بیشکه الله حرام کړي دي داشیان چي بحیره ،سائبه اونوردي ﴿فَإِن شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ﴾ (نوکه شاهدي ورکړه دوي نوته شاهدي مه وایه له دوي سره) یعني که چیری بیاهم دغه شاهدان حاضرشول په دروغویي شاهدی ولوستله نوته ددوي شان شاهدي مه وایه اوددوي په ګواهی تصدیق اوباورمه کوه ځکه هغه خالص سوچه دروغ دي ﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ﴾ اومه کوه متابعت دارزوګانودهغوکسانوچي نسبت ددروغو کوی آیتونو زمونږ ته اودهغو کسانوچي نه راوړي ایمان په اخرت باندي﴿وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ﴾ حال داچي دوی له ربه خپله سره برابروي (نورشیان په عبادت کښې یعني دبتانو عبادت کوي

بلاغت:

۱:(حَمُولَةً وَفَرْشًا) ددې دوو کلموتوترمینځ دطباق صنعت دی ځکه حمولة هغه لویان چي باروړلاي شی اوفرشاهغه کوچني چي ځمکي ته نژدي اولکه فرش غوندی د ي

۲:داکلام چي فرمایي (خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ) له باریکو استعاراتوڅخه دی اودغه ترټولو خوراابلغ تحذیراوویرونه ده چي دشیطان له ملګرتیا ځانونه وژغوري([1])

۳:(غَفُورٌ رَّحِيمٌ) دواړه دمبالغي صیغي دی چي خورابښونکی اوزیات مهربان یې معناوی د ي

۴:په البحرالمحیط کښې وایي چي دغه جملې چي فرمایي(رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ) لومړي یې جمله اسمیه ده ځکه هغه ترفعلیه جملې په اخبارکولوکښې ابلغ اوزیاته اغیزمنه ده اودالله ﷻ دپراخ رحمت سره مناسبه ده اودوهمه جمله فعلیه ده چي فرمایي (وَلَا يُرَدُّ) ددې لپاره چي له دواړو صفتونو څخه اخبار یورنګه برابرونشي ځکه درحمت دروازه خورا پراخه ده[2]

---

[1] تلخیص البیان ص۱۱.

[2] -البحر المحیط۴/۲۴۶.

فائده او نکته:

پدي کلام دالله تعالى کښې چي فرمايي: (قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا) دې خبرې ته اشاره ده چي تحريم په وحي سره معلوميږي دا يوازي دهواهوس مارينې (غوښتني) نه دي او داچي الله ﷻ داحکامو شارع اورسول الله دهغه مبلغ او پيغام رسونکی دی لکه چي الله تعالى وايي: ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴿٤﴾ ﴾ النجم: ٣ ـ ٤

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ قُلْ تَعَالَوْا۟ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ۖ أَلَّا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۖ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۖ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَإِذَا قُلْتُمْ فَٱعْدِلُوا۟ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ وَبِعَهْدِ ٱللَّهِ أَوْفُوا۟ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ أَن تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلْكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوْ تَقُولُوا۟ لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِى ٱلَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِى شَىْءٍ ۚ إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ إِنَّنِى هَدَىٰنِى رَبِّىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِى وَنُسُكِى وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِى لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ ٱلْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿١٦٥﴾ ﴾

الأنعام: ١٥١ ـ ١٦٥.

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله ﷻ هغه دکفاروپه افتراء حرام شوی توکی بیان کړل وروسته یې هغه چې الله ﷻ له غلو،دانو،میوواوحیواناتوڅخه حلال ګرزولي راوړل نودلته الله پاک هغه څه ذکر کوي چې په حقیقي توګه حرام اوضرررسونکی زیانمن شیان دي او دغه لس ګوني وصیتونه یې راوړل چې دبشریت نیکمرغي وړپوري تړلي اوګرد اسماني شرائع وربانديمتفق دي.

لغتونه:

(أَتْلُ) ولولم او کیسه یې درته وکړم (إِمْلَٰقٍ) فقرچي (أملق الرجل) کله چي ناوسي اومسکین شی (أَشُدَّهُۥ) قوت ته ویل کیږي اوداهغه دنکاح اوبلوغ وخت دی (أشدّ) دجمعي صیغه ده چي واحدنه نلري (بِٱلْقِسْطِ) په عدل سره چي نقصان پکښي نه وي (ٱلسُّبُلَ) دسبیل جمع اوهغه لاري ته وایي (شِيَعًا) دشیعه جمع اوتولی فرقوته وایي څوک چي دخپل مذهب لپاره یوموټي کیږي (قِيَمًا) مستقیم اوسم چي کږوالي پکښی نه وي (وَنُسُكِى) (نسک) د(نسیکة) جمع دي او(ذبیحي) ته وایي زجاج وایي چي معنایې (عبادت زما) دي اوله دي څخه ناسک هم اخیستل شوي هغه چي الله ﷻ ته په عبادت نزدیوالی کوي[1]

تفسیر:

﴿قُلْ تَعَالَوْا۟ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ﴾ (ورته ووایه ای محمده !دوی ته) راشي چي زه ولولم (درواوروم) هغه چي حرام کړي د ي رب ستاسی پرتاسي) په یقیني توګه نه په تخمین،اوګومان باندي ﴿أَلَّا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا﴾ چي شریکان مه نیسي تاسي له دغه (الله) سره هیڅ شئ ﴿وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا﴾ (اونیکي کوی) تاسي له موراوپلارسره) دغه هم دمحرماتوپه کتار کښې یادکړل څکه (أمر) په یوشي باندي (نهي) له ضدهغه څخه وي ګواکي چي ویلي یې د ي چي له موراوپلارسره بدچلندمکوي ابوالسعود وایي چي پدي کښې داراز نغښتي دي چي زیاته مبالغه اوپدي دلالت وکړي چي دبدسلوک پرېښودل دموراوپلار دحقوقوپرځاي کولوکښې بسنه (کفایت) نکوي[2] ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ﴾ اومه وژني تاسی اولادخپل له (ویري د) فقر(خواري) نه ابن جوزی (رح) وایي چي مراد څني هغه دلونو ژوند ي خښنول دي چي دو ي دغه کاردلوږي اوخواري له ویري کاوو[3] ﴿نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ﴾ (مونږ روزي درکووتاسي ته اوهم دوي ته) څکه الله دبندګانورازق (روزی رسان) دي ﴿وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾ (اومه نژدي کیږی بی حیایی ناکاره کارونوته هغه چي ښکاره وي له دوي اوهغه چي پټ وي) یعني منکراتو کبائروته هغه که پټ وي که ښکاره مه نژدي کیږي!.

[1] -تفسیرالقرطبی ۱۵۲/۷.
[2] -ابوالسعود ۱۴۶/۲.
[3] -زادالمسیر ۱۴۸/۳.

ابن عباس (رض) واي چي دوي به په جاهليت كښې دزناكولو څه باك نه درلود چي په پټه ترسره شي خوكله چي به چاښكاره زناكوله نوهغه به يې بده ګڼله الله پاك دواړه ډوله حرام وګرزول (١) ﴿ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ اومه وژني تاسي نفس هغه چي حرام كړى دي الله (وژل يې) مګر(وژني يې) په حقه سره چي موجب يې وي اوددې تفسير درسول الله صلى الله عليه وسلم قول داسي كوي (ديومسلمان وينه تويول چاته روانه دي مګرپه يوله دي دريوحالتونوكښې يوهغه واده لرونكي چي زناوكړي بل په قصاص باندى ديوچاوژل اودريم هغه څوك چي دين يې پرې ايښي (مرتد) اوله مسلمان امت څخه بيل شوى وي) ﴿ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ (دا(څلورنهى اويو امر) حكم كړي دي الله تعالى تاسوته پدي سره لپاره ددې چي عقل (وچلوئ)تاسى،يعني دامذكور شيان هغه څه دي چي الله پاك يې تاسوته دساتلواوپرځاى كولو مارينه (حكم كوي) ښايي تاسوددې تكاليفواوحكمونوګتي په دين اودنياكښې دخپلو عقلونوپه كاراچولو سره وپيژنئ. ابوحيان (رح) وايي چي د(وصاكم) په لفظ كښې مهرباني اولطف نغښتي دى يعني دوى دالله ﷻ اوصياء جوړشول چي دغه دالله پاك داحسان څرګنده ښبه ده (٢) ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ﴾ (اومه نژدي كېږي تاسى مال ديتيم ته مګر(ورنژدي شي) په هغي طريقي سره چي هغه ډيره ښه وي ترهغه پور ي چي ورسيږي دغه يتيم قوت (ځلميتوب)خپل ته)په هيڅ ډول له ډولونو ديتيم مال ته مه ورنژدي كېږي مګر هغه ډول چي دده لپاره خوراګټوروي ترڅوچي هغه بلوغ ته رسيږي دلته منع له نژدي والي څخه ټولوتصرفاتوته ورغلي نوكله چي له نژد ي كيدلو يې منع راغله له خوړلو يې په طريقه اولى منع راغلي ده اوهغه ډول چي ديتيم لپاره خوراګټوړ وى داچي مال يې په كارواچول شي ابن عباس (رض) وايي معناداچي ديتيم لپاره داسى دښيګړي كاروكړ ي اودهغه په سبب (له شريعت اوله دودسره سم) دده له مال نه څه واخلي ﴿ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ﴾ اوپوره كوئ تاسي پيمانه اوتول په عدل سره (په راكړه وركړه كښې) ﴿ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ (نه وركوو موږ تكليف هيڅ نفس ته مګرپه اندازه دتوان دهغه)يعني موږ هيڅوك دهغه له توان څخه لوړنه مكلف كوو بيضاوي وايي معنايې داچي پداسي څه يې مكلف كوو چي په توان كښې يې وي اونه ورباند ي پيټي كېږي اودغه خبره يې دپيماني پوره كولوڅخه وروسته راوړه څكه دحق پوره وركول سخت اومشكل كاردي نويې وفرمايل چي پرتاسو باندي هغه څه دي چي ستاسو په توان اوطاقت كښې وى اوله هغه پورته نورتاسى ته عفو اوبښل شوى دي (٣) ﴿ وَإِذَا قُلْتُمْ فَٱعْدِلُوا۟ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ﴾ اوكله چي خبري كوي تاسي نوحق (رښتيا)ووايي اګركه وي (مقول له اويامقول عليه)خاوند دخپلوي يعني تاسو په حكومت اوشهادت كښې عدل كوئ كه څه هم مشهودعليه

---

١ - الطبرى ٢١٩/١٢.
٢ - البحر ٢٥٢/٤.
٣ - البيضاوى ص ١٨٤.

ستاسی له خپلو انو څخه وی ﴿ وَبِعَهْدِ ٱللَّهِ أَوْفُوا ﴾ (او د الله په عهد تاسي وفا کوي) یعنی کله چي وعده وکړي نوور باندي وفا کوی. قرطبی وايي چي دغه د ټولو هغو شيانو لپاره عام دي چي الله بندګانو ته دهغوي عهد ورکړي وی او وددې احتمال هم لري چي هغه وعدې مراد وی کوم چي د خلکو ترمينځ يې ترونونه شوي وی او د الله ﷻ ته يې ددې لپاره نسبت شوی دی ځکه هغه يې په ساتلو او وفا کولو امر کړی دی(۱) ﴿ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ دغه (اتباع دسمې لاري) حکم کړي دي (الله) تاسی ته پدې سره لپاره ددې چي پند واخلي تاسی ! ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ او (حکم کړی دی الله چه) په تحقيق چي دغه (ددې سورت ذکر شوي احکام) لاره زما ده برابره (جنت ته) نو متابعت وکړی تاسی ددغي (لاري) او مکوی متابعت د (نورو کږو) لارونو تار په تار به کړي (دغه متابعت) تاسی له لاري (سمي) د الله نه) یعنی دغه زما سم مستقيم دين چي ستاسو لپاره مې شريعت ګرزولي په هغه منګولي ولګوی او د نورو مختلفو اديانو پيروي مکوی چي کږې لاري وی نو تاسي به له سمي لاري چي دهدايت لاره ده وار وي له ابن مسعود (رض) نه روايت شوی چي يوه ورځ مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم يو خط وکيښ او بيايې وويل دغه د الله ﷻ لاردي بيايې له ښی او کيڼ لوري نور خطونه او کرښی وايستلي او ويې ويل دغه لاري دی چي په هريوه يې شيطان ولاړ دي او خلک وربولي بيايې دا آيت شريف تلاوت کړ ﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ﴾ (۲) ﴿ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ (دغه (اتباع دسمې لاري) حکم کړي دی (الله) تاسي ته پدې سره لپاره ددې چي ځان وساتی تاسي (له ګمراهي نه) توصيه يې د تاکيد لپاره مکرره راوړه یعنی ښايي چي تاسو د دوزخ له اوره ځانونه د اوامرو په امتثال او د نواهيو په اجتناب کولو وساتی. ابن عطية وايی څرنګه چي لومړنی محرمات داسی وو چي هوښيار سړي به پکښی نه لويدو نو يې په ﴿ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ تعبير و فرمايل او وروستي محرمات بيا داسی شهوات وو چي هغه څوک ورباندي اخته کيدل چي په ياد به يې نه وو نو يې تعبير په ﴿ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ راغي او په سمه لاره تلل د فضائلو فعل دي او هغه تقوی ته اړتيا لري نو ځکه يې تعبير په ﴿ تَتَّقُونَ ﴾ سره وشو(۳). ﴿ ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ ﴾ پس (له دی نودا او وری) چي ورکړي وومونږ موسی ته کتاب (تورات) د پاره دتمام (پوره کول دنعمت) پرهغه چا باندی چي نيکي کوي طبري وايي چي معنا يې داده چي ورکړي دي مونږ موسي (عليه السلام) ته کتاب لپاره دبشپړولو دنعمت زمونږ پردوي باندي چي هغه په امراونهی عمل کړ ي وو ځکه موسي (عليه السلام) ته د الله ﷻ له لوري د تورات ورکول نعمت او ستر منت (احسان) وو چي هغه پخوا ښه اعمال

۱-القرطبی ۱۳۷/۷.
۲-مختصر ابن کثير ۶۳۳/۱.
۳-البحر المحيط ۲۵۴/۴.

اوطاعت ترسره کړی وو (١) ﴿ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ او (لپاره دبیان او) تفصیل دهر (دینی) ځیز (چې بنی اسرائیل ورته اړوو) ﴿ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ ﴾ اودا (قرآن یو) کتاب دی چې نازل کړی دی مونږ هغه مبارک (برکتناک) په محمد صلی الله علیه وسلم چې خوراډیر ګټور اودیني دنیوي فوائد پکښې دي ﴿ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ نومتابعت وکړي تاسی ددغه (قرآن) اوووېرېږي (له عذابه اوځان وژغوري له مخالفته یې) لپاره ددې چې درباندی رحم وکړل شي. یعنی منګولی ولګوي پدي قرآن اودځان لپاره یې پیشوا (امام) وټاکي له دي څخه ووېرېږي چې مخالفت یې وکړي ترڅو دالله درحمت اومهربانی هیله من شی ﴿ أَن تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلْكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا ﴾ (اونازل کړی وومونږ دغه کتاب لپار ه ددې) چې و (نه) وایي (ای عربو په قیامت کښې) بیشکه خبره داده چې نازل کړی شوی ووکتاب پردوو طائفو (یهوداونصاراوو) پخواله مونږه) یعنی مونږ په دغه ستروصف موصوف کتاب چې دګردونبیګړو ددنیااواخرت راغونډونکی (جامع) دی نازل کړي ددې لپار ه چې تاسی په اخرت کښې ونه وایاست چې مونږ ته کتاب ندی راغلي چې مونږیې متابعت وکړلاي بلکه سپیځلي کتابونه خوپه یهودانو اونصاراووراناز ل شوی وو ابن جریر وایي پدغه آیت سره چې دقرآنکریم نزول په حضرت محمد صلی الله باندی نبیي الله تعالی دعربودغه دلیل غوځ کړ ﴿ وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَٰفِلِينَ ﴾ (اوبیشکه شان دادی چې وومونږ له لوستلوددوي څخه عاقلان) یعني مونږ په هغه څه نه پوهیدلوکوم چې ددوي په کتابونوکښې راغلي ووځکه هغه زمونږ په ژبه نه وو ﴿ أَوْ تَقُولُوا۟ لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ﴾ (یاچې و (نه) وایي (ای عربو په قیامت کښې) که واي مونږچې نازل کړل شوی واي پرمونږ باند ي کتاب (لکه چې پردوي نازل شوي) نوهرومروبه مونږ تردوي ښه لاره میندونکی وای) ځکه مونږ زیات ذکاوت لرواوپه عمل کولوکښې تردو ي پیاوړي یواودپیغمبر دامراوحکم ژرمننه کوو ﴿ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ﴾ (نو په تحقیق راغلي دی تاسي ته حجت ښکاره (عربی قران) له ربه ستاسی اوهدایت اورحمت) یعني تاسوته ستاسي دپیغمبر (محمدصلی الله علیه وسلم) په ژبه قرآن عظیم نازل شوی چې حلال اوحرام پکښی دي دزړه لپاره هدایت اولاربنونه اودبندګانولپاره دالله رحمت دی قرطبی وایي معناداچې عذر دمحمد ﷺ په راتلوزایل شونوغیرمقبول دی ابن عباس (رض) وایي چې له (بینة) څخه مراد حجت اوهغه نبي ﷺ اوقرآن کریم د ي ﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ نوڅوک دی زیات ظالم (یعنی نشته لوي ظالم) له هغه چاچي نسبت ددروغو کوي په آیتونو د الله ﴿ وَصَدَفَ عَنْهَا ﴾ اوڅنګ کوي له د ی آیتونو ابو السعود وایي چې معنایي داده چې خلک ځنې ګرزوي نودلته هغه دضلال اواضلال یوځای کیدل کوي (٢) ﴿ سَنَجْزِى ٱلَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْدِفُونَ ﴾ (ژربه

---

١ - الطبری ٢٣٦/١٢.

٢ - ابو السعود ١٤٩/٢.

مونږ سزاوركړو هغه كسانو ته چي خنګ كوي ګرځي دوي له ايتونو زمونږ نه سخت عذاب په سبب ددې چي دوي وو چي خنګ به يې كاوو (ګرزيدل به له حق څخه اودانبياوو به يې تكذيب كاوو) دغه ددوي لپاره وعيد دي ﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ﴾ نه كوى انتظار دوي د(هيڅ شي)مګرددې چي راشي دوى ته ملائک د(موت ياعذاب) اوداهغه وخت د ي چي بيابه توبه ايستل ورته ګټه نه رسوي ﴿أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ﴾ (ياراشي عذاب د) رب ستاياراشي ځينى دلائل (دقدرت) درب ستا) ابن عباس (رض) وايي چي معنايې داده چي راشى حكم درب ستا ددوي دوژلو اويا نورو په باب طبري وايي مراد دادي چي راشي رب ستا دقيامت په تم ځاى كښې ترڅو دخلكو ترمنح جلا والي وكړي اوياراشي ځيني دلائل دقدرت درب ستا چي دلمرراختل دى له لويديزڅخه (١) ﴿يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا﴾ (په هغه ورځ كښې چي راشي ځيني دلائل دقدرت درب ستانه به رسوي ګټه هيچاته ايمان راوړل دده چي ايمان يې پخوانه وي راوړي يانه وي چي كسب كړى يې وي په ايمان خپل كښې څه خير(نيكى) يعني كله چي دقيامت څه نښې څرګندې شي نوكافران چي په دغه وخت كښې ايمان راوړي نه به ځني منل كيږي اونه به دهغه چاڅخه چي هيڅ نيكى يې نه وى كړ ي توبه ومنلى شئ طبري وايي معنايي داچي دمشركانوايمان راوړل به له دغه آيت راتلووروسته ورته ګټه نه رسوى اوداپه سبب ددې چي په دوي باندي به دالله ﷻ دامر سترهيبت خپوروي ددوى دايمان حكم ګواكى داسى دى لكه چي دوى دقيامت په ورځ ايمان راوړي (٢) اوپه حديث شريف كښې راځي چي :ترهغو قيامت نه راځي څوچي لمرله مغرب څخه راوخيژي اوكله چي لمرله لويديزڅخه راپورته شي اوخلک يې ووينې ګرد(ټول) خلک به ايمان راوړي خوداهغه وخت دي چي هيچاته دهغه ايمان ګټه نه رسوي چي پخواتردې بي ايمان راوړ ي نه وي (٣) ﴿قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ﴾ (ووايه (اى محمده) دوى ته چي انتظار كوي تاسي بيشكه مونږهم انتظار كونكى يو) دغه دتهديد اووعيدامر دي ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا﴾ بيشكه هغه كسان چي تارپه تاركړ ي يې دي دين خپل اوشول دوي فرقي فرقي ابن عباس (رض) وايي چي دغه يهود اونصارادي چي دابراهيم حنيف دين يې ټوټي ټوټي كړى د ي﴿لَّسْتَ مِنْهُمْ فِى شَىْءٍ﴾ نه يې ته له دوى نه په هيڅ شي كښې (يعنى ته له دوي څخه برئ يې) ﴿إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ﴾ بيشكه هم داخبره ده چي امر(كار) ددوي (سپارلى شو يدي)الله ته ،ددوي جزااوعقاب به الله وركوى ﴿ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ﴾ (بيابه خبركړى (الله)دوي په هغه چي وودوى چي كول به يې) يعنى ددوي په بدو افعالوبه يې اګاه كړي طبري وايي په اخرت كښې به ددوى دتيرو كړووړو خبر وركول

---

١ -الطبرى ١٢/٢٤٥.
٢ -الطبرى ١٢/٢٦٦.
٣ -اخرجه البخارى .

شي اوجزابه ورباندي ورکړي (١) ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ هرهغه چي راتګ يې وکړپه يوه نيکي نوده ته به (جزاءد) لسو(نيکيو په)مثل دهغي(نيکي ورکول شي) يعنی څوک چي دقيامت په ورځ يوه نيکي راوړي دهغي په مثل دلسوجزاء به مومی اودغه دالله دفضل اوکرم له کبله اوداترټولو لږجزاده څکه دنيکی کله کله تراووه سوو پوري بدل ورکول کېږي اوترد ي لاهم زيات ﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ﴾ اوهرڅوک چي په بدي راتله وکړي نوسزانشي ورکولی (ده ته) مګرپه مثل دهمغي (بدی) ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ اوپه دوي به ظلم ونکړ ی شي يعنی ددوي له جزا څخه به هيڅ هم کم نشي په قدسي حديث شريف کښې راځي چي :الله ﷻفرمايي څوک چي يوه نيکي راوړي هغه ته دلسونيکيو يازيات ثواب ورکـــوم , اوڅوک چي يوه بدی راوړي دهغي يوي سزابه ورکـــوم ,اويابه يې ورته بښم (٢) نوپه نيکيوکښې زياتوالی دالله دفضل اومهرباني له کبله دی اوبدي چي په مثل بدل ورکول کېږي دغه دعدل له سببه ده ﴿ قُلْ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ ووايه (ای محمده دغو مکذبانوته)بيشکه ماته هدايت کړی دی رب زما لاري سمی برابري ته اودين حق ته چي ابراهيمي دين دی ﴿ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ﴾ (دين صحيح برابرملت (دين)دابراهيم حال داچي حنيف (مائل له باطل وحق ته) ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ (اونه وو له مشرکانو)يعني حضرت ابراهيم مشرک نه وواوپدي کښې دغي خبري ته تعريض دي چي څوک له اسلامه مخالفت وکړي نوهغه مشرک دي څکه له ابراهيمي دين څخه ووت ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِى ﴾ ووايه (ای محمده دوي ته)چي بيشکه لمونځ زما(هغه چي ز ه يې خپل رب ته ګذارم) ﴿ وَنُسُكِى ﴾ اوقربانی (ذبح) زما(٣) ﴿ وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِى ﴾ ژوندون زمااومرګ زما(اوهغه چي زه يې په دغه ژوند کښې له نيکواعمالوترسره کوم ﴿ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ خاص الله لره دي چي پالونکی دټولو عالميانودی (نه دهغه چالپاره چي تاسوورسره شريکان نيولی دي) ﴿ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ﴾ نشته هيڅ شريک ده لره ﴿ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ ﴾ اوپه همدي(اخلاص دعبادت الله ته)حکم کړي شوي دي مالره ﴿ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ اوزه اول دمسلمانانو(الله ته غاړي ايښودونکو)څخه يم ﴿ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا ﴾ ووايه (ای محمده دوي ته)ايابي له الله غواړم زه بل رب ؟(پالونکی بلکه نه يې غواړم) دغه تقرير اودکفارو لپاره توبيخ دي اوسبب يې دادي چي دوی رسول اللهﷺ ته بلنه ورکړه چي ددوي دخدايانو عبادت وکړي ﴿ وَهُوَ رَبُّ كُلِّ

---

١ –الطبری ۱۲/ ۲۷۴.

٢ –رواه مسلم .

٣ –دغه دابن عباس اومجاهد قول دي اوطبری غوره کړي ځينی مفسرين بياوايي چي له نسک څخه عبادت مراددی لومړي قول راجح دي .

شَيْءٍ ﴾ حال داچي دي (پالونکی) د هرځيز دي يعني هغه د هرشي خالق او مالک دي نوځنګه ښايي چي زه بل رب وغواړم؟ ﴿ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ﴾ او کسب نه کوي د (بدی) هيڅ يو نفس مګر (ضرريې دي) په (ذمه د) ده ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ او نه باروي هيڅ نفس ګنهګار ګناه د بل نفس (بلکه هرڅوک خپل باروړي) ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴾ (بيا خاص طرف د رب ستاسی ته بيرته ورتلل ستاسی دي (په قيامت کښې) نو خبر به کړي تاسي په هغه شي چي وی تاسي چي په هغه کښې به مواختلاف کاوو) دغه وعيد او تهديد دي يعنی ستاسو مرجع په ورځ د قيامت کښې الله ﷻ ته دي هلته به تاسو ته د خپلو اعمالو سره سم جزا درکړل شي او نيکوکار به موله بدکار څخه بيل شي ﴿ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ الْأَرْضِ ﴾ (او دغه (الله) هغه ذات دي چي ګرځولی يې تاسی خليفه ګان د ځمکي) يعني الله پاک تاسو د پخوانيو امتونو خليفه ګان ګرزولي ياست چي تاسو ځيني د ځينو نورو اخلاف ياست طبری وايي معنا يي داده چي تاسو می د پخوانيو هلاک شوي امتونو خليفه ګان کړی ياست چي په ځمکه کښې د دوي خلافت ترسره کړي[1] ﴿ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ ﴾ او پورته کړي يې ځيني ستاسی د پاسه پرځينو نورو په درجو مرتبو کښې يعني ستاسو احوال يې مختلف کړي دي په بډايي او فقر، علم او جهل ،قوت او ضعف او نورو کښې چي بندګان سره متفاوت وي ﴿ لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمْ ﴾ د پاره د دې چي تاسي وازمويي په هغو (حکمونو) کښې چي تاسي ته يې درکړی دی ابن الجوزي وايي ترڅو تاسي وازمويي په شکر کولو د نعمتونو او هغه څه له تاسو څرګند شي چي عذاب او ثواب وربانديې ورکول کيږي[2] ﴿ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴾ بيشکه رب ستا ډير ژر دي عذاب (دده په هغه چاچي نافرماني يې کوي) او بيشکه الله دي ښه بخښونکی (د بندګانو) ډير رحم والا دي (په هغوی) په تسهيل نومي کتاب کښې وايي چي دلته يې د خوف او رجاء ترمينځ اجتماع وکړه او مراد له ژر عذاب څخه يا خو په دنيا کښې مراد دي چي ژر به يې ونيسي او يا په آخرت کښې چي هغه راتلونکي دي او هر راتلونکي نژدي دي[3].

بلاغت:

١: (وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ) دلته (سبل) يعني لاري له بدعتونو او ګمراهيو څخه چي منحرف مذاهب دي عبارت او استعاره شوي دي.

٢: په دې کلام کښې چي فرمايي (لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا) تنکير د عموم او شمول د افادي لپاره راغلي دي.

٣: (وَبِعَهْدِ اللَّهِ) دلته اضافت د تشريف او تعظيم لپاره دي.

---

[1] - الطبری ١٢/ ٢٨٧.
[2] - زاد المسير ٣/ ١٦٣.
[3] - التسهيل ٢/ ٢٨.

۴:پدي جمله کښې چي فرمايي:(يَصۡدِفُونَ عَنۡ ءَايَٰتِنَا) د ظاهر راتلل د ضمير په ځای کښې (عنها) د دې لپاره دي چي د دوی د طغيان او سرغړوني بدي په ډاګه شي.

۵:پدي کلام کښې چي (قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ) دی امر د تهديد او وعيد لپاره د ي.

۶:(لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا) د آيت تر پايه د غه کلام د بيان د علم په هغه صنعت چي (لف) بې بولي مشتمل دی او اصلی کلام داسی ده چي:(يوم ياتى بعض آيات ربک لاينفع نفسالم تکن مومنة قبلُ ايمانابعد،ولانفسالم تکسب لى ايمانها خيراقبل ما تکسبه من الخيربعد) خو د غه کلام پداسي ډول نغاړل شوی چي دواړه خبري يو ه جوړه[1] شوی او د غه اختصار قرآني اعجاز او بلاغت ښيي دا افاده دانتصاف مؤلف راوړي ده.

۷:د دې کلماتو ترمينځ چي (ظهر) او (بطن) او (حسنة) او (سيئة) د طباق صنعت دی او د غه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۸ :(وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ) شريف رضی وايي چي په حقيقت کښې خو په شاګانو باندي بارول نشته خو د غه د ګناهونو استعاره شوي چي لطيفه استعاره ورته ويلاي شو[2].

فايده:

الله تعالی فرمايلی چي (سبيله)واحد ذکر کوي څکه حق يو دي او (السبل)يې څکه جمع راوړي دي چي د ګمراهيو لاري ډيري او څانګي څانګي دي.

تنبيه:

حافظ ابن کثير وايي چي په قرانکريم کښې ډيرځله الله ﷻ د وه صفتونه سره څنګ په څنګ راوړي چي (إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمُۢ) لکه د الله ﷻ دا قول چي وايي: ﴿ نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٤٩ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ۝٥٠ ﴾﴿الحجر: ۴۹ - ۵۰﴾ او د غه رنګه نورايتونه چي په ترهيب او ترغيب مشتمل وی کله کله بندګان د ځان لوري ته بولي جنتونه ورپه يادوي او نعمتونه چي ورسره دی ورښيئ او کله کله بيايې ويروي اور ،عذابونه او تکاليف ورته يادوي قيامت ته يې متوجه کوي کله کله بيا دواړه يوځای راوړی چي له دواړو سم په اندازه سره ګډه واخلي.

د الله ﷻ په مرسته د الانعام سورت تفسير بشپړ شو وله الحمد والمنة

***

[1] - حاشيه الکشاف ۲/ ۶۴.

[2] - تلخيص البيان ص۴۰.

دالاعراف سورت مکي اودوه سوه شپیته آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالاعراف سورت دمکي سورتونوله خورااوږدوسورتوڅخه یودي اودالومړني سورت دي چي دانبیاءعلیهم السلام کیسي په تفصیل سره وړاندي کوي اودنده یې دنورومکي سورتونوپه شان ده چي داسلامي دعوت بنسټونه ایږدي دالله ﷻ توحیدبیانوي دبعث اوجزاخبري کوی اودوحي اورسالت تقریر راوړي.

*سورت په لومړي پیل کښې قرآنکریم ته دتلپاتي معجزي وایي اوپدي ټینګارکوی چي دغه قرآن درحمان اومهربان الله په ټول بشریت باندي یونعمت دی نوپردوی لازمه ده چي دهغه لاربښوني اوهدایات عملي کړی ترڅو دداړینو نیکمرغي یې په برخه شي.

*اوددوي نظردې ته راجلبوي چي هغوی له یوه پلاره پیدا اودالله هغه تکریم چي دغه انساني نوعی ته یې وربښلی ددوي دپلارپه هکله څرګند وی چې پرښتوته یې حکم وکړهغه ته سجده ولګوي وروسته یې دشیطان له چل اودوکي خبروي اوویروي چي هغه څرنګه دخلکوپه لارکښې تیارناست دي چي له سمی لاري څخه یې کږي ته بوزي اوله خپل خالق څخه یې لیري کړي

*په تحقیق سره چي الله دادم (علیه السلام) کیسه له ابلیس سره اودهغه راوتل له جنت نه اوځمکی ته راکوزیدل یې یاد کړي اولکه چي دخیراوشر، حق اوباطل ترمینځ جګړي ته یې پکښې اشاره فرمایلي وی اودابلیس لعین هغه چل ول چي دادم داولاد لپاره یې په کاروی بیان کړی نودالامل دي چي الله پاک دآدم زامنوته وروسته له دي چي دابلیس دښمني یې ددوي له پلاره سره ورته بیان کړی څلور ځلی پرله پسی غږکوی اودادم په زامنویې ستایي چي :(یابنی آدم) اوداسورت هغه ځانګړي نداوغږدي چي انسانان له خپل هغه دښمن څخه ویروي کوم چي له پیله یې دښمني ورسره درلوده اوددوي پلار آدم ته یې وسوسه وراچولي وه ترڅویې وښویاوو اودالله ﷻ دحکم په مخالف کښې یې وغورځاووفرمایي: ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ ﴾ (الأعراف: ۲۷)

* لکه چي سورت دقیامت دورځي له مشاهدوڅخه یومشهدراوړي اوهغه دهغودریو ډلو ترمینځ محاوره اومناظره ده چي یوه یې دمومنانوډله جنتیان اوبله یې دکافرانوډله چي دوزخیان دي دریمه یې هغه ډله چي په ټول قرآن کریم کښې یې بل ځای یادونه نده شوي مګر په دغه سورت کی اوداهغه کسان دی چي داعراف خاوندان بلل شوی دی اوپدغه نامه باندي سورت هم نومول شوی دی داهسي مشهددي چي ارومرو به یې دقیامت په ورځي خلک په حقیقي توګه ووینی نه به تمثیل اونه به هم خیال وي پدي کښې به دجنتیانو هغه دحق دپلویانوشماتت چي په مبطلانوکافرانویې سخي پخي شي ولیدل شي هلته به له پاسه په دغودباطل پلویانوباندی دلعنت اوله رحمت څخه دشړلو غږوشي پداسي حال کښې چي دحق دپلویانواودباطل دپلویانوترمینځ به یوه پرده وغوړل شوي اوپه هغه باندي به خلک ولاړوی چي

ټول به په ټنډو (وچولیو) باندي پيژندل کیږي د جنت خاوندان به په ښکلي مخونو او ښائسته څيرو پيژندل کيږي دوزخيان به بيا په تورو مخونو او کرکجنو څيرو.

* په سورت کښې د انبیاوو علیهم السلام کيسى په ښه تفصيل سره راغلي چي په هغه کښې د نوح (ع)، هود، صالح، لوط، شعيب او موسى علیهم السلام کيسې راځي پيل يې په شيخ الانبياء حضرت نوح عليه السلام شوي چي له خپله تېره يې ډيري ناخوالى، سرغړوني، انکار او تکذيب ليدلي دي او په تفصيل سره يې د کليم الله موسى عليه السلام کيسه راوړي چي له سرکښ فرعون سره يې مقابله وه او همداسى له بنى اسرائيلو څخه غربيږي چي څومره ربړونه او سختي يې وليدي او بيا په امن او سوکالي کښې غوپه شول او څرنګه کله چي يې د الله ﷻ د نعمتونو کفران پيل کړ او له حکم څخه يې سرغړونه او مخالفت وکړ الله پاک دوى په خنزيرانو او بيزوګانو مسخ او واړول.

* سورت همدارنګه د علماء سوء هغه شرمونکى مثال راوړى چي په قباحت او بدي کښې تر هم دي زيات يې خيال هم تصورنشي کولاي لکه هغه سپي چي اوږده ژبه يې را ايستلي وي او په ختو کښې رغړي ﴿ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ ۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ﴾ (الأعراف: ۱۷۶) او دا په الله قسم چي خورا شرمونکى د هغه چا لپاره انځور دي چي الله پاک ورته د علم ګټور نعمت ورکړي وي خو هغه د دنياوي امورو او فاني لذاتو څخه قربان کړ ي او د ده لپاره وبال شي هغه پدغه نفع وانخلي د ايمان لاره ونه نيسى او له نعمت څخه ګوښي او بربنډ شوي د شيطان پلوي غوره کړي او له سرغړونکو څخه وګڼل شي.

* په پاي کښې سورت شريف د توحيد اثبات کوي په هغه چا باندي تهکم کوى څوک چي د هغه څه عبادت کو ي چي نه ګټه رسوي او نه هم ضرر، نه ويني او نه اوري هغه ډبرې او بتان دي خو دوي له الله (ﷻ) سره په عبادت کښې شريکان نيولي و ي دوي يوازي الله پاک پنځولي (پيدا کړي) او د دوي د ناستي ملاستي ځاى ورته معلوم دي همداسي د سورت پاى هم په توحيد راغلى لکه چي پيل يې شوي وو نو د الله وحدانيت ته بلنه ګواکى د سورت پيل او پاي ده.

تسميه او نوموليې:

دغه سورت ته (الأعراف) سورت ځکه وايي چي د أعراف نوم پکښې راغلي او هغه ديوال دى چي د جنت او دوزخ ترمينځ وهل شوي چي دواړه ډلي سره بېل کړي ابن جرير (رح) له حذيفة څخه يو روايت راوړي چي له هغه څخه وپوښتل شول چي په اعراف کښې به څوک وي؟ هغه ويل دا هغه کسان دي چي نيکى او بدى يې سره برابري شوى د دوي سيئاتو هغوي له جنت څخه راګرزولي او همدارنګه نيکي يې دوزخ ته غورځولو ته نه پريږدى نو همدلته په دغه ديوال باندي ولاړ وي ترڅو چي الله پاک د دوي په هکله فيصله وکړي.

الله تعالى فرمايي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ المص ﴿١﴾ كِتَابٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنذِرَ بِهِ وَذِكْرَىٰ
لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ وَكَم مِّن قَرْيَةٍ
أَهْلَكْنَاهَا فَجَاءَهَا بَأْسُنَا بَيَاتًا أَوْ هُمْ قَائِلُونَ ﴿٤﴾ فَمَا كَانَ دَعْوَاهُمْ إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا إِلَّا أَن قَالُوا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ
﴿٥﴾ فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْأَلَنَّ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ ۖ وَمَا كُنَّا غَائِبِينَ ﴿٧﴾ وَالْوَزْنُ
يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُم
بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾ وَلَقَدْ
خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا
مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ۖ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا
فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ
صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ
اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾ وَيَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ
شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٩﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُورِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْآتِهِمَا وَقَالَ
مَا نَهَاكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّا أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ
﴿٢١﴾ فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ ۖ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ
أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا
لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا
تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾ يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ
خَيْرٌ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ يَا بَنِي آدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ
يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا ۗ إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۗ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا
يُؤْمِنُونَ ﴿٢٧﴾ وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى
اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ۖ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ

كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾ فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ ۗ إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ اللَّهِ
وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ الأعراف: ١ ـ ٣٠

لغتونه:

﴿ حَرَجٌ ﴾ تنګسیا ته ویل کېږي (حرج المكان او الصدر) کله چي تنګ شي ځای او یا سینه ﴿ بَيَٰتًا ﴾ راغب وايي چي (بيات) او (تبييت) په شپه کي په دښمن پسي تللو ته وايي.[1] ﴿ قَآئِلُونَ ﴾ له قیلولة څخه اخیستل شوی او دورځي په نیمایي کي خوب ته وايي لکه چي (قائلة) غرمې ته وايي. ﴿ مَذْءُومًا ﴾ د مذموم په معني او بد ته وايي ﴿ مَّدْحُورًا ﴾ شړل شوی ﴿ سَوْءَٰتِهِمَا ﴾ سوأة عورت او شرمګاه ته ویلی شي ځکه یې سوأة بولي چي انسان یې ښکاره کېدل بد ګڼي ﴿ وَطَفِقَا ﴾ شروع یې وکړه دواړو ﴿ يَخْصِفَانِ ﴾ چي نښلولي یو پر بل ایښودلې یې (ريشًا) هغه جامې چي تاسي ورباندي تجمل او سینګار کوئ د (ريش) د لغت مال او جمال معناده او له دې څخه (ريش الطير) هم اخیستل شوی ځکه په هغه یې زینت او ښکلا وي (قبيله) لښکریان یې (قبيل) په اصل کي ټولی ته وايي هغه که له یوه ټبره وي او که له جلاجلا نه (فاحشة) هغه شي ته وايي چي په بدوالي کي انتها ته رسېدلی وي او دلته ورڅخه مراد په کعبه شريفه باندي بربنډ طواف کول دي هر ناکاره فعل ته فاحشه ویل کېږي ځکه نو فحشاء سختو ګناهونو ته ویل کېږي لکه چي زنا فاحشة بلل شوي ده.

تفسير:

﴿ الٓمٓصٓ ﴾ د البقرة د سورت په پیل کي له مقطعاتو حروفو څخه بیان وشو او داچي حکمت له راوړلو څخه یې د قرآن کریم د اعجاز څرګندونه ده پدې اشاره سره چي قرآنکریم له همداسي حروفو څخه جوړ دی خوله دې سره سره نو میالي پوهان او د بلاغت او فصاحت د ډګر اتلان له داسي کلام راوړلو څخه عاجز دي له ابن عباس رضى الله عنهما څخه یې داسي معناهم روایت شوي چي (أنا الله اعلم وأفصل) چي (زه الله یم پوهېږم او په تفصیل بیان کوم. ابوالعالية وايي چي: د (الف) توری د الله د نوم پیل، د (لام) توری د لطيف، د (میم) توری د مجید او د (صاد) توری د صادق د نوم پیل ښیي ﴿ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ (دا) کتاب دی چي نازل کړی (لېږلی) شوی دی تاته (اې محمده!) چي قرآنکریم دی ﴿ فَلَا يَكُن فِى صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ ﴾ نو نه دي وي په سینه ستاکي تنګي (له رسولو) دده چي پدې وویرېږي ستا قوم به یې تکذیب وکړي ﴿ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ لپاره ددې چي وویروې (ته اې محمده!) په دغه (کتاب) سره (کفار له جهنم څخه) او (لپاره ددې چي پند ورکړې ته پردې) په پند ورکولو سره مؤمنانو ته (ځکه هغوی ورباندي نفع اخیستونکي دي ﴿ اتَّبِعُوا مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ (متابعت کوئ اې مکلفانو!) د هغه شي چي نازل کړی شوی دی تاسو ته له (جانبه) د رب ستاسو) یعني اې خلکو! د هغه قرآن چي له هدایت او نور څخه ډک دی متابعت وکړئ کوم چي د رب له لوري تاسي ته راغلی دی.

(۱) المفردات للراغب مادة بيت-

﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ﴾ اومتابعت مکوئ پرته له الله د(نورو) دوستانو ستاسو لکه بتان، رهبانيان، او کاهنان چي تاسو خپل اموردوی ته سپارئ اودهغوی دحکمونوپيروي کوئ ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ لږشاني پنداخلئ تاسي (خازن) وايي: چي تاسوپندنه اخلئ مګرلږکسان ستاسي يې اخلي .(۱)﴿ وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا ﴾ اوډېرله اوسېدونکو دکليود(کفارو فجارو) څني هلاک کړيدي موږ﴿ فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا ﴾ نورابه غی هغوی ته عذاب زموږ حال داچي دوی به ويده وودشپې ﴿ أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ﴾ ياوېده به ووپه غرمه کي. ابوحيان وايي: چي دهلاکت لپاره يې دغه دوه وختونه ځانګړي کړل ځکه دسکون اوآرام لپاره دي نوپدي وخت کي دعذاب راتلل خوراسخت اوبددی ځکه دوی پدې وخت کي دهلاک کونکوڅخه غافل وي (۲) ﴿ فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ ﴾ (نونه به وه وينادودوی کله چي رابه غی دوی ته عذاب زموږ) يعني کله چي به دوی دعذاب راتللونبني او علامې وليدې نودوی دعااواستغاثه به بله نه وه ﴿ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾ مګرداچي ويل به دوی بېشکه چي موږ وو ظالمان)يعني خودابه يې ويناوه چي په خپل ظلم به يې په افسوس اوپښېماني اعتراف کاوو خو ارمان داچي پدې وخت ورته پښېماني ګټه نه رسوله ﴿ فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ ﴾ (نوخامخاوبه پوښتو(په قيامت کي) هرومروهغه(امتونه) چي لېږلي شوي وي دوی ته رسولان) يعني موږبه ټول امتونه پوښتوچي آيا پيغمبرانودرته تبليغ کړی اوتاسودهغه اجابت څرنګه وکړ؟ مقصدله دغه پوښتني څخه دکفاروتقريع اوتوبيخ دی ﴿ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ اوخامخا وبه پوښتوارو مرو رسولان (هم) چي رسالت يې رسولی امانت يې سپارلی ؟. په البحرالمحيط کي وايي چي دامتونوڅخه پوښتنه دکفارواو ګنهګارانولپاره تکونه(تقريع) اوددوی په باب توبيخ دی خودرسولانوپوښتل بيادالفت نيولو(تأنيس) کرامت اوثواب لپاره دی (۳)﴿ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٍ ﴾ نوخامخابيان به کړوموږ ارومرو(احوال دهغوی) دوی ته په علم سره) يعني دوی ته به موږله خپل علم نه ټول هغه کړه وړه چي دوی ترسره کړي وښايو. ابن عباس ﷺ وايي: چي کتاب به کښېښنودل شي اوهغه به دهغه څه چي دوی کړي دي خبرې وکړي ﴿ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴾ اونه يوموږغائبان (له دوی څخه چي ددوی په احوالونه خبرېږو. ابن کثيروايي: چي الله ﷻ به دقيامت په ورځ خپلوبندګانوته ددوی ويلواوکولو (اقوالواوافعالو) که لږوي ، که ډېر درانه وي ، که سپک ټول څه ووايې ځکه الله پاک په هرڅه حاضردی له هغه څخه هيڅ هم پټ نه دی هغه ﷻ من يعلم خائنة الاعين وماتخفی الصدوردی (۴)﴿ وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ ﴾ او تول دعملونوپه دغي ورځ کي حق دی (په عدل سره چي الله ﷻ به په هيڅاظلم نه کوي . ﴿ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ نودهرچاچي درانه وختل تولونه (ياتلل شوي نېک عملونه) دده) يعني په ايمان اودحسناتو په کثرت سره يې

(۱) الخازن ۲ / ۱۷۳
(۲) البحر ۴ / ۲۲۹
(۳) البحرالمحيط ۴ / ۲۷۰
(۴) مختصر ابن کثير ۲ / ۶

تلي درنې وي ﴿ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴾ نو دغه کسان هم دوی دي په مراد رسېدلي (بريالي) له عذاب څخه ژغورل شوي اوثواب موندونکي ﴿ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ اودهر چاچي سپک وختل تولونه (ياتلل شوي بدعملونه) دده په سبب دکفراوګناهونوېې) ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم ﴾ نودغه کسان هغه دي چي زيان رسولی دی دوی ځانونوخپلو (اونېکمرغيو) ته ﴿ بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَظۡلِمُونَ ﴾ په سبب دهغه چي وودوی چي په آياتونو زموږ به يې ظلم کاوو (منکرېدل به) ابن کثيروايي: چي هغه شی چي دمېزان په تله کي به دقيامت په ورځ اينبودل کېږي هغه ځوک وايي: چي اعمال به وي که څه هم هغه اعراض وي خوالله تعالی به يې په اجساموبدل کړي دغه روايت له ابن عباس ﷺ څخه شويدی. ځوک بياوايي: داعمالوليکلی (کتاب) به تلل کېږي لکه چي د(البطاقة) په حديث کي راغلي دي. ځوک بياوايي: چي پخپله دعمل خاوندبه تلل کېږي لکه چي په يوه حديث شريف کي راځي (يؤتي يوم القيامة بالرجل السمين فلايزن عندالله جناح بعوضة) يعني دقيامت په ورځ به يو خېټوَر چاغ سړی راوستل شي چي دالله ﷻ په نزده به دملخ ديووزر غوندي تول هم نلري اوداټول صحيح دی ځکه کله کله به اعمال کله به يې هم کاغذونه کله به هم داعمالو کونکي پخپله تلل کېږي[١] والله اعلم. اوزه وايم چي په دې کي هيڅ دتعجب خبره نشته چي داعمالو نېکيواوبديوتلل به خرنګه کېږي ځکه کله چي معاصرعلم دتودوخي اويخنۍ دبادونود الوتلواودهغوی د اتجاه اوپلو دبارانونو دراتللولپاره موازين او آلات موندلي نو آياهغه قادرذات الله ﷻ چي په هرڅه قدرت لري له دې څخه به ناتوان شي چي دبندګانو داعمالو دتللولپاره موازين وټاکي؟هيڅکله نه.

﴿ وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق ځای درکړی دی موږ تاسي ته (اې انسانانو) په مځکه کي) بيضاوي وايي: معنايې داده چي تاسوته موداوسېدلولپاره پکي ځای درکړاوداچي تاسي پکي تصرف اوزراعت (کرکېله) وکړئ[٢] ﴿ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ ﴾ (اوپيداکړيدي موږتاسي ته پدغه ځمکي (هرقسم) اسباب دژوندانه) چي تاسووړباندي ژوندي اوسئ لکه خوراک څښاک اونور ﴿ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴾ (تاسي لږشاني شکروباسئ) يعني سره له دې فضل، مهرباني اوانعام بياهم لږکسان له تاسونه دخپل رب شکرکاږي ﴿ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ﴾ (اوخامخا په تحقيق پيداکړموږ (پلار) ستاسي بياصورت جوړکړموږ(دپلار) ستاسي) يعني موږستاسوپلار له ختې څخه پيداکړپداسي حال کي چي مصورنه وو اوبياموپه ښکلي صورت او احسن تقويم سره جوړکړ داچي دجمع په ضميريې وښتايل ځکه هغه ابو البشر اوتعظيم يې ترسره شو ﴿ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ ﴾ (بياوويل : موږ پرښتوته چي سجده وکړئ تاسي آدم ته) يعني موږملائکوته امروکړچي آدم ته سجده وکړئ ترڅوچي دده اود اولاديې تکريم وشي ﴿ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ (نوسجده وکړه دوی (ټولو) مګرابليس (سجده ونکړه او) نه وودی له سجده کونکو څخه) يعني ګردو ملائکواوپرښتو) سجده وکړه اوابليس دتکبراوعنادله کبله له سجده کولوڅخه سروغړاوو. استثناء منقطع

---

(١) مختصر ابن کثير٢ / ٧

(٢) البيضاوي ص: ١٢٠

ده ځکه دغه استثناء له غیرجنس څخه ده لکه چي ښخوا دحسن بصري رحمه الله قول تېرشو چي ویلي وو: ابلیس دسترګو په رپ کي هم له ملائکو څخه ندی شوی (۱) ﴿ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾ وویل: الله ابلیس ته) څه شي منع کړې ته (زما د حکم له منلو څخه) چي سجده دي ونکړه کله چي حکم وکړما تا ته !؟ دلته استفهام دتوبیخ اوتقریع لپاره دی ﴿ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ﴾ (وویل: (ابلیس) زه غوره یم له آدم نه) نوځرنګه به بهترسجده کوي هغه چاته چي هغه کهتروي وروسته یې دامتناع علت یادکړچي: ﴿ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴾ (چي پیداکړی دي یم زه له اوره اوپیداکړی دي دی تادغه (آدم) له ختې څخه) یعني زماعنصر دهغه له عنصرڅخه شرافت لري ځکه زه له اوره هغه له ختې دی. ابلیس مسکین دې ته ونه کتل چي ده ته چادسجدې کولو حکم کړیدی دغه امرخو الله جل جلاله ورته کړی وو. ابن کثیر وایي: چي ابلیس لعین اصلي عنصرته کتلي خودې ته یې پام ندی کړي چي الله پاک پخپل (ید) باندي دهغه پیدا ایښت فرمایلی اوله روح څخه یې پکي پوکړیدی دغه ملعون فاسد قیاس کړی اوغولېدلی دی چي اورګواکي ترختې بهتردی ځکه ختې دحلم او دروندوالي خاوند خوبرعکس اور دحملې اوسوځولو ښتن دی ختې نبات زرغونوي او وده ورکوي اور بیاځای دعذاب اوله منځه وړلو دی ځکه نوابلیس خپل عنصر هلاکت خواري اوبدمرغي ته ورساوه (۲) ابن سیرین وایي: لومړی هغه څوک چي قیاس یې وکړ خطاشو هغه ابلیس وو اوڅوک چي دین پخپله رایه قیاسوي الله جل جلاله به یې له ابلیس سره ملګری کړي (۳) ﴿ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا ﴾ (الله وویل: (ابلیس ته) نوکوزشه له دغه (آسمان ، یاجنت نه) نونه دی لائق تاته داکارچي تکبر (لویې) وکړې پدې ځای کي) یعني اې ابلیسه ! له جنت نه کوزشه دانه ښایي چي ته زماله طاعت څخه سرغړونه کوې اوله دې سره سره بیازماپه سپېڅلي ځای کي هم اوسې. ﴿ فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴾ نو ووزه) بېشکه چي ته له ذلیلانو څخه یې. زمخشري وایي: داپدې چي ابلیس استکبار څرګند کړ الله جل جلاله سپکاوی اوذلت ور واغوستل. نوڅوک چي دالله جل جلاله لپاره تواضع وکړي الله به یې لوړکړي اوکه څوک تکبرکوي الله جل جلاله یې سپکوي (۴) ﴿ قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾ (وویل: (ابلیس چي اې الله !) وګوره (مهلت راکړه) ماته ترهغي ورځي پوري چي مخلوقات بېرته ژوندي کاوه شي) ابلیس لعین له موقع نه په استفادې سره دقیامت تر ورځي مهلت وغوښت ځکه له هغه وروسته بیا مرګ هډونشته. نو الله جل جلاله یې غوښتنه داسي ومنله چي ﴿ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴾ (وویل (الله) بېشکه ته له مهلت ورکړل شوو څخه یې) ابن عباس رضی الله عنهما وایي : چي ترلومړۍ شپېلۍ پوکولو(نفخې) پوري الله جل جلاله مهلت ورکړکله چي ټول خلګ به مړه کېږي خوده تردوهمي شپېلۍ (نفخې) پوري مهلت غوښتی ووکله چي بیاخلګ دالله جل جلاله په وړاندي درېږي الله جل جلاله هغه ونه منل اوپدې باندي دغه آیت شریف دلالت کوي چي: ﴿ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ۝٨٠ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ۝٨١ ﴾ ص: ۸۰ ــ ۸۱ ﴿ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ (وویل ابلیس نوقسم

---

(۱) وګوره زموږ هغه څېړنه چي دابلیس په هکله موکتاب لیکلی اودلائل موراغوند کړي چي هغه له پېریانوڅخه دی اوله پرښتوڅخه ندی. النبوة والانبیاء ص: ۴۸

(۲) مختصر ابن کثیر ۲/ ۷

(۳) البحر ۴/ ۲۷۳

(۴) الکشاف ۲ / ۹۰

دی په ګمراه کولو ستا مالره چې خامخا به کېنم زه هرو مرو دوی ته په لاره ستا کې چې سمه صافه لاره ده) يعني زما پدې سبب چې ګمراه دې کړم نوزه به د آدم او دهغه د اولادې هغه سمه صافه لاره د جنت د اسې ونيسم لکه چې لارې وهونکی په لاره کې ناست وي ﴿ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ ﴾ (بيا خامخا راځم زه هرومرو دوی ته له وړاندې ددوی اوله وروسته ددوی اوله ښيو طرفونو ددوی اوله کېڼو خواوو ددوی) يعني زه به دوی ته له ټولو څلورو خواوو راځم چې ستاله دين څخه يې منع کړم . طبري وايي: معنادا چې زه به د ټولو حق او باطلو خواوو ورته راځم له حق څخه به يې بندوم او باطل به ورته ښائسته کوم . ابن عباس رضی الله عنهما وايي: چې ابليس نشي کولای له پورته (لوړه) لورې ورته راشي ځوچې د بنده او الله جل جلاله د رحمت ترمنځ حائل نشي . (١) ﴿ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ﴾ (اونه به مومې ته اکثره ددوی شکر ايستونکي) يعني مؤمنان اطاعت کونکي او ستاد نعمتونو شکر کونکي ﴿ قَالَ ٱخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ﴾ وويل: (الله اې ابليسه !) ووزه له دې ځايه پدغسې حال کې چې غمجن کړی شوی او رټل شوی يې (له رحمت څخه) ﴿ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ (قسم دی) خامخا هرڅوک چې متابعت وکړي ستاله دغو انسانانو) خامخا ډک به کړم هرومرو دوزخ له تاسې ټولو) لام دقسم لپاره توطئه ده او دغه په عذاب باندې د هرهغه چالپاره وعيد دی چې د شيطان ومني او د الله جل جلاله امر پرېږدي . ﴿ وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ ﴾ !

او وويل: (الله اې آدمه) اوسه ته او ښځه ستا په جنت کې) يعني او وويل موږ اې آدمه ! ته دې له مېرمنې سره په جنت کې اوسه وروسته له دې چې شيطان وايستل او وشړل شو ﴿ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا ﴾ نوخورئ تاسې دواړه له هر ځايه (او هرشی) چې خوښه مو وشي . ﴿ وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (او مه نژدې کېږئ تاسې دواړه دې ونې ته (په قصد د خوراک) دوی دواړو ته يې د ټولو مېوو د خوړلو اجازه ورکړي خو يوازې يوه ونه يې وروښودله چې ځان به ترې ژغورئ او دغه د امتحان او ابتلا لپاره او پدې وخت کې شيطان له هغوی سره رخه (کينه) وکړه او زيارېې و يوست چې دوی ته په مکراو دوکه وسوسه ورواچوي ﴿ فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ (نو وسوسه واچوله شيطان دوی دواړو ته) يعني هغوی ته يې په کرار آواز له ونې څخه د خوړلو وويل: ترڅو دوی وغولوي ﴿ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا ﴾ د پاره ددې چې ښکاره (بربنډ) کړي دوی دواړو ته هغه چې پټ کړی شوي دي له دوی دواړو نه (غليظه عورتونه چې لوڅول يې بد ښکاري) ﴿ وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ ٱلْخَٰلِدِينَ ﴾ او وويل (ابليس دوی ته) نه يا ست منع کړي تاسې رب ستا سې له (خوراک) ددې ونې څخه مګر له دې جهته چې نشئ تاسې دواړه پرښتې او يا چې نشئ تاسې له تل پاته کېدونکو (په جنت کې) ﴿ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴾ او سخت قسم يې وکړی (د الله په نوم) دوی ته چې بېشکه زه تاسو دواړو ته له نصيحت کونکو څخه يم او کله مسلمان د الله جل جلاله په نوم تېر ايستل کېږي . الوسي وايي: تعبير يې د مفاعلې په صيغه سره وکړ ځکه څوک چې له يو چاسره سيالي (مسابقه) کوي نو خورا

(١) الطبري ١٢ / ٣٤١

زيار باسي [١] ﴿ فَدَلَّـٰهُمَا بِغُرُورٍ ﴾ (پس راكوز كړل دوى دواړه ابليس (له اوچتي مرتبې ښكته مرتبې ته په وسوسه سره) . ابن عباس رضى الله عنهماوايي: دوى يې په قسم تېرايستل . آدم عليه السلام داسي خيال كاوو چي هيڅوک به هم دالله جل جلاله په نوم په دروغ لوړه (قسم) نكوي نودوى يې په وسوسه لوړه اوقسم باندي وغولېدل ﴿ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا ﴾ نو كله چي وڅكله دغو دواړو (مېوې د دغي ممنوعه) وني (نو) ښكاره شول دواړو ته عورتونه د دوى. كلبي وايي: چي جامې څني توى شوې اوهريو د بل عورت وليداو وشرمېدل ﴿ وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ﴾ اوپيل كړل دواړو چي سره ننښلولې دوى پر عورتونو خپلو باندي له پاڼو(دونو) د جنت نه (چي ځان پرې پټ كړي) وروسته له دې چي د دوى جامې د جنتي لباسونو څخه وي. قرطبي وايي: چي دونو پاڼي يې شوكولې اوپر ځانونو يې ننښلولې اوله دې څخه (خصف النعل) هم راغلى دى [٢] وهب ابن منبه وايي: چي آدم عليه السلام او حوآء رضى الله عنها لباسونه د دوى په غليظه عورتونو داسي يو نور وو چي يو دبل عورت به يې نه ليدل خوكله چي گناه څني صادره شوه نو عورات يې ښكاره شول [٣] ﴿ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ اوغږ وكړ دوى ته رب د دوى (داسي) چي آيا ما نه وئ منع كړي؟ تاسي له (خوراكه د) دغي وني څخه او(نه وو) ويلي ما تاسو ته چي (پام كوئ) بېشكه شيطان تاسي دواړو ته ښكاره دښمن دى دغه نداء د عتاب او توبيخ په ډول وه. روايت كېږي چي الله پاک آدم عليه السلام ته وويل: آيا ما تاته د جنت ټولي وني روا كړي نه وې اوله دې څخه مي منع كړى نه وې؟ نو آدم عليه السلام وويل: چي هو زما دي ستا په عزت لوړه وي ! خولكن ما داسي گومان نه كاوو چي ستا له مخلوق څخه به هيڅوک په دروغو قسم كوي نو الله جل جلاله ورته وفرمايل: زما دي پخپل عزت سوگند وي چي مځكي ته به دي ښكته كړم او هلته به بيا په تكليف ژوند ترسره كوې ﴿ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴾ نو وويل: دواړو (آدم او حواء) اې ربه زموږ ! ظلم كړى دى موږ پر ځانونو خپلو او كه مغفرت ونكړې ته موږ ته او رحمت ونكړې ته پر موږ نو خامخا به شو موږ هرومرو له زيانكارانو) يعني دوى پخپله گناه اعتراف وكړ او له گناه څخه يې توبه وايستله له الله جل جلاله څخه يې د مغفرت او رحمت غوښتنه وكړه. طبري وايي: چي همدغه آيت هغه كلماتي دي چي له الله جل جلاله څخه آدم عليه السلام زده او ترلاسه كړي وې [٤] ﴿ قَالَ ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ﴾ (وفرمايل(الله) چي كوزشئ (له جنته) حال دا چي ځيني ستاسي د ځينو نورو ته به دښمن يئ) يعني خطاب آدم ، حوآء او ابليس ته دى ځكه نو د جمعي په صيغه راغلي يعني له قدسي آسمان څخه مځكي ته كوزشئ پداسي حال كي چي ځيني ستاسو د ځينو نورو دښمنان ياست شيطان د انسان دښمن او انسان بيا د شيطان دښمن دى لكه دالله جل جلاله قول ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ﴾ ﴿ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَـٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ او (مقرر دى) تاسي ته په مځكه ځاى د هستوگني او (اسباب) د نفع اخيستلو تر وخته د (مرگ) پوري ﴿ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا

---

(١) روح المعاني ٨/ ١٠٠.

(٢) القرطبي ٧/ ١٨١.

(٣) الطبري ١٢/ ٣٥٥. البحر ٤/ ٢٨١

(٤) دغه روايت طبري له ضحاک څخه راوړى دى او په هغه كي دالله جل جلاله دې قول ته اشاره چي فرمايي: ﴿ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَـٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ البقرة: ٣٧

﴿ تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴾ وفرمايل: (الله) چي پدې ځمکه کي به ژوندون کوئ تاسي او په همدغي ځمکه کي به مرئ تاسي او هم له دغي ځمکي څخه به را ايستل کېږئ (په قيامت کي د جزا لپاره) لکه دا قول دالله تعالى ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ طه: ٥٥ بيا الله تعالى هغه احسان بيانوي چي په بنى آدم باندي يې دلباس، ګاڼې او ښايست لورولى دى فرمايي: ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَٰرِي سَوْءَٰتِكُمْ وَرِيشًا ﴾ اې زامنو د آدم په تحقيق نازل کړي دى موږ پر تاسي لباس چي پټوي عورتونه ستاسي او د زينت کالي) يعني پر تاسو مو دوه کالي (لباسونه) نازل کړي يو لباس چي ستاسي عورتونه پټوي او بل د زينت او تجمل لباس. زمخشري وايي: چي (ريش) د سينګار لباس ته ويل کېږي چي له (ريش الطير) څخه اخيستل شويدى ځکه هغه يې لباس او زينت دى[1] ﴿ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ﴾ او لباس د تقوى دغه لباس ډېر غوره دى (له نورو) يعني د پرهېزګاري او تقوى لباس تر ټولو غوره او بهتر لباس دى چي سړى ورباندي ډېل ډال کوي دا ځکه چي د باطن پاکوالى او سپېڅلتيا د ظاهر تر ښايست غوره دى. ﴿ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ دغه رالېږل شوى پوښاک) له علامو (د فضل او رحمت) دالله دى (پر بندګانو خپلو) ﴿ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴾ لپاره د دې چي دوى پند واخلي (او شکريې وکاږي) ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ (اې د آدم زامنو! فرېب دي د رنکړي تاسي ته شيطان) په ګمراه کولو او فتنه کي اچولو باندي ﴿ كَمَآ أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ ٱلْجَنَّةِ ﴾ لکه چي ايستلي يې دي مور او پلار ستاسي له جنته (په فرېب سره چي د ممنوعه وني مېوه يې وخوړه ﴿ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَٰتِهِمَآ ﴾ (پدې حال چي ايستل يې له دوى دواړو نه لباس د دوى لپاره د دې چي وښيي دوى ته غليظه عورتونه د دوى) د لباس ايستلو نسبت يې ابليس ته ځکه وکړ چي هغه يې د ايستلو ، سبب وو او همدغه دلعين هدف وو چي ستريې څيري او له هر ډول حسي او معنوي فضائلو څخه يې بربنډ کړي ﴿ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ﴾ ببشکه دغه شيطان ويني تاسي (هم پخپله) دى او (هم قوم) لښکر د ده له هغې خوا چي تاسي يې نه وينئ) هغه ستاسو په انتظار ناست دى نو دهغه له چل او دوکې څخه ووېرېږئ ځکه هغه د ښمن چي را تلل يې سړى نه ويني ډېر وېرونکى او ترهونکى دى ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ ببشکه موږ ګرځولي دي شيطانان دوستان لپاره د هغو کسانو چي دوى ايمان نه راوړي (کافران وي) ﴿ وَإِذَا فَعَلُوا۟ فَٰحِشَةً ﴾ او کله چي وکړي دوى ناکاره کار (لکه د بيت الله شريفي طواف په بربنډه (لغړ) حالت کي) ﴿ قَالُوا۟ وَجَدْنَا عَلَيْهَآ ءَابَآءَنَا ﴾ (نو وايي دوى موندلي دي موږ پر دغه (ناکاره کار) پلرونه زموږ) يعني دوى عذر وايي چي موږ په دغه (ناکاره) فعل د پلرونو تقليد کوو ﴿ وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ﴾ او الله جل جلاله (هم) امر کړى دى موږ ته په کولو د دې سره) يعني موږ ته يې د جامو د ايستلو ويلي دي ځکه څرنګه موږ د ګناه په جامو کي د کعبې طواف وکړو؟! او دغه په الله ذالجلال باندي دروغ تړل دي . بيضاوي وايي: دوى په دو وشيانو دليل وو ايه: يو د پلرونو تقليد بل په الله جل جلاله افتراء نو له لومړي څخه په قرآن کريم کي اعراض

---

(١) الطبري ١٢/٣٥٥

وشوځکه چي فسادیې ترلمر روښانه دی اودوهم یې په دې قول باندي رد کړچي: ﴿ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ ﴾ (¹) ووایه (اې محمده! دوی ته) چي بېشکه الله نه کوي امرپه ناکاره کارونو) یعني الله سبحانه له نقص نه منزه دی خپلو بندګانو ته دبدو اعمالو اوناکاره خویونو مار ہینه (حکم) نه کوي ﴿ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ . ؟! (آیاوایاست تاسي پرالله جل جلاله باندي هغه شی چي نه پوهېږئ (پرې) تاسي؟) استفهام دتوبیخ اوانکارلپاره دی یعني آیاتاسي پرالله دروغ تړئ اوقبیح افعال ورته نسبت کوئ چي تاسي وربانديي هډوعلم اوصحیح دلیل نلرئ؟! ﴿ قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِٱلْقِسْطِ ﴾ ووایه (اې محمده ادوی ته) چي حکم کړی دی رب زما په عدل ، استقامت سره ﴿ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ او (بل حکم کړیدی رب زما چي سم واړوئ (برابر کړئ) تاسي مخونه خپل د(الله عبادت ته) په نزدد(وخت) دهرلمانځه) یعني په ټوله معنا الله جل جلاله ته متوجه شئ دهرلمانځه په وخت کي ﴿ وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ (او بولئ تاسي (عبادت کوئ) دده حال داچي خالص کونکي اوسئ ده ته دین (له هرنقصان څخه) یعني په اخلاص دده عبادت او اطاعت کوئ. ابن کثیروایې: چي معنایې داده چي الله جل جلاله تاسوته په عبادت کي داستقامت امرکړی چي هغه دپیغمبرانو پیروي ده هغوی چي په معجزاتویې ملاتړ اوتائید شوی اوبل په عبادت کي داخلاص امرشویدی ځکه الله جل جلاله عمل ترهغونه قبلوي ترڅو چي دغه دوه رکنونه ونلري: یوداچي حق اوصواب دشریعت په موافق وي اوبل دا چي له شرک څخه خلاص وي (²) ﴿ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴾ لکه چي اول ځل یې پیداکړي یاست تاسي (له ځمکي نه) بیابه هم داسي ورشئ تاسي (ځمکي ته) ﴿ فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُ ﴾ یوې (ډلي ته هدایت وکړ الله جل جلاله دایمان په توفیق سره) اوهدایت ندی کړی بلي ډلي ته چي مقرره شویده پردوی ګمراهي) الله جل جلاله فعال لمایرید دی له هغه څخه دهیڅ کاردکولو اونه کولو پوښتنه نه کېږي ﴿ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ بېشکه چي دوی نیولي دي شیطانان دوستان (معبودان) دغه دهغوکسانو لپاره چي دوی ګمراهان دي تمثیل راوړل شویدی یعني دوی له الله جل جلاله پرته له شیطانانو څخه مرسته غواړي ﴿ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ اوګمان کوي دوی چي بېشکه هم دوی هدایت موندونکي (دبصیرت خاوندان) دي

بلاغت:

۱- پدې جمله کي چي فرمایې ﴿ حَرَجٌ مِّنْهُ ﴾ دمضاف حذف راغلی تقدیر داسي دی چي (ضیق من تبلیغه) اولکه چي الله ﷻ بل ځای فرمایې: ﴿ وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ یعنی دقریی اهل وپوښته ! .

۲- ﴿ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ دلته دربوبیت وصف ته تعرض سره له اضافته چي دمخاطبینو ضمیرته شویدی دزیات لطف اوددې لپاره دی چي د اوامرو امتثال ته یې ترغیب کړی(³)

(¹) البیضاوي ص: ۱۸۹

(²) مختصرابن کثیر۲/۱۳

(³) ابوالسعود۲/۱۵۵.

٣ - پدې کلماتوکي چي ﴿ ثَقُلَتْ ﴾ او ﴿ خَفَّتْ ﴾ دی دطباق صنعت دی اوهمدارنګه د ﴿ بَيَٰتًا ﴾ او ﴿ قَآئِلُونَ ﴾ ترمنځ هم ځکه چي د(بيات) معناشپه او(قائلون) ورځ دغرمې وخت دی.

۴ - ﴿ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ﴾ دلته بياهم دمضاف حذف اودتقديرېي داسي دی چي خلقنا آباءكم وصورنا اباءكم.

۵ - پدې کلام کي چي الله تعالی فرمايي: ﴿ لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ دلته يې صراط مستقيم دهدايت له هغي لارې ځخه چي جنت ته رسېږي استعاره کړيده.

۶ - ﴿ وَيَٰٓـَٔادَمُ ﴾ دلته ايجاز بالحذف دی يعني (وقلنايا آدم).

۷ - پدې آيت کي چي فرمايي: ﴿ وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ ﴾ دلته يې له خوړلو ځخه تعبير په نژدې والي (قرب) وفرمايل ترڅو چي له خوړلو ځخه په نهي کي يې مبالغه شوي وي.

۸ - ﴿ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا ﴾ دلته يې دخبرتياتاکيدپه قسم (إنّ) اودتاکيدپه لام سره وکړ ترڅو چي ددروغو دشبهې دفع وکړي اودغه ډول ته تاکيد(انکاري) وايې ځکه چي اورېدونکی په ترددکي وي

۹ - ﴿ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ ﴾ ددې جملوترمنځ دطباق صنعت دی.

تنبيه:

عورت ته يې (سوءة) وويل ځکه لوڅېدل يې دعورت خاوندبدګڼي. علماء کرامو ويلي دي چي په آيت کي ددې دليل شته چي دعورت بربنډ کېدل دېرسترنا خوښه عمل اوطبيعت ورڅخه کرکه کوي نو يې (سوأة) وباله زه وايم چي دابليس لعين هدف په آيت کي ځرګند شو چي آيت فرمايي: ﴿ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَٰتِهِمَآ ﴾ نوهغه کسان چي دښځوبې حجابي اوبربنډوالی غواړي لکه چي ځان ته مترقي اومدني هم وايې دوی دښځوعرياني دآزادي اوحريت په پلمورا ولي خوپه حقيقت کي دښځودښمنان اودشيطان مرستندويان (ملګري)دي چي يوهدف يې دی اوهغه اخلاقي انحلال ته بلنه ده ترقي اومدنيت خوپه بربنډوالي سره نشي راتلای هغه خود شرف په ساتنه اوپاک لمني کي نغښتي دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُوا۟ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ قُلْ مَنْ
حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ۚ قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ كَذَٰلِكَ
نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْىَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا۟
بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا
يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى ۙ فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ
افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُمْ مِنَ الْكِتَابِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوا أَيْنَ مَا
كُنْتُمْ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا وَشَهِدُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا كَافِرِينَ ﴿٣٧﴾ قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ
مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ فِي النَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ
لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِنْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتْ أُولَاهُمْ
لِأُخْرَاهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا
وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ
﴿٤٠﴾ لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَا
نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٤٢﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ
الْأَنْهَارُ ۖ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ ۖ لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۖ وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ
الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ
مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا
وَهُمْ بِالْآخِرَةِ كَافِرُونَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ ۚ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ۚ لَمْ
يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ ۞ وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ أَصْحَابِ النَّارِ قَالُوا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾ وَنَادَىٰ
أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُمْ بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَىٰ عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾ أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا
يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ۚ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٤٩﴾ وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ
أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ۚ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾ الَّذِينَ اتَّخَذُوا
دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ نَنْسَاهُمْ كَمَا نَسُوا لِقَاءَ يَوْمِهِمْ هَٰذَا وَمَا كَانُوا
بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ الأعراف: ٣١ - ٥١

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی د آدم علیه السلام کیسه وکړه او دا چي په هغه او زامنو یې د جامې پېرزوینه کړي وه هغه جامه چي شرمګاه وربانديي پټېږي نو دلته یې امرو فرمایه چي په مناسباتو کي دي د زینت او تجمل هڅه وشي په ځانګړي تو ګه کله چي د لمانځه دا داکولو اراده لري بیا یې د اخرت یادونه وکړه چي هلته به کله چي د عدل او جزا ورځ وي خلک ټولګی ټولګی وي جنتیان ، دوزخیان او د اعراف خاوندان چي هرڅوک به خپل ورهستوګنځی او نېکمرغي یا شقاوت مومي.

لغتونه:

﴿ زِينَتَكُمْ ﴾ زینت هغه څه ته وايي چي سړی ورباندي تجمل کوي لکه جامې اونورڅه ﴿ ٱلْفَوَٰحِشَ ﴾ دفاحشه جمع ده هغو ګناهونوته وايي چي دقبح اوبدي وروستي پړاوته رسېدلي وي ﴿ وَٱلْبَغْىَ ﴾ ظلم اواستبدادته وايي. ﴿ غَوَاشٍ ﴾ دغاشية جمع ده اوپټوونکي ته وايي. ابن عباس رضی الله عنه وايي: چي هغه برستني (تلتکان) دي ﴿ سُلْطَٰنًا ﴾ حجت اوبرهان ته ويل کېږي. ﴿ سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ دستني سپوم(سوری) ﴿ مِهَادٌ ﴾ فرش چي انسان يې غوړوي ، ورباندي څملي. ﴿ ٱلْأَعْرَافِ ﴾ له (اعراف الديک) څخه اخيستل شوی دی چي دچرګ خول ياتاج ته وايي ﴿ بِسِيمَٰهُمْ ﴾ په نښانواوعلامودوی

دنزول سبب يې:

ابن عباس رضی الله عنه وايي: چي دجاهليت په وخت کي به ښځوبربنډ(لغړ) حالت کي طواف کولويو توکربه يې په (فرج) وځړول اوداسي به يې ويل: «اليوم يبدو بعضه اوكله * فمابدامنه فلا أحله » نن به يوڅه ياټول ښکاره شي. هغه چي تري ښکاره شي نه يې بښم.

نوبيادا آيت نازل شو ﴿ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُوا۟ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ اوبيادرسول الله صلى الله عليه وسلم (مؤذن) داسي آذان (غږ) وکړچي: خبردار ! په بيت الله شريفه بربنډطواف مکوئ !(۱)

تفسير:

﴿ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ خُذُوا۟ زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ اې زامنوداآدم ! واخلئ ښائست خپل په وخت دهرلمانځه او طواف چي غوره ,ښکلي اوپاکېزه جامې واغوندئ ﴿ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ﴾ اوخورئ څښئ اسراف مکوئ تاسي (په زينت خوراک اوڅښاک کي) ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴾ ببشکه چي الله جل جلاله نه خوښوي يې خايه خرڅ کونکي (متجاوزين له حده په حلال اوحرام کي) ﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ﴾ (ووايه اې محمده دوی ته !) چي چاحرام کړی دی زينت دالله هغه چي ايستلی يې دی لپاره د بندګانو خپلو ؟ (اوچاحرام کړی) پاک لذيذشيان له روزي څخه؟) يعني اې محمده ! دغوناپوهانوعربوته ووايه کوم چي په بيت الله شريفه باندي بربنډطواف کوي اوپرځان يې پاکېزه شيان حرام کړيدي ورته ووايه چي چاپرتاسوباندي په جاموتجمل حرام کړی هغه چي ستاسو دګټي لپاره يې له نباتاتوڅخه پيداکړي اويااله خوړلو څښلوخوندوروڅخه چامنع کړي ياست ؟ استفهام دتوبيخ اوانکارلپاره دی. ﴿ قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ ووايه اې محمده دوی ته !) چي دغه (زينت) طيبات اونورنعمتونه اصلاً) لپاره دهغوکسانودي چي ايمان يې راوړی دی (که څه هم کفاروررسره تبعًا ګډوي) پدې ژوند ددنياکي حال داچي (خاص مؤمنانولره) دي په ورځ دقيامت کي (چي هيڅوک به ورسره ګډون نلري ځکه چي الله جل جلاله جنت په کافرانو باندي حرام کړيدی

---

(۱) أخرجه مسلم

﴿ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْآيَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ (همدارنګه (لکه پورتني تفصيل) بيانوو موږ آيتونه لپاره دهغه) قوم چي پرې پوهېږي) يعني موږ داسي کسانو لپاره چي دالله جل جلاله دحکمت تدبر کوي اوپه تشريع پوهېدل غواړي په تفصيلي توګه تشريعي آيتونه بيانوو ﴿ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ﴾ (ووايه اي محمده دوی ته !) بېشکه همدا خبره ده چي حرام کړي دي رب زما فواحش (ناکاره کارونه چي قباحت يې انتهاته رسېدلی وي) هغه چي ظاهروي له هغوڅخه اوهغه چي باطن وي له هغوڅخه) يعني په پټ اوښکاره ترسره کېدونکي فواحش الله حرام کړيدي. ﴿ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْيَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ او (حرام کړيدي) الله جل جلاله ګناوي تولي (اوحرام کړي يې دی) ظلم په ناحقه سره (په خلګو باندي) ﴿ وَأَن تُشْرِكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ﴾ بل (داچي شريک ونيسئ په الله جل جلاله پوري تاسي ، هغه شی چي ندی نازل کړی الله په (شريکولود) هغه باندي هيڅ علمي سند (برهان) ﴿ وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (اوحرام کړی دی داچي) ووايئ تاسي په الله جل جلاله هغه خبري چي تاسي نه پرې پوهېږئ) يعني دايې حرام کړي چي تاسو دتحليل اوتحريم په باب په الله جل جلاله باندي دروغ وتړئ ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ﴾ (اوهريو امت ته يوه نېټه شته (دمرګ يا عذاب که ايمان رانه وړي) يعني هرامت ته چي دخپل پيغمبر تکذيب يې کړی يوه ټاکلي نېټه دهلاکولو شته په البحرالمحيط کي وايې: چي دغه دمشرکينو لپاره دعذاب زېری دی کله چي دوی دالله جل جلاله له امرنه مخالفت کوي[1] ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ قَالُوٓا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ﴾ نو کله چي راشي نېټه دهلاکت ددوی نه به دوی (ترې) وروسته کېږي يوه ګړۍ اونه به (ترې) رومبی کېږي لکه چي الله جل جلاله فرمايې: ﴿ وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ أَهْلَكْنَٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴾ الكهف: ۵۹ [2] اوګړۍ (ساعت) دهغه بېخي لږ زماني لپاره متل ګرزېدلی دی لکه يوه شبېه چي وايې. ﴿ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى ﴾ (اې زامنو دآدم ! که راشي تاسي ته رسولان له تاسي څني چي لولي دوی پرتاسي باندي آيتونه د (کتاب) زما مراد دآدم له زامنو ګرد امتونه دي يعني که تاسو ته پيغمبران راشي چي درته احکام اوشرائع بيانوي.

﴿ فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ نو هرڅوک چي ځان وساتي (ووېرېږي له ربه خپله) اواصلاح وکړي (عمل خپل) نونه به وي هيڅ ډول وېره پردوی باندي اونه به وي دوی غمجن. ﴿ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ اوهغه کسان چي نسبت يې ددروغو کړی دی آيتونو زمو ږته اوکبر کوي له (قبلولو) دهغو آيتونو (چي ايمان وربانـدي نه راوړي) همدغه کسان ملګري داورد (دوزخ) دي تل به پدغه اورکي وي ﴿ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ﴾ (نوڅوک دی

---

[1] البحرالمحيط ۴/ ۲۹۲

[2] په راجح توګه دآيت تفسير دادی چي مراد له اجل څخه دهغو تکذيب کونکو امتونو دهلاکت نېټه ده اودغه خبره طبري ابن کثير اوابوالسعود کړيده. چابياويلي چي مراد دهر انسان اجل اودعمر دانتها ، نېټه ده هغه چي نه لږېږي اونه زياتېږي خواول ارجح دی ځکه لفظ د ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ ﴾ راغلی ، والله أعلم

د ېرظالم له هغه چا چي له ځانه پر الله جل جلاله دروغ تړي یا نسبت د دروغو کوي آیتونه د دغه (الله جل جلاله) ته (بلکه بل ظالم نشته) استفهام دانکار لپاره دی. ﴿أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ﴾ دغه (مکذبان پر الله) وبه رسېږي دوی ته هغه لیکلي شوي برخه ددوی (په دنیاکي له رزقونو او عمرونو څخه) مجاهد وایي چي: له نصیب څخه مراد هغه څه دي چي له خیر او شر څخه ورسره ژمنه (وعده) شوي وي ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ﴾ ترهغه پوري کله چي راشي دوی ته رسولان زموږ (ملک الموت او اعوان یې) حال دا چي قبضوي دوی (ارواح د) هغوی ﴿قَالُوٓاْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ وایي دا (ملائک دې کفارو ته) چېرته دی هغه (معبودان) چي وئ تاسي چي بلل به مو (عبادت به مو د (هغوی) کاوو پرته له الله جل جلاله ؟ (چي تاسي له عذابه وژغوري او دغه پوښتنه د توبیخ او تبکیت لپاره ده. ﴿قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا﴾ نو وبه وایې دغه (کافران) ورک شول له موږ (موږ ورڅخه د هیڅ ګټي او خیر هیله نلرو) ﴿وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَٰفِرِينَ﴾ (او شاهدي به ورکړي دوی پر ځانونو خپلو باندي چي بېشکه دوی (په دنیا کي) کافران وو) دغه اقرار به دافسوس او حسرت لپاره چي په ناهیلي او خسران کي به وي ترسره کړي. ﴿قَالَ ٱدْخُلُواْ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ فِى ٱلنَّارِ﴾ وبه فرمایې (الله جل جلاله په قیامت کي دوی ته) چي ننوزئ په هغو امتونو کي د (کفارو فجارو) چي پخوا تېر شوي له تاسي له پېریانو او انسانانو په اور (د دوزخ) کي ﴿كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا﴾ هر کله چي ننوزي (د دوزخ اور ته) یو ټولګی نو لعنت به وایې دغه پر هغه بل وړاندي امت چي په مثل دده ده (په ګمراهي کي). الوسي وایې چي پیروان به پخپلو مشرانو لعنت وایې چي پر تاسو دي لعنت وي چي موږ مو داسي هلاکت ته راورسولو[1] خو مراد (د دوزخیانو پر خپل منځ کي یو پر بل لعنت استول دي لکه چي الله بل ځای فرمایي: ﴿ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا﴾ العنکبوت: ۲۵ ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعًا﴾ ترهغو پوري کله چي یو ځای شي دوی پدې (اور کي ټول) ﴿قَالَتْ أُخْرَىٰهُمْ لِأُولَىٰهُمْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا﴾ نو وبه وایې وروستني د دوی (تابعان) په (باب د هغو) رومبنیو (متبوعانو) کي (الله ته چي) اې ربه زموږ! دغو (مشرانو متبوعانو) ګمراه کړي وو موږ او د شیطان پیروي یې راته ښایسته کړي وه. ﴿فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ﴾ (نو ورکړه دوی ته عذاب دوچنده له اوره څخه) ځکه دوی زموږ د ګمراهي سبب وو او دغه په مثال د هغه آیت دی چي فرمایي: ﴿وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ ٱلْعَذَابِ﴾ الأحزاب: ۶۷ - ۶۸ ﴿قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ﴾ (وبه فرمایې (الله) چي د هر یوه لپاره دوچند دی) یعني د مشرانو لپاره دوچند پدې دی چي دوی هم پخپله ګمراه او هم یې نور ګمراهي ته غورځولي وو او د پیروانو لپاره بیا په دې دوچنده دی چي یو یې کفر او بل یې (دناروا) تقلید خپل کړی وو. ﴿وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ﴾ لیکن تاسو پرې نه پوهېږئ ځکه د دوه چنده عذاب غوښتنه کوئ. ﴿وَقَالَتْ أُولَىٰهُمْ لِأُخْرَىٰهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ﴾ او

---

(۱) روح المعاني ۸/ ۱۱۲

ربه وايې مشران ددوی په حق دوروستنيو (تابعانو) ددوی کي چي پس نه ووتاسو ته پر موږ باندي هيڅ بهتري (په سپکوالي دعذاب کي) ځکه چي موږ په ګمراهي اود عذاب په ورتيا کي سره برابريو. ﴿ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴾ نو وڅکئ تاسي عذاب په سبب د هغو کارونو چي تاسي به کول (په دنياکي له ګناهونو څخه هغه يې دکسات اخيستلو او (تشفي) لپاره ورته وويل ځکه هغوی ددوی لپاره ددوچنده عذاب غوښتنه کړي وه.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَا ﴾ ([1]) بېشکه هغه کسان چي نسبت ددروغوکوي آيتونوزموږ ته اوتکبر کوي (له قبول) دهغو يعني سره له دې چي آيتونه ځرګندوي اودوی وربا ندي ايمان نه راوړي اودهغوی په مقتضاعمل نه کوي. ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ ﴾ (وبه نه پرانستل شي دوی ته ورونه دآسمان) يعني ددوی نېک عملونه به آسمان ته ونه خېژول شي لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ ﴾ ابن عباس رضی الله عنه وايي: ددوی به نېک عمل نه پورته کېږي اونه هم دعاددوی اوچابياويلي چي ددوی داروا حونولپاره به دآسمانو دروازې نه پرانستل کېږي چي ددې خبري تائيد هم دا حديث شريف کوي چي فرمايي: (ان العبدالكافر اذاكان فی انقطاع من الدنيا يجنه ملک الموت حتی يجلس عند رأسه فيقول أيتها النفس الخبيثة أخرجی الی سخط من الله وغضب ويخرج منها كانتن ريح جيفة فلايمرعلی ملإ من الملائكة الا قالوا ماهذه الروح الخبيثة ؟ حتی ينتهی الی السمآء الدنيا فيستفتح فلايفتح ([2]) دحديث شريف معنا داده: کله چي کافربنده له دنيا څخه دتللو په حال کي وي دمرګ پرښته ورته راشي اوسر ته يې کښېني ورته وايي اې پليتي سا (روح) دالله قهرته راووزه اوهغه بياداسي بدبويه لکه دمرداري (مړژګي) بوی غوندي راووزي اوچي دپرښتو په هر ټولګي تېرېږي هغوی وايي دغه پليته روح دچاده ؟ ترڅوچي ددنياآسمان ته ورسېږي اودروازه پرانستل غواړي دروازه ورته نه پرانستل کېږي ﴿ وَلَا يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِى سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ (اونه به داخل شي دوی جنت ته ترهغه پوري چي ننوزي اوښ دستني په سوري کي) دغه ددوی ددخول دمحال ګڼلولپاره تمثيل دی لکه چي اوښ محال دی چي دستني په سوري کي ننوزي همداسي ددوی دخول جنت ته محال دی اودغه په انځور کي مبالغه ده ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ اوهم داسي جزا ورکووموږ مجرمانو (دعصيان خاوندانو) ته ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ ﴾ مقرردی دوی ته له دوزخ څني فرش (داور) ﴿ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾ اووي به دپاسه ددوی اغوستني (داور) ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ اوهمداسی (سخته) جزا ورکوموږ ظالمانوته (چاچي دالله له حدودوتجاوز کړی وي) کله چي الله پاک دکافرانولپاره وعيد ذکر کړ چي په آخرت کي به هسي عذابونه ورکول کېږي ورپسې يې هغه څه راوړل چي مؤمنانوته وعده ورکول شوي اوکوم نعمتونه يې ورته تيار کړي دي ويې فرمايل: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ ﴾ (اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه (عملونه) يعني هغه کسان چي دالله اورسول يې تصديق کړی اوپه هغه څه يې عمل کړی دی چي هغوی ورته فرمايلي دي) ﴿ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَآ ﴾ بارنه اچووپه هيڅ نفس مګرپه

([1]) طبري اوځيني مفسرين وايي چي (فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ) دالله جل جلاله کلام اودواړه ټولګيوته خطاب دی اودغه دتوبيخ په توګه ورته ويل کېږي خوځرګند اوظاهره خبره داده چي دغه دی دګمراهانو دمشرانوې چي خپلو پلويانوته خطاب کوي لکه چي البحر المحيط ليکلي دي. والله اعلم

([2]) أخرجه احمد، ابن كثير ۲ / ۱۸

قدر د طاقت ده ده. دغه جمله معترضه بولي چي دمبتدا او خبر ترمنځ پېښه شوي ده په البحر کي وايي چي ددې فائده داده چي دغه عمل ددوی په توان کي شته او له قدرته څخه يې وتلی نه دی او همدا راز د کفارو لپاره تنبيه پکي نغښتي چي جنت سره له دومره زياتو نعمتونو پدې آسانه عملونو بې تکليفه ګټل کېږي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دغه (مؤمنان) څښتنان د جنت دي همدوی به په هغه (جنت) کي تل وي ﴿ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ ﴾ او وبه باسو موږ هغه چي په سينو د دغو جنتيانو کي دی له کينو څخه (چي پر ته له ميني او محبت څخه بل څه به يې په زړونو کي نه وي لکه چي په حديث شريف کي راځي: يدخلون الجنة وليس فی قلوب بعضهم علی بعض غل(١) يعني جنت ته به هسي ننوزي چي ديو چا به د بل چا لپاره په زړه کي هيڅ کينه او بغض نه وي د ماضي صيغه په آيت کي د تحقق او ثبوت لپاره راوړل شوي ده. ﴿ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ ﴾ بهېږي به له لاندي د (مانيو او ونو د دوی) ويالي (د زيات نعمت په توګه) ﴿ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ ﴾ او وايي به دغه جنتيان ټولي ثناوي او احسانات الله ته دي. هغه الله چي برابر يې کړو موږ دې (مقام) ته او نه وو موږ پخپله چي موندلي مووای دا لاره که الله راته هدايت نه وی کړی (او توفيق يې راسره ملګری کړی نه وای) ﴿ لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ ﴾ (په تحقيق سره راغلي وو رسولان د رب زموږ پر حقه سره) يعني قسم دی چي رښتيا ويلي وو موږ ته رسولانو چي له پروردګاره يې خبر راکاوو. ﴿ وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾ (او آواز به وکړل شي دغو جنتيانو) ته داسي چي دغه جنت په ميراث (وريا) درکړل شوی دی تاسي ته په سبب د هغه چي وی تاسي کول به مو (نېک عملونه په دنيا کي) يعني پرښتې به دوی ته هسي آواز وکړي. قرطبي وايي: چي معنايې داده: د جنت منازل ستاسي د اعمالو په سبب درکول شوي او د جنت دخول د الله په رحمت او فضل دی. په حديث شريف کي راځي: (لن يدخل أحدًا منكم عمله الجنة) الحديث(٢) يعني هيڅکله به يو څوک پخپل عمل جنت ته داخل نشي. ﴿ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ ﴾ او غږ به وکړي جنتيان (د خپه کولو لپاره) څښتنانو د اور ته داسي چي په تحقيق وموندل موږ هغه ثواب چي وعده کړي وه رب له موږ سره (د انبياوو په ژبه له نعمتونو) په حقه سره نو آيا وموند تاسي (هم) هغه (عذاب) چي وعده کړي وه رب ستاسي (د عذاب او سپکاوي) په حقه (رښتيا) سره (نو) وبه وايي دوزخيان چي هو (هغه مو هسي بيا موندنه). زمخشري وايي چي: دغه خبري ددې لپاره سره تبادله کېږي چي په دوزخيانو باندي د جنتيانو سخي پخي شي او دوزخيانو ته خفګان ورزيات کړي هغه هم پدې يوازي اخبار او استخبار سره(٣) ﴿ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ نو غږ به وکړي يو غږکونکی په مينځ ددوی (جنتيانو او دوزخيانو) کي داسي چي لعنت د الله دي پر ظالمانو وي) بيايې د ظالمانو صفت هسي بيان کړچي: ﴿ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا ﴾ هغه ظالمان چي ګرځوي دوی خلګ له لاري د الله جل جلاله او لټوي دوی په دغي (لاري) کي کوږوالی (عيب)

---

(١) أخرجه ابن ابی حاتم.
(٢) أخرجه مسلم وانظر القرطبي ٧ / ٢٠٩
(٣) الكشاف ٢ / ١٠٢

يعني دوى هغه كسان دي چي په دنياكي به يې خلک د دين له پيروي څخه منع كول او غوښتل يې چي د دين لاره كږه وښيې ترڅو وربانـدي ښوک ولاړنشي ﴿ وَهُم بِٱلْآخِرَةِ كَـٰفِرُونَ ﴾ او دوى په (راتلو) د آخرت (قيامت) باندي كافران وو (چي نه يې منل) ﴿ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى ٱلْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَـٰهُمْ ﴾ او په مينځ كي د دغو دوا ړو (جنت او دوزخ يو د بـل) پرده ده او پر اعراف باندي به سړي وي چي پېژني دوى هريو جنتي او دوزخي) په علامو د دوى سره) دغه حجاب هغه دېوال دى چي په بل آيت كي فرمايي: ﴿ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَـٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴾ الحديد: ١٣ چي دغه دوزخيان منع كوي چي جنت ته ننوزي او پدې دېوال باندي خلک وي چي جنتيان او دوزخيان دواړه پېژني په علامو د هغوى. قتادة وايي چي: دوزخيان به په تورو مخونو پېژني او جنتيان به د مخونو په سپينوالي پېژني. (١) ﴿ وَنَادَوْا۟ أَصْحَـٰبَ ٱلْجَنَّةِ أَن سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمْ ﴾ او غږ به وكړي دغه (اعرافيان) جنتيانو ته داسي چي سلام دي وي پر تاسي) الله تعالى فرمايي: ﴿ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴾ حال دا چي داخل شوي به نه وي دغه (اعرافيان) جنت ته او دوى به طمع (د جنت) لري. ﴿ وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَـٰرُهُمْ تِلْقَآءَ أَصْحَـٰبِ ٱلنَّارِ قَالُوا۟ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ (او كله چي وګرزولى شي ستركي د دغو اعرافيانو) په لوري د خاوندانو د اور (دوزخيانو) نو به وايي دغه (اعرافيان) له ډېره هيبته) اې ربه زموږ ! مه ګرزوه (مه يوځاى كوه) موږ له قومه د (ظالمانو سره) مفسرين كرام وايي چي: اعرافيان هغه ښوک دي چي نېكي او بدي يې سره برابروي نه جنتيان وي او نه هم دوزخيان هلته په دېوال باندي پاتي كېږي ترڅو الله جل جلاله د دوى په هكله فيصله وكړي. ابوحيان وايي چي په تعبير د (صرفت) كي دا دليل شته چي ډېر كتل د دوى جنتيانو ته وي او كله چي دوى ته د دوزخيانو پلو ته د كتلو د نده وركول شي او دوى دوزخيان په بد حالت ووينې نو دوى فرياد پيل كړي چي الله پاكه موږ له دوى سره مه يوځاى كوه (٢) ﴿ وَنَادَىٰٓ أَصْحَـٰبُ ٱلْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَـٰهُمْ ﴾ او غږ به وكړي څښتنان د اعراف هغو سړيو ته (له دوزخيانو) پېژني به دا اعرافيان هغوى په علامو د (تورو مخونو)) هغوى (چي د كفارو مشران به وي) ﴿ قَالُوا۟ مَآ أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴾ (او وبه وايي دا اعرافيان دوزخيانو ته څه شى دفع وكړه له تاسي ډېروالي (د مال ستاسي او هغه چي وى تاسي لويي به موكوله (د ايمان له راوړلو څخه) استفهام دلته د توبيخ لپاره دى ﴿ أَهَـٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحْمَةٍ ﴾ (وبه وايي اعراقيان چي) آيا (دغه په جنت كي) هغه (ضعيفان مسلمانان) دي چي قسمونه به خوړل تاسي (په دنياكي) چي وبه نه رسوي دوى ته الله جل جلاله خپل رحمت ؟ استفهام تقريري او د توبيخ لپاره راغلى چي د دوى د توبيخ او شماتت لپاره دى همدغو جنتيانو ته به وايي چي: ﴿ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴾ (ننوزئ جنت ته چي نه به وي هيڅ ويره پر تاسي باندي او نه به تاسي غمجن كېږئ) الوسي وايي چي: دغه د اعرافيانو له خوا جنتيانو ته ويل كېږي چي په بشپړه خوشحالي او پوره

---

(١) الطبري ١٢ / ٤٢٣

(٢) البحر المحيط.

عزت سره په جنت کي اوسئ(١) ﴿ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ ﴾ (اوغږ به وکړي صاحبان داورصاحبانود جنت ته داسي چي راتوی کړئ تاسي پرموږ باندي له اوبو اویا (راواچوئ) له هغوشیانوچي روزي درکړي ده تاسي ته الله) داسی الله تبارک وتعالی له هغه محاورې څخه چي د دوزخیانو او جنتیانو ترمینځ به کېږي اخبارکوي کله چي دوی هره ډله پخپل ځای هستوګنه غوره کړي نوبه دوزخیان چي خپل تکلیفونه ویني داسي فریاداوزاري پیل کړي چي موږ خولوړي ، تندي هلاک کړو څه اوبه ، یاخواړه خوراواچوئ ؟ جنتیان به ورته وایې) ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (وبه وایې جنتیان (دوی ته) چي الله حرام کړي دي دادواړه(خوراک ، څښاک) پرکافرانو) . ابن عباس رضی الله عنهما وایې چي: یو سړی به وروړ، یاپلارته وایې چي: وسوځېدلم څه اوبه خوراکړئ ورته وبه ویل شي چي ځواب ورکړئ نوبه دوی ورته روایې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (٢) بیاالله جل جلاله دکافرانوصفت هسي څرګندوي چي ﴿ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا ﴾ هغه (کافران) چي نیولی وو دوی دین خپل تماشااولوبي ﴿ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ ﴾ (اوغولولي وودوی ژوندانه ددنیا) یعني دوی ددنیاپه مزخرفاتواوشهواتو تېروتلي وو هغه چي غولونکي اوو ژونکي دي. ﴿ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا ﴾ (نونن ورځ به هېرو وموږ دوی لکه چي هېر کړی وودوی ملاقات دخپلي دغي ورځي) یعني په همدغي ورځي کي به موږ دوی په عذاب کي پرېږدو لکه چي دوی ددغي ورځي لپاره دملاقات عمل پرې ایښی وونه یې په زړه کي ورګرزېدل اونه یې ورته پاملرنه کوله. الوسي وایې چي کلام دتمثیل په ډول راوتلی یعني موږبه یې په اورکي هسي پرېږدو لکه چي دوی ددغي ستري ورځي یوځای کېدل هېرکړي وو هغه چي هیڅ نه بنایې هېره دي شي(٣) ابن کثیر وایې چي: له دوی سره به داسي معامله وشي لکه معامله دهېرونکي ځکه د الله جل جلاله له علم څخه خو هیڅ نه پټېږي اونه هېرېږي (٤)﴿ وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴾ اولکه چي وودوی چي په آیتونو زموږبه یې انکارکاوو(په دنیاکي اوورباندي به یې ملنډي وهلې) همداسي به یې موږ په عذاب کي هېرکړو.

بلاغت:

١ - ﴿ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ ﴾ دغه کلام مرسل مجاز دی اوعلاقه یې محلیت دی ځکه مراددلته لمونځ اوطواف دی اوڅرنګه چي مسجد دلمانځه ځای دی ورباندي اطلاق یې وکړ.

٢ - پدې آیت کي چي فرمایې: ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ ﴾ (دنه منلو څخه کنایه ده یعني دهغوی دعااوعمل نه منل کېږي.

٣ - ﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ ﴾ پدې کلام کي ضمني تشبیه ده یعني په هیڅ حال له احوالوبه جنت ته ولاړنشي ترڅو اوښ دستني په سوري کي ننوزي اودغه دمحال کارلپاره استعاره ده.

(١) روح المعاني ٨ / ١٣٦
(٢) الطبري ١٢ / ٤٧٣
(٣) روح المعاني ٨ / ١٢٧
(٤) مختصرابن کثیر ٢ / ٢٤

۴- پدې کلام کې چې الله جل جلاله فرمايي: ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾ دالبحر المحيط مؤلف وايي چې په دغه دچاپېر کېدلو لپاره استعاره ده لکه چې بل ځای الله تعالی فرمايي: ﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ الزمر: ۱۶[۱]

۵- پدې کلماتو کې چې پدې آيت شريف کې راغلي ﴿ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ﴾ د ﴿ ظَهَرَ ﴾ او ﴿ بَطَنَ ﴾ ترمنځ د طباق صنعت دی او له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

فائده:

روايت کېږي چې د هارون الرشيد يو نصراني طبيب وو چې يو وخت يې يو عالم ته وويل چې: ستاسو په کتاب کې د طب په باب هيڅ هم نشته او علم په دوه ډوله دی يو يې علم الابدان او بل يې علم الاديان دی نو عالم ورته وويل چې: الله جل جلاله ټول د طب علم په نيمايي آيت شريف کې راغونډ کړی دی. طبيب ورته وويل: هغه کوم دی ؟عالم ورته وويل: چې د الله جل جلاله داقول: ﴿ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا ﴾ نصراني طبيب وويل: چې ستاسي پيغمبر بيا د طب په هکله کوم شی ندی ويلی عالم ورته وويل: چې زموږ پيغمبر په لنډو الفاظو کې طب را نغاړلي دي هغه ورته وويل: چې څه يې ويلي ؟ عالم ورته وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (ماملأابن آدم وعاء شرمن بطنه بحسب ابن آدم من لقيمات يقمن صلبه) الحديث نو نصراني وويل: چې په رښتيا ستاسو کتاب او نبي د جالينوس لپاره د طب په هکله هيڅ هم ندي پرې ايښي

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ جِئْنَاهُم بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَىٰ عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (۵۲) هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ ۚ يَوْمَ يَأْتِي
تَأْوِيلُهُ يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوا لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ
الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ قَدْ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ (۵۳) إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ
بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (۵۴) ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۵۵)
وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ (۵۶) وَهُوَ
الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ
فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (۵۷) وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۖ
وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ (۵۸) لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ
يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (۵۹) قَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ

(۱) البحر المحيط ۴ / ۲۹۸

فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٦٠﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي ضَلَٰلَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦١﴾ أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي
وَأَنصَحُ لَكُمۡ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٢﴾ أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡ
وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ
قَوۡمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾ ۞ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ ٱلۡمَلَأُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي
سَفَاهَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠ لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ
ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وَزَادَكُمۡ فِي ٱلۡخَلۡقِ
بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُنَاۖ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ رِجۡسٞ وَغَضَبٌۖ
أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ
ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَقَطَعۡنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ وَمَا كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ
﴿٧٢﴾ الأعراف: ٥٢ - ٧٢

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دکفارو بدمرغه حال او په آخرت کي خسران یادکړنو دلته بیادا راوړي چي دهیچاعذر دمنلو وړنه دی ځکه الله جل جلاله پیغمبران رااستولي او هغوی ته یې دبشریت دلارښووني کتابونه ورکړي دي بیایې دځینو انبیاوو چي په پیل کي د انبیاوو مشرحضرت نوح علیه السلام او وروسته هود علیه السلام یادونه وکړه او داچي مشرکینو ددوی دبلني په وړاندي څرنګه دریز درلود هغه یې څرګند کړل

لغتونه:

﴿ تَأۡوِيلُهُۥ ﴾ له(أل ،يؤل)څخه اخستل شوی او پایله یاعاقبت ته وایي. ﴿ ٱسۡتَوَىٰ ﴾ دعلو او استقرار په معنادی جوهري وایي (استوى على ظهر الدابة) معناپه مرکب مستقرشواوچي وایي (استوى الى السماء) معناداچي قصدیې وکړ آسمان ته او(استوی الشئ)کله چي برابرشي ﴿ يُغۡشِي ﴾ پټوي ﴿ حَثِيثٗا ﴾ له حث څخه اخستل شوی او سرعت ته وایي ﴿ تَبَارَكَ ﴾ له برکت څخه تفاعل دی یعني کثرت او پراخي. ازهري وایي چي دتبارک معنا(تعاظم) او(تعالى) دی ﴿ تَضَرُّعٗا ﴾ دعاجزي اظهار کولو ته وایي ﴿ وَخُفۡيَةً ﴾ پټ ﴿ بُشۡرَۢا ﴾ زیری ورکونکی په باران سره ﴿ أَقَلَّتۡ ﴾ باریې کړل ﴿ نَكِدٗا ﴾ لږ ﴿ ءَالَآءَ ﴾ نعمتونه چي واحد یې (الی)دی لکه (معًی).

تفسير:

﴿ وَلَقَدْ جِئْنَاهُم بِكِتَابٍ ﴾ (اوخامخا اوړي دي موږ دغو (كفارو) ته كتاب) يعني موږ دغو دمكې خلګوته قرآن عظيم ورکړيدی ﴿ فَصَّلْنَاهُ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ (چي واضح بيان كړيدي موږ (معاني د) ده حال داچي عالمان وو موږ (په معاني دده) يعني موږ يې احكام اومعاني څرګند بيان كړي ترڅو سم برابر او كوږوالى پكي نه وي ﴿ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ (حال داچي دغه كتاب هدايت اورحمت دی لپاره د (هغه) قوم چي ايمان (پرې) لري) يعني ددوی لپاره هدايت ، رحمت اوسعادت دی ﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ ﴾ (آيا انتظار كوي دوی (بلكه نه كوي) مګرعاقبت دهغه (شي چي په دغه كتاب كي دی) له ثواب اوعذاب) يعني دمكې خلك انتظار نه كوي مګرعاقبت دهغه عذاب اووبال چي وعده وركول شوي ده . قتادة وايې چي : دتأويل معنا عاقبت اوانجام دی .

﴿ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ ﴾ په هغې ورځي كي چي راشي عاقبت دده په قيامت كي) ﴿ يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ ﴾ وايې هغه كسان چي هېر كړی وو دوی دغه كتاب پخواله دې نه (اوعمل يې پرې نه كاوه) ﴿ قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ﴾ (په تحقيق راغلي وورسولان درب زموږ پرحقه) موږ ته ددوی رښتنولي ثابته شوه خوموږ وورباندي ايمان نه راووړاونه موددوی پيروي كوله . طبري وايې چي: دغه بېوزلان كله چي دالله عذاب ورباندي ولوېږي قسمونه كوي چي دالله پيغمبرانو دوی ته رسالت رسولى اونصيحت يې ورته كړی وو خودوی دغه تصديق په داسي وخت كي وي چي ورته ګټه نه رسوي اودالله جل جلاله له قهرڅخه يې دېرقيل اوقال نه ژغوري .(۱) ﴿ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوا لَنَا ﴾ نو آيا شته موږ لره له شفاعت كونكو چي شفاعت وكړي دوی زموږ لپاره) يعني آيا څوك شته چي زموږ شفاعت وكړي اوله دې عذاب نه مو وژغوري پدې استفهام كي دهېلي اوتمنا معنا شته .

﴿ أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ﴾ يا بېرته بوتله شو (دنيا ته) نو (بيا) عمل به وكړو غيرله هغه (بد) عمل نه چي وو موږ چي كاووبه مو (په دنيا كي) الله تعالى ددوی په ردكي فرمايې: ﴿ قَدْ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ په تحقيق زيان رسولى دوی ځانونو خپلو ته (په كفر) اوورك) شوله دوی نه هغه چي وودوی چي دروغ به يې ويل د (شرك) يعني دوی ځكه خسران وكړچي د دنيا خاسرفاني ژوندون يې د آخرت په باقي اوتل پاتي ژوندانه رانيو (وپېرودل) اوبې فائدې شول هغه ګومانونه ددوی چي دوی به ويل دغه بتان اوخدايان به زموږ شفاعت كوي بيا الله تعالى دخپل قدرت اووحدانيت دلائل داسي يادوي: ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ (بېشكه چي رب ستاسي الله دي هغه الله چي پيدا كړي يې دي آسمانونه اوځمكه (په مقدار) دشپږو ورځو كي) يعني ستاسي معبود اوخالق هغه يوازنى ذات دی كوم چي تاسى يې عبادت كوئ هغه دايجاد داسي توان لري چي ځمكه اوآسمانونه يې د (دنيا) دشپږو ورځو په موده كي پيدا كړيدي قرطبي وايې: كه يې اراده كړي وای نو په يوه شيبه كي به يې پيدا كړي ووخو الله جل جلاله غوښتل چي بندګانو ته

(۱) الطبري ۱۲/ ۴۸۰

دتلواري نه كولوتعليم وركړي. ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ (بيايې استواء وکړه پرعرش) هسې استواء چې دده جلت عظمته له شانه سره ښايې بې له تشبيه اوتمثيل نه اوپرته له تعطيل اوتحريف نه لکه چې دسلف صالحينومذهب اولکه چې امام مالک رحمه الله وايې چې استوآء معلومه اوکيفيت يې مجهول دى اوايمان وربانديې واجب دى اوپوښتنه له دې (کيفيت) څخه يې بدعت دى. امام احمدرحمه الله وايې چې: دصفاتوځخه اخبارهسې کاووشي لکه چې راغلي وي بې له تشبيه اوتعطيل نه، داسې نه ويل کېږي چې څرنګه؟ اوولې؟ موږيدې ايمان لروچې (ان الله على العرش کيف شآء وکماشآء) بې له دې چې څوک يې صفت وکړي اويايې تعريف څرګند کړي موږآيت اوحديث لولواوپه هغه څه ايمان لروچې په دوى کې دي خودکيفيت سپارښت يې دالله عزوجل علم ته کوو.(١) اوقرطبي وايې چې: له سلف صالحينو څخه هيڅوک هم ددې انکارنه کوي چې (انه على عرشه حقيقة) خوښکه خبره داده چې داستوآء کيفيت ورته معلوم نه دى ځکه هيڅوک يې په حقيقت نه پوهېږي(٢) ﴿ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا ﴾ پټوي (تياره د) شپې په (رڼاد) ورځې چې طلب کوي هره يوه بل لره په تلوار سره (چې ويې مومي) ﴿ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ﴾ او(پيداکړي يې لمراوسپوږمۍ اوستوري حال داچې مسخرکړى شويدي حکم دالله ته ﴿ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ﴾ خبردارشئ چې (خاص) الله لره دى پيداکول اوحکم فرمايل (دټولوکائناتو) ﴿ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ الله لوى برکت والادى پروروډګاردګردو عالميانودى ﴿ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴾ (بولئ تاسې خپل رب په زاري اوپه پټه سره) په خشوع اوخضوع باندې ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴾ (بېشکه چې الله نه خوښوي تېرېدونکي) په دعاکې چيغې وهونکي په وازکومې په حديث شريف کې راځي (انکم لاتدعون أصم ولاغائبًا) يعنې تاسوخوغائب اوکانه ته غږنه ورکوئ. ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَـٰحِهَا ﴾ (اوپه ځمکه کې فسادمکوئ وروسته له اصلاح ددې) يعنې تاسوپه ځمکه کې په شرک اوګناهونو فسادمه جوړوئ وروسته له دې چې الله پاک هغه دپيغمبرانو په را استولو اصلاح کړېده. ﴿ وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾ اوبولئ تاسې الله (عبادت يې کوئ) په وېرې سره (له عذابه دالله) اوپه اميد (د رحمت دالله) ﴿ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ (بېشکه چې مهرباني دالله ډېره نژدې ده محسنانولره) يعنې دالله رحمت هغومطيعانواوفرمان وړونکوته چې دالله داوامرو امتثال کوي اوله زواجرو څخه يې ځان ژغوري خوراتژدې دى ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَـٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ﴾ اوهمدغه (الله) هغه ذات دى چې رالېږلى بادونه زېرې کونکي په مخکې د رحمت دده (چې باران دى) يعنې لېږي بادونه زېرې کونکي په باران. په البحر المحيط کې وايې چې د(بين يدى رحمته) معنا باران دى اوهغه له ستر او ښايسته نعمتونه څخه ګڼل کېږي چې په انسان باندې يې اغېزه راځي.(٣) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتْ

(١) محاسن التأويل ٧ / ٢٧٠٨

(٢) الطبري ١٢ / ٤٨٠

(٣) البحر المحيط ٤ / ٣١٧

﴿ سَحَابًا ثِقَالًا ﴾ ترهغه پوري چي راواخلي (دغه بادونه) وريځي درنې (په اوبو سره) ﴿ سُقْنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ ﴾ چي روانوو موږ دغه وريځي زرغونولو د (هغې ځمکي ته چي مړه (وچه بې گياه) وي ﴿ فَأَنزَلْنَا بِهِ ٱلْمَآءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ پس نازلوو موږ له دې وريځو څخه اوبه نو راباسو موږ په هغو اوبو له هرقسم ميوو څخه . ﴿ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ همداسي (لکه چي مړه ځمکه ژوندۍ کوو) راباسو موږ مړي (له ځمکي) د پاره ددې چي پند واخلئ) ابن کثير وايې چي : الله جل جلاله د پرځله دقيامت دورځي لپاره دځمکي په ژوندي کولو وروسته له مړيني مثال راوړي نوځکه يې وفرمايل چي : ﴿ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ (۱) ﴿ وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ﴾ (او ځمکه پاکه (خوږه د زراعت وړ) راوزي زرغونه زرغونه ددې (ښه کامله) په حکم درب دده) هغه ځمکه چي خوږه ، زراعتي ، زرخېزه وي نو نباتات يې زيات اوګټوررا وزي . دالله جل جلاله په اراده او آسانتيا سره او دا دهغه مؤمن مثال دی چي وعظ او نصيحت اوري وربانديي گټه او نفع اخلي ﴿ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ﴾ (او هغه ځمکه چي خرابه ښوره وي نه راوزي نبات (زرغونه) يې مګر لږ ناقصه) يعني کله چي ځمکه ناکاره د تورو ډبرو او يا تروه مالګينه وي نباتات يې نه راټوکېږي مګر په مشقت او ډېر لږ چي نفع پکي نه وي او دغه د کافر لپاره مثال راوړل شوی چي په نصيحت باندي گټه نه آخلي . ابن عباس رضی الله عنه وايې چي : داهغه مثال دی چي الله جل جلاله دمؤمن او کافر لپاره راوړی دی نو مؤمن پاک او عمل يې هم پاک وي لکه پاکه ځمکه چي ميوه يې هم پاکه وي او کافر پليت دی عمل يې هم پليت لکه ښوره ناکه ځمکه چي گټه وربانديي نشي اخيستل کېدای ﴿ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴾ (په شان ددې (مثالونو) بيابيا بيانوو آيتونه لپاره دقوم (مؤمنانو) چي شکرباسي) يعني لکه دا مثال چي موبيان کړ همداسي دلائل په آيت وروسته له آيت بيانوو لپاره دهغه چاچي دالله په نعمتونو شکرباسي او کله چي شاکرين يې په يادولو ځانګړي کړل سبب يې دادی چي هغوی دقرآنکريم په اورېدلو گټه اخلي . الوسي وايې : معنادا چي ددغه نادر اوښتون په شان موږ دسترقدرت په څرګندولو آيتونه راوړو او مکرر کوويې دهغه چالپاره چي دالله تعالی دنعمتونو شکرباسي او شکرايستل يې په فکر کولو او عبرت اخيستلو باندي وي (۲) ﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ ﴾ (قسم دی په تحقيق لېږلی وو موږ نوح په لوري دقوم دده) لام دمحذوف قسم لپاره جواب دی يعني والله چي په تحقيق موږ نوح لېږلی وو . نوح عليه السلام دانبياوو شيخ او بزرګوار وو ځکه تر ټولو يې عمردراز وو او هغه لومړنی پيغمبر وو چي الله پاک وروسته له ادريس عليه السلام څخه رالېږلی وو او هيڅ نبي دومره تکاليف لکه چي نوح عليه السلام ګاللي له خپله قومه نه دي ليدلي (۳) ﴿ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ (نوو ويل : (نوح) اې قومه زما ! عبادت کوئ تاسي د (الله) يعني په وحدانيت سره الله جل جلاله ومنئ او شريک ورسره مه نيسئ ستاسي لپاره پرته له الله بل څوک دعبادت مستحق او ور نشته ﴿ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

---

(۱) مختصر ابن کثير ۲ / ۲۷
(۲) روح المعاني ۸ / ۱۴۸
(۳) دنوح عليه السلام ژوندپانه زموږ په کتاب النبوة والانبياء کي وګورئ .

عَظِيمٍ ﴾ (بېشکه زه وېرېږم په تاسي باندي له عذاب دورځي لويې) يعني که موايمان نه راووړاو شريکان مونېول نوزه پرتاسي دقيامت دلويې ورځي له عذابه وېرېږم. ﴿ قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ (نوو ويل: مشرانوله قوم دنوح بېشکه موږوينوتاپه گمراهي ښکاره کي) يعني مخه ورو اشرافو دقوم يې ورته وويل چي: موږوينو تا لويه لاره ورکه کړېده . ابوحيان وايي چي له ټوله قومه څخه يې بل چا خواب ورنکړ مگرېوازي خانانو مشرانو اودوی هغه کسان دي چي عقلونه يې په دنيا اورياست گټلوکي غوپه وي[١] اوهمدا راز ددنيادټولو فاجرانو حال وي چي نېکان ورته په گمراهي کي برېښي. ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِى ضَلَٰلَةٌ ﴾ (وويل: (نوح) اې قومه زمانشته په ماکي (له سره) هيڅ گمراهي) يعني زه گمراه نه يم. ﴿ وَلَٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (ولېکن زه استازی يم له جانبه درب پالونکي دټولوعالميانو) هغه چي ستاسو دامورو مالک دی اوستاسي دمصلحتونو کتونکی دی. ﴿ أُبَلِّغُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ رسوم تاسي ته پيغامونه درب خپل اوپند در کوم تاسي ته (ستاسي دمصلحت اوخيرغوښتونکی يم) اوپوهېږم له (جانبه) الله (په وحی سره) په هغه چي پرې نه پوهېږئ تاسي. ابن کثير وايي چي همدغه دپيغمبرشان دی چي فصيح ناصح مبلغ به وي پداسي څه به پوه وي چي نور خلگ پرې نه پوهېږي اوپدغوصفاتوکي به ده ته هيڅوک هم رسېدلای نشي[٣] ﴿ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ ﴾ (آيا تعجب کوئ تاسي له دې چي راغلی دی تاسي ته ذکر(وحی) له لوري درب ستاسي پر(ژبي) ديوسړي له جنسه (ستاسي) يعني دغه دتعجب خبره نه ده چي الله له تاسي څخه يوسړي ته وحی وکړي پرتاسي باندي درحمت، لطف اواحسان په سبب سره ﴿ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا۟ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ لپاره ددې چي ووېروي دی تاسي اودپاره ددې چي تاسي پرهېزگاران شئ اودپاره ددې چي پرتاسي باندي رحم وکړی شي) يعني ترڅودغه پيغمبر تاسو ووېروي که ايمان مونه راوړ اوترڅوله خپل پروردگاره ووېرېږئ اودهغه رحمت بيا مومئ کله چي تقوی کوئ ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ ﴾ (پس نسبت ددروغو وکړ(کفارودغه نوح ته) نونجات مو ورکړ ده ته اوهغو کسانوته چي له ده سره (ملگري) ووپه بېړۍ کي) يعني دوی نوح عليه السلام سره له دې چي ډېره موده يې ورسره تېرکړه دروغجن وگاڼه نو الله هغه او ورسره ملگري مؤمنان په بېړۍ کي له هلاکت څخه وژغورل ﴿ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ اوغرق موکړل هغه کسان چي نسبت ددروغويې کړی وو آيتونوزمونږته. ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا عَمِينَ ﴾ (بېشکه دوی ووړوند قوم) يعني زړونه يې دحق له ليدلو څخه ړانده وو هغه يې نه ليده. ابن عباس رضی الله عنه وايي

---

(١) البحر المحيط ۴ / ۳۲۰

(٢) دالبحر مؤلف ليکلي چي دلته ترکيب داسي نه راغی چي ويلي يې وای (لست في ضلال مبين) بلکه په خورا ښکلي توگه يې تعبير وفرمايل چي: ﴿ لَيْسَ بِى ضَلَٰلَةٌ ﴾ ترڅو چي دهرډول گمراهي چي ورسره گډه شي نفي وکړي اودغه دگمراهي ترنفی ابلغ ده ځکه په هغه پسي هيڅ يوه گمراهي هم تعلق نه وو نيولی.

(٣) مختصرابن کثير ۲ / ۲۸

چي زړونه يې دتوحيدله معرفته اودنبوت اومعاد له پېژندګلوي څخه ړانده وو.(۱) ﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ﴾ او(لېږلى مو ووقوم د) عادته ددوى (قومي) ورور هود چي ددوى كورونه د يمن په احقاف كي وو. ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ﴾ وويل(هود) اې قوم زمادالله جل جلاله عبادت كوئ نشته تاسي ته هيڅ (حق) معبودبې له الله نه !. ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ آياتاسي نه وېرېږئ ؟ (له عذاب د الله) ﴿ قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ ﴾ وويل مشرانوهغوى چي كافران شوي وولـه قومه ددغه (هود) ﴿ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴾ بېشكه موږخامخاوينوتاپه بې عقلي كي اوبېشكه موږخامخاګمان كووپه تاله دروغجنانو(پدې دعوى درسالت كي) ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ وويل :(هود) اې قومه زمانشته په ماكي (له سره) هيڅ بې عقلي وليكن زه استازى يم دهدايت (له جانبه) درب (پالونكي) دټول عالم. ﴿ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴾ دررسوم تاسي ته پيغامونه درب خپل اوزه تاسي ته نصيحت كونكى ښه امانت ګريم ؛ زمخشري وايې چي: دانبياء عليهم السلام پداسي پسته ژبه له خپلوناپوهه خلګوسره مخاطبه دلويو خويونو اوښايسته ادب ښودنه اوبندګانوته ورزده كول وي چي څرنګه بايد په زغم اوصبر سره سوال او ځواب وكړي اودناپوهانوپه بې خونده محاوره دي پرده وغوړوي. (۲) ﴿ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ﴾ آياتعجب كوئ تاسي له دې چي راغلى دى تاسي ته پندله (لوري د) رب ستاسي په (ژبه) ديوسړي له تاسي دپاره ددې چي ووېروي دى تاسي) له مخامخ كېدلواوعذابه دالله نه. ﴿ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ ﴾ اويادكړئ تاسي هغه وخت چي ګرځولي وى الله تاسي خليفه ګان (په ځمكه كي) وروسته (له ډوبېدلود) قوم دنوح ﴿ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً ﴾ اوزيات يې كړې په تاسوته پيدا اينبت كي قوت، قامت اوږدوالى ﴿ فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ نويادوئ تاسي نعمتونه (احسانونه) دالله ښايې چي تاسي خلاصون ومومئ (له عذابه دالله) ﴿ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ﴾ وويل: عاديانو (هود) ته آياراغلى يې ته موږته ددې لپاره چي عبادت وكړو موږدالله يوازي اوپرېږدو هغه (بتان) چي عبادت به يې كاووپلرونوزموږ؟ ﴿ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴾ نوراوړه موږته هغه عذاب چي ته (پرې) موږ وېروې كه يې ته له رښتيا ويونكوڅخه(موږپرتاباورنلرو) ﴿ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ﴾ وويل : (هود) په تحقيق واقع شوپرتاسي له (لوري) درب ستاسي عذاب اوقهر ﴿ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ﴾ (آياجګړه كوئ تاسي له ماسره په (تشو) هغو نومونوكي چي ايښي دي تاسي هغه (نومونه) تاسي

(۱) البحر ۴ / ۳۲۳
(۲) الكشاف ۲ / ۱۱۲

اوپلرونو ستاسي حال داچي ندی رالېږلی (الله جل جلاله) په عبادت کولو ددوی هيڅ دليل (علمي سند) يعني آيا تاسو له ماسره دهغو بتانو په هکله جګړه کوئ څوک چي نه ګټه رسوي او نه هم زيان او الله ددوی دعبادت کولو په هکله هيڅ برهان ندی را استولی ؟ ﴿ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴾ (نو انتظار کوئ تاسي (دعذاب) بېشکه زه چي يم له تاسو سره له منتظرانو يم) اودغه نو تهديد او وعيد ورو ستي پړاو دی ﴿ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ﴾ نو خلاصی ورکړ موږ دغه (هود) ته او هغو کسانو ته چي له ده سره وو (له مؤمنانو څخه) په رحمت سره (له جانبه) زموږ ﴿ وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ (او پرې کړ موږ بېخ دهغو کسانو چي نسبت د دروغو يې کړی وو په آيتونو زموږ) يعني موږ له بېخه وايستل او يو مخه ابزه مو هلاک کړل ﴿ وَمَا كَانُواْ مُؤْمِنِينَ ﴾ (او نه وو دوی مؤمنان) يعني دوی د پيغمبر تکذيب کاوو و رباندي يې ايمان نه راووړ دعذاب وړ او مستحق وو ؛ ابو السعود وايي چي : دوی په کفر باندي ټينګ وو د انبياوو تکذيب يې کاوو او له دې څخه نه راګرزېدل نو الله جل جلاله په شديد باد باندي هلاک کړل [1]

بلاغت :

۱ - ﴿ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ﴾ دغه آيت شريف که څه هم الفاظ يې د هرلند خو زياتي معناګاني پکي رانغښتي او ټول شيان او حالات پکي يو ځای شويدي آن ترد ې چي ابن عمر رضی الله عنه وفرمايل : که دچا يو څه پو ښتنه پاتي وي نو ودي غواړي او دغه اسلوب ته دبديع په علم کي (ايجاز قصر) وايي چي له لنډو الفاظو څخه اوږدې او زياتي معناوي واخيستل شي.

۲ - پدې کلام کي چي الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿ سُقْنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ ﴾ د ښار صفت په مړه سره د کاختي استعاره ده او بې نباتاتو ښار داسي مثال لري لکه چي په بدن کي ساه (روح) نه وي ځکه جي ګټه ورباندي نه اخيستل کېږي.

۳ - ﴿ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ يعني له مځکي څخه (نبات) د راايستلو په شان مړي له قبرونو څخه راباسو نو دغي ته (مرسله مجمله) تشبيه ويل کېږي ځکه د تشبيه أداة ذکر شوی او د مشابهت وجه نده راغلي.

۴ - ﴿ وَقَطَعْنَا دَابِرَ ﴾ د بېخ پرېکول هغه لطيفه کِنايه ده چي ددوی له يو مخ ابزه هلاکت څخه راوړل شوي ده

تنبيه :

علامه الوسي د الله جل جلاله ددې قول په هکله چي فرمايي: ﴿ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴾ داسي وايي چي له حسن بصري څخه روايت شوېدی چي هغه وويل :مسلمانانو به په دعاکي زيار ايستل او ږغ به يې نه اورېدل کېده و يوازي ددوی او دخپل پروردګار ترمينځ به يې وړو نياز او زاري کولې ځکه چي الله جل جلاله فرمايي: ﴿ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴾ او الله پاک خپل صالح بنده هسي ستايي چي: ﴿ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴾ مريم: ۳ بيايي وويل چي: د دعا لپاره د هر آداب ذکر شوي يو دا چي په او داسه به وي او قبلې ته به مخامخ وي زړه به

---

[1] ابو السعود ۲ / ۱۷۴

یې له نوروشواغلو څخه فارغ وي اوپیل اوپای به یې په پیغمبري درود باندي وي اودآسمان لوري ته به ورغوي پورته کوي اوددعادمنلو وخت به ځاري لکه دشپې وروستی دريمه اويادروژه ماتي وخت ، يادجمعې مبارکه ورځ اويانور.....(۱)

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ
مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ
(۷۳) وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا
وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ فَٱذْكُرُوٓا۟ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۷۴) قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟
مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ
بِهِۦ مُؤْمِنُونَ (۷۵) قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ (۷۶) فَعَقَرُوا۟ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْا۟ عَنْ
أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ (۷۷) فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ
جَٰثِمِينَ (۷۸) فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ
(۷۹) وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ (۸۰) إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ
شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ (۸۱) وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن
قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ (۸۲) فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ (۸۳) وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم
مَّطَرًا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ (۸۴) وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟
ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ وَلَا
تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم
مُّؤْمِنِينَ (۸۵) وَلَا تَقْعُدُوا۟ بِكُلِّ صِرَٰطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِهِۦ
وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ
(۸۶) وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ فَٱصْبِرُوا۟ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ
وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ (۸۷)

(۱) روح المعاني ۸ / ۱۳۹

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفۡتَرَيۡنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنۡ عُدۡنَا فِي مِلَّتِكُم بَعۡدَ إِذۡ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنۡهَاۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَاۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩١﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبًا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبًا كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾

الأعراف: ۷۳ - ۹۳

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د سورت په پیل کې د آدم علیه السلام کیسه یاده کړه وروسته یې دخپل قدرت آثار او د صنعت او جوړښت عجائبات کوم چې د الله جل جلاله په توحید او ربوبیت یې دلالت کاوه راوړل او همداسې غوخ دلیل یې د بیا راژوندي کېدلو او بعث وروسته له مرګه په باب ذکر کړ وروسته یې بیا د انبیاوو علیهم السلام کیسې یو به بل پسې یادې کړې او هغه څه یې ذکر کړل کوم چې د دوی او د امتونو ترمینځ یې تېرشوي وو نوح علیه السلام او هود علیه السلام یې یاد کړل وروسته یې دلته د صالح او شعیب علیهما السلام یادونه وکړه او د دښمنانو هغه دریځ یې چې د پیغمبرانو تکذیب او انکار یې کاوو څرګند کړ.

لغتونه:

﴿ نَاقَةُ ﴾ ښځینه اوښې ته وایې او (عقر الناقة) د اوښې پښې په توره وهلو ته وایې ﴿ وَعَتَوۡاْ ﴾ تکبر یې وکړ او کله چې شپې ته وایې (اللیل العاتي) یعني هغه شپه چې تیاره یې خورا زیاته وي ﴿ جَٰثِمِينَ ﴾ په مخکه پړمخ په مخونو او زنګنونو لوېدلي ته وایې لکه چې مرغه ولوېږي ﴿ ٱلرَّجۡفَةُ ﴾ لړزونکي هغه چې انسان لړزوي لکه چې وایې: (رجفت الارض) یعني مځکه ولړزېده ﴿ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴾ په عذاب کې تلپاتې (غابر) د پاتې کېدونکي په معنا دی او همدارنګه د ماضي او تېرشوي په معنا هم راځي لکه چې (أعشی) وایې (فی الزمن الغابر) یعني تېره شوي زمانه او دغه له اضدادو څخه دی لکه چې په صحاح کې راوړي ﴿ يَغۡنَوۡاْ ﴾ د بروخت مېشت (مقیم) کېدل.

تفسیر:

﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥ ﴾ (اولېږلی وو موږ) ثمودیانو ته (قومي) ورورددوی صالح وویل: (صالح) اې قومه زما تاسې د الله عبادت کوئ نشته تاسې ته هیڅ (حق) معبود بې له الله نه) یعني د الله وحدانیت ومنئ او شریک ورسره مه نیسئ ﴿ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ ﴾ په تحقیق راغلې ده تاسې ته ښکاره معجزه (چې زما د نبوت په رښتنولي دلالت کوي) ﴿ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗ ﴾ (دا اوښه د الله ده ده تاسې ته نښه) دغه د معجزې بیان دی او د اوښې نسبت کول الله تعالی ته تشریف لپاره دی ځکه هغه بې واسطې پیدا شوې. قرطبي وایې: چې اوښه یې له کرکنده د برې څخه کله چې دوی

خني وغوښته راو ايستله⁽¹⁾ ﴿ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ﴾ نو پرېږدئ تاسي دغه (اوښه) چي خوري رزق په ځمکه دالله کي ﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او مه وروړئ تاسي دې ته لاسونه په (نيت د) بدي (يعني ضررمه ورورسوئ) نو وبه نيسئ تاسي عذاب دردناک) يعني هغې ته هيڅ زيان مه رسوئ هغه دالله (نښه) ده اکرام يې کوئ او دردناک عذاب هغه وو چي وروسته له اوښې وژلو ورباندي راغی ﴿ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ ﴾ (وويل صالح عليه السلام) او ياد کړئ تاسي هغه وخت چي وګرزولی (الله جل جلاله) تاسي خليفه ګان په ځمکه کي وروسته له عاديانو. شهاب وايي چي: هسي يې ونه ويل چي دعاد، خليفه ګان يې کړي چي ته اشاره وشي چي ددوی ترمينځ اوږده زمانه وه ﴿ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا ﴾ (وويل صالح عليه السلام) او ځای يې درکړو تاسي ته په ځمکه کي چي نيسئ (جوړوئ) تاسي له هوارو نرمو ځايونو ددې ځمکي هسکي ماڼی ﴿ وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا ﴾ او کيندئ تاسي غرونه لپاره دکورونو. قرطبي وايي: دوی به په غرونو کي خوني جوړولې ځکه چي عمرونه يې اوږده وو او دختو کورونه به ددوی ترژوندله مخه نړېدل⁽²⁾ ﴿ فَٱذْكُرُوٓا۟ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴾ نو ياد کړئ تاسي نعمتونه دالله او مه ګرزئ (کوښښ مکوئ) تاسي په ځمکه کي حال داچي دفساد قصد کونکي ياست ﴿ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ ﴾ وويل مشرانو هغوچي کبر (او سرکشي) يې کړي وه له ايمانه ځخه له قومه ددغه (صالح) ځخه هغو کسانو ته چي ضعيف (کمزوري) ګڼل شوي وو هغه چا ته چي ايمان يې راوړی وو له دوی ځخه ﴿ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ آيا يقين لرئ تاسي پدې چي بېشکه صالح رالېږل شوی دی له (لوري) درب دده؟ دغه خبره به يې دملنډو او استهزاء په توګه کوله ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴾ وويل دغو (ضعفاوو چي هو) بېشکه موږ په هغه څه چي رالېږلی شوی (صالح) په هغه يقين لرونکي يو) دوی په اسلوب حکيم سره ځواب وواېو چي دهغه په رسالت باندي دخپل ايمان خبر يې ورکړ او ددوی له خبري يې عدول غوره کړ ځکه يې وويل: ﴿ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴾ يعني دهغه په رسالت کي خو هيڅ شک او شبهه نشته چي داسي ستره معجزه يې راوړي نودې ته اړه نشته چي له رسالت ځخه يې پوښتنه وکړل شي⁽³⁾ ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴾ (وويل هغو کسانو چي تکبر يې کړی وو بېشکه موږ په هغه شي چي ايمان راوړی دی تاسي په هغه باندي کافران (منکران يو) دوی هسي ونه ويل چي موږ دهغه په رسالت کافران يو او داځکه چي ددغو مؤمنانو مخالفت ځرګند کړي او ددوی خبره بابېزه وګڼي ﴿ فَعَقَرُوا۟ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْا۟ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ ﴾ او مره کړه دوی اوښه او سرکښي وکړه دوی له (امتثاله)

⁽¹⁾ القرطبي ۲۳۷/۷

⁽²⁾ القرطبي ۲۳۹/۷

⁽³⁾ البحر ۳۳۰/۴

دامر درب ددوی ﴿ وَقَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ اووويل (دغوكفارو چي) اې صالحه راوره موږته هغه عذاب چي ته موږترې وېروې (كه چېري ته (په حقه) پيغمبر يې دغه يې په ملنډو او دهغه په كمزوري ګڼلو وويل ﴿ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُوا۟ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴾ پس ونيول دوی زلزلې وګرزېدل په كورونو خپلو كي مړي (پرمخي پراته) په البحر كي وايې چي له آسمانه يوه داسي چيغه وربانديرا پرېوته چي دهر شي او تندر غرېكې وو نوددوی زړونه يې وچاودل او هلاک شول ﴿ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴾ نو وګرزېدو (صالح) له دوی نه (پرشا ورو سته ددوی له هلاكت څخه په تأسف سره) اووېې ويل : اې قومه زما خامخا په تحقيق ورساوو ماتاسي ته پيغام درب خپل اوپندمي دركړ تاسي ته وليكن تاسي پندوركونكي نه خوښوئ . زمخشري وايې: ﴿ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴾ دتېرحال حكايت دی كله كله يوڅوک خپل ملګري ته وايې كله چي هغه مړوي او ده ډېرنصيحت په ژوندكي ورته كړی وي خودغه مړي هغه باندي غوږ نه وي ګرولی څوچي په هلاكت كي غورځېدلی وي نودغه ژوندی ملګری ورته په خطاب كي وايې: اې وروره ! څومره نصيحت مي درته وكړل خوتاونه منل ؟![1] ﴿ وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٍ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ (اويادكړه (اې محمده هغه وخت كله چي وويل) لوط قوم خپل ته آيا راتګ كوئ تاسي ډېر بدكار (لواطت) ته چي ندی ړومبی شوی له تاسي څخه دې كارته هيڅ يوله ټولو خلكو) اهل سدوم ته يې دانكاراو توبيخ په ډول وويل چي: آيا تاسو دغه ډېر زيات بدكار چي لواطت دی كوئ ؟! هغه چي په يووخت له وختونو هيڅاهم ندی كړی لومړی يې دهغه كول بدو ګڼل بيايې داچي دوی ددې كار بنسټ ايښودونكي دي. ابو حيان وايې: څرنګه چي ددغه كار بدوالی ښېخي معلوم وو او په عقلونو كي يې قباحت څرګند وو څكه يې په الف لام باندي تعريف وكړ. ﴿ ٱلۡفَٰحِشَةَ ﴾ يې وفرمايل او دادزنا په خلاف باندي څكه هلته يې داسي فرمايلي ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً ﴾ هغه يې نكره راوړي ده او داچي فرمايې: ﴿ مَا سَبَقَكُم ﴾ پدې دلالت كوي چي دوی ددغه بدكار ابتكار كونكي وو او پدې جمله كي چي ﴿ مِنۡ أَحَدٍ ﴾ ده مبالغه راغلي څكه (من) دجنس دنفی دتاكيد لپاره راوړل شويدی چي ورو سته ﴿ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ هم جمع دعموم په ډول راغلي ده. عمرو بن دينار وايې چي دلوط عليه السلام له قوم څخه پخوا هيڅاهم نارينه په بل نارينه دپاسه سپور نه دی ليدلی [2] ﴿ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ﴾ (بېشكه تاسي خامخا راځئ سړيوته لپاره د(قضاء) شهوت پدې حال كي چي تجاوزكونكي يې له (خپلو) ښځو دغه دفاحشې بيان اوترپخواني لازيات توبيخ دی څكه په (الف)او(لام) دتاكيد سره راغلی يعني آيا تاسو دغه سړيوسره دلواطت په ډول جنسي اړيكي لرئ هغه مكروه پليت فعل كوئ اوله هغه حلال كار نه چي موله خپلو ښځوسره مجامعت دی مخ اړولی او وروسته بياله انكار څخه اخبار ته لېږدي چي تاسي له شرعي حدتېرېدونكي يې هغه موحال دی چي هرډول قبائح

---

(1) الكشاف ۲ / ۱۲۳

(2) البحر ۴ / ۳۳۳

اودشهوتونو اتباع درباندي مني نوويې فرمايل: ﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴾ بلکه يې تاسي يوقوم اسراف کونکی (له شرعي حده تېرېدونکی په هرشي کي). ابوالسعودوايې: چي د ﴿ شَهْوَةً ﴾ په کلمه سره تقيېد ددوی دبهيمت (بوده والي) صفت دی ځکه له جماع څخه خومطلب دزوزات پاتي کېدل اود اولاد زېږېدل وي نه داچي دشهوت قضاء اوغرېزي اشباع(۱)﴿ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ اونه وو ځواب دقوم ددغه دلوط عليه السلام(دنصيحت په وړاندي) مګرخوداسي چي ويل قوم دلوط (په خپلو منځونوکي چي) وباسئ تاسي دغه (لوط اوپلويان يې مؤمنان) له کلي ستاسي (سدوم نه) بېشکه دوی داسي خلګ دي په تکلف سره ځان پاکوي (زموږ له افعالوچي نارينه وو سره لواطت کوو. ابن عباس رضی الله اومجاهد رضی الله عنهم وايې: چي د ﴿ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ معناداچي دوی پليت بولي هغه کار چي موږيې کوو له لواطت دنرو او ښځوڅخه دغه دوی دملندو او استهزاء په ډول ويل چي لوط اوپلويان يې دغه زموږ کار ناولی بولي لوط عليه السلام اومؤمنانوته يې په هغه څه پېغور ورکاووه په کوم چي دانسان صفت اومدح کول پکاردی ﴿ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ (نونجات ورکړموږ دغه (لوط ته اواهل (اتباعو) دده ته مګر(نجات موورنکړ) ښځي دده ته چي وه له پاتي کېدونکوپه کلي دهلاکېدونکو کي) طبري وايې: چي معناداچي لوط اودهغه پلويانوته مونجات ورکړپرته له ښځي دده چي ومونه ژغورله ځکه هغې له لوط عليه السلام سره خيانت کړی وو اوپه الله جل جلاله يې ايمان نه درلود اوکله چي عذاب راغی له هغوکسانو سره چي هلاک شول يوځای په هلاکت ورسېده (۲)﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ﴾ او ووو راوو موږ په دوی باندي باران (عجيب دکاڼو دسجيل لکه چي په بل آيت کي راځي ﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴾ هود: ۸۲ عذاب يې له ګڼ باران سره مشابه کړځکه چي ډېر وو لکه چي دباران په شان ورباندي راتاو شو ﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ پس وګوره چي څرنګه شو (عاقبت (ددغو مجرمينو) چي څه ډول په هلاکت کي وغورزېدل ﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ ﴾ (اولېږلی موو) مدين ته (قومي) وروردوی شعيب وويل شعيب چي) اې قوم زما عبادت کوئ دالله جل جلاله نشته تاسي ته هيڅ معبود بې له ده) يعني اهل مدين ته موشعيب دعوتګر واستاوه چي خلګ دالله عبادت اوتوحيدته راوبولي. ابن کثير وايې: چې (مدين) قبيلې ته وايې اوهمداراز هغه ښار ته مدين ويل کېږي کوم چي د(معان) سره څېرمه دحجاز په لاري ودان وو اودوی ته (أصحاب الأيكة) هم وايې لکه چي موږبه يې ذکر کړو (۳)﴿ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ ﴾ په تحقيق راغلی دی تاسي ته دليل ښکاره (په نبوت زماله لوري درب ستاسي)﴿ فَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ ﴾ نوپوره کوئ تاسي پېمانه خلګوته) اوتله (تول هم

---

(۱) ابوالسعود۲ / ۱۷۸

(۲) الطبري۱۲/ ۵۵۱

(۳) مختصر ابن کثير۲/ ۵۳

چي تاسي وربانديي تلل کوئ) ﴿ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ ﴾ اوکم مه ورکوئ تاسي خلکوته شيان شيونه ددوئ (حقونه) ددوی ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَـٰحِهَا ۚ ﴾ اوفساد مه کوئ تاسي په ځمکه کي (په ګناهونو کولو) پس له اصلاح ددې (په رااستولو دپيغمبرانو) ﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ دغه (چي مادرته امر وکړدالله په عبادت کي داخلاص کولو اوخلګوته دپوره حقونو ورکولو اوفساد نه کولو) ډېربهتر دی تاسي ته که يې تاسي ايمان راوړونکي (پرماپه منلو دخبري زماکي) ﴿ وَلَا تَقْعُدُوا۟ بِكُلِّ صِرَٰطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِهِۦ ﴾ (اومه کېنئ تاسي پرهره لاره (لپاره دشوکولو) حال داچي وېروئ تاسي (خلګ) اومنع کوئ تاسي خلګ له لاري دالله هغه څوک چي ايمان راوړي په الله باندي) يعني مه کېنئ په هره لاره چي مؤمنان خلګ په وژلوو وېروئ . ابن عباس رضی الله عنهما وايي: چي دوی به دهغو لارو په سر چي حضرت شعيب ته به رسېدلې کښېناستل اوڅوک چي به هلته شعيب عليه السلام لوري ته تلل دوی به ورته أخطارونه ورکول هغوی به يې راګرزول ورته ويل به يې: چي هغه دروغجن دی هغه ته مه ورځه لکه چي قريشوبه درسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله کول[١] ﴿ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ﴾ (اولټوئ تاسي دغي لاري ته کږوالی) يعني تاسوغواړئ چي دغه لاره دي سمه نه بلکه کږه وي پدې معناچي ددوی آند (انګېرنه) داوه چي دالله دين ناسم اوکوږ دی لکه چي دنن زمانې لار ورکي ګمراهان اوفاسقان وايي: چي (دغه دين له عقل سره سم نه دی) ځکه چي دين ددوی له نفسي خواهشاتو سره په ټکرکي وي . ﴿ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ﴾ اويادکړئ تاسي هغه وخت چي وې تاسي لږ(په سړيوکی) نوډېر کړې (الله) تاسي (نوتاسي دالله ددغه نعمت شکرپرځای کړئ) ﴿ وَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ (اوو ګورئ تاسي چي څرنګه شوعاقبت (بده خاتمه) دفسادکونکو) دغه ددوی لپاره تهديددی يعني وګورئ چي په پخوانيو امتونو هغوچي دپيغمبرانوڅخه يې سر غړونه کوله څه راپرېوتل ؟ له هغوی څخه عبرت اوپندواخلئ ﴿ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ فَٱصْبِرُوا۟ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَـٰكِمِينَ ﴾ اوکه وه يوه ډله له تاسي چي ايمان يې راوړی وو په هغه شي چي زه رالېږلی شوی يم زه په هغه سره او(وه بله) طائفه چي ايمان يې نه وو راوړی (عناداً) نوصبرکوئ تاسي (اې مؤمنانو) ترهغه پوري چي حکم (فيصله وکړي) الله په مينځ زموږکي اوهم دی بهتر دی له ټولو فيصله کونکوڅخه ؛ ابوحيان وايي: چي دغه خبره خورا په نرمي سره په محاوره کي راغلي ځکه چي متحقق اوثابت څېزيې دمشکوک په څېره راوړی اوداعجيب وېش دی نودغه په حقيقت کي دمسلمانانو سره دکومک اومرستي زېری اودکافرانو لپاره دعذاب اوخسران وعيددی[٢] ﴿ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ ﴾ او وويل مشرانوهغو چي منکران (کافران شوي وو) له قومه ددغه (شعيب) نه چي په الله اورسول يې ايمان نه لاره) ﴿ لَنُخْرِجَنَّكَ يَـٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ

---

(١) البحر ۴ / ۳۳۸
(٢) البحر ۴ / ۳۳۸

آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ﴾ (قسم دی) خامخاوبه باسو موږتا (اې شعيبه) اوهغه کسان (هم درسره وباسو) چي ايمان يې راوړی دی له تاسره له دې) کلي (ښار) زموږڅخه يا خامخابه راګرزئ تاسي زموږ دين ته) يعني دوی په دوو څيزونوقسم وخوړ ياداچي شعيب اوپلويان مؤمنان به تبعيد کوي اويا داچي ددوی په دين (کفر) به هغوی (شعيب عليه السلام اومسلمانان) وراړوي شعيب عليه السلام دوی ته په ځواب کي وويل:

﴿ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ ﴾ نو وويل: (شعيب) آيا (ګرځوبه موږ ستاسي (دين ته) او اګرکه اوسو موږ ناخوښه ؟ (هم بلکه نه ګرځو) دلته استفهام دانکارلپاره دی يعني آياتاسوموږ دهيواد په پرېښودلو اويا ستاسي دين ته په در اوښتلو باندي مجبوروئ که څه هم موږ نه غواړو ؟ ﴿ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا ﴾ (په تحقيق به تړلي وي موږ پر الله دروغ که وګرزو موږ په دين ستاسي کي وروسته له هغه چي نجات راکړ موږ ته الله له هغه (دين) نه) يعني که چېري موږ ستاسي دين ته درواوړو وروسته له هغه چي الله پاک ښيني وژغورلو او دايمان هدايت يې راته وکړ نو هله به موږ په الله پاک باندي خورا ستر دروغ تړلي وي دغه کفاروته دمؤمنانو له ارتداد څخه دناهيلۍ پيغام دی ﴿ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّنَا ﴾ اونه ښائېږي موږ ته داچي بېرته وګرځو په هغه (دين) کي مګرکله چي اراده وفرمايې الله چي رب زموږ دی) که دهغه اراده زموږ دخذلان اوښوئېدلو وه نو دهغه فيصله به هرومرو ترسره کېږي ﴿ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴾ احاطه کړي ده علم درب زموږ په هرشي ﴿ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا ﴾ (خاص) پر الله توکل کړی دی موږ (او هغه توکل کونکو لپاره کافي دی)

﴿ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴾ اې ربه زموږ فيصله وکړه په مينځ زموږ اوقوم زموږ کي په حقه سره اوهم داته يې خيرد حاکمانو (فيصله کونکو ستا په حکم کي ظلم او خلل نشته) ﴿ وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴾ (او وويل مشرانو هغوچي کافران شوي وو له قومه دده (شعيب) قسم دی خامخاکه متابعت وکړتاسي دشعيب بېشکه تاسي به په دغه وخت کي خامخاله زيانکارانو يې) يعني دشعيب عليه السلام دقوم کفاروفجارو اشرافو وويل که چېري مود شعيب خبره ومنله اودهغه بلني ته مولبيک وواېو نو تاسي به هله خامخا له زيان کارانو څخه ياست ځکه تاسو به ګمراهي په هدايت بدله کړي وي. الله تعالى فرمايي: ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴾ نو ونيول دوی زلزلې (په لوېې توره تياره کي) نو وګرزېدل دوی (ګهيځ) په کورونو خپلو کي پرمخي پراته (پرزنګنونو) ﴿ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ﴾ هغه کسان چي دروغجن يې بللی ووشعيب (داسي هلاک شول) لکه چي له سره نه وو اوسېدلي په دغو(خپلو کورونو کي (په نعمت کي) ﴿ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ﴾ (هغه کسان چي تکذيب يې کړی وو د شعيب وو دوی زيانکاران) دغه کلام ددوی دخسران چي وروسته له هلاکت څخه ور رسېدلي اخباردي ﴿ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ﴾ (نومخ وګرزاوو شعيب له دوی څخه اووېې ويل: اې قومه ! زماخامخاپه تحقيق رسولي دي ماتاسي ته پيغامونه درب خپل اوپندمي درکړتاسي ته) دغه خبري دافسوس اوحسرت له مخي وکړې چي پردوی زيات

خواشيني وو څکه هغوی دده پندنه وومنلې ﴿ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ﴾ (نوڅرنګه به زه خفه شم پر(هلاک کېدلود) قوم کافرانو) يعني څرنګه به زه په هغه چا خپه شم چي د خفګان ور نه وي. طبري وايي : معناداچي : څرنګه زه دهغه قوم په هلاکت چي د الله وحدانيت يې نه مانو اورسول يې دروغجن باله خواشيني شم اوپه هلاکت يې وخوربږم ؟ !(١)

بلاغت:

١-په ﴿ نَاقَةُ ٱللَّهِ ﴾ کي اضافت دتشريف لپاره دی.

٢-پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ ﴾ تنکيردتقليل اوتحقير لپاره دی يعني په هيڅ خوربې مه خوروئ.

٣-﴿ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ ﴾ استفهام دانکار ، توبيخ اوتشنيع لپاره دی.

٤-پدې قول دالله تعالی کي چي فرمايي: ﴿ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ دعلم بديع هغه صنعت دی چي ورته د(تعريض بمايوهم الذم) وايي څکه نوابن عباس رضی الله عنه وايي چي دوی پداسي څه پېغور ورکاوو چي هغه دستايني وړ وو.

٥-﴿ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا ﴾ دالله جل جلاله داسم جليل ظاهرراوړل په زاري کي دمبالغې لپاره اودجار اومجرور تقديم دحصر دافادې لپاره دی.

٦-د﴿ مُؤۡمِنُونَ ﴾ او﴿ كَٰفِرُونَ ﴾ دلفظونو ترمينځ دطباق صنعت دی.

فائده:

هغه څوک چي اوښه يې زخمي اومړه کړه (قداربن سالف) وو اوچي ټولوته يې دوژ لو نسبت پدې قول کي شوی چي ﴿ فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ ﴾ ددې لپاره دی چي دټولو دغه بدفعل خوښ وو څکه دوی ټول په جريمه کي شريکان دي

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ
ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٩٥﴾ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ
ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٦﴾
أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ
﴿٩٨﴾ أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ

(١) الطبري ١٢/ ٥٧١

بَعْدِ أَهْلِهَآ أَن لَّوْ نَشَآءُ أَصَبْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلْكَ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ
مِنْ أَنۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ
قُلُوبِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم
مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرْعَوْنُ
إِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ
فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ
فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ
عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ ۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾
يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓا۟ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ
نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحْنُ ٱلْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ
أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾ ۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ
مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا۟
هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُوا۟ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ
وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا۟ مِنْهَآ
أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّآ إِلَىٰ
رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا
مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُۥ لِيُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَ ۚ قَالَ
سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ
وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن
قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى
ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ الأعراف: ٩٤ - ١٢٩

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالی ددغو انبياء کرامو لکه: نوح ، هود ، صالح ، لوط اوشعيب عليهم السلام کيسي راوړې
اوهغه عذابونه چي ددوی په امتونو باندي نازل شوي وو ځکه هغوی ته پندګټه نه رسوله بيان کړل نودلته يې

د هغه الهي سنت او تګلاري يادونه وکړه کومه چي له هغو کسانو څخه کسات اخلي څوک چي پيغمبران دروغجن ګڼي اوداپه تدريجي توګه چي په فقر اورنځ يې اخته کوي بيانعمتونه اوسوکالي ورويني اوکه يې ايمان بياهم نه راووړ په سختونيولو (بطش شديد) باندي يې نيسي وروسته يې د موسى عليه السلام کيسه چي د فرعون طاغوت سره يې درلوده بيان کړه چي د پر پندونه او عبرتونه پکې نغښتي دي

لغتونه:

﴿ البأساء ﴾ سخت فقر ﴿ الضراء ﴾ رنځ اوضرر ﴿ عفوا ﴾ زيات شول اووده يې وکړه ﴿ بغتة ﴾ نابيره ناڅاپه ﴿ ملائه ﴾ دقوم مخه ورکسان ﴿ ارجه ﴾ ويې ځنډوه ﴿ صاغرين ﴾ ذليل ﴿ تلقف ﴾ ترستوني تيرول ﴿ يافكون ﴾ دروغ تړل ﴿ افرغ علينا ﴾ توى کړه پرموږباندي.

تفسير:

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ ﴾ (اونه وو لېږلى موږ په هيڅ کلي (ښار) کي هيڅ نبي) په کلام کي حذف راغلى هغه داچي (دوى يې تکذيب کړى وي) ﴿ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ ﴾ مګروبه نيول موږ اهل دهغې (قريې) په سختيو (فقر) اوتکليفونو (ناروغيو) ﴿ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ﴾ دپاره ددې چي دوى زاري وکړي (له ګناهونوتوبه ګارشي) ﴿ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ ﴾ بيابدله کړه موږپه ځاى دسختي کي آساني (فقرموپه غنا اوناروغي موپه روغتيابدله کړه) ﴿ حَتَّىٰ عَفَواْ ﴾ ترڅوچي ډېرشول (اووده يې وکړه ﴿ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ ﴾ (اوو ويل دوى (په ناشکري سره) چي په تحقيق رسېدلي وو پلرونو زموږته سختي اوخوشحالي) دغه دزماني عادت دى دالله عذاب نه دى بايدموږ پخپل دين پاتي شوغرض داچي الله پاک دوى لومړى په ربړونو اوتکليفونو وازمويل چي توبه ګار شي خودوى توبه ونکړه بيايې اسانتياوي ورباندي ولورولې چي شکرانه يې اداکړي هغه يې هم ونکړل نوبله لاره پاتي نشوه پرته له دې چي الله جل جلاله دوى په عذاب اخته کړي نوځکه الله فرمايي: ﴿ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴾ نونيول موږ دوى ناڅاپه (په عذاب اوهلاک) اودوى به نه پوهېدل ﴿ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ ﴾ اوکه خلګوددې کليو (ښارونو) ايمان راوړى واى (په الله اوپيغمبرانويې) اوتقوى يې (غوره) کړي واى (له کفر اومعاصيوڅخه) ﴿ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ (نوخامخا پرانيستي به مو وې پردوى باندي (دروازې د) برکتونو له آسمانه اوځمکي نه) يعني له هره لوري به مو ورته خير اوبرکت رساوو له آسمانه برکتونه اوږېنت او بارانونه له ځمکي نه بيامېوې اوغلې. سدي وايې چي معناداچې: دآسمان اوځمکي درزق روزي دروازې به مو ورباندي پرانيستي وې ﴿ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴾ [1] ولکن نسبت د دروغووکړ دوى (انبياووته) نونيول موږ هغوى (هلاک موکړل) په سبب دهغوچي وو دوى چي کول به يې (له ګناهونو او کفرنه) ﴿ أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ

---

[1] البحر ۴ / ۳۵۰.

﴿أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَٰتًا وَهُمْ نَآئِمُونَ﴾ آيا نو په امن کي دي ؟ اهل دقريو (ښارونو) له دې نه چي راشي دوی ته عذاب زموږ دشپې اوحال داچي دوی ويده (غافل) وي استفهام دانکارلپاره دی يعني مأمون نه دي) ﴿أَوَأَمِنَ أَهْلُ ٱلْقُرَىٰٓ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ﴾ آيا په امن کي دي اهل دقريو دښارونو) له دې نه چي راشي دوی ته عذاب زموږ په ځابنت کي حال داچي دوی په لوبو مشغول وي ؟ يعني آيا له دې په أمن کي دي دغه خلک چي زموږ عذاب په رڼا ورځ ورباندي راپرېوزي اودوی هسي بې ګټي کارونه کوي لکه چي لوبي کوي ؟ ﴿أَفَأَمِنُوا۟ مَكْرَ ٱللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْخَٰسِرُونَ﴾ (آيانو په امن کي دي دوی له مکره دالله نو نه په امن کېږي له مکره دالله مګرقوم زيانکاران) يعني آيادوی دالله جل جلاله له استدراجه بېغمه دي چي الله نعمتونه ورزيات کړي اوبيايې ددوی په غفلت کي هلاک کړي له داسي حال څخه څوک نه بېغمه کېږي مګرهغه څوک چي عقلونه يې په خسران کي وي او انسانيت يې بايللی وي ترچارپايانو اوښتی وي. حسن بصري رحمه الله وايي: چي مؤمن طاعات اوعبادات کوي ورسره له عذابه وېرېدونکی هم وي اوفاسق فاجر ګناهونه کوي خودالله له عذابه بېغمه اودامن اوآرامي احساس کوي (١) ﴿أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ أَهْلِهَآ﴾ آيانه دی ښکاره شوی هغوکسانوته چي وارثان شوي وي دځمکي ورروسته له (هلاکت) داهل دهغې) يعني آياڅرګنده شوی نه دی هغوکسانوته چي دځمکي وراثت ورته رسېدلی چي تردوی دمخه خلک چي ځمکه يې آبادوله هلاک شول (اوځمکه دوی ته پاته شوه پکې اوسي) چي مراد له دې کسانوڅخه دمکې کفاراوخواوشاخلک دي ﴿أَن لَّوْ نَشَآءُ أَصَبْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ﴾ که اراده فرمايلي وی مونږ (دنيولو ددوی) نو رسولی به وو مونږ دوی ته (عذاب) په سبب دګناهونو ددوی سره (لکه چي پخواني خلک مومعذب کړي وو) په البحر المحيط کي وايې چي معناداچي تاسوښه خبرياست چي هغوی ته څه ورپېښ شول نوتاسي له دې نه وېرېږئ چي تاسي ته هم هغسي هلاکت ورسېږي اوداخوله موږ څخه که موږ وغواړو ممتنع نه دی (٢) ﴿وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ اومهر به ولګوو په زړونو ددوی (چي پند به نه مني) اونصيحت به (دمنلولپاره) دوی نه اوري ﴿تِلْكَ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآئِهَا﴾ (دغه قريې اوښارونه دتېرشوي امتونو) بيانوو موږ پرتاله ځينو حالاتو ددوی) يعني دغه ښارونه چي يادشول موږ ددوی دخلکوځيني کيسې تاته بيانوو اې محمده صلی الله عليه وسلم چي دوی څنګه په تندر، زلزلو ، اوپه ډېرو وېشتلو (رجم) باندي هلاک شول ؟ترڅو هغه څوک چي اوري يې عبرت واخلي چي دغه پېښي خوراستري او وېرونکي وي ﴿وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ﴾ اوخامخاپه تحقيق راوړی دی دوی ته رسولانو ددوی ښکاره معجزې (اوڅرګند قاطع دليلونه) ﴿فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُ﴾ (نونه وو (له شانه ددوی) چي ايمان راوړي په هغه شي چي نسبت د دروغو ورته کړی وو پخوا (له همدغو معجزاتو) يعني دوی ورروسته له معجزاتوراتللوهم دهغه رسالت په هکله ايمان نه راووړ چي پخواترمعجزاتويې دروغ ګڼل نوحال ددوی پخواله معجزاتو اووروسته يو دول دسرغړوني اوګمراهي حال وو ؛ زمخشري وايې چي دوی په خپل

(١) مختصر ابن کثير ٢ / ٣٨

(٢) البحر المحيط ٤ / ٣٥٠

تکذیب استمرار غوره کړی وو ترڅوچي مړه شول معجزاتو او نصیحتونه ورته هیڅ ګټه نه رسوله[۱] ﴿ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ همدارنګه (لکه چي مهراینبودل په زړونو د پخوانیو کفارو) (محکم مهرلګوي الله په زړونو د کافرانو باندي (نو بیا معجزې او وړونکي دلائل ورباندي هیڅ اغېزه نه کوي او پدې کي داوربدونکو لپاره تحذیر نغښتی دی ﴿ وَمَا وَجَدۡنَا لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ لَفَٰسِقِينَ ﴾ اوندی موندلی موږ لپاره دزیاتروددوی له (وفاپه) عهدباندي او بېشکه موندلي دي موږ زیاتره ددوی خامخا فاسقان ، د عهدماتونکي او له طاعت نه بهروتونکي سرغړونکي . ابن کثیر وایي چي : مراد له عهد څخه هغه ژمنه او وعده ده چي د پلرونو په ملاکي لاڅني اخیستي شوي وه یعني (الست بربکم ؟ قالوا بلی) خودوی له هغې نه مخالفت وکړ او له الله جل جلاله سره یې شریک ونیو چي هیڅ شرعي او عقلي دلیل یې هم نه درلود[۲] ﴿ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ (بیا ولېږل موږ وروسته له دغه (رسولانو) موسی سره له (نهو) معجزو زموږ) یعني بیا وروسته له دغو انبیاوو چي پخوایاد شول موږ موسی بن عمران سره له څرګندو معجزاتو او ښکاره دلائلو راواستاوو ﴿ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ ﴾ فرعون (د مصر) او اتباعو دده ته ﴿ فَظَلَمُواْ بِهَاۖ ﴾ نو ظلم وکړ دوی (کافر شول) په هغو) معجزاتو ؛ په ظلم او عناد سره) ﴿ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴾ (نو وګوره څرنګه شو آخره خاتمه د مفسدینو) یعني وګوره اې اوربدونکي څرنګه د مفسدینو ظالمانو آخره خاتمه تباه شوه او موږ یو مخ ایزه ټول د موسي علیه السلام او دقوم په وړاندي یې غرق کړل او دغه د الله له دښمنانو څخه د کسات اخیستلو خورا بربنده نمونه ده چي د الله د اولیاوو مؤمنانو زړونه ورباندي یخ شي ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ (او وویل موسي یا فرعونه بېشکه زه د الله رب العالمین له لوري استازی (رسول یم) یعني زه د هغه ذات له پلوه چي هغه ستر خالق پالونکی (رب) د هرڅه پیدا کونکی (خالق) او مالک د هرڅه دی استازی یم . ﴿ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ ﴾ (ثابت لائق ټینګ ولاړ یم پر دغه خبره چي نه وایم پر الله مګر (وایم) حق څکه چي زه د الله جل جلاله په عظیم شان او جلال پوهېږم ﴿ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ په تحقیق راوړي دي ما تاسي ته څرګنده معجزه له (لوري) د رب ستاسي نو پرېږده له ماسره بنی اسرائیل چي شام ته یې بوزم) یعني تاسو ته مي د الله له لوري قاطع حجت راوړي چي زما په رښتنولي شاهدي ورکوي نو پرېږده چي بني اسرائیل له ماسره سپېڅلي ټاټوبي ته ستانه شي هغه چي ددوی د پلرونو هیواددی[۳] ابو حیان وایي څرنګه چي فرعون دربوبیت دعوی کړې وه نو څکه موسی علیه السلام ورته وویل:

---

(۱) الکشاف ۲ / ۱۳۵

(۲) مختصر ابن کثیر ۲ / ۳۹۰

(۳) مفسرین کرام وایي چي بني اسرائیل که څه هم پلرونه یې په بیت المقدس ټاټوبي کي او سېدلي خودوی د یعقوب علیه السلام اولاده مصر ته د خپل ورور یوسف علیه السلام څنګ ته راغلل او هلته مېشت شول زوزات او نسل یې هلته زیات شو او چي فرعون پیدا شو نو دوی یې په سختو کارونو وګمارل مریان یې څیني جوړ کړل نو موسي علیه السلام وغوښتل له دغه ستونزمن څیل (محبس) څخه یې وژغوري او پلرني ځیراد ته یې بوزي.

﴿إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ ترڅو هغه وپوهوي چي دعوی یې باطله ده او څرنګه چي دا خبره: ﴿حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ﴾ یې کړي نو وروسته یې هغه څه پسي زیات کړل چي په سموالي یې دلالت کوي چي ﴿قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ﴾ او چي کله یې رسالت وښودنو حکم یې ورباندي وفرمایه چي ﴿فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ (۱)﴿قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾ (وویل فرعون) که یې ته (اې موسی) چي راوړي دي وي کومه معجزه نو راوړاندې کړه هغه (ماته) که یې له رښتیا ویونکو (پدې خپله دعوی کي) چي ستا رښتینوالی څرګند شي دغه یې دموسی علیه السلام دتعجیز لپاره وویل ﴿فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ﴾ (نو وغورځوله موسی همسا خپله نوله واره هغه اژدها (ښامار) وو ښکاره) یعني هغه غټ اوږد ښامار شوه. ابن عباس رضی الله عنهما وایې: چي هغه ستر ښامار شوه پرانستي خوله یې دفرعون په لوري ورټوپ کړل او ﴿مُّبِينٌ﴾ یې ددې لپاره وفرمایل چي هغه په څرګنده ښامار شو تخیلي او ګوماني نه وو ﴿وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ﴾ (وویوست موسی لاس خپل نو ناڅاپه هغه تک سپین وو لپاره دکتونکو) یعني هغه له تخرګ څخه لاس راویوست چي نوراني سپین والی یې درلود دلمرتر روښنایې لازیاته رڼا درلوده. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي لاس یې دومره رڼا درلوده چي دځمکي او آسمان ترمینځ مسافه یې روښانوله ﴿قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ﴾ وویل مشرانوله قومه دفرعون (چي دده مشاورین وو) چي بېشکه دا خامخا (ماهر) جادوګر دی ډېرپوه داچي دوی وویل: ﴿عَلِيمٌ﴾ یعني دجادو په هنرونو کي خورا رسېدلی دی ﴿يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ﴾ غواړي دا چي وباسي تاسي له ځمکي ستاسي (چي مصر دی په دغه جادو سره) ﴿فَمَاذَا تَأْمُرُونَ﴾ نو څه امر کوئ تاسي؟ قرطبي وایې چي: دغه خبره فرعون وکړه چي تاسو څه فرمایاست چي دده په هکله څه وکړو؟! ستاسي مشوره څه ده؟! چا بیا ویلي چي دغه دمشرانو جرګې خبره ده چي هغوی یوازي فرعون ته داسي وویل چي تاسو څه امر کوئ؟ لکه چي دوخت جبابره او پاچهانو ته ویل کېږي چي پدې هکله تاسو څه فرمایاست؟! (۲)﴿قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ﴾ (وویل (قبطیانو فرعون ته) مهلت ورکړه دغه (موسی) او ورور دده ته او ولېږه په ښارونو کي راټولونکي (دساحرانو) یعني دوی ته مهلت ورکړه ترڅو ددوی په باب خپله فیصله وکړي او په جادوګرانو پسي راټولونکي خلګ واستوه ﴿يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ﴾ (چي راولي تاته هر جادوګر ډېرپوه) لکه دی غوندي او د جادوګرانو مشران دمصر په لېږي ډګر (دامان) کي اوسېدل ﴿وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ﴾ (او راغلل جادوګران فرعون ته وویل دغو جادوګرانو چي آیا بېشکه وي به موږ ته خامخا ښه مزدوري که شوو موږ غلبه کونکي؟) په کلام کي محذوف توري شته چي سیاق ورباندي دلالت کوي هغه دا چي په

(۲) القرطبي ۷ / ۲۵۷

جادوګرانو پسي يې خلک واستول هغوی يې راوغوښتل او چې راغلل نو يې فرعون ته هسي وويل چې آيا موږ ته به غته مزدوري راکړې که موږ هغه راوپرځاوو او جادو موږ باطل کړ؟! ﴿ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴾ (وويل فرعون (ساحرانو ته) هو! او بېشکه تاسي به خامخا او سئ له مقربينو زما څخه (په مرتبه کې) يعني فرعون جادوګرانو ته وويل چې هو غته مزدوري به درکوم او پردې د پاسه تاسو به زماله نژدې کسانو څخه پخپلو مشاورينو او خاصانو کې ومنم. قرطبي وايې ددوی له غوښتني زيات يې ورسره ژمنه وکړه. ﴿ قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحْنُ ٱلْمُلْقِينَ ﴾ وويل جادوګرانو چې اې موسی آيا ته غورځوې (همساخپله) او يا دا چې شو موږ همدا موږ (رومبي) غورځونکي (د پړيو همساګانو) زمخشري وايې چې موسی عليه السلام ته اختيار ورکول ددوی له خوا ورسره ښه ادب وو لکه چې کارپوه استاذان کله مناظره کونکي غوندي لوبغاړي سره مخامخ کېږي نو يو بل ته وايې چې ته يې پيل کړه او يا به موږ پيل کوو[1] خو ظاهره او څرګنده داده چې دغه به ددوی په ځان باندي دغره کېدلو له سببه وي چې موسی عليه السلام ته يې اهميت نه ورکاوو داسي يې انګېرله چې دوی ارومرو بريالي کېدونکي دي لکه چې په ځان باوري يو چاته وايې چې ته يې پيل کړه يا يې زه پيل کوم ﴿ قَالَ أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ ﴾ (وويل موسی عليه السلام ساحرانو ته چې وغورځوئ تاسي خپل پړي او همساګاني نو کله چې وغورځول دوی نو جادو يې وکړ په سترګو د خلکو) يعني ددوی په خيال کې يې هغه څه ورواچول چې حقيقت يې نه درلود لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴾ طه ۶۶ ﴿ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴾ او ووېرول دوی دا (خلک) او راتله وکړ دوی په جادو لوی سره) لکه چې ددوی په خيال کې يې ماران وروستل چې يوه بله خوا خوځېدل هرچا چې ليدل ځني وېرېدل به. ابن اسحاق وايې چې يو زرا و پنځه سوه تنه جادوګران کتار ودرېدل چې له هر يوه سره لکړي او پړي وو فرعون دخپل مملکت له مخه وروسره په مجلس کې ناست وو نو لومړی ځل يې د فرعون ځېر او نظر وتښتاوو بيا يې دموسی ځېر يو وړ وروسته يې دخلکو نظرونه ځني وتښتول بيا يې له لاسونو څخه لکړي او پړي وغورځول هغه لکه غرونه غوندي ښاماران جوړ شول چې يو په بل باندي به سپرېدل تو له وادي يې په سرواخيسته[2] ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴾ (او حکم موولېږه موسی ته داسي چې وغورځوه ته همساخپله نو ناڅاپه دغي همسا ښوي (ژر) تېرول هغه شيان چې دوی جوړ کړي وو (په جادو سره په دروغو) ابن عباس رضی الله عنه وايې چې د ﴿ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴾ معنا دا چې هرڅه به په مخه ورتلل هغه يې ترستوني تېرول ﴿ فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ (نو ثابت شو حق او ورک شو هغه چې دوی به کول) يعني ثابت او څرګند شو حق هغه چاته چې حاضر وو او وليدل يې او باطل شول د جادو دروغ او ګومانونه ﴿ فَغُلِبُوا۟ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُوا۟ صَـٰغِرِينَ ﴾ (نو مغلوب شول (دوی) په هغه ځای کې او وګرزېدل دوی خوار سپک) يعني فرعون او قوم يې پدغه ستره ټولنه کې خوار او ذليل مغلوب وګرزېدل ﴿ وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَـٰجِدِينَ ﴾ او وغورځول شول

(1) الکشاف-۲-۱۴۰

(2) الطبري ۱۳/۲۸

دا (جادوګران) په دې حال کې چې سجده کونکي وو ﴿ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴾ (وويل جادوګرانو ايمان موراوړی دی په رب دعالميانورب دموسی اوهارون) يعني دوی پرمخي په سجده پرېوتل دايمان اعلان يې وکړځکه چې حق ورته ځرګندشو. قتادة رضی الله عنه وايي: دورځي په لومړيو شېبوکي جادوګر کفار وو اوپه وروستيو کي يې بيانېکمرغه ابرار شهيدان شول(١) ﴿ قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ﴾ (وويل فرعون آياايمان راوړتاسي پدغه (موسی) پخوااله هغه چي زه تاسي ته اجازه وکړم؟) يعني تر پخوااله دې چي له مانه اجازه واخلئ مؤمنان شوی؟ مقصديې توبيخ اوترټنه وه ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُواْ مِنْهَآ أَهْلَهَا ﴾ (بېشکه دا کارخامخا يوچل دی چي مکر (بنا) کړيدی تاسي په دابنار کي لپاره ددې چي وباسئ تاسي له دې ښاره خلک د (هغه) يعني دغه حيله اودوکه موپخوا لا تاساوموسی سره جوړه کړي وه مخکي تر دې چي دغي غونډي ته راشئ مقصدمو دادی چي له دې ښاره قبطيان وباسئ اوبني اسرائيل پکي ځای په ځای کړئ دغه يې دخلګودغولولو لپاره وويل چي نور خلک دجادوګرانوپلوي ونکړي اوايمان را نه وړي ﴿ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ نوژربه پوه شئ تاسي (چي زه څه درسره کړم؟) دغه وعيد اوتهديددی چي لومړی يې داجمال په توګه بيان کړی او وروسته يې هسي تفصيل بيانوي ﴿ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ﴾ خامخابه پرې کړم زه هرومرو لاسونه ستاسي اوپښې ستاسي مخالفي (يوله بله) يعني ستاسي هريوه څخه به لاس اوپښه مخالفه پرې کړم. طبري وايي چي ددې کلام چي ﴿ مِّنْ خِلَٰفٍ ﴾ معناداده چي ستاسو ديوه به ښی لاس کينه پښه غوڅه کړم اويابه کين لاس اوښی پښه يعني دوه غړي به يوله بله مخالف درڅخه غوڅ کړم(٢) ﴿ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ (بيابه خامخا په دار کړم زه ضرورتاسي ټول) ترڅو ستاسي اوستاسو دامثالو لپاره عبرت شي ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴾ (وويل (جادوګرانو) بېشکه موږلوري درب خپل ته بېرته ورتلونکي يو) يعني ځرنګه چي موږاکه پکه مره کېږو خونوبياستاسوله دې اخطارونو څخه نه وېرېږو مرګ چي دالله په لارکي وي ځومره نېکمرغه دی ﴿ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ﴾ اوعيب نه ګڼې ته (اې فرعونه!) له موږمګرداچي ايمان موراوړی دی په آيتونو درب خپل کله چي راغلل موږته) لکه داقول دالله جل جلاله ﴿ وَمَا نَقَمُواْ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ البروج: ٨ زمخشري وايي: معنايې داده چي عيب نه ګڼې په موږباندي مګرهغه څه چي هغه دافتخاراتو اوويارونو اساس اوبنسټ بلل کېږي کوم چي ايمان دی(٣) ﴿ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴾ اې ربه زموږ! راتوی کړه پرموږ صبر (کله چي موږته فرعون عذاب راکوي څوچي موږ ونغاړي) اومره کړه موږپداسي حال کي چي مسلمانان يو (په فتنه کي مومه اچوې) ﴿ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ

---

(١) البحر المحيط ٤ / ٣٦٤
(٢) الطبری ١٣ / ٣٤
(٣) الكشاف ٢ / ١٤٢

مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ ﴾ اووویل مشرانو له قومه دفرعون (فرعون) ته ایا ته پرېږدې موسی اوقوم دده لپاره ددې چي فسادوکړي دوی په ځمکه کي اوپرېږدي (دین) ستا) او(عبادت) دخدایانو(بتانو) ستا ؟ پدې کي دفرعون پارونه مقصد وه چي هغوی ووژني اوعذاب ورو ويني ﴿ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ﴾ (وويل فرعون ژر به ووژنو زامن ددوی اوژوندي به پرېږدو موږ ښځي (لوڼي) ددوی اوبېشکه موږ پاسه دوی زورور یو) یعني فرعون ددوی په خواب کي داسي وويل : چي موږ به ددوی نارینه زامن ووژنو اوښځي (لوڼي) به یې دچوپړ(استخدام) لپاره وګمارو لکه چي پخوا موکول موږ پردوې په توان اوحکومت زورور یو ﴿ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ ﴾ وويل موسی (علیه السلام) قوم خپل ته (دډادیني لپاره) مددغواړئ له الله څخه اوصبر کوئ) یعني کله چي دوی دفرعون له دغې وېنا څخه زړه تنګي شول نوموسی علیه السلام ورته وويل : له الله څخه دفرعون اودهغه دقوم له ځورونې مرسته وغواړئ اودالله حکم ته صبرکوئ ﴿ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ ﴾ (بېشکه چي دغه ځمکه خاص الله لره ده وارث ګرزوي ددې (ځمکي) هغه څوک چي اراده وفرمایي له بندګانو خپلو څخه) دوی ته یې ددې تمه ورکړه چي الله جل جلاله به دمصر ځمکه په میراث درکړي ﴿ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴾ (اوعاقبت (ښه خاتمه) پرهېزګارانو ته ده) یعني ستاسي ښه خاتمه دهغه چالپاره ده چي له الله تعالی څخه ووېرېږي ﴿ قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبۡلِ أَن تَأۡتِيَنَا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَاۚ ﴾ (وويل بنی اسرائیلو (موسی ته) چي ځور رسول شوی دی موږته پخوا له هغه چي ته راغلی وې موږته اووروسته له هغه چي ته راغلی وې موږته) یعني ستاتررسالت پخوا هم موږ ځورېدلي یو اوله تانه وروسته هم ؛ مقصد یې داوو چي محنت له دوی څخه بېل شوی نه دی دوی په عذاب اوابتلاء کي تل ترتله دي دموسی علیه السلام له بعثت نه پخوا اوله هغه وروسته هم ددوی دغه حال دی ﴿ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴾ (وويل موسی نژدې دی چي رب ستاسي هلاک کړي دښمن ستاسي اوخلیفه ګان کړي تاسي په دغه ځمکه کي (وروسته ددوی له هلاک نه) بیابه ګوري (الله) چي څرنګه عمل کوئ تاسي) یعني هیله ده چي فرعون اوقوم تبر یې الله هلاک کړي او تاسو دهغوی په ځمکه کي خلیفه ګان وګرزوي اووګوري چي تاسو وروسته له خلافت نه په ځمکه کي څرنګه کارکوئ اصلاح راولئ که فساد خپروئ غرض له دې خبري نه ددوی هڅونه دالله جل جلاله طاعت ته وه اوهمداسي الله جل جلاله دموسی علیه السلام هیله ترسره کړه فرعون یې غرق(ډوب) کړ او بنی اسرائیلوته یې دمصر ځمکه وسپارله په البحر المحیط کي وایي چي موسی علیه السلام له رب العالمین سره داادب لاره خپله کړه اوخبره یې دهیلي په توګه وړاندي کړه (۱)

(۱) البحر المحیط ۴ / ۳۶۹

بلاغت:

۱- ﴿بَدَّلْنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ﴾ دلته د ﴿ٱلسَّيِّئَةِ﴾ او ﴿ٱلْحَسَنَةَ﴾ ترمينځ د طباق صنعت دی او همداسي د ﴿ٱلضَّرَّآءُ﴾ ﴿وَٱلسَّرَّآءُ﴾ په الفاظو کې.

۲- د الله تعالی پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ دلته يې د برکتونو نرلاسه کول د دروازوله پرانيستلو سره تشبيه کړې او دغه داستعارې له باب څخه دی يعني دوی ته موله ګردو خواو و خير او برکت پراخ کړېدی.

۳- ﴿أَفَأَمِنَ أَهْلُ ٱلْقُرَىٰٓ﴾ دغه جمله يې په تکرار را وړې چې مقصد ورڅخه تهديد او اخطار دی او دغه ته د بلاغت په علم کې د (اطناب) صنعت وايي لکه دا چې ﴿أَفَأَمِنُوا۟ مَكْرَ ٱللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ ٱللَّهِ﴾ ابوالسعود وايي د (مکر) تکرير د زيات تاکيد لپاره دی او د الله جل جلاله مکر د بنده له استدراج څخه استعاره ده چې کله يې لوی الله جل جلاله ناڅاپه نيسي (۰)

۴- پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ﴾ د جملې تاکيد يې په ﴿إِنَّ﴾ او (لام) باندې وکړ ترڅو د کوډګرانو جادوګرانو له نفسونو څخه شک ليرې کړي او دغه ته د خبري انکاري د ول ويل کيږي.

۵- ﴿فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ﴾ دلته يې له حصول او ثبوت څخه وقوع استعاره راوړې ده والله اعلم

تنبيه:

کله چې فرعون په دليل ويلو کې پاتې راغی نو يې دوږ لونيولو لاره خپله کړه او همداسي هر طاغوتي خواک او ګمراه واکمن کله چې په دليل کې سترې ستومانه شي نو د اخطار ورکولو، تهديد او وعيد په نيلي سپور شي.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَآءَتْهُمُ
ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَٰذِهِۦ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ
وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ ٱلرِّجْزُ
قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ۖ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِىٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ
فِى ٱلْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَٰرِقَ
ٱلْأَرْضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ
يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ وَجَٰوَزْنَا بِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتَوْا۟ عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَىٰ

أصنام لهم ۚ قالوا يا موسى اجعل لنا إلها كما لهم آلهة ۚ قال إنكم قوم تجهلون ﴿١٣٨﴾ إن هؤلاء متبر ما هم فيه
وباطل ما كانوا يعملون ﴿١٣٩﴾ قال أغير الله أبغيكم إلها وهو فضلكم على العالمين ﴿١٤٠﴾ وإذ
أنجيناكم من آل فرعون يسومونكم سوء العذاب ۖ يقتلون أبناءكم ويستحيون نساءكم ۚ وفي
ذلكم بلاء من ربكم عظيم ﴿١٤١﴾ ۞ وواعدنا موسى ثلاثين ليلة وأتممناها بعشر فتم ميقات ربه
أربعين ليلة ۚ وقال موسى لأخيه هارون اخلفني في قومي وأصلح ولا تتبع سبيل المفسدين ﴿١٤٢﴾ ولما جاء
موسى لميقاتنا وكلمه ربه قال رب أرني أنظر إليك ۚ قال لن تراني ولكن انظر إلى الجبل فإن استقر مكانه
فسوف تراني ۚ فلما تجلى ربه للجبل جعله دكا وخر موسى صعقا ۚ فلما أفاق قال سبحانك تبت إليك وأنا
أول المؤمنين ﴿١٤٣﴾ قال يا موسى إني اصطفيتك على الناس برسالاتي وبكلامي فخذ ما آتيتك وكن من
الشاكرين ﴿١٤٤﴾ وكتبنا له في الألواح من كل شيء موعظة وتفصيلا لكل شيء فخذها بقوة وأمر
قومك يأخذوا بأحسنها ۚ سأريكم دار الفاسقين ﴿١٤٥﴾ سأصرف عن آياتي الذين يتكبرون في الأرض بغير الحق
وإن يروا كل آية لا يؤمنوا بها وإن يروا سبيل الرشد لا يتخذوه سبيلا وإن يروا سبيل الغي يتخذوه
سبيلا ۚ ذلك بأنهم كذبوا بآياتنا وكانوا عنها غافلين ﴿١٤٦﴾ والذين كذبوا بآياتنا ولقاء الآخرة حبطت
أعمالهم ۚ هل يجزون إلا ما كانوا يعملون ﴿١٤٧﴾ واتخذ قوم موسى من بعده من حليهم عجلا جسدا له
خوار ۚ ألم يروا أنه لا يكلمهم ولا يهديهم سبيلا ۘ اتخذوه وكانوا ظالمين ﴿١٤٨﴾ ولما سقط في أيديهم
ورأوا أنهم قد ضلوا قالوا لئن لم يرحمنا ربنا ويغفر لنا لنكونن من الخاسرين ﴿١٤٩﴾

الأعراف: ١٣٠ - ١٤٩

مناسبت اوتړاو:

لکه څرنګه چې دحضرت موسی کلیم الله مبارزه له فرعون طاغي سره له عبرتونو اوپندونو ډکه وه څکه يې په تفصيل سره نورآيتونه هم کوم چې دهغوعذابونواوربړونو بيان پکې وو چې دفرعون په قوم باندې راغلي وو راوړل هغه چې الله جل جلاله په دوی باندې دابتلاء اوازموينبت په توګه کاختي (قحط) طوفان، ملخ اونور مصيبتونه نازل کړي وو څکه دوی په کفرباندې ټينګار کاوو اودالله جل جلاله دآيتونوتکذيب ته يې ملاتړلي وه وروسته بياهغه نعمتونه يادوي کوم چې الله پاک په بني اسرائيلو لورولي وو اوترټولوستردادوی ددښمن هلاکول وواوددوی له بحر څخه په امن اوسلامتيا پورې ايستل وو.

لغتونه:

(السنين) دسنة جمع اووچکالي ، کاختي ته ويل کېږي (يطيروا) بدفال نيول چې په اصل کې له (طيرة) څخه اخيستل شوی دهغه معنادمرغانوربړول دی اوبياپه بدفالي کي استعمال شو(طوفان) هغه ورانونکی سېلاب (القمل) هغه وړوکي حشرات چې غلې داني له کاره باسي (الرجز) عذاب او(رجس) په سين سره پليدي

اوکله کله هغه هم دعذاب په معنا استعمالیږي (الیم) دردناک (یعکفون) عکوف په یو ځېږ باندي ټینګ درېدل اوهغه خپلول (متبر) هلاکونکی له مینځه وړونکی (صعقا) بې هوښه ویل کېږي (صعق الرجل) کله چي بې سده (بېهوښه) شي.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنَا ءَالَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ ﴾ (اوخامخاپه تحقیق نیولی وو موږ قوم دفرعون په کلونو دقحطي سره) لام دقسم لپاره توطئه ده یعني قسم دی چي خامخاپه تحقیق موږ ازمویلی وو فرعون اوقوم یې په کاختي ،وچکالي سره ﴿ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ (اوپه نقصان سره (دمېوو) یعني اوازمویلي موو دمېوو په ورکېدلو له جهته دډېروآفاتو مفسرین کرام وایې چي دخرماپه غوټه ونه کي به یوازي یوه دانه خرماځړېده (۱)﴿ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴾ (دپاره ددې چي دوی پندواخلي) یعني ښایې چي دوی پندواخلی زړونه یې نرم شي ځکه سختي اومشکلات زړه نرموي اووېره پیداکوي بیاالله تعالی فرمایې چي له دې سره سره دوی نور هم کفرزیات اوسرغړونه یې ډېره شوه ﴿ فَإِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَـٰذِهِۦ ﴾ (نوکله چي به راغله دوی ته فائده (پراخي) نو ویل به دوی چي موږلره هم داده) یعني موږ ددې مستحق اووړیو دامونږ کمرغه کوي ﴿ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ﴾ (اوکه به ورسېدله دوی ته کومه بدفالي نوبه یې په موسی علیه السلام اوهغه چاچي ووبه ورسره (له مسلمانانو) بدفالي نیوله . یعني داچي دادموسی اودده دپلویانو شګون دی الله پاک ددوی په ردکي فرمایې: ﴿ أَلَآ إِنَّمَا طَـٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ (خبردارشئ بېشکه هم داخبره ده چي سبب دبدفالی ددوی په نزد (الله دي) یعني څه چي دوی ته رسېږي له خیراوشرڅیني داټول دالله تقدیر اوفیصله ده نه دموسی په بدفال نیولو. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي: هرڅه دالله له لوري دي ددوی بدفالي دالله له تقدیراو حکم څخه دی(۲)﴿ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (ولکن زیات ددوی نه پوهېږي) یعني په دې نه پوهېږي چي داکاختي اونورمصائب اوازموینتونه ددوی دګناهونوپه سبب دي دموسی علیه السلام له شامته نه دي ﴿ وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ او ویل به دوی (موسی ته) هرشی چي راوړې ته موږته له معجزې څخه لپاره ددې چي جادو وکړې پرموږباندي په هغه سره نونه یوموږستا تصدیق کونکي (په نبوت) یعني دفرعون قوم موسی علیه السلام ته وویل که ته هرڅومره معجزاتي موږته وښیې چي له دې لاري مو وګرزوې موږپه تاباورنلرو. زمخشري وایې: که ته وپوښتنې چي ځرنګه دوی معجزه وبلله پداسي حال کي چي وایې ﴿ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ﴾ یعني چي جادووکړې پرموږ ؟ زه وایم چي دوی په عقیدوي توګه معجزه نه ګڼله خودملنډو اوریشخند لپاره یې ورته

---

(۱) الطبري ۱۳/ ۴۲

(۲) روح المعاني ۹/ ۳۲

معجزه وويل[۱] الله تعالى فرمايي: ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ ﴾ (نوو لېږل موږ پردوی طوفان) يعني سخت باران مو ورباندي واوراوو چي هغوی پکي غوپه اوتږدي وو هلاک شي. ابن عباس رضى الله عنه وايي: طوفان هغو ډېرو بارانونو ته چي زيانونه يې اړوي او كښتونه يې له مينځه وړي ويل كېږي[۲] ﴿ وَٱلْجَرَادَ ﴾ او ملخان (چي ددوی مېوې كښتونه يې خوړل آن تردي چي ددوی جامې يې لاوخوړي ﴿ وَٱلْقُمَّلَ ﴾ او سپږي، يا حشرات كوم چي ددوی هغه له ملخانو پاتي غلې داني يې سوری كولې اوچاپياويلي چي دغه مشهوري سپږي مراددي چي دكاليواوپوستو كيوترمينځ به يې ددوی بدن خېښنل ﴿ وَٱلضَّفَادِعَ ﴾ اوچونګښي (آن تردې چي كوټې او خوراكونه يې ځيني ډک شول كله چي به يوه خبري كولې چونګښي به يې خولې ته ورټوپ وهل ﴿ وَٱلدَّمَ ﴾ اووينې يعني اوبه يې ويني وګرزېدلې كه به يې له كوهي اويارود ځخه اوبه ځښلې هغه به ويني وې ﴿ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ ﴾ حال دا (چي دغه شيان) واضح دلائل وو سره بېل بېل كړی شوي (چي پكي پندونه اووعظونه نغښتي وو خوله دې سره دوی دايمان له راوړلو تكبروكړ ﴿ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴾ نو تكبروكړدوی (دايمان له راوړلو) اودوی مجرمين (ګنهكاران) قوم وو (چي جرم يې وروستي حد ته رسېدلى وو) ﴿ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ ٱلرِّجْزُ قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ﴾ (اوكله چي واقع شو پردوی (فرعونيانو) كوم عذاب ويل به دوی اې موسى دعاوكړه لپاره زموږ له رب خپل ځخه په هغه چي وعده يې كړي وه له تاسره) چي له موږ ځخه دغه عذاب ليري كړي په هغه حق الله چي ته يې پيغبر نازولى يې. زمخشري وايي: معناداچي زموږ غوږنه وكړه په دعاكولو ځكه له تاسره دالله عهد (ژمنه) اودنبوت كرامت شته[۳] ﴿ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ قسم دی خامخاكه لېري كړتا له موږ ځخه دغه عذاب نو خامخاموږبه ايمان راوړو هرو مرو په تاا وخامخابه ولېږو له تاسره بني اسرائيل) هغه چي دوی خپل چوپړيان جوړكړي وو داهانت په سپكو كارونويې سپكول ﴿ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴾ (نوكله چي ليري كړموږله دوی دغه عذاب ترهغې) نېټې پوري چي دوی رسېدونكي وو هغې ته نابېره (ناڅاپه) دوی هغه وعده ماته كړه) يعني كله چي دموسى عليه السلام ددعاپه بركت ترهغه وخته پوري چي دوی به خامخاورتلو عذاب ځني پورته شونويې خپلې وعدې ماتي اوپه كفرباندي يې ټينګاروكړ. ابن عباس رضى الله عنه وايي: چي له دغه (أجل) وخت ځخه ددوبېدلو وخت مراددی ﴿ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ﴾ پس اراده دبدل اخيستو وفرمايله موږ له دوی ځخه نوغرق كړل موږدوی په درياب كي ﴿ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴾ په سبب ددې چي دوی به تكذيب كاووپه آيتونوزموږ اودوی له هغوځيني غافلان وو ﴿ وَأَوْرَثْنَا

---

(۱) الكشاف ۲ / ۱۴۲
(۲) مختصر ابن كثير ۲ / ۴۵
(۳) الكشاف ۲ / ۱۴۸

﴿ ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ﴾ (او وارثان كړل موږ هغه قوم چې كمزوري
ګڼل كېدل مشرقي او مغربي ټوله ځمكه موور كړه كه يې ختېز او وو او كه لوېدېز ﴿ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ ﴾ هغه چې
موږ پكې بركت اچولى وو (په مېوو او غلو دانو) ﴿ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ (او پوره
شوه كلمه درب ستا چې نېكه ده پر بني اسرائيلو) يعني دالله جل جلاله رښتوني وعده وفاته ورسېده چې بني
اسرائيل يې پر دښمن بريالي او په ځمكه كې يې وارثان كړل. طبري وايې چې: دالله جل جلاله د (كلمة الحسنى)
څخه مراد دالله تعالى قول دى چې فرمايي: ﴿ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ
وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴾ القصص: ٥(١) ﴿ بِمَا صَبَرُواْۖ ﴾ په سبب د صبر كولو دوى په ربړونو او تكليفونو باندې،
﴿ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ﴾ (او خرابې كړې موږ (هغه كلكې
ودانۍ) چې ودانولې به فرعون او قوم دده او (هغه) چې دوى به لوړولې) يعني موږ هغه ماڼۍ او قصرونه چې
فرعون او دهغه ټبر به كلكې جوړولې او هغه باغونه او كښتونه چې به يې پورته كول ټول خراب كړل او پردې ځاى
باندې د فرعون او فرعونيانو كيسه پاى ته رسېږي او د بني اسرائيلو په باب وينا پيلېږي چې څومره ستر نعمتونه
الله ورباندې لورولي او څومره لوېې معجزاتې او آيتونه يې ورليدلي دي دا ټول دخپل پيغمبر عليه السلام
د رادينې او تسلا لپاره نو الله تعالى فرمايي: ﴿ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ ﴾ او تېر كړل موږ بني اسرائيل له بحره
چې هغه د قلزم بحر او سنى د سويس خليج دى ﴿ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ ﴾ نو راغلل دوى پر يوه
قوم چې تل به د بتانو په عبادت ولاړ وو. ﴿ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ ﴾ (نو وويل (بني
اسرائيلو) اې موسى جوړ كړه موږ لره هم يو معبود لكه چې دوى لره معبودان دي) يعني زموږ لپاره هم يو بت وټاكه
چې عبادت يې كوو لكه دوى چې يې كوي. ابن عطيه وايې: ظاهر خو دا دى چې دوى كوم كار وليد هغه يې ښه وګڼل
او خوښ يې شو نو ويې غوښتل چې د موسى په شريعت كې هم داسې وي چې دوى د هغوى په واسطه الله ته نژدې
كېږي او كه داسې نه وي نو دا ليري خبره ده چې دوى دې له موسى عليه السلام څخه داسې څه غوښتې وي چې دوى
يوازې د هغه عبادت وكړي(٢) ﴿ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴾ (وويل موسى) بېشكه تاسې داسې يو قوم يې چې نه
پوهېږئ) يعني تاسو د الله په عظمت نه پوهېږئ چې هغه له شريك او مثل نه منزه او پاك دى. زمخشري وايي چې
موسى عليه السلام تعجب وكړ سره له دې چې دوى ستر آيت او لويه معجزه وليدله خو بيا يې هم داسې غوښتنه
وكړه نو ځكه يې دوى په تاكيد سره مطلقا جاهلان وبلل او تر دې ستر او بد جهل او ناپوهي هډو نشته(٣) ﴿ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ
مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ ﴾ (بېشكه دغه (بت پرستان) هلاك او مات دي) هغه دين چې دوى په هغه كې دي) چې
د بتانو عبادت كوي ﴿ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ (او باطل دى هغه عمل چې دوى يې كوي) ځكه دوى د هغه

---

(١) الطبري ١٣/٧٧
(٢) البحر ٤/٣٧٨
(٣) الكشاف ٢/١٥٠

چاعبادت کوي چي هغه دعبادت وړ اومستحق نه دي ﴿ قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ وويل(موسی) آیابې له الله ولټوم زه تاسي ته (بل) معبود حال داچي هم دغه الله بهتري درکړي تاسي ته پرګردوخلګود(زمانې خپلي) یعني آیازه پرته له الله تاسوته بل معبود ولټوم حال داچي دغه الله تاسوپه نوروخلګوباندي په زیاتونعمتونونازولي یاست طبري وایې معناداچي تاسوبې دخپلي زمانې په خلګوبهترګرزولي یې(١) ﴿ وَإِذْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ﴾ اویادکړئ) هغه وخت چي نجات درکړی وو موږ(نیکونود) تاسي ته له تابعانودفرعون چي رساووبه یې تاسي ته سخت عذاب یعني اې بني اسرائیلوهغه نعمتونه دریادکړئ چي تاسوبې دفرعون اودهغه دپلویانو له عذاب څخه چي تاسوته یې درکاوو وژغورلې اوبیایې دهغه عذاب تفسیر داسي وکړ: ﴿ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ﴾ چي وژل به یې زامن ستاسي اوژوندی به یې پرېښودې ښځي ستاسي (لونې چي په سپکوسپاندو خدمتونویې وګمارې) ﴿ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴾ (اوپه دغه (عذاب) کي ازمېښت وو له (طرفه د) رب ستاسي ډېرلوی څخه) یعني په دغه عذاب کي دالله له لوري ستره ابتلاو ازموېښت وو چي تاسویې څني وژغورلې آیاتوسوشکرنه کوئ ؟ ﴿ وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ﴾ (او(یادکړه هغه وخت چي) وعده کړي وه موږ له موسی سره دېرش شپې اوبیاپوره کړې موږ هغه(دېرش شپې) په لسو(نورو) نوبشپړه شوه وعده درب دده څلوېښت شپې)یعني کله چي موږله موسی سره دمناجات وعده کړي وه اوهغه موده بشپړه شوه نومناجات وشو زمخشري وایې چي: روایت کېږي چي موسی علیه السلام بني اسرائیلوته په مصرکي داوعده ورکړي وه که چېري الله ددوی دښمن هلاک کړنو دوی ته به دالله له لوري داسي کتاب راوړي چي پکې اوامر اونواهي څرګندوي اوکله چي فرعون اوقوم یې هلاک شو نوموسی علیه السلام الله ته سوال وکړچي دغه کتاب ورکړي الله جل جلاله هغه ته ددېرشو روژو نیولو امروکړاوداد(ذی القعدې) میاشت وه کله چي یې دېرش روژې بشپړي کړې نودخپلي خولې بوی خوند ورنکړ اومسواک یې وواهو الله جل جلاله وحی ورته وکړه چي آیاته پدې خبرنه یې چي ماته دروژتي دخولې بوی له مشکوڅخه هم خوشبویه دی ؟نوالله جل جلاله ورته فرمایل چي لس ورځي د(ذی الحجې) هم نوري روژې ونیسي ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِي فِي قَوْمِي ﴾ اووویل موسی خپل ورور هارون ته چي خلیفه اوسه زماپدې قوم کي (ترڅوزه راځم) ﴿ وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ اواصلاح کوه (سموه حال ددوی) اومتابعت مکوه دمفسدانو دلاري (چي ګناهګاران اوپه ځمکه کي فسادکوي) ﴿ وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ ﴾ اوکله چي راغی موسی هغه موعود وخت زموږته اوکلام وکړل له ده سره رب دده (بې واسطې) ﴿ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ﴾ نووویل موسی اې ربه زما ! وښیه ماته (مقدس ځان) چي زه وګورم تاته. قرطبي وایې: کله چي یې الله جل جلاله کلام واورېدو نولیدلوته یې تلوسه شوه اودکتلوخواست یې وکړ(٢) ﴿ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ

(١) الطبري ١٣/ ٨٤
(٢) القرطبي ٧/ ٧٨

﴿ تَرَىٰنِي ﴾ وويل: (الله) له سره به ونه وينې ته ما (په دنياكي ځكه چي دغه كمزوري بشري بنيه داتوان نلري) وليكن گوره ته (دې) غره ته كه هغه پخپل ځاى كي قرار پاتي شو نوژربه ته هم ماووينې) يعني زه به دخپل جمال يوه بځركى تجلي پدې غره وغورځوم چي ترتاخورا قوي دى كه چېري هغه پخپل ځاى آرام پاتي شو اوونه خوځېدو نوژردى چي مابه ووينې اوكه نه دغه بشري وجود ستا زمادليدلوتوان نلري ﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ﴾ (نوكله چي (بلاكيف) تجلي وكړه رب دده غره ته نويې وگرځاوه هغه (غر) ذرې ذرې اوپرېووت موسى بېخوده) يعني كله چي دالله جل جلاله نور اوځلا دكوچنى گوتي ديوبند په اندازه په غره ولوېده نوغر ټوټه ټوټه شو اوموسى عليه السلام له ډېره هيبته بېهوښه پرېووت. ابن عباس رضى الله عنه وايي: الله پاک دخمچي گوتي ديوبند په اندازه خپله تجلي په غره واچوله اوغر له خاوروسره برابرشو موسى عليه السلام بې سده پرېووت اوپه حديث شريف كي راځي (فساخ الجبل) يعني غر پوټی خاوري شو ﴿ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَـٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ نوكله چي په خودشو (موسى) وويل يې چي پاكي ده تاته (ياالله له ټولوعيبونو) توبه مي وايسته تاته اوزه اول دمؤمنانويم) ستاپه عظمت اوجلال باندي) يعني كله چي په سدراغى نويې وويل: چي ربه تالره پاكي اوتنزيه ده چي څوک دي په دنياكي ووينې زماله خپلې غوښتني توبه ده ﴿ قَالَ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنِّى ٱصْطَفَيْتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَـٰلَـٰتِى وَبِكَلَـٰمِى ﴾ وفرمايل: (الله) چي مه خفه كېږه په نه ليدلوزما اونعمتونه مي يادكړه) اې موسى! بېشكه ماغوره پيداكړى يې پرټولوخلكو (دزمانې ستا) په پيغامونو خپلواوپه كلام خپل سره (بې له واسطې) ﴿ فَخُذْ مَآ ءَاتَيْتُكَ ﴾ نوونيسه هغه چي دركړي مې دي تاته (له شرف دنبوت اوحكمت څخه) ﴿ وَكُن مِّنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴾ اواوسه له شكرايستونكو (په هغه سترو نعمتونو چي الله دركړي دي) ابوالسعودوايي: چي دآيت شريف رو داسي دى چي عليه السلام ته يې داد وركړى وي چي كه دليدلوهيله دي ترسره نه شوه خونوراداسي سترنعمتونه مي دركړي چي هيچاته مي نه دي وركړي هغه غنيمت وگڼه اوتل ترتله يې شكركاره.(۱) ﴿ وَكَتَبْنَا لَهُۥ فِى ٱلْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَىْءٍ ﴾ (اوليكلي وو موږدغه (موسى) ته په (تختودتورات) له هر (ديني) شي څخني پند) يعني ليكلي وموږ ده ته هرهغه څېزچي بني اسرائيلورته ددين په اموروكي له مواعظو اوتفصيلي احكامود حلال اوحرامو اړه درلوده ﴿ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ﴾ (پنداوتفصيل لپاره دهرشي) يعني داچي ورباندي پنداخلي اودټولو شرعي احكامو تكاليفوتفصيل پكې وو ﴿ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ ﴾ پس واخله دا (تختې دتورات) په بشپړ زورسره) يعني په كوښښ اوزيارسره لكه چي داولوالعزمو شان وي هغسي يې واخله ﴿ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا۟ بِأَحْسَنِهَا ﴾ (اوحكم وكړه قوم خپل ته چي ونيسي (عمل وكړي) په ډېرغوره احكامو) ددې) يعني بني اسرائيلوته حكم وكړه په هڅونه ددې چي هغه غوره اوافضل واخلي يعني په عزيمتونوعمل وكړي نه په رخصتونو لكه چي عفو ترقصاص بهتره ده اوياصبراوزغم تركسات اخيستلوبنه ده لكه چي الله فرمايي: ﴿ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴾

(۱) ابوالسعود ۲/ ۱۹۵

الشورى: ٤٣ ابن عباس رضى الله وايي: چي موسى عليه السلام ته امر كړل شوى وو چي هغه سخت احكام غوره كړي چي قوم ته يې ورباندي امر شوى وو ﴿ سَأُورِيكُمْ دَارَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ (ژر به وښيم تاسي ته د فاسقانو د هستوګني ځاى) چي فرعون او قوم يې وو هغوى څرنګه د خپل فسق په سبب هلاک شول نو له هغوى عبرت واخلئ د هغوى په شان مه كېږئ د هغوى وراني مانۍ د عبرت او پند اخيستلو سبب دى ﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ (ژر به واړوم له آيتونو خپلو څخه هغه كسان چي تكبر كوي په ځمكه كي په ناحقه) يعني زه به منع كړم هغه متكبرين د ځمكي، له پوهېدلو په آيتونو زما نو دوى به پكي فكر او سوچ نكوي د دوى په زړونو به د تكبر له وجهي مهر ولګوم او دا به د دوى د تكبر په سبب وي. زمخشري وايي: چي پدې كي د مخاطبينو لپاره تهديد او انذار دى چي د هغو متكبرينو عاقبت او بده خاتمه دي وګوري چي د الله په آيتونو يې لوبې او تكبر كاوو ايمان يې نه راوړ تر څو دوى د هغوى په شان لاره ونه نيسي(١) ﴿ وَإِن يَرَوْا۟ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا۟ بِهَا ﴾ او كه ووينې هر قسم آيت (نو) نه راوړي ايمان پر هغو) يعني نو كه ووينې هر قرآني آيت له هغو نازل شوو آيتونو څخه او يا هره رباني معجزه ووينې خو ايمان ورباندي نه راوړي. ﴿ وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ﴾ او كه ووينې لاره د رشد (سمه لاره د هدايت) نو نه نيسي دوى هغه لاره (خپله) ﴿ وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ﴾ او كه ووينې دوى لاره د ګمراهي نو نيسي دوى هغه لاره (د تګ خپل او پرې روان وي؛ لكه چي الله بل ځاى فرمايي: ﴿ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ﴾ [فصلت: ١٧] ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ دغه (ګرزېدل له سمي لاري) په سبب د دې چي دوى نسبت د دروغو كړى وو آيتونو زموږ ته ﴿ وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴾ (او وو دوى له هغو (آيتونو) څخه بې خبره) يعني دوى له هغو آيتونو څخه چي د دوى د نېكمرغي لامل وو بې خبره وو چي فكر يې پكي نه كاوو او نه يې ورته پاملرنه كوله ﴿ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ او هغه كسان چي نسبت د دروغو يې كړى آيتونو زموږ ته يعني د الله منزل آيتونو څخه منكر وو ﴿ وَلِقَآءِ ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ او له ملاقات د ورځي د آخرت څخه يعني په قيامت او بعث ايمان نلري ﴿ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ ﴾ (باطل شول عملونه د دوى) يعني هغه ښه اعمال چي په دنيا كي به يې كول لكه خپلوي (صله رحمي) پالل صدقه وركول له خلكو سره نېكي او احسان كول او نور د هغوى ثواب له مينځه لاړ ځكه چي دوى ايمان نلري ﴿ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ نشي جزا وركولى دوى ته مګر جزا د هغه عمل چي دوى به (په دنيا كي) كاوو يعني آيا دوى ته پرته له هغو اعمالو چي دوى كول د بل شي عذاب او يا ثواب وركول كېږي؟ ﴿ وَٱتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ ﴾ او ونيو (جوړ كړ) قوم د موسى وروسته (له تللو) د ده (ميقات ته) له ګاڼو خپلو خوسى مجسم چي ده لره غږ وو لكه د خوسي (رمباړي) حافظ ابن كثير وايي چي الله پاک د بني اسرائيلو د ګمراهانو خبر وركوي هغه دا چي دوى د هغه خوسي عبادت وكړ كوم چي سامري دوى ته د خوسي په شكل مجسم

(١) الكشاف ٢ / ١٥٩

کړ او دهوا دنتو تلو لپاره یې چم وکړ داسي چي غرځیني راووت لکه دغوايي رمباړي (غو) (١) او د ﴿ مِنۢ بَعۡدِهِۦ ﴾ معنا داچي وروسته له تللو دموسی دالله تعالی دمناجات لپاره دطور غره ته ﴿ أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ﴾ (آیا نه لیدل (نه پوهېدل) دوی چي بېشکه دغه (خوسی) خبري له دوی سره نه کوي او نه دوی ته ښيې هيڅ لاره) استفهام دتوبيخ او تکولو لپاره دی یعني څرنګه دوی خوسی دعبادت لپاره غوره او په الوهيت يې ومانو سره له دې په هغه کي هيڅ دخالق اورازق ذات صفتونه نشته هغه په خبرو کولو قدرت او توان نلري او نه دوی دنېکمرغي لاري ته رهبري کولای شي نو څرنګه يې خپل معبود وټاکه ؟! ﴿ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴾ نو ونيو دوی هغه خوسی (په خدايي سره) او وو دوی ظالمان يعني دوی دخوسي عبادت وکړ هغه يې په خدايي ومانو پخپلو ځانونو ظالمان وو ځکه چي بې موقعه کاريې وکړد ﴿ ٱتَّخَذُوهُ ﴾ لفظ په مکرر ډول راوړل شو چي ددوی زيات تشنيع او بدي څرګنده شي ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ ضَلُّواْ ﴾ او کله چي پښېمانه شول (په عبادت دخوسي او پوه شول چي بېشکه دوی په تحقيق ګمراه شوي دي يعني ددوی ګمراهي داسي برېنډه څرګنده شوه لکه چي دسر په سترګو يې وليده ﴿ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا ﴾ نو وويل قسم دی خامخا که پرموږ زموږ رب مهرباني ونکړي او موږ ته ښښنه ونکړي ﴿ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ نو خامخا به شو موږ هرو مرو له زيانکارانو . ابن کثير وايي : دغه ددوی پخپله ګناه اقرار او دالله لوري ته پناه وړ وړل دي (٢).

بلاغت:

١ – پدې کلماتو کي چي : ﴿ فَإِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡحَسَنَةُ ﴾ دحسنة او سيئة ترمينځ دطباق صنعت دی لکه چي د ﴿ يَطَّيَّرُواْ ﴾ او ﴿ طَٰٓئِرُهُمۡ ﴾ ترمينځ اشتقاقي جناس راغلی او دغه دواړه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

٢ – ﴿ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ ﴾ له ماضي څخه پدې کلام کي مضارع ته عدول راغلی ترڅو انځور يې دمخاطب په ذهن کي راحاضر کړي او همدا راز مثال يې ﴿ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ﴾ دی چي دداواړو اصل داچي (ماصنعوا وماعرشوا) وو.

٣ – پدې کلام کي چي الله تعالی فرمايي : ﴿ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴾ دلته يې د(تجهلون) لفظ راوړی او (جهلتم) يې ندی ويلی ترڅو ددې اشعار او خبرتياوکړي چي دغه ددوی په خټه او غريزه کي نغښتی په هيڅ وخت (ماضي او مستقبل) کي ځني بېلېدونکی نه دی (٣)

(١) مختصر ابن کثير ٢ / ٥١

(٢) مختصر ابن کثير ٢ / ٥١

(٣) البحر المحيط ٤ / ٣٧٨

۴ - ﴿ سَأُوْرِيكُمْ دَارَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ دلته له غیاب څخه حضورته د التفات صنعت راغلی اوپدې کي دهڅوني مبالغه ده ترڅو دصالحانو په لاره ولاړشي اصل خوداوو چي راغلي وای (سأريهم) خو هسي نه دي شوي.

۵ - پدې کلام کي چي: ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ ﴾ کنايه راغلي څکه هغه څوک چي خورا زيات پښيمانه وي نو پخپلو لاسونو خولې لګوي او هغه چيچي.

۶ - د ﴿ مَشَٰرِقَ ﴾ او ﴿ وَمَغَٰرِبَهَا ﴾ ترمينځ د طباق صنعت دی.

15/15

تنبيه:

د اهل سنت مذهب دادی چي مؤمنان به پروردګار په آخرت کي ويني او معتزله له دغي عقيدې څخه انکار کوي او دليل هم دا آيت بولي چي الله فرمايي: ﴿ لَن تَرَىٰنِى ﴾ او دوی لره پدې آيت کي دلاس نيوي ځای نشته بلکه هغه د اهل سنت والجماعة لپاره دليل دی چي درؤيت امکان شته څکه که چيري رؤيت محال اوناشونی وای موسی عليه السلام به يې غوښتنه نه کولای چي انبياء عليهم السلام په هغه څه چي هغه ناروا يا مستحيل وي ښه پوهيږي او که چيري مستحيل وای الله پاک به په خواب کي ورسره زجر او سختي کړی وای لکه چي نوح عليه السلام ته يې وفرمايل: ﴿ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۖ إِنِّىٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ هود: ۴۶ د الله جل جلاله له ديدار او رؤيت څخه په دنياکي ممانعت د بشري کمزوري له امله دی مجاهد وايي چي: ﴿ لَن تَرَىٰنِى ﴾ معنا دا چي ته توان زما دليدلو نلرې خوزه به خپله تجلا غره ته چي تر تا ډير قوي او سخت دی مخامخ کړم که هغه يې توان ولاره او پر ځای پاتي شو زما دهيبت زغم پکې وو نو به دا شوني او ممکن شي چي ته يې ووينې او که غره توان ونلرل ته يې بيا هيڅکله توان نلرې نو په دې وجه الله پاک غرد موسی عليه السلام لپاره مثال وګرزاوو او مطلقًا يې رؤيت مستحيل ونه باله او په آخرت کي خود الله جل جلاله په ديدار او رؤيت باندي پخپله د الله جل جلاله کتاب قرآن عظيم الشان شاهدي ورکوي چي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾ القيامة: ۲۲ - ۲۳ نو له مبتدع څخه پرته بل هيڅوک په جنت کی له الهی ديداره انکار نه کوي

فائده او نکته:

کله چي موسی کليم الله صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله خبري واوريدې نو درؤيت شوق يې پيدا شو څکه د حبيب په کلام خوند اخيستل د هغه دليدلو تلوسه زياتوي

لطيفه:

نېکمرغي او بدمرغي يعني سعادت او شقاوت د الله جل جلاله په يد (قدرت کي دي موسی بن عمران فرعون وروزل او مؤمن وو او سامری موسی چي جبرائيل روزلی وو هغه کافر شو نو دامين روزنه او پالنه سامري موسی ته ګټه ونه رسوله او همدا راز دلعين فرعون پالني حضرت موسی عليه السلام ته تاوان ونشو رسولای څينو شاعرانو همدغه معنا داسي ارزولي ده:

اذ المرء لم يخلق سعيدامن الأزل * فقدخاب من ربّی وخاب المؤمل

فموسی الذی رباه جبريل كافر * وموسی الذی رباه فرعون مرسل

څوک چي ازلي نېکمرغه نه وي پيدا شوی نو د هغه روزونکی يې له سعادته او دی پخپله نا اميده او ناهيلی دی هغه موسی چي جبريل يې پالنه کوله کافر وو او هغه موسی چي فرعون يې روزنه کوله استازی او پيغمبر وو.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ بَعْدِىٓ ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ
وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ٱبْنَ أُمَّ إِنَّ ٱلْقَوْمَ ٱسْتَضْعَفُونِى وَكَادُوا۟ يَقْتُلُونَنِى فَلَا تُشْمِتْ بِىَ ٱلْأَعْدَآءَ وَلَا
تَجْعَلْنِى مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِأَخِى وَأَدْخِلْنَا فِى رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ
عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٥٣﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى
ٱلْغَضَبُ أَخَذَ ٱلْأَلْوَاحَ ۖ وَفِى نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَٱخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُۥ سَبْعِينَ رَجُلًا
لِّمِيقَٰتِنَا ۖ فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّٰىَ ۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآ ۖ إِنْ هِىَ إِلَّا
فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهْدِى مَن تَشَآءُ ۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا ۖ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْغَٰفِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ۞ وَٱكْتُبْ لَنَا فِى
هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِىٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ
فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ
ٱلْأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ
وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ
إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾ وَمِن قَوْمِ
مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنَٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ
ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ
مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَٰمَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۚ وَمَا
ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ ٱسْكُنُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ وَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ
شِئْتُمْ وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٓـَٰٔتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾
فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟
يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾ وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِى ٱلسَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ
حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ ۙ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُوا۟ مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ
﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦٓ أَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذْنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ بِعَذَابٍۭ بَـِٔيسٍۭ بِمَا كَانُوا۟
يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا۟ عَن مَّا نُهُوا۟ عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَـٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ
يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَـٰهُمْ فِى
ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ ٱلصَّـٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَـٰهُم بِٱلْحَسَنَـٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾
فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَـٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ
يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَـٰقُ ٱلْكِتَـٰبِ أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا
تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَـٰبِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ ﴾

الأعراف: ١٥٠ - ١٧٠

مناسبت:

لاتراوسه آيتونه دموسی عليه السلام له بني اسرائيلوسره يوځای كيسه بيانوي چي الله جل جلاله څومره زيات نعمتونه ورباندي پېرزوا ودوی بياڅومره زيات انكارا و سرغړونه وكړه اوهمداسي الله پاک د(اصحاب السبت) كيسه راوړي هغوی چي دشنبې په ورځ به يې دماهيانوښكار كاوو اوالله ځني منع كړي وو بياهغوی په بېزوګانو مسخ شول چي پدې كي دعبرت اوپند اخيستونكو لپاره درس دی.

لغتونه:

(أسفا)سخته خواشيني اوقهرته وايي لكه چي (رجل آسف) او(رجل اسيف) يعني خواشينی اوله قهره ډک سړی(ابن أم) اصل يې (ابن أمی) وو اوپدې كي نرمي اومهرباني غوښتل پټ دي(تشمت) له شماتت څخه اخستل شوی اوهغي خوشحالي ته وايې چي بل انسان ته په غم رسېدلوترسره كېږي په حديث شريف كي راځي (لاتشمت بی الاعداء)(الرجفة) سختي زلزلې ته وايې(هدنا) موږتوبه ګارشو له (هاد، يهود) څخه اخيستل شوی چي معنايې رجوع اوتوبه ده(اصرهم) درانه تكاليف ددوی ځكه امرهغه درندوالي ته وايې چي بارونكي له خوځېدلو پاتي كوي(الاغلال)د(غُل) جمع اوهغه دسپينوزروطوق ته وايې چي په غاړه اويالاس كي غړوندی ، يالاسوندی وي (عزروه) چي دده تعظيم اومرسته يې وكړه(اسباط) دسبط جمع اوهغه لمسي ته وايې كه دزوی له خواوي ، يادلور وروسته بيې بيادبني اسرائيلوپه توكمونو اوقبيلواطلاق شوی دی (تأذن) له ايذان څخه اخيستل شوی اودخبرتيا اواعلان په معناده (يسومهم) ورڅكئ اورسوئ دوی ته (خَلْف)دلام په سكون سره هغه ناخلف زوی ته وايې چي شرير اوفاسدوي اودلام په زور سره بيا نېک اوصالح ذوذات ته ويل كېږي ځكه خلګ وايې:(جعلک خير خلف لخير سلف) يعني الله دي نېكمرغه زوی دنېكمرغه پلار لپاره وګرزوه.

تفسير:

﴿ وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَـٰنَ أَسِفًا ﴾ (اوكله چي بېرته راغی موسی (له كوه طورنه) خپل قوم ته، پداسي حال كي چي له قهره ډک اوله ډېرقهر اوغصي افسوس كونكی وو) يعني كله چي موسی عليه السلام دالله

جل جلاله له مناجات څخه راستون شو نود قوم حال يې د خوسي په عبادت کې وليد نو پرخواشيني او افسوس کونکی شو ﴿ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِنْ بَعْدِيٓ ﴾ او ويې ويل بد خلافت زما موله ما وروسته کړی دی (چې د خوسي عبادت مو پيل کړی) ﴿ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ﴾ آيا تلوار وکړه تاسي د الله له حکم څخه (چې د موسی انتظار مو تر مغو کړی وای څو چې د طور له غره راستنېږي) استفهام انکاري دی ﴿ وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ﴾ او و غورځولې (موسی) تختې د(تورات له جهته د غضبه لپاره د دين د حمايت چې څرنګه دوی د خوسي عبادت کړي ؟) او ويې نيو سر د ورور خپل چې رابنکودېې هغه خپل ځان ته (ګمان يې داوو چې هغه په دې هکله کوتاهي کړېده. موسی عليه لسلام د الله جل جلاله د دين په باب خورا قهرجن او غضبناک وو. ابن عباس رضی الله عنه وايې: کله چې موسی عليه السلام وليدل چې قوم يې د سخوندر (خوسي) عبادت کوي نويې تختې وغورځولې او ماتې کړې او د خپل ورورسريې ونيو ځان ته يې راکاږل (١) ﴿ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي وَكَادُوا يَقْتُلُونَنِي ﴾ (نو ويل (هارون) موسی ته) اې زما د موري زويه بېشکه چې (دغه) قوم زه ضعيف کړی وم او نژدې وو چې وژلی يې وم) دغه غربېې د مهرباني او لطف کولو لپاره وکړ(٢) تر څو د موسی عليه السلام قهر سوړ کړي چې هغه (هارون) د دوی په راګرزولو کې څه تقصير ندی کړی ﴿ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَآءَ ﴾ نو په ما باندې دښمنان مه خوشحالوه) ﴿ وَلَا تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ﴾ (او ما د ظالمانو له قوم سره مه ملګری کوه) يعني ماته بد اورد مه وايه دښمنان مه راباندې خندوه ما د دوی په ډله کې مه ګڼه (ما خپل ټول وس په کار اچولی چې دوی له دغه ناروا عمل څخه راوګرزوم خو مې نشو کړای) مجاهد وايې: مراد له ظالمانو څخه هغه کسان دي چې د خوسي عبادت يې کړی وو ﴿ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَۖ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّٰحِمِينَ ﴾ وويل: موسی اې ربه زما ! ببنښنه وکړه ماته او وروز زماته او داخل کړه موږ په رحمت خپل کې او هم داته مهربان يې تر ټولو مهربانانو) يعني کله چې موسی عليه السلام ته د هارون عليه السلام برأت څرګند شو چې د خلافت په هکله يې څه تقصير نشته نويې له الله جل جلاله څخه ځان او هغه ته ببنښنه وغوښته. زمخشري وايې چې د ځان لپاره يې پدې ببنښنه وغوښته چې د خپل (مشر) ورور په شان کې يې تېری وکړ پدې چې ګڼي هغه به د خلافت په دوره کې کوتاهي کړې وي او دايې وغوښتل چې دوی دواړه دي د الله له رحمت څخه ليري نشي او تل ترتله دي په دنيا او آخرت کې دده په رحمت کې پټ وي (٣) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَاۚ ﴾ (بېشکه هغه کسان چې نيولی دی دوی خسی (په معبوديت) ژر به دوی ته د دوی د رب له لوري غضب ورسېږي او ذلت او خواري پدې ژوند د دنيا کې) يعني هغه کسان چې د نر غواڼې عبادت يې کړی وو او هغه يې په الوهيت غوره کړی وو دوی ته به د الله سخت غضب او په دنيا کې سپکوالی او ذلت ورسېږي. ابن کثير وايې:

---

(١) الطبري ١٣ / ١٢٣

(٢) ابن کثير وايې چې: ﴿ ابْنَ أُمَّ ﴾ يې د موسی عليه السلام د شفقت او مهرباني لورته رابللو لپاره وويل که نه هغه خو يې د مور او پلار دواړو له خوا سکنی ورور وو.

(٣) الکشاف ٢ / ١٢٢

چي کوم غضب بني اسرائیلوته ورسېدو هغه داچي توبه یې ترهغو نه قبلېده څویوبل ووژني اوسپکاوی ذلت داوو چي دغه کار ددوی لپاره په دنیاکي دخواري اوذلت ننبه شو(۱) ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُفْتَرِينَ ﴾ (اوهم داسي سزا ورکوو موږ بهتان تړونکوته) یعني لکه څرنګه چي دغوخلګوته موږ غضب اوذلت سزا ورکړه هسي سزا تولوهغوته چي په الله باندي افتراګاني تړي ورکوو. سفیان بن عیینه وایي: هرمبتدع ذلیل وي(۲) ﴿ وَٱلَّذِينَ عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓا۟ ﴾ اوهغه کسان چي دوی ناکاره کارونه کوي بیاتوبه وباسي وروسته له کولودګناهونو) اوایمان راوړي (په ایمان باندي ثبات او اخلاص لري) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه چي رب ستاپس له دې (توبې) خامخابښه بښونکی دی ډېررحم والادی) یعني اې محمده! صلی الله علیه وسلم ستارب وروسته له دې توبې ددوی دګناهونوبښونکی اوپردوی مهربان دی . الوسي وایي په آیت شریف کي داسي انتباه (خبرتیا) شته چي ګناهونه که څه هم ستر اولوی وي خود الله جل جلاله عفو اوکرم لاډېرلوی او ستر دی. ﴿ وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ أَخَذَ ٱلْأَلْوَاحَ ﴾ اوکله چي کرار (سوړ) شوقهر دموسی نوهغه تختې یې واخیستې) یعني کله چي دموسی علیه السلام غضب په خپل ورور اوقوم باندي سوړشونوهغه د تورات تختې یې را واخیستې ﴿ وَفِى نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ ﴾ اوپه لیک ددغو (تختو) هدایت اورحمت وو(لپاره دخلګوچي د دارینونېکمرغي یې ورښوده) ﴿ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴾ لپاره دهغوکسانوچي دوی له خپل رب څخه وېرېږي) یعني دغه رحمت دهغوکسانولپاره ووچي هغوي له الله جل جلاله اوعذابه یې په ګناهونوکولوباندي وېرېږي ﴿ وَٱخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُۥ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَـٰتِنَا ﴾ (اوغوره کړل موسی له خپله قومه اویا (تنه) سړي (چي دخوسي عبادت یې نه ووکړی) لپاره دموعودوخت زموږ) هغه چي الله وعده ورکړي وه دوی ته دراتللو لپاره دعذر وړاندي کولو له هغې ګناه چي دخوسي عبادت وو ﴿ فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ ﴾ (نوکله چي ونیول هغوی زلزلې) یعني کله چي غر ,ورباندي ولړزېدو اودوی پرمخي ولوېدو ﴿ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّـٰىَ ﴾ نووویل : (موسی د الهي امر داستسلام اوتضرع په توګه) اې ربه زماکه اراده فرمایلي وي تا(ددوی دهلاکولونو) هلاک کړي به وو تادوی اومایخواله دي نه (څکه موږ ستابندګان ستاترفرمان لاندي اوته کولای شي هرهغه څه چي وغواړې ﴿ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآ ﴾ آیاهلاکوې ته موږپه هغه کار چي کړی دی بې عقلانوله موږه؟ دهغواویا کسانو چي ویلې وو ﴿ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً ﴾ راووینه موږته الله څرګند ,استفهام دلته داستعطاف اوتذلل لپاره دی لکه چي وایې اې الله دنوروپه ګناه موږته عذاب مه راکوه ! طبري دالسدي په روایت وایي:چي الله پاک حضرت موسی ته حکم وکړچي یوڅوتنه بني اسرائیل له ځانه سره راوله چي عذر وړاندي کړي له هغې ګناه چي دخوسي عبادت یې کړی وو اووعده یې ورته وټاکله موسی علیه السلام اویاتنه مشران غوره کړل اوکله چي هغه ځای ته ورغلل نودوی وویل : اې موسی! تاچي خبري ورسره وکړې یقین مونه راځي ترڅوچي الله څرګندونه وینونوموږته هغه راووینه دلته تندر درباندي

(۱) المختصر ۲/ ۵۲

(۲) الطبري ۱۳/ ۱۳۶

پرېوت او ټول مړه شول موسى عليه السلام و دربدو او الله جل جلاله ته يې په ژړا دعاګاني پيل کړې ويل يې: زه به بني اسرائيلو ته څه وايم کله چې هلته ورشم په داسې حال کې چې تا ددوى مخه ور ګرد هلاک کړل؟ که تا غوښتي واى زه او دوى به دې پخوا هلاک کړي وو(۱) زه وايم چې دغسې خبرې د بني اسرائيلو د مشرانو اخيارو له خولې ژاووژي نو د بدانو اشرارو به يې څه حال وي؟ نعوذ بالله من خبث اليهود ﴿إِنۡ هِيَ إِلَّا فِتۡنَتُكَ﴾ ندى دا کار مګر ستا ازموينت دى (چې بندګان ورباندې ازمويې) ﴿تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهۡدِي مَن تَشَآءُۖ﴾ ګمراه کوې ته په دې سره يا (الله) هرهغه څوک چې اراده يې وکړې ته د ضلالت او هدايت کوې ته (يا الله) هرهغه چا ته چې اراده يې وکړې د هدايت ﴿أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ﴾ ته زموږ واکدار (حافظ ناصر) يې نو ښښنه وکړه (د ګناهونو) موږ ته او پر موږ ورحمېږه (ستا په پراخ او ډېر رحمت باندې) ﴿وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ﴾ (او هم دا ته يې بهتر غوره د ټولو ښښونکو) يعني ته د ټولو هغو چې ستر او ښښنه د ګناهونو کوي غوره يې ته ګناهونه ښښې او په نېکيو يې بدلوې ﴿وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ﴾ (او وليکه موږ ته په ژوندون د دنيا کې نېکې او په آخرت کې (هم) نېکي) دغه د موسى عليه السلام له دعا څخه دى يعني موږ ته په دنيا او آخرت کې نېکي مقرر او تثبيت کړه ﴿إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ﴾ بېشکه موږ توبه ګار شوي يو تا ته ﴿قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ﴾ نو و فرمايل: (الله چې) زما عذاب به ورسوم هغه چا ته چې اراده وکړم زه (د رسولو يې) او رحمت زما شامل دى هر شي ته ابو السعود وايي چې: د عذاب په رسېدلو کې د مضارع صيغه او د رحمت په پراخي کې د ماضي صيغه راوړل د دې خبر ورکوي چې رحمت د ذات مقتضا او غوښتنه ده او عذاب بيا د بندګانو د ګناهونو په مقتضا او غوښتنه راځي(۲) ﴿فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ﴾ نو ژر به وليکم دا (رحمت په آخرت کې) هغو کسانو ته چې ځانونه له کفره او ګناهونو ساتي او زکاتونه ورکوي او هغه کسان چې زموږ په آيتونو د (ټولو کتابونو او نبيانو) ايمان لري ﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ﴾ (دا هغه کسان دي چې دوى د هغه رسول (د دين) متابعت کوي چې أمي نبي دى) يعني دغه متقيان مؤمنان هغه کسان دي چې دوى ته به رحمت رسېږي کوم چې د محمد عربي أمي صلى الله عليه وسلم متابعت کوي هغه چې نه ليکي او نه لولي بيضاوي وايي چې رسول په دې نومول چې الله ته يې اضافت او نسبت وشي او نبي پدې چې خلکو ته يې اضافت راشي(۳) ﴿ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ﴾ هغه رسول چې دوى مومي (نعت او صفت دده) ليکل شوى په تورات او انجيل کې. ابن کثير وايي چې: دغه د محمد صلى الله عليه وسلم هغه صفت دى چې د انبياوو عليهم السلام په کتابونو کې راغلى دى او خپلو امتونو ته يې د استازيتوب (بعثت) زېرې ورکړى او د متابعت کولو حکم يې فرمايلى دى او تل ترتله يې صفتونه ددوى په کتابونو کې موجود دي چې علماء او احبار يې پېژني(۴) ﴿يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ﴾ هغه رسول) چې دوى ته امر کوي په

(۱) الطبري ۱۳/ ۱۴۰
(۲) ابو السعود ۲/ ۲۰۱
(۳) البيضاوي ص: ۲
(۴) المختصر ۲/ ۵۵

معروف سره او له منکر څخه يې منع کوي) يعني هغه امر نه کوي مګر په هر ښکلي او نېک شي سره او منع نه کوي مګر له هر بد او قبيح څخه ﴿ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ ﴾ (او حلالوي دوی ته ګرد طيبات او حراموي پر دوی باندي پليت شيان) يعني حلالوي دوی ته هغه پاک شيان چي د دوی د ظلم او تېري له کبله حرام کړی شوي وو پر دوی باندي او ورباندي حراموي هغه پليت شيان لکه ويني، د خنزير غوښه او مرداره (مرژګه) .

﴿ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ﴾ او ليري کوي له دوی څخه درانه بارونه د دوی او هغه قيدونه د سختيو چي پر دوی باندي وو) يعني له دوی څخه شاقه تکاليف سپکوي هغه چي د قيدونو په ډول وي لکه د توبې لپاره د ځان وژل او د ناپاکه ځای غوڅول او له قصدي او غير قصدي قاتل څخه اکه پکه قصاص اخيستل او د اسي نور ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ ﴾ پس هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی په دغه (محمد) او عزت کوي دده او مرسته له دغه (محمد صلی الله عليه وسلم) سره کوي ﴿ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ﴾ (او متابعت کوي د هغي رڼا چي نازل کړی شوی دی له ده سره) يعني متابعت کوي د هغه روښانه قرآن او غوړی شريعت ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ نو دغه کسان هم دوی دي په مراد رسېدلي (تل ترتله نېکمرغي ته) ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾ ووايه (اې محمده ! خلګو ته چي) اې خلګو ! زه تاسي ټولو ته د الله رسول (استازی) يم د ځمکي سرد ټولو خلګو لپاره ﴿ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (هغه الله چي خاص ده لره ده پاچهي د آسمانو او د ځمکي) يعني مالک د ټولو کائناتو دی ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ ﴾ (نشته هيڅ لائق د عبادت (په حقه سره) مګر هم دی دی چي ژوندي کول او مړه کول کوي) يعني له الله پرته هيڅ رب او معبود نشته چې هغه په ژوندي کولو او مړه کولو قادر وی ﴿ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ نو ايمان راوړئ په الله جل جلاله او رسول د دغه الله چي ټولو خلګو ته مبعوث دی ﴿ ٱلنَّبِيِّ ٱلْأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ ﴾ چي نبي أمي (نالوستونکی نا ليکونکی) دی هغه چي ايمان لري په الله او په ګردو خبرو د الله (که په ده نازل شوي کتابونه دي او که په نورو نبيانو ﴿ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ (او متابعت وکړئ دده لپاره د دې چي تاسي لاره ومومئ) يعني دده په پله پل کښېږدئ او لاره يې ونيسئ پدې هيله چي مطلوب ته ورسېږئ ﴿ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴾ او ځيني له قومه د موسی (بني اسرائيلو) يوه ټولی ده چي لاره ښيې (خلګو ته) په حقه (ظلم نکوي) او په دی حق انصاف کوی (په مينځ د خلګو کی لکه چي دوی پخپله هم پری عمل کوی) زمخشري وايې : کله چي الله هغه کسان ياد کړل چي په دين کي متزلزل او شکمن شول آن تردې چي په دوو سترو پېښو کي ککړ شول يو يې د خسي عبادت او بل يې د الله جل جلاله رؤيت و غوښتل نو بيا الله جل جلاله داذکر کړل چي له دوی څخه يوه داسي ټولی هم شته چي په حق باندي ثابت ولاړ دي او خلګو ته د استقامت سمه لاره ورښيي([1]) ﴿ وَقَطَّعْنَٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ﴾ (او بېل کړل مونږ د غه بني اسرائيل ١٢

([1]) الکشاف ٢ / ١٢٧

دولس قبيلې تولۍ تولۍ) يعني دحضرت يعقوب عليه السلام له اولادونو څخه دهريوه اولادموځان ته قبيله کړه. ابوحيان وايي: معناداچې دوى موپه سبطونوووېشل ترڅودهري قبيلې واک خپل مشراورئيس ته وسپارل شي ترڅوپه موسى عليه السلام ګنه ګونه سپکه شي بل داچې حسد اوکينه سره ونکړي اوناورين جوړنشي څکه دولس چينې اوبه ورته راوبهېدې چې په اوبوېې جګړه نه وي اودهري يوې قبيلې لپاره موبقيب او مشروټاکل چې ددوى دچاروفيصله کوي(۱) ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ ﴾ اووحى (حکم) موولېږه موسى ته کله چې قوم دده ترې اوبه وغوښتې) هلته چې دتيه په دښته کې تندې درباندې غلبه وکړه ﴿ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ﴾ چې پخپله همساتېږه ووهه (اوهغه يې ووهله) ﴿ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ﴾ نوراوخوتېدلې له هغې (تېږې څخه) دوولس چينې (دقبيلوپه شمېر) ﴿ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ﴾ په تحقيق و پېژانده هري قبيلې ځاى داوبوڅښلوخپلو) يعني هري يوې خپله چينه وپېژنده. طبري وايي: چې بيابه نويوه قبيله دبلې په چينه نه ورګډېدله(۲) ﴿ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَٰمَ ﴾ (او سيورى کړموږپردوى وريځ) چې دوى بې دلمرله تودوخې اوتکليف څخه ژغورل. الوسي وايي: چې داهسې سيورى ووچې له دوى سره به هرچېرته چې دوى تلل لېږديدو اوچېرې چې به مېشت شوهلته به درېدو ﴿ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ﴾ اونازل کړى ووموږپردوى من(ترنجبين) اوسلوا(مرځان) يعني موږدوى په خوندور خوراک ونازول چې هغه من ووداهسې يوخوږڅېزووچې په ونويې راکوزېدو اودوى به بيا راغونډول اوخوړل(۳) اوسلوى بياداخوندوري غوښې څښتن مرغه (مرز) ته وايي دغه ټول يوازي دالله جل جلاله فضل اواحسان وو دوى هيڅ زيار هم پدې هکله نه ووګاللى. ﴿ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾ (نوويل موږدوى ته چې) و خورئ تاسي له پاکېزه اوحلالولذيذوهغوشيانو چې موږتاسي ته درکړي ﴿ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (اودوى ظلم نه ووکړى پرموږ(په دغه کفران اوعصيان سره) وليکن وودوى چې ظلم يې پخپلوځانونوکاوو) پدې کلام کې حذف راغلى چې تقديريې داسې کېږي دوى ددغوسترونعمتونوکفران وکړاو دوى په سبب ددې کفران په موږظلم ونکړبلکه پخپلوځانونو يې وکړچې دالله عذاب ته چمتو شول ﴿ وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ ٱسْكُنُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ وَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ ﴾ او(يادکړه هغه وخت) چې وويل شو(پلرونود) دوى ته اوسئ تاسي پدغه کلي کي (چې بيت المقدس دى) اوخورئ تاسي له (مېوود) دې څخه له هرځاى څخه چې موخوښه شي ﴿ وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ ﴾ اووايئ دننوتلوپه وخت اې الله راوبښه ګناهونه زموږ ﴿ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا ﴾ اوننوزئ دروازې (ددې ښارته) سجده کونکي ﴿ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٓـَٰٔتِكُمْ ﴾ نووبه ښنوموږ تاسي ته ګناهونه ستاسي (چې پخوامو کړي دي) ﴿ سَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ (ژربه زيات کړونېکانوته اجر) يعني هغه چاته چې نېک عملونه کوي دالله جل جلاله د اوامرو امتثال کوي په غفران او ښښنه د پاسه به دجنت دخول هم

---

(۱) البحر المحيط ۴ / ۴۰۲
(۲) الطبري ۱۳ / ۱۷۷
(۳) روح المعاني ۹ / ۸۸

ورکړو ﴿ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ ﴾ پس بدل کړه هغو کسانو چي ظلم يې کړی وو(پخپلو ځانونو) له دوی څخه خبره غيرله هغي چي دوی ته ويل شوي وه (هغه چي نه ښائېدله) ويل يې (حنطة في شعيرة) او په ځای د دې چي په سجده د ننه شي دوی په کوناتيو دملندو او استهزاء لپاره ښوئېدل چي د الله په اوامرو يې ملندي وهلې ﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَظْلِمُونَ ﴾ نو موږ پر دوې باندي له آسمانه عذاب ولېږه (څکه دوی پخوا او وروسته تل ترتله په دښمني او ظلم کي وو) ابو السعود وايي : چي مراد له عذابه د طاعون ناروغي وه . روايت کېږي چي په يوه ګړۍ کي څليرويشت زره تنه هلاک شول(١) ﴿ وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ ﴾ او وپوښتنه وکړه (اې محمده اله يهودو د هغوی د اسلافو او حال) د هغه کلي څخه چي د بحر په غاړه وو (چي څه ناورين ورباندي راغی کله چي يې د الله له امر څخه سرغړونه وکړه او د هفتې په ورځ يې د ماهيانو ښکار کاوو چي آيا هغه الله تعالی په بېزوګانو او خنزيرانو مسخ نکړل ؟ ابن کثير وايي: چي دغه د(ايله) کلی او د قلزم د سيند په غاړه وو(٢) ﴿ إِذْ يَعْدُونَ فِى ٱلسَّبْتِ ﴾ چي له حده تېرېدل دوی (له فرمانه د الله په ښکار کولو د ماهيانو) په ورځي د خالي کي ﴿ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا ﴾ کله چي راتلل دوی ته ماهيان د دوی په ورځي د هفتې د دوی کي ښکاره (پداسي حال کي چي په دې ورځ به په دوی ښکار حرام شوی وو ﴿ وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ ﴾ او په هغه ورځ کي چي داخل به نه وو په خالي کي نو به (ماهيان) نه راتلل (او پټېدل به) ﴿ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ ﴾ (په مثل د دغه امتحان) ازمويو موږ دوی په سبب د دې چي وو دوی چي فسق به يې کاوو (د الله له طاعت څخه به وتل) يعنی د دغه عجيبه ازموينبت په شان چي ماهيان به په حرام شوي ورځ د اوبو په سرور ته څرګندېدل او په حلاله ورځ به ځيني پټېدل دا د دوی د فسق په وجه او د اچي د الله جل جلاله له محرماتو يې ځان نه وو ژغورلی . قرطبي وايي: چي داسي روايت شوی دغه خلک د داؤد عليه السلام په زمانه کي وو او دوی ته ابليس داسي وويل چي تاسو خود خالي په ورځ د ماهيانو له ښکار څخه منع شوي ياست ډنډونه تالابونه (حوضونه) جوړ کړئ نو دوی هماغسي وکړل او د جمعې په ورځ به د دوی ماهيان ډنډونو (حوضونو) ته وشړل او بيا به د اوبو د کمښت له امله هغوی له تالابونو څخه د وتلو امکان نه درلود نو به دوی په داسي دوکه هغه کبان بيا د يکشنبې په ورځ نيول(٣) ﴿ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ (او وپوښتنه وکړه اې محمده اله يهودانو) کله چي وويل يوې فرقې له دوی (چي نه يې ښکار کاوو نه يې نور منع کول منع کونکو ته) ولي تاسي نصيحت کوئ هغه قوم ته چي الله د دوی هلاکونکی دی يا عذاب کونکی د دوی دی په سخت عذاب سره) ابن کثير وايي : الله تعالی د دې کلي له خلکو اخبار فرمايي چي هغوی په درې ډلي وو وېشل شول يوې ډلي د شنبې په ورځ ماهيان نيول او د نيولو لپاره يې پلمې (حيلې) جوړي کړې او بله ډله داسي وه چي له دغه کاره يې خلک منع کول او دوی خپله هم نه کاوو دريمه ډله هغه وه چي چُپه پاتي شوه نه يې پخپله ښکار کاوو نه يې خلک منع کول خو هغه چاته چي وعظ او پند يې ورکاوو

---

(١) ابو السعود ٢/ ٢٠٥

(٢) المختصر ٢/ ٥٨

(٣) القرطبي ٧/ ٣٠٢

اوله دغه بده کاره یې خلک منع کول دوی به ورته ویل: چي ولي دغو ته نصیحت کوئ چي دوی دعذاب ور او مستحق دي تاسو پوهېږئ چي دوی هلاکېدونکي دي ستاسو پند هلودوی ته ګټه نه رسوي(۱) ﴿ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ ﴾ (وویل دوی (چي وعظ کوو) لپاره د(خپل) عذر پیدا کولو رب ستاسي ته) یعني دغه امربالمعروف کونکو به ورته ویل چي موږ ددې لپاره ورته نصیحت کووچي دالله په وړاندي دقیامت په ورځ زموږعذرموجود وي چي موږخپلي غاړي خلاصي کړیدي ﴿ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴾ (اولپاره ددې چي ښایې دوی ووېرېږي) اودغه کارېرېږدي. طبري وایې: ښایې دوی له الله و وېرېږي له ګناه څخه توبه وکاږي دالله طاعت ته رجوع وکړي دخالي دورخي ښکار پرېږدي(۲) ﴿ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ ﴾ (نوکله چي پرېښودوی (لکه چي هېرکړی یې وي) هغه نصیحت چي پندورکړی شوی وو دوی ته په هغه سره) یعني کله چي دوی دصالحانو خبری هسي شاته وغورځولې لکه چي یوڅوک یې بېخي هېري کړي اویو مخ ایزه یې مخ ځني واړاوو ﴿ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ ﴾ (نجات ورکړموږهغوکسانوته چي منع کول دوی (دانور) له بدي) یعني هغه کسانوته مو نجات ورکړچي نورخلک یې په مځکه کي له فساد اچولو څخه منع کول ﴿ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ ﴾ اوو مونیول هغه کسان چي ظلم یې کړی وو (په بدوکارونوکولو) په سخت عذاب سره ﴿ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴾ (چي وودوی ګناهونه به یې کول) یعني ددوی دفسق اوعصیان په وجه موونیول ﴿ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ ﴾ نوکله چي سرکشي وکړه دوی له (پرېښودلود) هغه شي څخه چي منع شوي وودوی له هغه شي څخه ﴿ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴾ (نو) (وویل موږدوی ته چي شئ بیزوګان رټلي سپک کړی شوي) معناداچي موږ هغوی بیزوګان اوخنزیران مسخ کړل. یعني دوی لومړی ځل په سخت عذاب ونیول شول خوچي بیاهم یې توبه ونکړه اوسرغړونه یې هماغسي جاري وساتله نوبیاپه بیزوګانو اوخنزیرانوبدل شول ددې خبرو حاصل داچي دغه خلک په دریوتولګیو وېشل شوي وویوه ګنهکاره ټولی چي الله جل جلاله معذب کړل اوبله هغه چي وعظ اونصیحت یې ورته کاووالله له عذابه وژغورل اودریمه هغه چي پخپله یې ګناه نه کوله اونوریې هم له ګناه کولو څخه نه منع کول له دوی څخه قرآنکریم پټه خوله دی. ابن عباس رضی الله عنهماوایې: پدې خبرنه یم چي دغه ساکت ټولګی هلاک اوکه وژغورل شو؟ عکرمة رضی الله عنه وایې: مازیاراېستل تر څوپدې وپوهېدم چي هغوی هم له هلاکت څخه نجات وموندځکه دوی دغه ګناه بده ګڼله اوښه یې نه ایسېدله(۳) ﴿ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ ﴾ او(یادکړه) هغه وخت چي خبر ورکړی وو ربّ ستاچي خامخامسلط به کړم هرومرو په دغویهودانوتر ورځي دقیامت پوري هغه څوک چي رسوي به دوی ته سخت عذاب (په سبب دعصیان اوسرغړوني ددوی له الهي اوامرو څخه اوداچي دحرامو کارونو لپاره یې حیلې پلمې لټولې همداسي الله جل جلاله په دوی بخت نصر مسلط کړویې وژلو، بندیان یې کړل اونصاری یې ورباندي مسلط کړل چي دوی یې خوار

---

(۱) المختصر ۲ / ۵۹
(۲) الطبري ۱۳ / ۱۸۵
(۳) المختصر ۲ / ۵۹

اوسپک وګرزول اوجزیې یې ورباندې وټاکلې لکه څرنګه چې یې محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ورباندې مسلط کړاوځمکه یې ددوی له ناپاکې څخه سپېځلې کړه دوی یې له عربي جزیرې څخه وایستل همدارنګه پدې نژدې وروستي وخت کې یې هټلر ورباندې مسلط کړ چې ددوی سراومال یې خان ته روااوهغوی یې په وژلو اوشړلو پوپناکړل اوداغسې به دالله جل جلاله وعده تل ترتله وي چې په دوی به یو څوک مسلط کوي آن ترهغوی چې مسلمانان به یې په وروستنی جګړه کې بېخ اوبکروباسي (ویومئذ یفرح المؤمنون بنصر الله) ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ بېشکه رب ستا خامخا ژردی عذاب دده) او بېشکه دغه (الله) خامخابنه بښونکی د(ګنهګارانو) دېرحم والادی (دهغه چالپاره چې طاعت یې کوي) ﴿وَقَطَّعْنَٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ﴾ (اومتفرق کړل موږدوی په ځمکه کې فرقې فرقې) یعني دوی موږلګی ډلګی په هیوادونو کې تېت کړل اودوی یوازنی ټاټوبی نلري ترڅوچې دشان اوشوکت خاوندان وي اودوی چې په مقدسه ځمکه کې اوس راټول شوي انشاء الله دمسلمانانوله لاسه وژل کېږي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې هکله فرمایلي دي: لاتقوم الساعة حتی یقاتل المسلمون الیهود) الحدیث اخرجه مسلم یعني ترهغوقیامت نه راځي ترڅوچې مسلمانان یهودان ووژني) بیاوروسته الله تعالی هسې وېش کوي فرمایې چې دوی ګردسره ټول خوفجار، اشرار نه دي بلکه اخیار اوښه خلک هم پکې شته ﴿مِّنْهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ﴾ ځیني له دوی څخه نېکان دي او ځیني له دوی څخه راښکته له دې (مرتبې دصلاح) یعني ځیني له دوی څخه ایمان راوړي چې هغوی دېرلږ دي اوځیني له دغې درجې دصلاح څخه ښکته (کافران دي) چې دوی خورازیات دي ﴿وَبَلَوْنَٰهُم بِٱلْحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ اوو ازمویل موږدوی په نېکیو (نعمتونو) اوبدیو (زحمتونو اوعذابونو) ښایې چې دوی وګرزي (له کفره) ﴿فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ﴾ (نوپاتې شول وروسته له دوی نه داسې بدخلیفه ګان چې وارثان شول دکتاب) ابن کثیروایې: چې له دغه نسله وروسته چې صالح اوطالح کسان پکې وو داسې څوک راغلل چې تورات ورته پاتې شوکوم کسان چې هیڅ خیراومصلحت پکې نه وو[1] ﴿يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا﴾ (حال داچې) اخلي دوی مبلغ (اواسباب) ددنیا (په رشوت) وایې دوی ژربه ښښنه وکړه شي موږته) یعني دوی ددغه خسیسې دنیاله حرامو اوحلالوراغونډوي اوپه وازکومي وایې چې ژربه موږته الله (ج) داعمالو ښښنه وکړي اوداپه الله جل جلاله باندې افتراء اوتېروتنه ده ﴿وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ﴾ (اوحال داکه راشي دوی ته مبلغ (اواسباب نورهم) په مثل ددې نواخلي دوی هغه (هم) یعني دوی دمغفرت هیله لري اوپه ګناهونو باندې اصرار کوي هرڅه دنیوي مال اسباب چې ورته څرګند شي دحلال اوحرام غم یې نکوي اوهغه ټولوي ﴿أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ﴾ آیانه ده اخیستی شوي له دوی څخه کلکه وعده په دې کتاب کې ؟ (بلکه اخیستی شویده) چې نه به وایې دوی پرالله مګر حق) استفهام دتوبیخ اوتقریع لپاره دی چې آیاله دوی څخه په تورات کې کلکه وعده اخیستل شوې نه وه چې دوی به په الله پاک دروغ نه تړي نودوی بیاڅرنګه ګومان کوي چې ددوی له ګناهونوکولوسره سره اوداچې حرام خوري او ورباندې اصرارکوي دوی ته به

---

(1) المختصر ۲/۷۱

ژربېنه وشي؟! ﴿ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِ ﴾ اولوستي وودوى (هغه احكام) چي په دغه (تورات) كي وو، پدې كي ستر توبيخ اوترټنه ده يعني حال دا چي دوى په بشپړه توګه هغه څه لوستي وو چي پدې كتاب كي راغلي او د باطل قول او افتراء دګناه وعيدېې راوړى دى ﴿ وَٱلدَّارُ ٱلۡأَخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ﴾ او دار دآخرت (جنت) خير (ډېر غوره بهتر دى) دپاره دهغه كسانو چي وېرېږي (له الله څخه په پرهېز دلو د حرامو) ﴿ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ (آيا نو تاسي عقل نه كوئ نه پوهېږئ) چي دنيا فاني او عقبا باقي ده) مقصد دا چي كه چېري دوى هوښياران واى نو به يې فاني دنيا په باقي نه وه غوره كړي ﴿ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ او هغه كسان (له دوى څخه) چي ښه ټينګ نيسي كتاب او قائموي (سم اداكوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ (پخپلو وختونو كي) ﴿ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ﴾ (بېشكه موږ نه ضائع كوو ثواب (عوض، بدل دنېكوكارانو) يعني موږ ددوى اجر نه ضائع كوو بلكه پدغه نېكو اعمالو او ټينګ نيولو دكتاب او صلحيت ددوى ښه بهتره او غوره ثواب وركوو.

بلاغت:

۱- كله چي فرمايي: ﴿ وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ ﴾ دلته يې غصه او قهر له داسي انسان سره مشابه كړچي سور او شين كېږي له خولې يې څګونه راوزي او په لوړ آواز وايي چي خامخا به زه كسات درڅخه واخلم خوبيا وروسته داغږ او صوت كرار شي نو په كلام كي مكنيه استعاره راغلي چي خوراښكلى انځور او تصوير يې كښلى چي په ښكلا او جمال يې دطبع سليم او عالي ذوق خاوندان پوهېږي

۲- د ﴿ تُضِلُّ ﴾ او ﴿ وَتَهۡدِي ﴾ ترمينځ او همدا راز د ﴿ يُحۡيِۦ ﴾ او ﴿ وَيُمِيتُ ﴾ ترمينځ دطباق صنعت دى.

۳- د الله جل جلاله پدې كلام كي چي فرمايي: ﴿ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ ﴾ دبديعي محسناتو هغه صنعت دى چي ورته مقابله وايي هغه دا چي دوې معناګاني او يا زياتي راوړل شي او وروسته په ترتيب سره دهغوى مقابل راوړي

۴- ﴿ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ﴾ دلته يې درانه بارونه او طوقونه داحكامو او شاقه تكاليفو لپاره استعاره كړي دي.

۵- پدې كلام كي چي الله تعالى فرمايي: ﴿ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ دلته له غياب څخه خطاب ته دالتفات صنعت دى او دا په توبيخ او ترټنه كي لا زياته مبالغه افاده كوي.

فائده:

(خَلْف) دلام په زور سره هغه چاته وايي چي په نېكي كي دپخوانيو كسانو وارث وي او دلام په سكون سره بيا هغه چاته وايي چي دشريه كارونو كي دبل چا خليفه او وروسته پاتي نائب وي څكه الله جل جلاله فرمايي: ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴾ مريم: ۵۹ او همدا آيت شريف چي: ﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ والله اعلم.

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ
تَتَّقُونَ (١٧١) وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ ۛ شَهِدْنَآ ۛ
أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَٰفِلِينَ (١٧٢) أَوْ تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْ ۖ
أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلْمُبْطِلُونَ (١٧٣) وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (١٧٤) وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱلَّذِىٓ ءَاتَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا
فَٱنسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ (١٧٥) وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ
وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ ۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ
كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۚ فَٱقْصُصِ ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (١٧٦) سَآءَ مَثَلًا ٱلْقَوْمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمْ كَانُوا۟
يَظْلِمُونَ (١٧٧) مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِى ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ (١٧٨) وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا
مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ
هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ (١٧٩) وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ
مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ (١٨٠) وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ (١٨١) وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم
مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ (١٨٢) وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ (١٨٣) أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ
مُّبِينٌ (١٨٤) أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ وَأَنْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ
فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ (١٨٥) مَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِىَ لَهُۥ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ (١٨٦) ﴾

الأعراف: ١٧١ - ١٨٦

مناسبت او تړاو:

کله چې الله جل جلاله د بني اسرائیلو هغه د الله په اوامرو تمرد (سرغړوني) او عصیان نمونې بیان کړې ور پسې یې دلته هغه کیسه راوړه چې په دوی باندې غر د پاسه ودرېدو ترڅو د تورات د احکامو منلو ته یې اړ باسي او که هسې نه د غه غر به یې په مځکه پورې وموښي بیا الله تعالی د علماء سوء بیان کوي او د هغه چا په کیسه یې راوړي چې د الله جل جلاله له آیتونو څخه د دنیا خسیس مال متاع غوره کوي د هغه لپاره د هغه سپي مثال راوړي چې د هوسایې او سترېا په دواړو حالتونو کې ژبه راباسي او غاپي درگرده هونگېږي او دغه د یهودوانو وړینکلی تصویر دی چې دوی څومره په دنیا پسې ربړونه گالي او څرنگه د مال دولت عبادت کوي؟.

لغتونه:

(نتقنا) (نتق) په زوره راکښول. ابو عبیده وایي د (نتق) اصل دیوشي له بېخه ایستلو او غورځولو په معناده [۱]

(ظلة) هرهغه څه چې ورباندې سیوری کوي لکه بام وریځ دېوال وزر او داسې نور جمع یې (ظلل او ظلال) راځي

(۱) الرازي ۴ / ۴۵۷

(وظنوا) يعني وپوهېدل اويقين يې شو (انسلخ) له يوشي څخه يومخ ايزه وتل لکه چي وايې: (انسلخت الحية من جلدها) يعني مار له خپل پټوکي (څرمني) څخه ووت (أخلد) يوشي ته ميلان کولوته وايې اصل يې له خلود اخيستل شوي اولزوم ته وايې لکه چي وايې: (أخلد فلان بمکان) کله چي هلته لزومي اقامت غوره کړي اوله دې څخه خلود په جنت کي هم دی (يلهث) جوهري وايې چي: (يلهث الکلب) معناداچي ژبه يې له تندي او ستړيا راايستلي وي (¹) (ذرأنا) يعني موږ پيداکړي (يلحدون) له الحاد څخه اخيستل شوی اوهغه ميل اوله سموالي څخه کږوالي ته ويل کېږي لکه چي وايې: (ألحد فی الدين فهوملحد) څکه چي ددينې تعليماتو اواحکامو څخه يې انحراف کړی وي

تفسير:

﴿ وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ ﴾ او(يادکړه اې محمده يهودوته !) هغه وخت چي راپورته کړموږ غردپاسه ددوی (بني اسرائيلو) ﴿ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ ﴾ ګواکي دغه غر , يوسائبان وو (لکه وريځ غوندي) ﴿ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ﴾ اوددوی يقين شوچي بېشکه هغه (غر) پردوی راپرېوتونکی دی (که چېري دالله دامرامتثال ونکړي) مفسرين کرام وايې چي: داسي روايت شوی چي دوی دتورات داحکامو له منلو څخه چي درانه او سخت وو ممانعت وکړنو الله يې په سرباندي دطورغردچترپه شان ودراواودوی ته وويل شول که مودتورات احکام ومنل نه ترڼه اوکه نه دغه غربه درباندي راپرېوزي نوکله چي دوی غره ته وکتل هريوېي پرمخي دسجدې په حال کي له وېري ولوېدل بيا الله وفرمايل: ﴿ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ ﴾ او(وموويل دوی ته چي) ونيسئ تاسي هغه (تورات) چي درکړی مودی تاسي ته په قوت (زورعزيمت) سره ﴿ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ (اويادکړئ هغه (احکام) چي په ده کي دي ښايې چي تاسي ځانونه (له ګناهونو) وساتئ) يعني هغه حکمونه چي پکې دي په هغوعمل وکړئ ترڅو دمتقينو په ډله کي شئ. ﴿ وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾ (او(يادکړه اې محمده !) هغه وخت چي واخيست رب ستاله بني آدمو څخه له شاګانو ددوی څخه اولاده ددوی) طبري وايې: معناداچي اې محمده ! يادکړه هغه وخت کله چي الله بني آدمان دپلرونوله شاګانو راوايستل اوبيايې خپل توحيد ورته وړاندي کړهغوی ومانواوځيني ددوی په ځينونوروشاهدان شول(²) ﴿ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدْنَآ ﴾ اوشاهدان يې کړل دوی پرځانونوخپلوباندي (اووفرمايل الله دوی ته) آيانه يم زه رب ستاسي !؟ وويل دوی (اواقرارېې وکړ) هو ! ته رب زموږيې) ګواه کړو موږ خپل ځانونه) يعني دوی يې پخپل ربوبيت

(¹) الصحاح مادة: لهث

(²) مفسرين پدې آيت کي دوه خبري کوي يوه داچي کله الله جل جلاله آدم عليه السلام پيداکړنو دده له ملايې زوزات دکوچنيو مېږيانو په مثل پيدا اووپنځول اوعهدېې ځيني واخيست چي الله ددوی رب دی پدې اقرار شول اوشاهدي يې ورکړه دغه معناپه حديث شريف کي هم راغلي چي روايات يې ډېردي اوپوې تولې اصحابو هم دغسي ويلي دي. دوهم داچي دغه دتمثيل اوتخيل په ډول دی معنايې داچي الله پاک دوی ته پخپل ربوبيت اووحدانيت باندي دلائل راوړي اوددوی عقلونواوپوهې هغه منلي اودايې دضلالت اوهدايت ترمينځ تميز ګرځولی لکه چي دوی يې پخپل ځان ګواه (شاهد) ګرزولي دي اوورته ويلي يې دي چي (الست بربکم) اودغه دوهمه رايه زمخشري او ابوالسعود غوره کړي خولومړنی ترټولو سمه ده.

اووحدانيت اقرار كړل ﴿ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَـٰذَا غَـٰفِلِينَ ﴾ (ددې جهته) چي ونه وايئ تاسي په ورځ د قيامت كي چي بېشكه موږ له دغه توحيده ناخبران وو) يعني چي تاسو د حساب په ورځ ونه واياست چي موږ په ربوبيت دالله له دغه عهد اوتېنګي وعدې څخه غافلان اوناخبره وو ﴿ أَوْ تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْ ﴾ (يا(ددې جهته) چي و(نه) وايئ تاسي چي بېشكه هم داخبره ده چي شرك غوره كړى وو پلرونوزموږ پخوا (له موږ) اووو موږ اولاده پس له دوى نه) يعني اوهمدارنګه چي تاسي ونه واياست چي موږ خوشرك نه دى كړى زموږ پلرونه پخواله موږ مشركان وو اوموږدوى لاره ونيوه نوموږ معذوريو ﴿ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴾ (نوآياهلاكوې موږ په هغه كارباندې چي كړى وو باطل عمل كونكو(مشركانو) ؟ يعني آيا ته موږدوى دشرك په سبب هلاكوې ؟ پداسي حال كي چي موږ له حقه ناخبره اودې ګمراهانوپيروي موكړي وه.

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ اوهم داسي (لكه بيان دمېثاق) په تفصيل سره بيانوو آيتونه دقدرت (لپاره دخلګو) دپاره ددې چي ښايې دوى راوګرزي (له چتې كارونو: په باطل اصراراودپلرونوله تقليدنه) ﴿ وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱلَّذِىٓ ءَاتَيْنَـٰهُ ءَايَـٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنْهَا ﴾ او(ولوله اې محمده !) پردغو(يهودانو ياخپل قوم) خبر دهغه (چا) چي وركړى وو موږهغه ته (علم) دآيتونوخپلو نو راووت (اوبېزارشو په كفر سره) له هغوآيتونو) يعني ولوله اې محمد ! په يهودانودهغه عالم كېسه چي موږهغه ته دكوم كتاب علم وركړى وو خوهغه داسي له آيتونو ووت لكه چي مارله خپلي څرمني وزي چي اعراض يې وكړ اوكافرشو ﴿ فَأَتْبَعَهُ ٱلشَّيْطَـٰنُ ﴾ نو ورپسې شو شيطان ﴿ فَكَانَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴾ (نوشوله ګمراهانو) يعني نوشيطان ورپسې شوورباندې غلبه يې وكړه ترڅو يې دګمراهانوپه ډله كي ودراوو وروسته له هغه چي له مهتدينواولارموندونكوڅخه وو. ابن عباس رضى الله عنهماوايې چي: دغه (بلعم باعورا) وو هغه ته دالله ﷻ اسم اعظم معلوم وو . ابن مسعودرضى الله عنه بيا وايې چي : دغه دبني اسرائيلو يوتن ووچي دقاصد په توګه حضرت موسى عليه السلام هغه د(مدين) باچاته ورولېږل خو باچا ده ته رشوت وركړ باچهي ته يې وهڅاوو چي دموسى دين پرېږدي اودباچادين ومني ده هم هغسي وكړل اوخلګ يې په ده ګمراهان كړل(۱) ﴿ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَـٰهُ بِهَا وَلَـٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ ﴾ اوكه اراده فرمايلي واى موږ نوخامخاپورته كړي به وو موږدوى پدې آيتونو سره (دابرارو علماوو مقام ته) ولكن دئ (دنياته مائل شو) ځمكي ته يې مينه وكړه اومتابعت يې دخپلي هوا وكړ(نواسفل سافلين ته ولوېدو) ﴿ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ﴾ نومثال دده (په خساست اودنائت كي) په شان دسپي دى چي كه حمله پرې وكړې (يايې كوري اوڅغه كړې ، ويې شړې نوژبه راباسي اوغاپي اوكه يې پرېږدې اوڅه نه ورته وايې هم ژبه راباسي اوهونګېږي دغه په بلاغت كي خوراوتلى تمثيل دى ﴿ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ (دغه تېرمثال) مثال دهغه قوم دى چي زموږآياتونوته ددروغونسبت كوي) يعني دغه بدمثال د هر هغه چالپاره دى چي دالله جل جلاله په

---

(۱) التسهيل ۲/ ۵۴

آیتونو باندي دروغ تړي اوپدې کي یهودانو ته ګوت نیونه اوتعریض دی څکه تورات ورکول شوی اودنبي ﷺ
صفت یې پېژندلی خو کله چي پیمغبر صلی الله علیه وسلم مبعوث شو اودوی وپېژانده ورباندي کافران شول او
دتورات له حکم څخه منسلخ اووتل ﴿ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ نوبیان کړه دوی (ستا امت) ته
دغه کیسې بنایې چي دوی (پکې) فکروکړي (پندواخلي) ﴿ سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنفُسَهُمْ
كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴾ بد مثال دی (مثال د) قوم هغه چي نسبت د دروغو یې کړی وي آیتونو زموږ ته ﴿ وَأَنفُسَهُمْ كَانُوا
يَظْلِمُونَ ﴾ اوپه ځانونو خپلو وو دوی چي ظلم به یې کاوو) یعني پدغه تکذیب دوی له ځانه پرته په بل چاظلم نه
کاووځکه چي وبال یې دوی ته راجع وو ﴿ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي وَمَن يُضْلِلْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴾
(هرچاته چي هدایت وکړي (سمه لاره وښیې)) الله نو هغه د هدایت موندونکی دی او هرهغه څوک چي ګمراه کړي
(ده لره الله) نو دغه ګمراهان هم دوی زیانکاران دي) یعني چاته چي الله لاره وښیې هغه نېکمرغه دی او څوک چي
ګمراه کړي هغه ارومرو ناامیدا وپه خسران کي دی له آیت څخه مقصد دا چي هدایت اوضلالت دالله په ید قدرت
کي دي ﴿ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ﴾ اوخامخا په تحقیق پیدا کړي دي موږ لپاره ددوزخ
ډېر کسان له پېریانو اوانسانانو (چي ددوزخ شومه او ازوغه شي مراد له دې څخه هغه څوک دی چي ازلي بدمرغه
اواشقیاء وي ﴿ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا ﴾ (چي) دوی لره زړونه دي (پوچ) چي دوی په هغوسره په هیڅ نه
پوهېږي (حق نه پېژني) ﴿ وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا ﴾ اودوی لره داسي (بې فائدې) سترګي دي چي نهویني
دوی په هغوسره (دلائل دقدرت دالله) ﴿ وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ﴾ اودوی لره داسي (بېکاره) غوږونه دي چي
نه اوري په هغوسره آیتونه دالله اونه پندونه وعظونه په سماع دقبول اومنلو سره اوري مقصد ددوی دزړونو ،
سترګو اوغوږونو نېستي نه ده بلکه دا چي په دین کي دوی ته ګټه نه وررسوي ﴿ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ﴾
دغه کسان په شان دچارپایانو دي (په نه پوهېدلو، اورېدلو اولیدلو کي بلکه ترحیواناتولاهم بددي څکه هغوی
خپلي ګټي اوتاوانونه پېژني خودغه کسان یې نه پېژني څکه نواور د دوزخ ته ور روان دي ﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ
الْغَافِلُونَ ﴾ دغه کسان هم دوی غافلان دي یعني په غفلت کي ډوب دي ﴿ وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ﴾
(اوخاص الله لره دي (ټول) نومونه ډېرښه نووبولئ دغه (الله) په هغوسره) یعني الله لره ډېرښه نومونه دي څکه
له ښو معانیو څخه آګاهي ورکوي نو په دغو نومونو یې وبولئ ﴿ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ﴾ اوپرېږدئ
هغه کسان چي (له ډېره ناپوهي) کوږوالی کوي په نومونو ده کي یعني پرېږدئ هغه څوک چي دالله جل جلاله په
نومونو کي له حق څخه میلان کوي لکه مشرکان چي دالله له نومونو څخه به یې دبتانو لپاره نورنومونه راایستل
چي لات یې له الله، عزی یې له عزیز منات یې له منان څخه مشتق کړي وو ﴿ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ ژر به
دوی ته (په آخرت کي) دهغو کارونو سزاورکول شي چي دوی به کول ﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ
يَعْدِلُونَ ﴾ اوځیني له هغو کسانو چي پیدا کړي دي موږ یوامت دی چي لاره ښیې خلګوته په حقه اوپه همدې
(حق) سره برابري کوي(په ټولو معاملاتو کي) یعني ځیني له امتونو څخه هغه امت دی چي موږ پیدا کړی دالله په

شريعت قولا اوعملا منګولي لګوي اوخلګ حق ته رابولي په هغه عمل اوفيصلې کوي. ابن کثيروايې چي پدې آيت کي مراد محمدي امت دی څکه حديث شريف دی چي: لاتزال طائفة من امتى ظاهرين على الحق لايضرهم من خالفهم حتى يأتى أمرالله وهم على ذلک)([1]) يعني تل ترتله به په حق باندي وي يوه ټولی زما له امته بريمند، دوی ته به هغه کسان چي ددوی ملاتړېې نه وي کړی اوياورسره مخالف وي زيان نشي رسولای ترڅوچي قيامت راځي اودوی به هغسي (په لوړتياکي) وي. دغه طائفه په کومي ځانګړي زمانې پوری خاص نه ده بلکه په هروخت اوهرځای کي شته نواسلام خوتل په لوړتياکي وي پرهغه بل څه نه دپاسه کېږي که څه هم فاسقان ډېراواشرار دمځکي مخ ونيسي خوبياهم دوی ته اعتبار نشته اونه هم غالب کېدلای شي اوپه حديث شريف کي دغه محمدي امت ته سترزېری دی چي اسلام په لوړتيا اوهمداراز مسلمان په اوچتېدلوکي دی ترڅوچي قيامت راځي

﴿ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (اوهغه کسان چي نسبت ددروغو کوي آيتونو زموږ ته ژربه موږ دوی ونيسو له داسي لوري چي دوی به نه پوهېږي) يعني هغه کسان چي قرآن دروغ بولي دمکې له خلګونه اويانوروڅخه موږ به يې لږ ونيسو اوهلاکت ته به يې نژدې کړو چي دوی به ونه پوهېږي. بيضاوي وايې هغه داسي چي پرله پسې نعمتونه ورکړي دوی به ګمان کوي چي دادالله لطف اومهرباني ده نولازيات به کبر غوره کړي اوپه سرغړونه کي به غوپه شي ترڅودعذاب وړاومستحق شي ([2]) ﴿ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴾ اوزه دوی ته مهلت ورکوم بېشکه چي کيد (حيله ،نيونه) زما ډېرسخت دی لکه چي په حديث شريف کي راځي (ان الله ليملي للظالم حتى اذا أخذه لم يفلته) يعني الله پاک ظالم ته مهلت ورکوي ترڅوبې نيسي اوکله چي ونيسي بيايې نه خوشی کوي دغه عذاب ته چي يې (کيد) ووايوځکه ظاهريې احسان اوباطن يې خذلان دی ﴿ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ﴾ آيا فکر ندی کړی دغو(مکذبينو په آيتونو چي پوه شوي به وي په دې باندي) چي نشته په ملګري ددوی پسي هيڅ يو حال (لېونتوب) بلکه هغه دالله حق استازی دی چي ددوی دلاربنووني لپاره يې رالېږلی دی او'د' مشرکينو د هغه وينا نفی کول دي چي دوی به ويل هغه مجنون دی ﴿ وَقَالُوا۟ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِى نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴾ الحجر: ٦ ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ نه دی دغه (صاحب) مګر(خو دی) يو وېرونکی ښکاره(دهغه چالپاره چي عقل زړه اودماغ لري اوپوهېږي ﴿ أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (آيادوی نظرنه کاوو(داستدلال په ډول) په سلطنت دآسمانونواو ځمکي کي) چي په ستره پاچهي اوبشپړقدرت دلالت کوي استفهام دلته دانکار، تعجب اوتوبيخ لپاره دی ﴿ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ ﴾ (اوپه هغه کي چي پيداکړي دي الله له هرشي څخه) يعني اودلوی خدای په مخلوقاتو کي چي لوی اوواړه دي فکرنه کوي ؟ چي دالله جل جلاله په بشپړقدرت اودمالک په سترشان اوډخالق په يووالي دلالت کوي ﴿ وَأَنْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ﴾ (او(بل پدې کي فکرنه کوي) چي ښآيې چي وي (داخبره) چي په تحقيق نژدې شوي به وي وعده ددوی) يعني اودادي فکروکړي چي ښايې دوی به په دانژدې کي مړه شي نوپه ښېره دي سوچ اونظروکړي چي څه شی به دوی دالله له عذاب څخه ژغوري ؟ ترېخواله دې چي دوی ته اجل ورسېږي

([1]) المختصر ۲/۷ حديث شريف په صحيحينوکي دی.

([2]) البيضاوي ص: ۲۰۵

﴿ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴾ نو په كومي (يوې) خبرې پس له دې (قرآنه) دوى ايمان راوړي ؟ سره له دې چي دغه قرآن وروستي حدته په بيان او وضاحت كي رسېدلى دى. ﴿ مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ ﴾ (هرڅوک چي ګمراه كړي الله نو نشته هيڅ لارښونكى ده ته) يعني چاته چي الله ګمراهي ليكلي دي هيڅوک يې سمي لاري ته رهبري كولاى نشي ﴿ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴾ او (الله) پرېږدي دوى په سرغړونو خپلو كي پداسي حال كي چي حيران او سرګردانه ګرزي.

بلاغت:

١- ﴿ وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ ﴾ دلته التفات شوى له متكلم څخه مخاطب ته څكه اصل خو داوو چي (واذاخذنا) واى خو چي غائب يې راوړى نكته پكي داده چي په خطاب كولو سره د رسول تعظيم وشي چي دغه تعظيم له اضافت څخه ښه څرګند ېږي او په آيت شريف كي وروسته له ابهام څخه بيان او له اجمال څخه تفصيل راغلى دى.

٢- پدې كلام كي چي فرمايې: ﴿ فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا ﴾ يعني يو مخ ايزه څني ووت لكه چي پسه له پوستوكي څخه وايستل شي. ابوالسعود وايې له وتلو څخه په انسلاخ تعبير كول ددې آګاهي او خبرتيا لپاره دى چي په بشپړه توګه سره بېل شول وروسته له هغه چي په بشپړه توګه سره يو ځاى او پتلېزو و(١)

٣- ﴿ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ﴾ پدې كي تمثيلي تشبيه ده يعني دده حال په بدوالي كي دهغه خسيس سپي چي ترټولو حيواناتو سپک او په هرحال كي غاپي او ژبه راباسي كه آرام وي او كه ستړى نو دغه تصوير له متعدد څخه اخيستل شوى څكه ورته تمثيلي تشبيه ويله كېږي.

٤- پدې كلام كي چي فرمايې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ ﴾ دلته مرسله مجمله تشبيه ده.

فائده:

له ابن عباس رضى الله عنهما څخه روايت كېږي چي ﴿ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ ﴾ هغه وايې چي كه چيري دوى (نعم) په جواب كي ويلي واى نو به كافران وو څكه چي د(نعم) معنا په نفى او ايجاب سره د مخبر تصديق دى نو لكه چي دوى پدې اقرار كړى وي چي هو ته زموږ رب نه يې او داد ﴿ بَلَىٰ ﴾ په خلاف څكه هغه د خواب حرف او په نفى پوري اختصاص لري چي د معنا ابطال كوي او معنايې داسي راځي چي هو ته زموږ رب يې او كه چيري يې (نعم) ويلي واى نو معنابه يې داوه چي هو ته زموږ رب نه يې دغه د ابن عباس رضى الله عنه د قول سبب دى ورته خبرشه باريكه خبره ده.

تنبيه:

د ترمذي په روايت په حديث شريف كي راځي چي: ان لله تسعة وتسعين اسما من احصاها دخل الجنة) يعني د الله ﷻ نه نوي (٩٩) نومونه دي چاچي وګڼل جنت ته به داخل شي علماء كرام وايې چي: معناداچي يادې كړي او په مدلول كي يې سوچ او فكر وكړي نو به جنت ته داخل شي ، د حديث شريف دامرادنه دى چي د الله ټول نومونه همدادي څكه چي په بل حديث شريف كي راځي (اسالک بكل اسم سميت به نفسک اواستاثرت به فى علم الغيب عندک) يعني زه سوال كوم ستا په هرنامه چي تا وربانديُ ځان نومولى او يادي له ځانه سره په علم غيب كي خوندي كړي دي.

---

(١) ابوالسعود ٢ / ٢٦٠

ابن عربي له ځينو کسانو څخه يادونه کوي چي هغوی وايي: دالله جل جلاله يوزرنومونه دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا
تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ
لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا
نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾ ۞ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا
تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِۦ ۖ فَلَمَّآ أَثْقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ
﴿١٨٩﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾ أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا
وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۚ سَوَآءٌ
عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَٱدْعُوهُمْ
فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ
يُبْصِرُونَ بِهَآ ۖ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۗ قُلِ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِـِّۧىَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ
ٱلْكِتَٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾
وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا۟ ۖ وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾ خُذِ ٱلْعَفْوَ وَأْمُرْ بِٱلْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ
ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ إِذَا
مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُوا۟ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِى ٱلْغَىِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾
وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِـَٔايَةٍ قَالُوا۟ لَوْلَا ٱجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ مِن رَّبِّى ۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ
لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥ وَأَنصِتُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِى نَفْسِكَ
تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْـَٔاصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا
يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢٠٦﴾﴾

الأعراف: ١٨٧ - ٢٠٦

مناسبت او تړاو:

کله چي الله جل جلاله دهغو کسانو چي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په دعوت يې ملنډي وهلي دريز ذکر کړ دلته يې دهغوی دعناد او استهزاء يوه بېلګه راوړه چي پيغمبر ته يې ويل قيامت به کله وي؟ وروسته يې د مشرکينو دعقائدو بطلان ياد کړ چي دبتانو عبادت يې کاوه په پای کي سورت مبارک دقرآن کريم دشان عظمت بيانوي او دا فرمايي چي دقرآن دلوستلو په وخت کي استماع او انصات لازمي دی

لغتونه:

(مرساها) استقرار دهغې اوله دې څخه اخیستل شوي (رست السفینة) کله چې ودرېږي او استقرار ومومي (یجلیها) له تجلي څخه اخیستل شوي او هغه ځرګندېدلو، کشف او اظهار ته وايې (حفی) مبالغه کونکی دیو شي په هکله. احفاء لکه چي وايې: (احفاء الشوارب) یعني په بېخ اخیستل دبرېتونو او حفي په شي باندي یعني کله چې د هغه دپېژندګلوي په باب زیاته څېړنه اوبحث کوي (العرف) نېک کار هغه ته ویل کېږي چې عقل یې خوښوي اوزړه ځني مطمئن وي (الآصال) دأصیل جمع ده اوجوهري وایې چي: دغه له مازیګره وروسته ترمانښامه وخت ته ویل کېږي[1]

دنزول سبب یې:

روایت کېږي چي مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل که چېري ته نبي یې نوموږ ته دقیامت دپېښېدلو وخت راوښیه[2]

تفسیر:

﴿ یَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ﴾ (پوښتنه کوي له تا (اې محمده! دقیامت له حاله ﴿أَیَّانَ مُرْسَىٰهَا﴾ (چي کله به وي وخت دقیام دهغه) یعني کله به پېښېږي اوقیامت ته چې (ساعت) وویل شوځکه چي په سرعت سره به پکې حساب کېږي الله فرمایې: ﴿وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ﴾ النحل: ۷۷ ﴿قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى﴾ ووایه (دوی ته بېشکه خبره هم داده چي علم دده په نزد درب زمادی یعني هیڅوک یې دوقوع په وخت پرته له الله سبحانه وتعالی نه پوهېږي اوبیایې ددغي خبري تاکیدهسي وفرمایل: ﴿لَا یُجَلِّیهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ﴾ (نه ښکاروي) داقیامت هیڅوک په وخت دده کي مګر (ښکاروي یې) همدغه (الله) هغه یې په وخت باندي عالم اوپوه دی ﴿ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ (دروندی (دقیامت وېره) په (مخلوقاتود) آسمانونو او (مخلوقاتود) ځمکي) یعني دوی دقیامت له شدائدو اوسختیو څخه دارېږي[3] ﴿لَا تَأْتِیكُمْ إِلَّا بَغْتَةً﴾ رابه نشي دغه قیامت) تاسي ته مګرناڅاپه ﴿یَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا﴾ پوښتنه کوي دوی له تانه (اې محمده!) ګواکي ته مبالغه کونکی یې (په سوال کي) له قیامته) سخت غوښتونکی یې دپېژندګلوي دقیامت ﴿قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ﴾ (ووایه چي بېشکه علم ددغه (قیامت خاص) په نزد دالله دی) یعني له الله پرته بل چاته علم نشته چي کله به قیامت وي اوداله غیبي امورو څخه دی چي الله جل جلاله دځان لپاره غوره کړی هغه علام الغیوب ذات دی ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا یَعْلَمُونَ﴾ ولیکن زیاتره خلک پدې نه پوهېږي چي په څه سبب یې

---

[1] الصحاح مادة ـ أصل ـ
[2] القرطبي ۳۳۵/۷
[3] دغه دقتاده رضی الله عنه قول دی چابیاویلي چي پټ دی علم ددغه قیامت په اهل دآسمانونو اوځمکي باندي.

الله جل جلاله وخت نامعلوم کړيدی. امام فخر رازي رحمه الله وايې دقيامت دوخت په پټولوکي حکمت دادی چي کله خلک پدې ونه پوهېږي چي قيامت به کله وي نوبه په وېره کي وي طاعات به کوي اوله ګناه به ځان ساتي(١)

﴿ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ (ووايه (اې محمده !) دوی ته) چي زه واک نلرم لپاره دځان خپل (درسولو) دګټي اونه د دفع کولو) دتاوان مګرهغه چي الله اراده فرمايې) نوځرنګه به دقيامت معلومات ولرم ﴿ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ ﴾ (اوکه وي چي زه پوهېدلای په (خبرو) دغيب نوخوامخواه به مي حاصل کړي وو ډېرله نفعي څخه) يعنې که زه په ټولو امورو خبروای نوبه مي ډېري دنيوي ګټي او فائدې ترلاسه کړي وای اوله آفاتو مشکلاتوبه مي ځان ژغورلی وای ﴿ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُ ﴾ (اونه به وو رسېدلی ماته کوم زيان) يعني که زه په غيبو خبروای نوله هرتکليف څخه به مي ځان ساتلای خوزه خبرنه يم ځکه راته هغه مقدرخير او شررسېږي ﴿ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ﴾ نه يم زه (خويم) زه وېرونکی اوزېری کونکی ﴿ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴾ (دپاره د (هغه) قوم چي مؤمنان دي) يعني باورلري په هغه چي ماد الله جل جلاله له لوري دوی ته راوړي دي ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ﴾ هم دغه الله هغه ذات دی چي پيداکړي يې تاسي له يوه نفس څخه (چي) آدم عليه السلام دی ﴿ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ اوپيداکړي يې ده له دې نفس څخه ښځه دده ﴿ لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ﴾ چي آرام ونيسي له دې سره ﴿ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا ﴾ نوکله چي نارينه پټه کړه دغه ښځه (جماع کوروالی يې ورسره وکړ) نوحامله شوه (په جنين) په حمل سپک سره (بې تکليفه ځکه په لومړي پيل کي نطفه وه. ابوالسعود وايې چي کله په لومړي سرکي دغه حمل نطفه اوعلقه وه نونسبت مابعد ته سپکه وه اود سپکوالي يادونه يې دالله د نعمت لوري ته اشاره کول دي چي هغه يې په تدريجي توګه لويول ترڅو يې له عدم څخه وجود ته وباسي اوله ضعف څخه يې قوت او توانايې ته لېږدوي(٢) ﴿ فَمَرَّتْ بِهِۦ ﴾ نوتله راتله به له دې حمل سره (ترڅويې مېلاد را ورسېږي) ﴿ فَلَمَّآ أَثْقَلَت ﴾ نوکله چي دروند شو حمل (اوداپه هغه درنه شوه ځکه ماشوم يې په ګېډه کي سترشو) ﴿ دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا ﴾ نوسوال وکړ دواړوله الله رب (پروردګار (اومالک دچارو) ددوی نه ﴿ لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ چي قسم دی خامخاکه راکړې ته موږ ته صالح (روغ رمټ ولد) نوخامخا شو به موږ هرو مرو له شکرايستونکو (ستا په نعمتو نوباندي) ﴿ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا ﴾ نوکله چي ورکړ دوی دواړوته الله صالح روغ (ولد) ﴿ جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ﴾ (نوو ګرځول دوی دواړو الله ته شريکان په هغه کي چي الله دوی ته ورکړ) يعني وېې ګرځول دغه اولاد او ذوذات له الله سره شريکان چي دبتانو او ثانو عبادت يې وکړ ﴿ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ (نوپورته دی الله له هغه چي دوی (اولاده ددوی

---

(١) الفخر الرازي ٤٨٤/٤

(٢) ابوالسعود ٢ _ ٢١٢

يې له ده سره) شريکوي)([1]) يعني پاک دی الله له هغه څه چي دوی ورته دشرک نسبت کوي ﴿ أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا ﴾ (آيا شريک کرځوي دوی (له الله سره) هغه شی چي نشي پيدا کولی هيڅ څېز؟) استفهام دتوبيخ لپاره دی يعني دوی هغه څوک چي دهيڅ شي په پيدا کولو قادرنه دي له الله سره شريک کرځوي ﴿ وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴾ حال دا چي دغه بتان پيدا کاوه شي (نو څرنګه به له الله سره دعبادت ور وګڼل شي. قرطبي وايې چي: (ضمير جمع په واو او نون سره ددې لپاره دی چي ددوی باور (عقيده) وه چي بتان ګټه او زيان رسولای شي نو دخلکو په ضمير سره څکه جمع شول ([2]) ﴿ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا ﴾ او توان نلري دغه (بتان) لپاره ددغو (عابدانو خپلو له) دمرستي کولو ﴿ وَلَا أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴾ او نه له خپلو ځانونو سره مرسته کولای شي (چي کله څوک دوی ته زيان ور رسوي دوی يو مخ ايزه عاجزان او ذليل وي نو څرنګه به دعبادت ور وګڼل شي ﴿ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ﴾ او که تاسي را بولئ دوی سمي لاري ته نو دوی ستاسي متابعت نه کوي) يعني دوی جمادات دي کله چي يې خيراو ښېګني ته رابولئ دوی يې اجابت نشي کولای ﴿ سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَامِتُونَ ﴾ - (برابره ده پر تاسي (دغه خبره) چي آيا بولئ تاسي (دوی) او که تاسي چُپ ياست (له بلني څخه يې) يعني ستاسو بلنه او سکوت دواړه ددوی په عدم افاده کي مساوي دي ابن کثير وايې: معنا دا چي دغه بتان دچاغږ نه اوري او دا او رباندی برابره ده که څوک ورته غږ کوي، يا يې څوک پلنوي (په لته وهي) لکه چي الله له ابراهيم عليه السلام څخه حکايت کوي ﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا ﴾ مريم: ۴۲ ([3])

﴿ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ﴾ بېشکه هغه کسان چي عبادت کوئ تاسي (ددوی بولئ يې (اې مشرکانو) بې له الله مملوکان دي په شان ستاسو) يعني اې مشرکانو دکوم وکسانو چي تاسو پرته له الله عبادت کوئ او بتان دي تاسو هغوی معبودان بولئ دوی ستاسي په شان مخلوقات دي بلکه خلګ تر هغوی زيات کامل دي څکه چيويني ، اوري او نيسي مګر دغه بتان دا هيڅ نشي کولای څکه يې وفرمايل: ﴿ فَادْعُوهُمْ

([1]) موږ دغي رايې ته څکه ولاړو چي محققينو علماوو ترجيح ورکړي او روښانه ده څينو مفسرينو ويلي چي آيت شريف دآدم عليه السلام او حوآء رضی الله عنها په هکله دی او ضمير دالله په دې قول کي چي ﴿ جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ ﴾ دوی دواړو ته راجع دی او پدې هکله يې احاديث او آثار هم روايت کړي دي يو دا چيُ سمرة رضی الله عنه مرفوع روايت کوي چي: کله حواء ته به الله ماشوم ورکړ نو ابليس به ورته راغی نو اولاد يې نه پاتېد و ابليس ورته وويل چي (عبدالحارث) نوم ورباندي کښېږده بيا به ژوندی پاته شي نو هم هغه وو چي دغه نوم يې ورباندي کښېښود او هغه (پايندی)ژوندی پاتي شو او دغه شيطاني وحی وه) رواه احمد والترمذي. حافظ ابن کثير وايې چي په دغه حديث کي درې کمزوري دي او دې ته يې ترجيح ورکړي چي حديث موقوف دی او هغه چي کوم آثار راغلي ضعيف يې ګڼلي او بيا يې پخپل سند له حسن رحمه الله څخه راوړي چي هغه وويل: دغه په څينو ملتونو کي وو دآدم عليه السلام په هکله نه دی ابن کثير وايې چي: موږ د حسن بصري په مذهب يو چي هغه پدې هکله وايې دغه سياق دآدم عليه السلام سره نه دی بلکه مراد څيني دهغه داولادې مشرکان دي او دليل يې دالله دغه وروستني قول دی چي فرمايي: ﴿ فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ زه وايم چي هم دا خبره حق دی او تر ي ګرځيدا نشته.

([2]) القرطبي ۳۴۱/۷

([3]) المختصر ۷۵/۲

﴿ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ نوبولئ تاسي دوى نوودي مني دوى ستاسي بلنه كه تاسي (پدې
دعوا) كي رښتني ياست (چي دوى خدايان دي) دغه امر د تعجيز اوتبكيت لپاره دى يعني تاسودوى دګټي
دركولواوزيان دځغورلو لپاره دروبولئ كه تاسوپه رښتياياست لكه چي تاسودعوا لرئ چي دوى خدايان دي
(١)﴿ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ ﴾ (آياشته دوى ته پښې چي ور باندي تګ كوي ؟) دغه توبيخ وروسته له بل
توبيخ دى اوهمداراز داوروستى استفهام د تكولو اوترتلولپاره دى ﴿ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ ﴾ (آياشته دوى
ته داسي لاسونه چي دوى په هغونيول كوي ؟)دهغه چاچي دوى ته زيان رسوي) ﴿ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ
بِهَآ ﴾ آياشته دوى ته (داسي) ستركي چي دوى په هغوليدل كوي (دشيانو) ؟﴿ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ﴾
آياشته دوى ته (داسي) غوږونه چي په هغودوى اورېدل كوي (دغږونو) غرض له دې ټولونه ددوى دجهالت
اوتسفيه څرګندول دي چي دوى دداسي جماداتو عبادت كوي چي نه اوري ، نه ويني اونه له خپل عبادت كونكي
څخه څه ګرزولاى شي څكه دوى حواس نلري او (فاقدالشئ لايعطيه) څښتن (چي پخپله نيني خوري سپي ته به
څه ورواچوي) انسان خوله دغوبتانوڅخه ډېر زيات بهتراوغوره دى هغه دعقل اوحواسو درلودونكى دى
نوڅرنګه به اشرف اواكمل دأخس اوارذل دعبادت كولولپاره ښايي هغه چي نه ګټه وررسولاى شي اونه ورڅخه
زيان دفع كولاى شي؟﴿ قُلِ ٱدْعُوا شُرَكَآءَكُمْ ﴾ (ووايه (اې محمده دوى ته) چي راوبولئ تاسي شريكان خپل
يعني ستاسي بتان راوبولئ اوزماپه وړاندي ددوى مرسته وغواړئ ﴿ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴾ (بيا(په
خپلوتدبيرونوسره) ضرروورسوئ ماته پس ماته مهلت مه راكوئ) دستركوپه رپ كي زه ستاسي پروانلرم څكه
زماپه الله جل جلاله اعتماددى . حسن رضى الله عنه وايي دوى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پخپلو
خدايانوبتانوډېره ترهه وركوله نوالله جل جلاله ورته امروكړچي دا ډول ځواب وركړي ﴿ إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ
ٱلْكِتَٰبَ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ ببشكه زماساتونكى (ناصر) الله دى هغه چي ټوته ټوته كتاب (قرآن) يې نازل
كړيدى اوهم دغه (الله ساتنه كوي دصالحانو(اوپه دنيا اوآخرت كي يې كارونه جوړوي) ﴿ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن
دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴾ اوبېشكه هغه معبودان چي تاسي يې بې له الله بولئ
طاقت نلرى دوى ستاسودمرستي كولواونه دځانو خپلوسره مرسته كولاى شي .تكراريې ددې لپاره راوړچي دغه
څرګنده كړي چي ددوى معبودان نه ګټه رسوي اونه هم زيان ﴿ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ

---

(١) حافظ ابن كثير وايي چي معاذبن جبل اومعاذبن عمروبن الجموح مسلمانان شول اودواړه زني خوانان وو دشپې به يې
دمشركانوبتان ورماتول اوآزوغه به يې خني تياروله عمروبن الجموح چي دخپل قوم سردار وويوبت يې درلودچي هغه به يې
خوشبويه كول اوعبادت به يې كاوونودوى به دشپې ورته راغلل سرپه ځېرې به يې ودراووا وپه پليتي به يې ولړل عمروبن
الجموح چي به راغى اوبت به يې داسي وليدل نوهغه به يې پرېمنځل اوبيابه يې خوشبويه كړتوره به يې له اړخ سره ورته
كېښوده ورته ويل به يې خپل غچ واخله برى ترلاسه كړه خوبيابه هم دوى هغسي وكړل ترڅويوه ورځ يې له مردارسپي سره په
يوكوهي كي چي هلته وو راوځړاوو عمروبن الجموح چي داحالت وليد پوه شوچي دى په باطل دين روان دى اوداسي شعريې
ولوست (تالله لوكنت الها مستعدن * لم تكن الكلب جميعًا في قرن) يعني قسم په خداى كه ته مخدوم، معبود واى نوته اوسپى به يوځاى
دلته په كوهي كي نه واى پراته) بيا ښه مسلمان شواوپه أحد كي شهيدشو.

إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ﴾ اوكه تاسى را وبولى دوى سمى لارى ته نو دوى ستاسى متابعت نه كوى وينې به ته (مخامخ) دوى چې ګوري به تاته اوحال داچې دوى به هيڅ نه ويني، هغوى جمادات دي ليدل نه كوي سترګې يې يوانخوروى چې هيڅ شى ور باندي نه ويني ﴿ خُذِ ٱلۡعَفۡوَ ﴾ (ونيسه (اې محمده ا عادت د) عفوې كولو) پدې كي محمدصلى الله عليه وسلم ته دمكارم الاخلاق دخپلولوامرشوى دى يعني له خلګوسره په معاملاتو او معاشرت كي آسانتياكوه. ابن كثير وايې چې: دغه ترټولواقوالومشهورقول دى اوحضرت جبريل عليه السلام وينايې شاهدي وركوي چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: (بېشكه الله تاته امركوي چې هغه چاته عفوه وكړې چې پرتايې ظلم كړى اوهغه چاته څه وركړې چې له تاڅخه يې منع كړي وي ، له هغه چاسره خپلوي وساتې چاچي درسره شلون (مقاطعه) كړي وي) ﴿ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ ﴾ اوحكم وكړه په معروف (نېكوكارونوښوافعالو اواقوالو) ﴿ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴾ اومخ وګرزوه (په څنګ شه !) له ناپوهانو څخه) يعني دناپوهانوسره ددوى دناپوهي په وجه معامله مكوه بلكه زغم اوحلم كوه. قرطبي وايې: دغه كه څه هم نبي عليه السلام ته خطاب دى خودټولوخلګولپاره تأديب اوتعليم دى(١) ﴿ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ ﴾ اوكه باعث اوتېز كړي تا (په تشكيك دحق) كومه وسوسه له طرفه دشيطانه ﴿ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ ﴾ نوپناه غواړه په الله پوري (اوهغه ته رجوع وكړه چي له تانه يې دفع كړي) ﴿ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (بېشكه ده(الله) ښه اورېدونكى ښه عالم دى دټولو اقوالواوافعالو) يعني اورېدونكى دى چې ته څه وايې عليم دى پرهغه څه چې ته يې كوې ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ ﴾ بېشكه هغه كسان چې متقيان دي ﴿ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ﴾ كله چي ورسېږي دوى ته كومه وسوسه له طرفه دشيطانه (اودوى ته چورتونه ورواچوي ﴿ تَذَكَّرُواْ ﴾ نويادكاندي دوى (عذاب اوثواب د) الله ﴿ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ﴾ پس ناڅاپه دوى ليدونكي وي (دحق) دبصيرت په نورسره اودشيطان له وسوسو خلاص شي ﴿ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ﴾ او وروڼه ددوى (چي شيطانان دي) راكاږي دغه(كفار) په ګمراهي كي يعني هغه كسان چې له الله څخه نه وېرېږي اوكفار، فجار دي نوشيطانان هغوى ګمراه كوي دضلالت لاري ورته ښايسته كوي ﴿ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ﴾ بيادوى تقصيرنه كوي) يعني دوى دګمراه كولو څخه لاس نه اخلي او دكفاروپه ښويولو كي تقصيراو كوتاهي نه كوي ﴿ وَإِذَا لَمۡ تَأۡتِهِم بِـَٔايَةٖ ﴾ اوترهغه وخته پورى چې رانه وړې (ته اې محمده) دوى ته كومه معجزه (لكه چي دوى يې درڅخه غواړي) ﴿ قَالُواْ لَوۡلَا ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ ﴾ (نو) وايې دوى ولي دى (له خپله ځانه) داسي معجزه جوړه نكړه ؟ يعني هغه معجزه به دي له ځانه اختراع اوجوړه كړي واى اودغه ددوى ملعونانو استهزاء او ملنډي دي ﴿ قُلۡ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ مِن رَّبِّيۚ ﴾ نووايه بېشكه هم داخبره ده چي زه متابعت كوم دهغه وحى چي ماته دخپل رب له لوري وحى كولى شي) يعني زه له خپله ځانه هيڅ شى هم نه راوړم ﴿ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمۡ ﴾ دغه (قرآن ټول دلائل د)پوهني دي له لوري درب ستاسي (چي له نورو

(١) القرطبي ٧ / ٣٤٧

معجزاتو ځخه غناراوړي ګواکي هغه دزړونولپاره ديداوبصيرت دی چي حق ورباندي ليدل اوپېژندل کېږي ﴿وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ (او هدايت اورحمت دی لپاره د(هغه) قوم چي دوی مؤمنان دي) ځکه دوی يې له انوارو ځخه مستفيداوپه احکاموعمل کونکي دي ﴿وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ﴾ اوکله چي قرآن ولوستل شي نوغوږکېږدئ هغه ته (په تدبراوسوچ کولوسره اود قرآن کريم دتعظيم اواجلال لپار پټه خوله شئ) چُپ اوسئ تاسي ﴿لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ لپاره دذې چي درباندي رحم وشي ﴿وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِى نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً﴾ اويادوه ته (اې بنده) رب ستا(په پټه چي دهغه عظمت اوجلال دي په نظرکي وي) په زاري اوويري سره له ده نه ﴿وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ﴾ اوترهسک په راټيټ غرله وينايعني چي د جهر اوسرترمينځ وي ﴿بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ﴾ (په ړومبي وخت دسهاراوروستني وخت دبېګاه کي) يعني په سبا، بېګاه کي ﴿وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ﴾ اومه کېږه له غافلانو (له ذکره دالله نه) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ﴾ بېشکه هغه چي په نژدې د رب ستا دي يعني پاکېزه مقربي پرښتې (ملائکي) ﴿لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ﴾ تکبرنه کوي دوی له عبادت ددغه (الله) ځخه ﴿وَيُسَبِّحُونَهُۥ﴾ اوپاکي وايي په هروخت ددغه (الله) (له هغه ځه چي ورسره نه ښايي) ﴿وَلَهُۥ يَسْجُدُونَ﴾ اوخاص همدغه (الله) ته سجدې کوي) يعني پرته له الله بل چاته ئنده دسجدې لپاره په ځمکه نه اېږدي.

بلاغت:

۱- ﴿كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا﴾ دلته مرسله مجمله تشبيه ده ځکه دتشبيه ادات ذکرشوي اودشبه وجه نده راغلي اودې ته مرسله مجمله تشبيه ويل کېږي.

۲- کله چي فرمايي: ﴿فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا﴾ دغه له جماع ځخه عبارت دی اوخورالطيفه کنايه ده.

۳- ﴿أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ﴾ دغه اسلوب ته دبلاغت په علم کي (اطناب) وايي اوفائده يې زيات توبيخ اوتکول دي

۴- پدې کلام کي چي فرمايي: ﴿يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ﴾ دلته يې دشيطان وسوسه اوپه ګناهونوراچول له (نزغ) سره تشبيه کړه او(نزغ) دستني اويابل ځيزنني ايستل په پوستوکي ته وايي اودغه هم لطيفه استعاره ده.

۵- ﴿هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ﴾ دلته بليغه تشبيه ده اواصل يې داچي (هذا کالبصائر) علماء کرام دغه دمرسل مجاز له ډولونواخلي چي دمسبب اطلاق په سبب باندي شويدی ځرنګه چي قرآنکريم دعقلونود روښنانولو سبب وو ورباندي دبصيرت اطلاق شوی دی.

لطيفه:

حکايت کېږي چي دځينو سلفوصالحينو ځخه يوچاځپل شاګردته وويل کله چي شيطان دګناهونوپه باب دې درواچوي ځه به کړې؟ هغه ورته وويل ورسره مجاهده به کوم. ورته ويې ويل

که بیادرته راغی. هغه ورته وویل: ورسره مجاهده اوزیاربه کاږم. ورته ویل یې: که بیادرته راغی هغه ورته ویل ورسره جهادبه کوم. استاذ ورته ویل: داخواوړدېږي که چېري ته له یوې رمې سره تېرېږې اوسپی درته غاپي ، نه پرېږدي چي ته لاره ووهې ته به څه کوې؟ هغه ویل: زه به یې په خپل توان له ځانه شړم نو استاذورته ویل: داهم په تا اوږدېږي درمې مالک ته غږ کړه ترڅوسپی درڅخه وشړي اودغه د استعاذې فائده ده.

دالله جل جلاله په مرسته دالاعراف سورت تفسیر بشپړشو.

***

(٨) دالانفال سورت مدني اوپنځه اویاآیتونه لري.

دسورت په وړاندي:

* دالانفال سورت دهغومدني سورتونوڅخه یودی چي دتشریع لوري ته یې پاملرنه کړې اوپه ځانګړې توګه هغه څه ته چي له غزاګانواوجهادفی سبیل الله سره اړیکي لري پدې سورت کي دځیني حربي اونظامي اړخونوڅېړنه اوسمونه شوي چي دځیني غزاګانووروسته پېښ شوي وو اوددې سورت په ترڅ کي دهرحربي تشریعات ، وجائب اوالهي لارښووني هغه چي لازمه ده مسلمانان یې دالله جل جلاله ددښمنانوسره دجنګ جګړې په وخت کي عملي کړي راغلي دي دلته دسولي اوجګړې لوری هم څېړل شوی اودبندیانو اوولجو(غنائمو) احکام هم پکي راغلي دی.

* دغه سورت وروسته دبدرله غزانازل شوی هغه غزاچي داسلام په سترتاریخ کي دغزواتوپیلامه اودالله جل جلاله دلښکرو دبریالیتوب شروع وه آن تردې چي دغه سورت ځیني اصحابانو رضوان الله علیهم دبدرسورت نومولی ځکه پدې کي دبدرپېښي په تفصیل سره څېړل شوي اودجنګ نقشه یې په بشپړه توګه رسم(انځور) کړې ده اوهغه څه یې څرګند کړي چي ښایې یومسلمان یې دغیرت اوشهامت(مېړاني) څخه ولري اودباطل په مقابل کي په خورامېړانه ، زغم اوتینګارسره ودرېږي.

* دامعلومه خبره ده چي دغزاګانوپه تاریخ کي دبدرغزاد روژې مبارکي په میاشت چي دهجرت دوهم کال ووپېښه شوه اودالومړنی جګړه وه چي دحق اوباطل ترمینځ ترسره شوه اوپه نتېجه کي یې طغیان اوبغاوت په ګونډوشو کمزوري مسلمانان نارینه ، ښځي اوماشومان هغه چي په مکه مکرمه کي پاتي اوالله جل جلاله ته یې زاری کولې چي اې لویه خدایه ! موږله دغه کلي(ښاره) چي خلګ یې ظالمان دي وباسې الله جل جلاله ددوی سوال اوزاری ومنلې اودوی ته یې ددغي غزاامکانات برابرکړل هغه چي مسلمانانوته الله پاک سره له دې چي شمېریې لږ اوسامان یې نه ووبری ولیکل اوداسربېره پردې چي دوی دغزالپاره تیاری هم نه وونیولی پدې غزا کي دباطل پلویان پدې وپوهېدل چي که څه هم ددوی موده اوږده ، شوکت یې زیات ، حکومت یې پراخ وي خو بیایوه نه ، یوه ورځ دحق دجلال اولویې اودایمان دزور اوقوت په وړاندي پرمخي غورځېدونکي دي او همداسي دبدرغزادمسلمانانولپاره بریالیتوب اودکفارولپاره ماتي اوشکست وو.

* ددغي کیسي دپېښوپه ترڅ کي الهي غږونه(نداګاني) دشپږځلولپاره مسلمانانوته دایمان په وصف سره واورول شول چي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ لکه چي دوی صبراوثبات ته رابولي ترڅودالله جل جلاله له دښمنانو سره جهادوکړي اولکه چي دوی ته وریادوي چي کوم ربړونه اوتکالیف چي دوی ته وربانديې امرشوی دغه دایمان

غوښتني دي هغه ایمان چي دوی ورباندي سينګاردي اوهغه برى چي الله جل جلاله دوی ته ورکړیوازي دايمان په سبب وو نه دوسلې په کثرت اودغازيانو خلګوپه زياتوالي باندي

* لومړى نداء (غړ) پدې کي له جګړې څخه دتېښتي په هکله مسلمانان وېرول شوي دي فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴾ اوپدې کي الله پاک تېښته کونکي په سخت عذاب وېرولي دي.

* دوهمه نداء دالله اوپيغمبرد اوامرواواحکامو دمنلوپه هکله ده چي فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴾ (اوهمدارازپدې نداء کي) لکه چي الله جل جلاله کفار دڅلوربولوڅارپايانوپه څېربللي چي نه اوري نه پوهېږي اونه هم دحق بلنه مني.

* دريمه نداء ددې څرګندونه کوي چي هغه څه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دوى هغه ته وربولي داهغه څه دي چي پکي ددوى ژوند، عزت، نېکمرغي اودداړينوسعادت اوخوښي تأمين کېږي. الله جل جلاله فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾.

* اوڅلورمه ندآء داچي داسلامي امت راز دښمنانوته لوڅول اوافشاء کول دالله اورسول الله سره خيانت دی لکه څرنګه چي له امت سره هم خيانت الله فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾.

* پنځمه نداء الله جل جلاله داسي ورته فرمايي چي ددوى نظردتقوى لوري ته راواړوي اودوى ته وربه يادوي چي تقوى دټولوښېګړوبنسټ دى اودتقوى له ستروثمراتوڅخه دادى چي الله پاک رباني نوردمؤمن په زړه کي وراچوي اوپه هغه ځلا سره دسمي اوکږې لاري توپيرکولاى شي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴾.

* شپږمه نداء هغه چي وروستنى نداء ده اوپه هغې کي ددوى لپاره دعزت لاره ښيي دمرستي بنسټونه اواساسات څرګندوي چي هغه ددښمنانوپه وړاندي ثبات اودجنګ په وخت کي صبراوزغم دى دالله جل جلاله هغه عظمت اوسترتوب چي اندازه نلري په يادول دي اوهم هغه قوت اوزورچي بل څوک ورسره سيالي نشي کولاى دوى ته پداسي يوروحاني مرستي پوري لاس نيول اومنګولي تينګول په کاردي چي هغه دالله جل جلاله ډېر ذکر اويادول دي فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴾.

* دسورت په پاى کي داښيانوي چي دمؤمنانوترمينځ بشپړ ولايت دى که څه هم هيوادونه يې سره ليري اوتوکمونه (جنسونه) يې مختلف وي خوبياهم دوى يوامت دى اوپردوى لازمه ده دهغوکسانومرسته وکړي چاچي ورڅخه دمرستي غوښتنه کړي وي لکه چي کفارهم يوملت دي اودکافرانوترمينځ دضلالت اوبغاوت ولايت موجوددى بل داچي هيڅکله دمؤمنانواوکافرانوترمينځ ولايت نشي راتلاى: ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِى ٱلْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴾ دغه لنډيز هغه څه دي چي سورت ورته دموخو اوهدفونوپه باب اشاره کړي اويايې درسونه اوپندونه ښودلي له الله جل جلاله څخه هيله اوغوښتنه کوو چي موږ دفهم اوخيرخاوندان وګرزوي (آمين يارب العالمين).

اللہ تعالی فرمایی:

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنفَالِ قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ
إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (١) إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا
وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (٢) الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ (٣) أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ
دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (٤) كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِن بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ
لَكَارِهُونَ (٥) يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ (٦) وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ
إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ اللَّهُ أَن يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ
وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ (٧) لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ (٨) إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ
لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ (٩) وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ وَمَا
النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (١٠) إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ السَّمَاءِ
مَاءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ (١١) إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى
الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ
وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ (١٢) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَن يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ
الْعِقَابِ (١٣) ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ (١٤) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ
كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ (١٥) وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ
بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (١٦) فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ
رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (١٧) ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ
مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ (١٨) إِن تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِن تَنتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَإِن تَعُودُوا نَعُدْ وَلَن
تُغْنِيَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (١٩) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا
عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ (٢٠) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ (٢١) ۞ إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ
اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ (٢٢) وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ
(٢٣)﴾ الأنفال: ١ - ٢٣

لغتونه:

(الانفال) دنفل جمع او هغه زیادت ته وایې او غنیمتونو ته ځکه انفال وویل شو چې هغه هم د دین او وطن
په ژغورلو یو زیات څیزدی چې لاس ته راځي نفلی لمنځونه هم په اصلي لمنځونو زیات توب ته ویل کېږي او هم دا راز
دزوی زوی (لمسی) (نافلة) بولي لکه چې الله فرمایې: (ووهبناله اسحق ویعقوب نافلة) (وجلت) وېرېږي له
(وجل) څخه اخیستل شوی هغه وېرې ته وایې (ذات الشوكة) دوسلې خاوند اصل یې له شوکت څخه راغلی
او ابو عبیده وایې چې: (شوکه مجاز حد ته ویل کېږي لکه چې وایې: (ماأشدشوكة بني فلان) (١) یعني څومره
سخت دی حد د فلاني قوم (تستغيثون) له استغاثې څخه راغلی او طلب د مرستې او مدد ته وایې (مردفين) پر له
پسې ځکه چې ردف او اردف په یوه معنا دي یعني دا چې پیروي یې کړې وه عرب وایې چې: (ردفته) او (أردفته)
یعني ما یې متابعت کړی وو (بنان) د (بنانة) جمع او د ګوتو بندونو ته وایې (زحفا) لړلړ ښوئېدل لو ته وایې له (زحف
الصبي) څخه اخیستل شوی کله چې په کناتو لړلړ خوځېږي او بیا وروسته د پرلښکر ته وویل شو ځکه هغوی هم
کرار کرار په مخ درومي (متحيزاً) یو ځای شوی ویل کېږي چې: (تحيز) یعني یو ځای شوی او ضمیمه ګرځېدلي
(بآء) رجوع کولو ته وایې (موهن) ضعیف کونکي ته وایې (تستفتحوا) تاسو طلب د فتحې کوئ
پخپلو دښمنانو باندې.

دنزول سبب:

ا - ابن عباس رضی الله عنهما وایې: چې د بدر په ورځ باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک
چې کوم (مشرک) ووژني د هغه لپاره هومره هومره انعام ورکول کېږي نو بوډاګان تر بیرغونو لاندې ودرېدل
او ځوانان د جګړې او غنیمتونو لور ته ولاړل بوډاګانو ځوانانو ته ویل چې موږ هم له تاسو سره په ولجو کې شریک
کړئ ځکه موږ ستاسو ملاتړي وو که تاسو ته کوم مشکل رسېدلی وای موږ ته مو پناه راوړله خو هغوی نه منله
او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د فیصلې لپاره راغلل بیا دا آیت نازل شو ﴿ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ ﴾
نو غنیمتونه او ولجې د دوی ترمینځ برابرې وو وېشل شوې (٢)
ب - روایت کېږي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بدر په ورځ یو موټی خاورې را واخیستلې او د دښمن
مخونو ته یې ورو ویشتلې او ویې ویل: (شاهت الوجوه) نو هیڅ مشرک پاته نشو چې سترګو او پوزې ته یې دغه
خاورې (شګې) ور لوېدلي نه وې او پرشا و تمبېدل نو دا آیت نازل شو: ﴿ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
رَمَىٰۚ ﴾ .

تفسير:

﴿ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ ﴾ (پوښتنه کوي له تانه (اې محمده !) له حکمه د غنائمو څخه) یعني له تانه
پوښتنه کوي اصحابان چې هغه غنیمتونه چې په بدر کې لاس ته درغلل د چا دي ؟ او څنګه وېشل کېږي؟ ﴿ قُلِ
ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ ﴾ (ووایه (دوی ته چې اموال د) غنیمتونو خاص الله او رسول د (الله) لره دي) یعني ورته

---

(١) زادالمسير ٣ / ٣٢٤
(٢) روح المعاني ٩ / ١٢٢

روایه چي په غنیمتونو کي حکم دالله اورسول الله دی ستاسو حکم نه دی ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ﴾ پس تاسي له الله نه وویرېږئ (په طاعت کولو دده اوله نواهیو څخه یې په ځان ژغورلوسره) ﴿ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ ﴾ او اصلاح وکړئ تاسي دهغه حال چي په مینځ ستاسي کي دی (یعني دوستي وکړئ اونزاع پرېږدئ ﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ﴾ اوحکم ومنئ تاسي دالله اورسول دالله جل جلاله په حکم دغنیمتونو کي. عبادة بن صامت وایي: دغه آیت زموږ په هکله هغه وخت نازل شو چي زموږ ترخپل مینځ اختلاف راغی او اخلاق موناسم شول نو الله جل جلاله غنیمتونه زموږ له لاسه وایستل او درسول الله صلی الله علیه وسلم په واک کی یې ورکړل چي مساوي او برابریې ووېشل چي پدې کي تقوی ، دپیغمبر صلی الله علیه وسلم حکم منل او اصلاح ذات البین راغلل (¹) ﴿ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾ که یې تاسي مؤمنان (په حقه سره) دغه شرط دی اوځواب دشرط محذوف هغه داچي که چېري تاسو حقاني په بشپړه توګه دایمان خاوندان یاست نو دالله اورسول الله حکم ومنئ ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ﴾ بېشکه خبره هم داده چي حقاني مؤمنان هغه کسان دي ﴿ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ ﴾ کله چي یاکړی شي دوی ته (نوم د) الله نو ددوی زړونه ووېرېږي له جهته دلویوالي دشان دالله جل جلاله دوی ته دالله د جلال هیبت ودرېږي ﴿ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا ﴾ او کله چي ولوستی شي پردوی باندي آیتونه دالله نو زیاتوي (دغه آیتونه) ایمان ددوی) یعني ددوی باور اوتصدیق په الله جل جلاله لازیاتوي ﴿ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴾(²) او په رب خپل باندي دوی توکل کوي) یعني له الله پرته نه له چاو بېرېږي اونه له چاڅخه څه تمه اوهیله لري په البحرالمحیط کي وایې چي له دوی څخه یې په اسم موصول سره درې ځایه اخبارفرمایلی چي درې سره خورا ستر مقامات دي لومړی: دوېري ، خوف مقام دوهم: دایمان دزیاتوالي مقام دریم: په رحمن باندي دتوکل اوبروسې مقام (³) ﴿ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ هغه مؤمنان دي چي (سم) اداکوي لمنځونه (سره له ټولو حقوقو په خشوع، خضوع فرائضو او ادابو باندي ﴿ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴾ (او ځیني له هغه ماله چي موږ دوی ته ورکړی لګوي یې (دالله په لارکي) یعني لګوي یې دالله په طاعت کي او دغه عام دی که فرضي زکات وي او که نفلي صدقات او خیراتونه ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ ﴾ (دغه کسان هم دوی دي په حقه سره مؤمنان) یعني دغه کسان چي پورتني ستایلي صفات ولري حقاني مؤمنان دي ځکه دوی دایمان او صالحو اعمالو یوځای والي کړی دی ﴿ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ ﴾ شته دوی ته درجې په نزد درب ددوی) یعني دوی لره په جنت کي لوړې مرتبې

(¹) التسهیل ۲ / ۶۰
(²) ابن الخطیب وایې: دغه آیت دي هرمؤمن تلاوت او ولولي پخپل ځان دي وراندي کړي که چېري دغه صفتونه پکي موجودوو ځان ته دي مبارکي ووایې چي الله ورباندي دفضل او بهتري پېرزوینه کړي ده او که چېري دی په یوه کنده او صفات په بله کي وونو رحیم او ودود الله جل جلاله ته دي پناه یوسي اوله حمید او لطیف الله جل جلاله څخه دي غوښتنه وکړي چي زړه ته یې دایمان اوتوکل ښکلا وروبښي او دلمانځه دسم اداکولو اودزکاة دورکولو لپاره یې چمتو کړي هغه ښه نژدې اوددعامنونکی دی دغه دعادي دزړه په اخلاص او سپېڅلې نیت ورته وړاندي کړي.
(³) البحر ۴ / ۴۵۷

دي ﴿ وَمَغْفِرَةٌ ﴾ اوبښنه ده (د تېرشوو ګناهونو ددوی) ﴿ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴾ اورزق نېک (دعزت) يعني دائمي د عزت اوتعظيم روزي ورکول کېږي ﴿ كَمَآ أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيْتِكَ بِٱلْحَقِّ ﴾ (اوداوېش اوتقسيم کراهيت دوی ته داسي وو) لکه چي ايستلی وې ته رب ستاله خپله کوره په حقه سره) کاف دتشبيه توری اومشبه غواړي . ابن عطيه وايي چي دغه کيسه چي درسول الله صلی الله عليه وسلم له کوره راايستل وو له پخوانی کيسې سره چي هغه ددوی پوښتنه له غنيمتونوڅخه وه اوهغه ناخوښي چي په وېش کي ورپېښه شوه (١) اومعناداشوه چي حال ددوی په وخت دوېشلو دغنيمتونو کي هسي دی لکه حال ددوی په وخت دراوتلو ستادحرب اوجګړې لپاره . طبري وايي : معنايې داده لکه چي ته رب ستاپه حقه سره په داسي حال کي چي دوی ځيني کسان يوه ډله دمؤمنانو ناخوښه وه راوايستلې همداسي دوی له تاسره دحق په هکله وروسته له هغه چي ورته څرګند شو' مجادله کوي اوهغه حق چي دوی ته څرګنداو دوی يې په باب له پيغمبرعليه السلام سره جګړه کوله جنګ اوقتال وو(٢) ﴿ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ﴾ (حال داچي بېشکه يوه ډله له مؤمنانو خامخاناخوښه وو) له دښمن سره په جنګ کولوباندي دوژل کېدوله وېري اويا داچي دجنګ لپاره يې تياری نه وه نيولی ﴿ يُجَٰدِلُونَكَ فِى ٱلْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ ﴾ (حال داچي جګړه کوله دوی له تاسره په حقه خبره کي (چي جهادوو) وروسته له هغه چي ښکاره شوه دوی ته) يعني اې محمده ! دوی له تاسره جنګ ته دوتلوپه باب جګړه کوله وروسته له هغه چي حق څرګند اوښکاره شواوددوی جدال هغه وو چي ويل يې : موږخودقافلې لپاره راوتلي وو اوکه پدې پوهېدلای چي جګړه پېښېږي موږبه تياری ورته نيولی وو ﴿ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴾ (داسي جګړه يې کوله دجهاد دکولوپه هکله) ګواکي دوی بېولي کېږي مرګ ته پداسي حال کي چي (مرګ په سترګو) ويني) بيضاوي وايي: دوی جګړه داسي ناخوښه بولي لکه چي څوک مرګ ته بېول کېږي اوهغه يې اسباب پخپلو سترګوويني ځکه ددوی شمېرلږاوتياری يې نه ده کړی اوپدې کي دغه اشاره هم شته چي ددوی مجادله ددوی دزياتي وېري او ترهي له کبله وه(٣) ﴿ وَإِذْ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحْدَى ٱلطَّآئِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ ﴾ (اويادکړئ هغه وخت چي وعده کوله له تاسي سره الله يو د دووډلوڅخه (چي قافله ، يالښکروو چي بېشکه دغه تاسي لره دی) يعني اې درسول الله اصحابانوهغه الهي وعده درپه يادکړئ چي درته ويلې شوي وو يو ددوو ډلوبه ستاسولپاره غنيمت وي هغه که قافله وي که جګړه ﴿ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ ﴾ (اوستاسي خوښه وه چي بېشکه هغه بې وسلې ، بې زحمته (ډله دي) وي تاسي ته) يعني تاسودي له قافلې سره مخامخ شئ هغه چي بې وسلې اودقريشودسوداګرۍ مالونه يې راباركړي وو . مفسرين وايي : روايت کېږي چي دقريشوقافله له شام څخه راستنېدله اوپدې کي ستره برخه دتجارت اوسوداګرۍ دابوسفيان په مشرتابه وه حضرت جبرئيل عليه السلام راغی اورسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: اې محمده ! الله (پاک) تاسوته يوددوو ډلو وعده درکړي چي ياقافله اوياپخپله قريش دي نورسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابانورضی الله عنهم سره مشوره وکړه هغوی قافله غوره کړه ځکه له قافلې سره جګړه نه وه غنيمت اوولجه زياته وه کله چي راووتل اودمکې خلګوته خبر

---

(١) الطبري ۴ / ۴۲۱

(٢) الطبري ۱۳ / ۲۹۳

(٣) البيضاوي ص: ۳۰۹

ورسېدو نوابوجهل داسي رږغ وکړچي اې دمکې خلګونجات ، نجات ! قافله ستاسوخپل مالونه دي که چېرې دمحمدلاس ته ورسېږې نوبیابه تاسو هیڅکله هم خلاص نشئ نومشرکان په ټولومشکلاتواوتکلیفونو سربېره راووتل ، ابوجهل ورسره وو ترڅوبدرته راورسېدل اوقافله وژغورل شوه نورسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابانورضی الله عنهم ته خبرورکړ اوورته ویې ویل چي: قافله دبحرپه څنډه تېره شوه اودادی ابوجهل مخي ته راغی نودوی ورته وویل: اې رسول الله ! قافله راګرزوه اودښمن پرېږده ! رسول الله صلی الله علیه وسلم ته قهرورغی نوسعد بن عبادة رضی الله عنه ولاړشواو ویې ویل: اې دخدای پیغمبره هرچېرته چي غواړې موږبوزه موږستامتابعت کوو اوبیاسعد ابن معاذ رضی الله عنه اوچت شو ویې ویل: زمادي په هغه ذات قسم وي چي ته یې په حق رالېږلی یې که چېرې دغه بحرته ورلوېږې موږ دالله دنامه په برکت له تاسره ورلوېږو هرچېرې چي موبیایې ستاخوښه ده نورسول الله صلی الله علیه وسلم خوشحاله شو او اصحابانو ته یې وفرمایل: درځئ دالله جل جلاله په برکت اوپدې زېرې خوښ شئ چي الله جل جلاله ماته دیوددوو ډلودیرې وعده راکړې ده زمادي په الله جل جلاله لوړه وي لکه چي زه ددوی ماتي په سترګووینم(۱) ﴿ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ ﴾ (اواراده لري الله ددې چي ښکاره ثابت کړي رښتیاپه کلامونو خپلوسره) یعني الله جل جلاله غواړي چي حق دین چي اسلام دی دکافرانو په قتل او هلاکت چي دبدرپه ورځ به راځي ثرګند کړي ﴿ وَيَقْطَعَ دَابِرَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ (اوپرې کړي بېخ دکافرانو) یعنی دوی یومخه ایزه له بېخه وباسي اوټول هلاک کړي په البحر المحیط کي وایي: معناداچي تاسوخودعاجلي اوبېړنۍ ګټي ، سلامتیادحال اوناکاره شیانو غوښتنه کوئ مګرالله جل جلاله دلویوشیانو لکه داعلاء کلمة الله اودداړینو نېکمرغي درته غواړي اوددغو دوو غوښتنو ترمینځ خورا زیات واټن (مسافه) ده څکه نوالله پاک هغه ډوسلې لرونکي ډله درته غوره کړه اوتاسوته یې ددوی ښوئېدل دسرېه سترګودرولیدل تاسویې بریالي او عزتمند کړئ دوی یې کونډې کړې مات اوذلیل کړل.(۲) ﴿ لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ ﴾ لپاره ددې چي ظاهر غالب کړي حق (دین داسلام) او(لپاره ددې چي) ظاهرکړي بطلان دباطل(کفر) دلته په آیت شریف کي له محذوف سره تعلق شته چي هغه داچي (لیحق الحق ویبطل الباطل فعل مافعل) نوګواکي مراد داسلام اظهار اود شرک ابطال دی ﴿ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ اواګرکه یې بده مني (داخبره) مجرمان (کافران) چي اسلام ظاهراو کفر باطل شي ﴿ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ ﴾ (یادکړئ) هغه وخت چي استغاثه به کوله تاسي رب خپل ته) یعني له الله جل جلاله څخه مودد ښمنانو په لښکرنصرت اوبری غوښتل. روایت کېږي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرکانوته وکتل چي یوزرتنه وو اوخپلو اصحابانوته یې وکتل چي څه دپاسه درې سوه تنه وو نوقبلې ته مخامخ لاس په دعاشو ویل یې : اې الله ! هغه وعده چي دي له ماسره کړې ده هغه ترسره کړه اې ربه ! که دغه دمسلمانانو ټولۍ هلاکه کړې نور به بیاستاعبادت په ځمکه کي ونکړل شي په دعاکي یې دومره الحاح اوزیار وکېښ چي مبارک څادریې له اوږو ولوېدو اوحضرت ابوبکررضی الله عنه هغه راواخیست بېرته یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوږو ورواچاوو اوله شاورپسې په دعاودرېدو اوورته ویې ویل: اې دالله جل جلاله نبي ! بس ده نورنو په څان ربرمه راوله الله جل جلاله به ژرهغه چي له تاسره یې دېرې وعده کړې پوره کړي نودا ایت نازل شو ﴿ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ ﴾ نوالله درورسېدو (لپاره) دفریاد ستاسي چي بېشکه

(۱) البیضاوي ص: ۳۰۹ له تصرف سره
(۲) البحر المحیط ۴ / ۴۶۴

زه مرسته کونکی یم له تاسي سره په زروتنو له پرښتو) یعني الله یې دعاقبوله کړه چي زه به په زرو تنو پرښتودرسره مرسته وکړم ﴿ مُرۡدِفِينَ ﴾ یوه په بله پسې راتلونکي پرله پسې . مفسرين وايي چي: داسې راغلي چي حضرت جبرئيل عليه السلام له پنځو سوو پرښتو سره راغی اودلښکرپه ښي اړخ کي یې جهادپیل کړاوحضرت ميکائيل عليه السلام بياله پنځو سووتنو سره دلښکرپه کيڼ اړخ کي جګړه شروع کړه اوله بدرڅخه پرته په بله هيڅ يوه غزاکي هم پرښتو(ملائکو) جګړه نه ده کړي بلکه یوازي به راتلې چي د مسلمانانوشمېرزیات کړي جنګ یې نه کاوو(۱) ﴿ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ ﴾ (اونه وه ورکړي دغه مرسته دوی ته الله پاک مګردپاره ددې چي زيری شي د(نصرت) یعني دغه امدادپه پرښتودبرياليتوب لپاره دبری زيری وو ﴿ وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ ﴾ اولپاره ددې چي آرام شي په دې (امداد) زړونه ستاسي ﴿ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ ﴾ اونه ده مرسته (مګرخوده) له جانبه دالله (په حقيقت کي نوتاسودالله څخه په مرسته درکولوباورولرئ اوپخپلومتواووسلو تکيه مه کوئ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ ببشکه الله ښه غالب قوي دی ښه حکمت والادی) هغه فيصله کوي چي دحکمت ، مصلحت وي ﴿ إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنۡهُ ﴾ اوياد کړئ(هغه وخت)چي واچوله الله په تاسي باندي پرکالي (دخوب پرمښکي) لپاره د امن ستاسي له جانبه خپله (سبحانه وتعالی) اودغه درسول الله صلی الله عليه وسلم معجزه وه چي په ټولو باندي دخوب پرکالي راغله پداسي حال کي چي سخته وېره وه حضرت علي کرم الله وجهه وايي: دبدرپه ورځ په موږ کي پرته له مقدادرضی الله عنه نه بل څوک دآس سپورنه وو اوچي موږته دي کتلای ګردو ېده وو خويوازي رسول الله صلی الله عليه وسلم تروني لاندي لمونځ کاوو اوژړل یې ترڅوسهارشو(۲) ابن کثيروايي: ګواکي دغه په سخت تکليف کي دمسلمانانولپاره هسي و شول ترڅويې زړونه دالله جل جلاله په مرسته مطمئن اوآرام شي ﴿ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ (اونازلې کړي (الله) پرتاسي (له طرفه) دآسمانه اوبه) پدغه سره دنعمتونوګڼل او شمېرل مراد دي يعني بل نعمت داوبوراتويول ووڅکه دوی اوبه نه درلودې (په بدرکي مشرکانو واردمخه داوبوپه ځای اهولي وو، نوالله جل جلاله په بدرکي باران و اوراووو اوخوړونه وبهېدل اوځيني اصحابانو رضی الله عنهم ته د احتلام جنابت رسېدلی وو غسلونه يې وکړل ﴿ لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ ﴾ ترڅوچي پاک کړي تاسي په دغو(اوبو) سره (له بې اودسي اوجنابت څخه ﴿ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ﴾ اولېري کړي له تاسي نجاست دشيطان) يعني د دې لپاره چي دشيطان وسوسه او وېرونه چي تاسوپه تنده وېروي درڅخه دفع کړي. بيضاوي وايي چي دوی په داسي شګلنه مځکه کي اړولي ووچي پښې پکي ننوتلې اوچي دوی وېده شول اکثروته احتلام ورسېدو نوشيطان وسوسې وراچولې چي څرنګه به تاسو بريالي کېږئ چي دښمنانواوبه درڅخه نيولي تاسوبې اودسه اوپه جنابت کي یاست ، لمونځونه کوئ اوتاسو داخيال کوئ چي تاسو دالله جل جلاله دوستان اودغه پيغمبرپه تاسي کي دی ؟ نودلته الله جل جلاله باران واوراووپه همدغي شګلني ځمکي کي يې پښې ټينګي اوبيابه نه ننوتل اودشيطان وسوسه ورکه شوه(۳)

---

(۱) حاشية الصاوي على الجلالين ۲ / ۱۱۸

(۲) رواه ابويعلي .

(۳) البيضاوي ص: ۲۱۰

﴿ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ ﴾ اولپاره ددې چې قوت واچوي په زړونوستاسي دالله په مرسته کولوباندي ﴿ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ﴾ اومحکم کړي په (هغواوبو) سره قدمونه ستاسي (چې په شګوکي نه خښېږي) طبري وايي: چې په باران باندي ددوی قدمونه پدې ټينګ شول دوی خوپه داسي نرموشګوکي له دښمن سره مخامخ شول چې پښې يې په کي خښېدلې تګ پکي نه کېدو کله چې شګې باران لمدې کړې کلکي شوې او تګ راتګ ورته آسان شو(۱) ﴿ إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ ﴾ (يادکړه اې محمده!) هغه وخت چې وحی وکړه رب ستاملائکوته (چې) زه له تاسي سره يم (په نصرت اواعانت) ﴿ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ نوثابت کړئ هغه کسان چې مؤمنان دي) ددوی زړونه په دښمنانو باندي قوي کړئ ﴿ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ ﴾ ژر به وغورځوم زه په زړونودهغوکسانو چې کافران شويدي وېره (ترڅو ماتي وخوري) ﴿ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ ﴾ نووهئ تاسي (سرونه ددې کفارو) دورمېږونودپاسه لکه چې ويل کېږي (ضرب الرقاب) اومرادځيني سرونه دي ﴿ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ﴾ اووهئ تاسي له دغوکفاروڅخه (هرهربند) اوټولي ګوتي په التسهيل کتاب کي راوړي چې کله دجنګ کونکي ګوتي ورپرې کړي نوله جنګ اوجګړې لاس اخلي اوبيايې بندي کول اووژل ممکن شي(۲) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ ﴾ (دغه وهل دکفارو) ددې دپاره دي چې بېشکه دوی مخالفت کړی دی له الله اوله رسول دده نه) يعني دغه سخت عذاب ځکه دوی ته ورکول کېږي چې دوی دالله اورسول له امرڅخه مخالفت اوعصيان کړی دی ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴾ (اوهرهغه څوک چې مخالفت کوي له الله اورسوله دده نوبېشکه سخت دی عذاب دالله ده لره) ﴿ ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾ دغه (ستاسي دنيوي عذاب دی) نوڅکئ تاسي (داعذاب) او(وپوهېږئ) چې بېشکه کافرانوته شته داورعذاب (په آخرت کي) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا ﴾ اې هغوکسانوچې ايمان يې راوړی دی يعني اې مؤمنانو کله چې يوځای شئ تاسي له هغوکسانو سره چې دوی کافران شوي دي پداسي حال کي چې دوی غونډ(اوګڼ) دي (ته به وايې ورو 'ښکېږي) ﴿ فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ﴾ (نومه ګرځوئ تاسي دغوکفاروته شاوي خپلي) يعني ماتي اوتېښته مکوئ بلکه ثابت قدم اوپه صبراوسئ ﴿ وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ ﴾ (اوهرهغه چې وګرځوي دغو(کفارو) ته په دغه ورځ (دمخامخ کېدلو دجنګ) شاخپله مګرپدې حال کي چې بېرته ګرځېدونکی وي دجنګ لپاره) يعني نه هغه چې د بلي ډلي سره جنګ کونکی وي اويا خوپه هنرسره دوی ته شاکړي چې بېرته وربانديې راوګرزي دوی په دې تېرباسي چې ددښمن داخيال شي چې مات شوخو هغه بېرته وربانديې راوګرزي اودا چم دهغه څه لپاره دی چې وايي: (الحرب خدعة) ﴿ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ ﴾ ياحال داچې يوځای کېدونکی وي په طرف دبلي طائفې (د

(۱) الطبري ۱۳/ ۴۳۱
(۲) التسهيل ۲/ ۶۲

مجاهدينو چي له هغوى) څخه مرسته غواړي) ﴿ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ نو په تحقيق رجوع يې وكړه او
اخته شو په (ستر) غضب (له جانبه) د الله ﴿ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ او ځای د اوسېدلو دده دوزخ دی
او بد ځای دورتلو دی هغه ﴿ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ ﴾ نو نه دي وژلي تاسو دوی (كفار په بدر كي په
خپل توان سره) ليكن الله وژلي دي دغه (كفار) چي تاسو ته يې مرسته دركړي وه او دودوی په زړونو كي يې وېره
وراچولي وه) ﴿ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ ﴾ (او ويشتل نه دي كړي تا (اي محمده !) په هغه وخت كي چي
(ظاهري) ويشتل كړي وو تا) يعني اي محمده اپه حقيقت كي تا ويشتل ندي كړي كله چي دي يو موټی خاوري
دكفارو لوري ته ورو شيندلې او دټولو په سترگو كي اغزي شوې څكه يو موټی خاوري دستر لښكر سترگي نښتې
ورته كولاى . ابن عباس رضى الله عنه وايې : چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يو موټی خاوري را واخيستلې
او دكفارو مخونو ته يې ور وشيندلې او ويې ويل : (شاهت الوجوه) نو هيڅوك پاتي نشول چي دغه خاوري يې په
سترگو او سپږمو كي نه وې ننوتلې نو يې ماتي وخوړله او په شا شول(۱) ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ ﴾ وليكن الله دغه
ويشتل كړي وو په رسولو د دغشكو د دوی سترگو ته نو گواكي په حقيقت كي دغه د الله كارو ﴿ وَلِيُبْلِيَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ ﴾ او ددې لپاره چي (الله) وازمويې مؤمنان له نزده خپله په ازموينه نېكه سره)
يعني دغه الله جل جلاله ددې لپاره وكړل چي كافران مات او مغلوب شي او په مؤمنانو باندي اكرام د مرستې،
ولجې او ثواب وشي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (بېشكه الله ښه اورېدونكى ښه عالم دانادى) يعني
اورېدونكى دى دخبرو ددوی او عالم دی په نيتونو او احوالو ددوی ﴿ ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾
دغه (دمشركينو قتل او دمسلمانانو نصرت حق دى) او داچي بېشكه الله دكفارو د تدبير ضعيفونكى دى (ترڅو
دوی په پښو ونه دربېږي ﴿ إِن تَسْتَفْتِحُواْ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ ۖ ﴾ (كه غواړئ تاسي فتح (اي كفارو) نو په
تحقيق راغله تاسي ته فتح) دغه خطاب دكفارو قريشو لپاره دى يعني كه تاسو په مؤمنانو باندي فتح او نصرت
غواړئ نو دادى تاسي ته فتح راغله چي ماتي خوړل او مغلوبېدل دي او دغه دتهكم په ډول ورته ويل شوي دي.
طبري وايې : چي دزهري په روايت كي راغلي چي ابوجهل دبدر په ورځ داسي ويل: اي الله ! په موږ كي
(مسلمانانو ، يا مشركانو كي) چي هرڅوك زيات فاجر او دصله رحمي نه پالونكى وي هغه نن ورځ هلاك كړه!
نو الله جل جلاله دا آيت نازل كړ ﴿ إِن تَسْتَفْتِحُواْ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ ۖ ﴾ نو ابوجهل فتح غوښتونكى وو
﴿ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ ﴾ او كه تاسي منع راوړه د رسول الله له جنگه او له دښمني او له كفره په الله او رسول د
ده) نو دا ستاسو لپاره (په دنيا او آخرت كي) خير دى ﴿ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدْ ﴾ (او كه بيا را وگرزېدئ تاسي (جنگ او
كفر ته) موږ به هم را وگرزو) يعني كه چېري تاسي د رسول الله جگړې او قتال ته را وگرزېدئ موږ به هم دده مرستي
ته را وگرزو چي پر تاسو برى وركړو ﴿ وَلَن تُغْنِىَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَلَوْ كَثُرَتْ ﴾ (او له سره به دفع ونكړي له تاسي
ډله ستاسي هيڅ شى (له عذاب د الله نه) او اگر كه ډېره لويه هم وي) يعني ستاسو هغه ډله چي تاسو يې خپلې

(۱) الطبري ۱۳ / ۴۴۳

مرستي ته راوبولئ كه څه هم ستاسو ملګري اوپلويان زيات هم وي د دنيا عذاب به درڅخه دفع نكړي ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ او(پوه شئ) چي ببشكه الله له مؤمنانو سره دى (په نصرت او تائيد سره) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ (اې هغو كسانو چي ايمان يې راوړى دى (اې مؤمنانو !) حكم ومنئ تاسي دالله اورسول دالله) يعني اې مؤمنانو ثابت اودائم اوسئ په اطاعت دالله اورسول دالله ترڅو ستاسي هغه برى او عزت دائم پاتي شي كوم چي په بدركي مولاس ته درغى ﴿ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ ﴾ اومخ مه ګرځوئ تاسي له دغه (اطاعته چي مخالفت يې كوئ د (تولوا) اصل (تتولوا) وو يوه تايې حذف شوي ده ﴿ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴾ حال دا چي تاسي اورئ قرآن (اونصيحتونه) ﴿ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴾ (اومه كېږئ تاسي (اې مؤمنانو) په شان دهغو كسانو چي وايي : واورېده مو،حال دا چي دوى نه اوري) يعني تاسي دهغو كفارو په شان مه كېږئ چي په غوږونو اوري ، زړونه يې نه مني ددوى اورېدل دنه اورېدلو په شان دي ځكه له اورېدلو څخه غرض تدبراوپنداخيستل دي ﴿ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ﴾ ببشكه بدتر دټولو حيواناتو) (هغه چي په مځكه ګرځي) په نزد دالله (هغه دي چي) كاڼه دي (دحق له اورېدلو) اوګونګيان دي (دحق له ويلوڅخه) ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ هغه كسان دي چي دوى عقل نلري هغه عقل چي دخيراوشرتوپير ورباندي وكړي ، دغه آيت د(عبدالدار) دخلګو ديوه ټولګي په باب نازل شوى چي دوى ويل : موږ په هغه څه چي محمدصلى الله عليه وسلم راوړي كاڼه اوګونګيان يونو يې درسول الله جګړې ته ملا وتړله اوداابوجهل ملګرتيايې غوره كړه ؛ په آيت شريف كي دكفاروبېخي زياته بدي څرګنده شوي چي دوى ترسپيو ، خنزيرانو اوخرولابدتر دي ځكه دوى له خپلو حواسو ګټه نه ده اخيستي بلاشبه نوتر حيواناتو لابدتر دي ﴿ وَلَوْ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ﴾ (اوكه معلوم واى الله ته پدوى كي څه خير نو خامخا به يې دوى اورولي وو) په اورولو دپوهي اوتدبرسره ﴿ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴾ (اوكه اورولي واى دوى الله نو هرومرو به ګرځېدلي واى حال دا چي دوى به ځنګ كونكي وو د (حق له قبلولو) يعني كه فرضاً الله پاک دوى اورولي هم واى داسره له دې چي الله ته ورمعلوم دى چي په دوى كي هيڅ خير نشته نودوى به اعراض كړى وو په انكاراوعنادسره اوپدې كي درسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره داډينه اوتسلا ده چي كافران ايمان نه راوړي

بلاغت:

١- پدې كلام كي چي فرمايې : ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ﴾ دلته دبعيد لپاره اشاره ده ځكه چي رتبه يې لوړه اومنزلت يې بعيد دى دشرافت خاوندان دي.

٢- ﴿ لَّهُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ دلته يې درجات (زينې) دلوړو مراتبو لپاره چي په جنت كي دي استعاره كړي دي.

٣- ﴿ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلْمَوْتِ ﴾ دلته تشبيه تمثيلي ده.

٤- ﴿ لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ ﴾ دلته اشتقاقي جناس موجود دى.

٥ - پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ ﴾ اغزي يې له وسلې څخه استعاره راوړې څکه ددوی ترمينځ وجه جامع تېره والی او سختي ده.

٦ - ﴿ وَيَقْطَعَ دَابِرَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ دلته بېخ ايستل له يو مخه ايزه هلاکت څخه کنايه ده.

٧ - پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ ﴾ دمضارع صيغه يې دعجيب صورت د استحضار لپاره راوړې ده.

٨ - ﴿ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ جار او مجرور يې په مفعول به باندې څکه مخکې راوړي چې د مقدم اهتمام او د مؤخر لپاره تشويق افاده کړي.

٩ - دالله جل جلاله پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿ إِن تَسْتَفْتِحُوا۟ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ ﴾ دلته خطاب د مشرکانو لپاره د استهزاء په ډول دی لکه چې وايي: ﴿ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴾ الدخان: ٤٩

١٠ - ﴿ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ دلته يې کفار له بهائمو، بوده ګانو سره مشابه بلکه بدتر ګڼلي او دغه د بلاغت وروستی پړاو او داعجاز وروستی پوړۍ ده څکه کافر هم حق نه اوري او څلور بول يې هم نه اوري او نه کافر وورباندې نطق کوي او ګرېږي نه هم حيوان، کافر خوراک، څښاک کوي حيوان هم نو پاتې شوه داچې کافر زيان رسوي او حيوان يې نه رسوي نو ولې به تر حيوان بدتر نه وي !؟

تنبيه:

الله جل جلاله پدې سورت کې يادونه وکړه چې مؤمنانو ته يې په يو زر پرښتو مرسته او مدد ورکړی دی او په آل عمران سورت کې يې د دريو زرو ملائکو يادونه کړې ده ؛ دآيتونو ترمينځ تعارض نشته څکه الله پاک لته د ﴿ مُرْدِفِينَ ﴾ لفظ استعمال کړی او معنايې پر له پسې ده نو لومړۍ يې په زروتنو او بيايې په دريو زرو تنو سره مدد کړيدی والله الموفق.

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ
ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ
ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ
وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓا۟
أَمَٰنَٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ

(٢٩) وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ
(٣٠) وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ (٣١)
وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ
أَلِيمٍ (٣٢) وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ (٣٣) وَمَا لَهُمْ أَلَّا
يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٣٤) وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا
كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ (٣٥) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ
عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ (٣٦) لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ
الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (٣٧) قُلْ لِلَّذِينَ
كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ (٣٨) وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ
لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (٣٩) وَإِنْ تَوَلَّوْا
فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ (٤٠) ﴾ الأنفال: ٢٤ - ٤٠

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله کافران یادکړل اوله څرېدونکوبوده ګانوسره یې مشابه وګڼل څکه دوی دبلني له منلوڅخه غاړه غړولي نودلته الله جل جلاله مؤمنانوته حکم وکړچي دالله اورسول حکم ومني اوبلني ته یې لبیک ووایې څکه په هغه دزړونوژوند اوحیات راځي اوددنیا اوآخرت بشپړه نېکمرغي ترلاسه کېږي.

لغتونه:

(مکاء) شپېلی ابوعبیده وایې چي: داصواتو ته دېرډولونه دفعال په لفظ راځي لکه (صراخ) ، جواز ، دُعا اونباح) ([1]) (تصدیة) چکچکي دلاسونوپړکول اصل یې له صدّی څخه اخیستل شوی اوهغه دغره غبرازانګې (پژواک) ته وایې (فیرکمه) رکم ,یوشی دبل دپاسه اوډلواوجمع کولوته وایې (رکام) لکه سحاب غوندي وزن دی ([2]) (سلف) تېرشو (سنة الاولین) دالله عادت په هلاکولودمکذبینودپخوانیوامتونوکي (مولاکم) ستاسوناصر اومدد ګار.

([1]) البحر ۴ / ۴۷۴

([2]) تیره مرجع

دنزول سبب:

ابن جریر له زهري څخه روایت کوي چې: کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنی قریضه یهودان محاصره کړل نودوی سوله (صلح) وغوښتله نورسول الله صلی الله علیه وسلم حکم ورته وکړچې دسعدبن معاذ په فیصله دي راښکته شي نودوی ورته وویل مونږته (ابولبابة) رالیږه هغه ووچې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورواستاوو دوی ابولبابة ته وویل: ته څه فکرکوې آیامونږ دسعدبن معاذ په فیصله ښکته شونوابولبابه غاړې ته اشاره وکړه (یعني دغه ښکته کېدل دوژلواوذبح کېدلومرادف دي) (ابولبابة) وایي: زمادي په الله لوړه اوقسم وي چې زه لاپه همغه ځای ولاړوم چې وپوهېدم مادالله اورسول الله سره خیانت وکړاوقسم مي وکړچې ترهغوبه نه څه خورم، نه به څه څښم ترڅويامړشم اويامي الله جل جلاله توبه قبوله کړي نودغه آیت شريف نازل شو:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾ دآیت ترپایه اوبیایې توبه نازله شوه.(١)

تفسیر:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾ اې هغوکسانوچې دوی ایمان راوړی دی (اې مؤمنانو) حکم منئ تاسي (خاص) دالله اودرسول (دالله) کله چې وبولي تاسي لپاره دهغه کارچې ژوندي کوئ تاسي (په ابدي ژوندسره) قتادة وایې چې: دغه عبارت له قرآنکریم څخه دي چې په دنیا اوآخرت کي وربانديژوند، اعتبار، نجات اوعصمت (ساتنه) کېږي (٢) ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ ﴾ (اوپوه شئ تاسي چې بېشکه الله پرده کېږي په منځ دانسان اودزړه دده کي) یعني الله جل جلاله په ټولو څېزونو تصرف کوي اوزړونه هم دغسي اړوي چې خوښه یې شي دغه کاردزړونودخاوند په لاس کي نه دی څکه د هغه موخي اوهدفونه بدلوي سمي لاري ته یې راکاږي اویایې له سمي لاري څخه کږې لاري ته زړه ښویوي. په حدیث شریف کي راځي: (یامقلب القلوب ثبت قلبي علی دینک) ابن عباس رضی الله عنه وایې: الله جل جلاله پرده کېږي دمؤمن اوکفرترمینځ اوهمداراز دکافراوایمان ترمینځ (٣) ابوحیان وایې چې: پدې کي دالله جل جلاله څخه وېره اودهغه جل جلاله مراقبت اوڅارنه ده اوداچې خومره ژرکېږي دالله جل جلاله دحکم مننه اواطاعت دي وکړي ﴿ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ (٤) اوبېشکه شان هم دادی چې تاسوخاص هم ده ته جمع کېږئ (نوستاسي په عملونوبه جزادرکړي ﴿ وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنكُمْ خَآصَّةً ﴾ اوخان وساتئ تاسي له هغي فتنې څخه چې نه رسېږي (عذاب یې یوازي) هغوکسانوته چې ظلم یې کړی وي له تاسي څخه (بلکه عمومي به وي) یعني دالله له نیولواوانتقام څخه ووېرېږئ اوله داسي فتنې څخه وېره وکړئ چې که په تاسوراولوېږي یوازي دظلم ظالمانواوبدانوته نه رسېږي بلکه ښه اوبدبه ټول سره نغاړي څکه ظالم ته دظلم په سبب رسېږي اونوروته بیادچوپتیااوسکوت په سبب چې ولي یې ظالمان له ظلمه نه راګرزول؟ په حدیث شریف کی راځي چې: کله خلک

(١) روح المعاني للالوسي ۹/ ۱۹۵
(٢) الطبري ۱۳/ ۴۶۸
(٣) روح المعاني ۹/ ۱۹۱
(٤) البحر۴/ ۴۸۱

ظالم سړي ووينې چي ظلم کوي او له ظلم څخه يې لاس لنډ نه کړي نژدې دی چي داسې عذاب ورته راشي چي ټول به پکې راګير او ونيول شي (١) ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: الله پاک مؤمنانو ته حکم کړی چي پخپل مينځ منکر (ناکاره عمل) پرې نږدئ که نه نو به الله دوی ټولو ته عذاب ورکړي که ظالم وي او که بل څوک (٢) ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾ (او پوه شئ چي بېشکه د الله عذاب سخت دی) پدې کې سخت وعيد دی يعني د الله عذاب د ګناهکارانو لپاره سخت دی ﴿ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (او ياد کړئ هغه وخت چي تاسو لږ (شمېر) ضعيفان کړی شوي وی په ځمکه کې) يعني تاسو هغه وخت در په ياد کړئ چي د مکې په ځمکې کې کافرانو تاسي مغلوبان کړي وی او له دين څخه په اړولويې ډول ډول تکليفونه او مشکلات در ليدل ﴿ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ ﴾ (وېرېدی تاسي له دې نه چي تاسي به په تلواره خلګ وتښتوي) يعني تاسو له کافرانو څخه وېرېدلاست چي تاسو به ووژني او يا به موورک کړي خطف په تلواره نيولو ته وايي ﴿ فَـَٔاوَىٰكُمْ ﴾ (نو ځای درکړ (الله) تاسي ته) چي تاسو هلته له دښمنانو څخه خوندي شئ او هغه منوره مدينه وه ﴿ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ ﴾ (او قوت يې درکړ تاسي ته په کومک خپل سره) يعني د بدر په ورځ يې تاسو ته ټينګ نصرت درکړ چي دښمن مو مغلوب شو ﴿ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ اوروزي يې درکړه تاسي ته له پاکو شيانو) يعني تاسو ته يې د دوی غنيمتونه پاکېزه حلال وګرزول چي تردې پخوا د هيچا لپاره حلال نه وو ﴿ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ لپاره ددې چي تاسو د دغو (سترو) نعمتونو شکر وباسئ غرض دلته دوی ته نعمت وريادونه ده څکه دوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر بعثت له مخه خورا لږ شمېر او په ذلت کې وو او وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم له بعثت نه خورا په عزت اولوړتيا کې راغلل نو پر دوی باندې ده چي د الله اطاعت وکړي او پدې نعمت يې شکر پر ځای کړي

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ﴾ (اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو!) مه کوئ خيانت له الله او رسول د الله سره) يعني تاسو د خپل دين او پيغمبر په هکله خيانت مکوئ چي د مؤمنانو په اسرار و او رازونو مشرکان خبر کړئ ﴿ وَتَخُونُوٓا۟ أَمَٰنَٰتِكُمْ ﴾ (او (مه) کوئ خيانت تاسي په آمانتونو خپلو کې) هغه چي شرعي احکام او تکاليف دي لکه چي الله فرمايي: ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ ﴾ الاحزاب ٧٢ د آيت تر پايه. ابن عباس رضی الله عنهما وايي: له الله سره خيانت د هغه د فرضونو پرېښودل او له پيغمبر سره خيانت د هغه د سنتونو پرېښودل او د ګناهونو کول دي او امانات بيا هغه اعمال دي چي الله پاک بندګان ور باندې امناء ټاکلي او ګمارلي دي (٣) ﴿ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ حال دا چي تاسي پوهېږئ) چي د دغه خيانت دی او تاسو ته يې عذاب او وبال معلوم دی ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ (او پوه شئ تاسي چي بېشکه مالونه ستاسي او اولادونه ستاسي ابتلاء ده) چي تاسو الله ازمويي چي څرنګه له مالونو، اولادونو سره سره د الله

(١) رواه البخاري.
(٢) حاشية الصاوي ٢ / ١٣٢
(٣) روح المعاني ٩ / ١٩٥

جل جلاله د حدودو ساتنه کوئ. امام فخر رازي وايې: ځکه ازمويښت دی چې د دوی زړه په دنيا مشغول کوي او د خپل بادار له چوپړ و هلو (خدمت) څخه يې پټوي (۱) ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ﴾ او بېشکه په نزد د الله ثواب ډېر لوی دی تر مالونو او اولادونو. د الله په اطاعت کولو کي زيار وباسئ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا﴾ اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو!) که وو ډېرېږئ تاسي له الله (له ګناهونو پرهېز وکړئ او اطاعت پر ځای کړئ) وبه ګرځوي ستاسي لپاره هدايت او نور (ستاسي په زړونو کي چي حق او باطل سره بېل کړئ لکه دا قول د الله تعالی: ﴿وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا تَمۡشُونَ بِهِۦ﴾ حديد ۲۸ په آيت شريف کي ددې دليل دی چي تقوی زړه روښانه کوي، سينه پراخوي، علم او معرفت زياتوي. ﴿وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ﴾ (او لېري به کړي له تاسي ګناهونه ستاسي (پخواني) ﴿وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ﴾ (او مغفرت به وکړي تاسي ته) يعني ستاسي ګناهونه به پټ کړي او عذاب به وربانديې نه درکوي ﴿وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ او الله څښتن د فضل ډېر لوی دی) فضل يې پراخ او عطاء بخشش يې ستردی ﴿وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ او يادکړه (اې محمده! هغه وخت) چي مکرفريب به کاووله تاسره هغو کسانو چي کافران شوي وو) دغه ديوځانګړي نعمت يادونه ده چي په رسول الله صلى الله عليه وسلم شوی وو او (وروسته له هغه عام نعمته چي په ټولو مؤمنانو پېرزو شوی راوړی معنادا چي اې محمده! صلى الله عليه وسلم هغه وخت چي په دارالندوة کي مشرکانو ستا په هکله چم او دوکه جوړوله هغه در په يادکړه ﴿لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَ﴾ چي تا وتړي او يا دي ووژني (په ټولو سره) او يا دي وباسي تا (له مکې نه) ﴿وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُ﴾ (او پټ فريب کوي دوی (له تاسره) او جزا د مکر الله دوی ته ورکوي) يعني دوی ستا لپاره دوکه سنجوي خو الله جل جلاله د دوی دوکې افشاء کوي ﴿وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ﴾ او الله جل جلاله بهتره د جزا ورکونکو د مکر دی. يعني د الله جل جلاله مکر د دوی تر مکرزيات اغيزناک او کارکونکی دی. طبري پخپل روايت کي له ابن عباس رضى الله عنه څخه راوړي چي يو ځوتنه د قريشو اشراف او مشران په (دارالندوة) کي سره راغونډ شول نو ابليس هم د يو مخه ورتن عزتمن سپين ږيري په جامه کي ورته راغی کله چي دوی وليدو ورته ويل يې: ته څوک يې؟ هغه ورته وويل: د عربو يو شيخ سپين روبی يم ستاسي په ټولنه او اجتماع خبر شوم مي غوښتل له تاسو سره يو ځای او خپله رايه او پند درسره ګډ کړم. دوی ورته وويل: سمه ده رادننه شه نو يې ورته وويل: د دغه سړي (محمد) په شان کي خپلي رايې او نظريې وواياست نو يو چا وويل چي: هغه په ټينګو پړيو وتړئ او پريږدئ چي پخپله يې مشکلات ووژني نو ابليس وويل: دا هيڅ رايه نه ده. ښځي کېدای شي چي ملګري يې راپاڅېږي او ستاسي له لاسه دي وژغوري. بل چا وويل چي: له وطنه دي وشړل شي ترڅو يې له شر څخه په امن شئ نو کله چي ووزي بيا به تاسو ته زيان هڅونه ورسوي هرچېري چي وي. نو موړي شيخ وويل: والله چي دا هم هيڅ رايه نه ده. آيا تاسو د هغه خوږه ژبه نه وينئ د هغه سحر آميزه لهجه مو نه ده ليدلي چي د خلګو زړونه په خبرو باندي د ځان کوي؟ په الله لوړه که مو داسي وکړل نو ټول عرب به پر تاسو راټول شي ترڅو مو له خپل هيواده وشړي او مشران، مخه ور کسان مو ووژني. دوی وويل: رښتيا وايې له دې پرته بل رايه او نظريه وړاندي کړئ. ابو جهل وويل: زما دي په الله قسم وي زه به يوه رايه وو وايم

---

(۱) التفسير الكبير ۱۵/۱۵۲

چي ترهغې بله پخه رايه نه وينم دوى ورته ويل: هغه څه ده ؟ نوويې ويل: چي دعربو د گرده قبائلو څخه دي يو يوزړه ورځلمى غوره شي اودغه بهادرځلميان دي ټول سره لاسونه يو کړي اويوځل دي پخپلو تېرو تورو سره په تلواد (ديوسړي دوهلوپه شان) پرمحمد (صلى الله عليه وسلم) گوذار وکړي چي وينې يې په ټولو قبائلو کي تيت شي اوگومان نه کوم چي بني هاشم دي له ټولوقريشو سره جنگ وکړاى شي نوبه ديت ته غاړه کېږدي اوموږ به ځيني بېغمه اوله زيان څخه به بېږ وزگارشو نوابليس دالله دښمن چيغه وکړه چي په الله سوگند داهسي رايه دچي زه ترې غوره نه وينم پدي فيصله وشوه اوسره تيت شول جبريل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى ورته ويې ويل چي: دشپې پخپل ځاى کي مه څمله (الله جل جلاله) دهجرت امر درته وکړ،اوکله چي مدينې منورې ته ولاړى وروسته الله دخپل دغه نعمت يادونه ورته کوي فرمايي: ﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ﴾ (١)﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ ﴾ اوکله چي ولوستلى شي پردوى باندي آيتونه زموږ نووايې دوى) يعني کله چي دوى ته دمبين قرآن آيتونه ولوستل شي دوى دتکبر اوعنادله مخي وايې : ﴿ قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَآ ﴾ په تحقيق واورېده موږ (دغه کلام) که موږوغواړو نوخامخابه موږهم وواياوپه مثل دده ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ (ندى دغه کلام مگر خودى ددروغوليکل دپخوانيو) يعني نه دى دغه قرآن کوم چي ته يې موږته لولې مگردروغ کيسې د پخوانيو خلگوليکلي شوي دي دغه دالله کلام نه دى. ابوالسعودوايي چي: دغه نوبېخي عناد اومکابره ده اوولي نه که دوى کولاى شواى يوه شبېه به يې هم درنگ نه وو کړى چي دغسي کلام يې اوروولاى واى خوددوى توان نه ووځکه لس کاله دوى ته ددې تحدي او (چيلنج) ورکول شوى دى اوبياورسره په توره مقابله وشوه او توان يې ونه درلود سره ددوى له زياته غروره اوتکبره چي غوښتل يې دوى به تل بريالي وي اوپه خاصه توگه بيادبيان اوبلاغت په ډگر کي ﴿ وَإِذْ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ اوياد کړه هغه وخت چي وويل: دغو(کفارو) ياالله که چېري وي دغه (قرآن) حق ستاله لوري (نازل شوى) نورا وأوروه پر موږباندي کاڼي له آسمانه (لکه چي دلوط په قوم دي رااورولي وو) ﴿ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ يارا وړه (راولېږه) بل ډول دردناک عذاب ؛ دغه خبره دوى دا ستهزاء اوملنډوپه ډول کوله. ابن کثيروايي: دغه ددوى له خورا جهل اوناپوهي څخه وه چي سخت عناد اوتکذيب يې کاووکه نه بهتره خوداوه چي ويلي يې واى: الهي که داقرآن ستاله لوري نازل شوى اوحق وي نوموږ ته د منلو او اتباع لارښوونه وکړه خوددوى دناپوهي په سبب دعذاب دژر راتلو غوښتنه کوله ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ﴾ (٢) (اونه دى الله چي په عذاب کاندي دوى حال داچي ته (اى رسوله !) په دوى کي يې) دغه ددوى دسپکي اوناکاره خبري ځواب دى چي ددوى له عذابه د خوندي پاتي کېدلوموجب ستاسو وجوددى که نه دوى خودعذاب وړاو مستحق دي خوالله پدې عذاب نه ورکوي چي ته پکښي يې دغه ستا داکرام له وجهي دالله جل جلاله سنت داسي جارى دى چي هيڅ أمت ته ترڅوچي پيمغبرورسره

---

(١) الطبري ١٣/ ٤٩٥
(٢) المختصر ٢/ ١٠١

وي عذاب نه وروينې (١) اومراد په عذاب سره له بېخه ايستل اوبشپړهلاکت دی ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ (اونه دی الله عذابونكى ددوی حال داچي دوی مغفرت غواړي) يعني الله دغه كفار ترهغونه هلاكوي ترڅوچي ددوی په مينځ كي مؤمنان وی اوله الله څخه مغفرت غواړي اودغه هغو مستضعفينو مؤمنانوته چي ددوی په مينځ كي پاتي وو اشاره ده . ابن عباس رضى الله عنه وايي چي : ددوی په مينځ كي دوه امانه موجودووچي يو دالله نبي صلى الله عليه وسلم اوبل استغفار دالله جل جلاله نبي خو ولاړ اواستغفار به تر قيامته پوري پاتي وي (٢) ﴿ وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ اوڅه دي دوی ته چي نه په عذابوي دوی الله يعني څه شی دی چي له دوی څخه عذاب نفی كوي ؟ اوولي به عذاب نشي وركولای چي دوی هومره گمراهان او سرغړونكي دي ﴿ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ حال داچي دوی منع كوي خلگ له (دخول د) مسجد حرام نه) لكه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يې دحديبې په كال منع كړاولكه چي رسول الله اومسلمانان يې له مكې څخه منورې مدينې ته په هجرت كولواړايستل ﴿ وَمَا كَانُوٓا۟ أَوْلِيَآءَهُۥٓ ﴾ (اونه دي دوی واكداران ددغه (مسجد حرام) څكه دوی مشركان دي ﴿ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ ندي واكداران ددغه (مسجد حرام) مگر متقيان دي يعني دواكداري وړاواهل يې نېكان اومتقيان دي ﴿ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ ليكن اكثره د دوی نه پوهېږي چي ويل به يې موږ دبيت الله اوحرم واكداران يوچاته به ددخول اجازه وركوو اوڅوك به بيانه پرېږدو. له آيت شريف څخه غرض ددوی دعذاب اودبېخ بكرايستلو استحقاق اوورتيادي چي دوی هومره سخت جرائم كړي خودرسول الله صلى الله عليه وسلم اومستضعفينو مسلمانانودمغفرت غوښتلوله امله الله عذاب څيني پورته كړي دي ﴿ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ﴾ (اونه وولمونځ(عبادت) ددغو(كفارو) په نزددكعبې كي مگرشپېلی وهلې اولاسونه ټكول؛) مشركانوبه دغه افعال هله كول چي مسلمانانوبه لمونځ گذارل ترڅوددوی لمونځ ورگډوډكړي معناداچي دوی به دلمانځه اوتقرب الى الله په وخت كي شپېلی اوچكچكي وهلې . ابن عباس رضى الله عنه وايي : قريشوبه په بيت الله باندي بربنډطواف كاوو شپېلی به يې وهلې اولاسونه به يې پړكول (٣) ﴿ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ (نو وڅكئ تاسي عذاب په سبب دهغه څه چي وی تاسي كفربه موغوره كاوو) يعني وڅكئ عذاب دقتل اوبند په سبب دكفر اوبدو اعمالو ستاسي اوپدې كي هغه څه ته اشاره ده چي دبدرپه ورځ پېښ شول ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ بېشكه هغه كسان چي كافران شويدي لگوي مالونه خپل دپاره ددې چي خلگ دالله له لاري څخه منع كړي) يعني چي اسلام ته څوك داخل نشي اوخپل مالونه درسول الله سره دجنگ په لاره كي مصرفوي. طبري وايي چي : كله دقريشو كفارپه بدركي وځپل شول اوپاتي كسان يې مكې ته راستانه شول نويې وويل : اې دقريشوخلگو ! بېشكه محمدصلى الله عليه وسلم تاسي وځپلاست مشران يې درڅخه ووژل نوله موږسره په خپلومالونومرسته وكړئ ښايي چي موږ دخپلومړيواوتكليفونوكسات څيني واخلو بيادا آيت نازل

---

(١) البحر المحيط ٤/ ٤٨٩

(٢) الرازي ١٥/ ١٥٨

(٣) الطبري ١٣/ ٥٢٤

شو(۱)﴿ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ﴾ نوژر به نورهم ولګوي دغه مالونه بيابه شي دغه (لګول پردوی باندي پښېماني) يعني دوی به دغه خپل مالونه لګوي اوبيابه ورباندي پښېماني کوي چي مال يې درومي اومطلب بې نه حاصلېږي دوی هيله لرله چي دالله جل جلاله بل شوی نور(مشال) به مړکړي اود کفر کلمه به لوړه کړي ﴿ ثُمَّ يُغْلَبُونَ ﴾ بيابه په آخرکي مغلوب شي دغه اخبار په غيب باندي دی. ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شوي دي اوپه کفرکي مړه شي دوزخ ته به شړل کېږي نوددوی پښېماني اوحسرت ستراوزيات دی چي څوک ژوندي وي له دوی نه اويا هلاک شوی وي ﴿ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ﴾ (دپاره ددې چي بېل کړي الله ناپاک (کافر) له پاک(مؤمن) څخه) يعني ترڅو الله جل جلاله درحماني لښکرو فرق له شيطاني لښکروڅخه وکړي او ابرارمؤمنان له اشرارو کفاروڅخه جلاکړي ﴿ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ اوبياکېږدي خبيث (سره لاندي باندي) ځيني دده پرځينونوروباندي ﴿ فَيَرْكُمَهُۥ ﴾ نوراټول به کړي دا(خبيثان) ټول) يعني غونډی به يې کړي دزيات ازدحام له وجي ﴿ فَيَجْعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَ ﴾ نوبه يې غورځوي په دوزخ کي ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴾ دغه (لګونکي دمال ياخبيثان) هم دوی زيانکاران دي) يعني دوی دبشپړخسران خاوندان دي چي ځانونه اومالونه يې دواړه په خسران کي لوېدلي بيا الله جل جلاله دوی توبې اورجوع ته راوبلل چي له کفرڅخه دي لاس واخلي نوردي په ګمراهي اوبې لاري کي نه اوسي فرمايي:﴿ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ ﴾ (ووايه (اې محمده !) هغوکسانوته چي کافران شويدي که واوړي (بس کړي له کفره) نو وبه بښلی شي دوی ته هغه بدي چي په تحقيق پخواتېري شوي وي) يعني اې محمده ! دغه ستادقوم مشرکانوته ووايه که چېري له کفره لاس واخلي په الله ايمان راوړي ستااود مسلمانانو سره جنګ کول پرېږدي نوبه ددوی هغه تېرشوي ګناهونه اوجرمونه وروبښل شي ﴿ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ اوکه بياوګرزي (کلک شي په کفر او جنګ) نوتېره شوي ده لاره (دالله عادت په حق) دپخوانيوکي) يعني الله جل جلاله بياهغه کسان چي دانبياوو تکذيب يې کوی هلاکوي اوهمداسي به له دوی سره وکړي دغه ددوی لپاره سخت وعيدی که چېري له تکبر او عناده وانه وړي هلاک به شي ﴿ وَقَـٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ ﴾ (اوو جنګېږئ (اې مؤمنانو)له دغو (کفارو) سره ترهغوچي پاتي نشي فتنه (په ځمکه کي) يعني اې مؤمنانوله مشرکانوسره ترهغو وجنګېږئ ترڅو د شر تغر دځمکي له مخ نه ټول شي اوله الله تعالی پرته دبل هيچاعبادت ونه کول شي . ابن عباس رضی الله عنه وايې : مرادله فتنې څخه شرک دی يعني ترڅويو مشرک هم په سردځمکي پاتي نشي . ابن جريج وايې چي: دفتنې معنا دا چي مؤمن له خپله دينه څخه په فتنه کي ونه لوېږي(۲)﴿ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾ اوشي دين (حکم) ټول خاص الله لره يعني ټول دينونه محو اويوازي داسلام دين پاتي شي . الوسي وايې چي : ددينونو امحاء ياخودټول اهل په هلاکت سره د

(۱) الطبري ۱۳/ ۵۳۸
(۲) الطبری ۱۳/ ۵۳۸

اویادمرګ له وېرې ددوی رجوع کول دي(۱) چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: (أمرت ان أقاتل الناس حتی یقولوا لااله الاالله) یعني ماته حکم شوی ترهغوله خلګوسره وجنګېږم ترڅودوی دا کلمه طیبه ووایې ﴿ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا یَعْمَلُونَ بَصِیرٌ ﴾ نوکه واوړي دوی (له کفره اواسلام راوړي) نوبېشکه الله پرهغو عملونوچې دوی یې کوي ښه لیدونکی دی نوبه ددوی په توبه کولو اواسلام راوړلوثواب ورکړي ﴿ وَإِن تَوَلَّوْا۟ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَوْلَىٰكُمْ ﴾ (اوکه مخ وګرځوي دوی (له ایمانه) نوپوه شئ اې مؤمنانوچې بېشکه الله ستاسي ساتونکی باداردی) یعني که چېرې دوی له کفرڅخه نه ګرزي اوله ایمانه مخ نه اړوي نو تاسوپه دې پوه شئ چې الله ستاسوناصر اومرستندوی دی دهغه په ساتنه اومرسته ډاډه اوسئ ددوی ددښمنی هیڅ پروا مکوئ ﴿ نِعْمَ ٱلْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ ٱلنَّصِیرُ ﴾ ښه مولا اوښه مددګاردی) یعني الله ښه باداردی هغه چې خپل دوستان نه هېروي اوښه مرستندوی دی ځکه له چاسره چې دده مرسته وي اکه پکه بریالی اومراد ته رسېدونکی دی.

بلاغت:

۱. ﴿ یَحُولُ بَیْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ ﴾ دلته تمثیلي استعاره ده داالله جل جلاله هغه توان چې دخلګودزړونوپه اړولوکي یې لري له هغه څه سره مشابه شوی چې پرده اوحائل ګرزي اودغه یوه باریکه استعاره ده.

۲. ﴿ وَإِذْ یَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِینَ ﴾ دلته یې دماضي پرځای دهغي عجیبي پېښې داستحضار لپاره دمضارع صیغه راوړه کومه چې مشرکانودرسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره دوکه جوړوله.

۳. پدې کلام کي چې الله فرمایې: ﴿ وَیَمْكُرُ ٱللَّهُ ﴾ دمکرنسبت الله تعالی ته دمشاکلت په توګه راغلی دی یعني ددوی دتدبیر ورانول کوي هغه شنډوي اودمشاکلت معناداچې یولفظ دوه ځله استعمال شي خومعناګاني توپیرلري اوپخوا هم تېرشو(۲)

۴. ﴿ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَیْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِیَةً ﴾ وګوره الهي هېښونکی نادرتعبیرته چې قرآني اسلوب څرنګه د(تصفیراوتصفیق) پرځای (مکاء اوتصدیة) راوړی چې دلمانځه پرځای هغه چې ښایې دکعبې په وړاندي اداشي دوی دغه عمل کوي دوی لکه څلوربول چارپایان غوندي دي چې دعبادت په معنانه پوهېږي اونه دبیت الله حرمت ته په درنه سترګه ګوري ګواکي دوی لکه دشاعرهغه قول چې وایې ؛ (تحیة بینهم ضرب وجیع) یعني ددوی ترمینځ تحیه اوسلام سخت وهل ټکول دي.

۵. ددې کلماتوترمینځ چې: ﴿ ٱلْخَبِیثَ مِنَ ٱلطَّیِّبِ ﴾ دی دطباق صنعت دی اودغه دواړه له مؤمن اوکافرڅخه کنایه راغلي ده

(۱) روح المعاني ۹ / ۲۰۷
(۲) روح المعاني ۹ / ۲۰۷

تنبیه:

حافظ ابن کثیرله ابو سعید بن معلي رضی الله عنه څخه روایت کوي چي هغه وایي: چي زه په لمانځه ولاړ وم او رسول الله صلی الله علیه وسلم تېرېدو ماته یې آواز وکړ زه ترهغو نه ورغلم ترڅو مي لمونځ بشپړ کړ ورته راغلم راته ویې ویل: ولي رانغلې آیا الله جل جلاله داسي ندي فرمایلي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾ بیایې راته وویل: زه به تاته ترو تلو د مخه د قرآنکریم یو سورت در وښیم او بیا چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د و تلو تکل وکړ ما ورپه یاد کړه راته ویل یې: ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ دغه سبع مثاني او قرآن عظیم دی چي ماته راکول شوی دی([1])

لطیفه

حکایت کېږي چي یوه ورځ معاویه رضی الله عنه د سبأ د ښار یو سړي ته وویل: ستاسو قوم څومره ناپوه وو چي ښځي ورباندي پاچهي کوله. سړي ورته وویل: (صاحبه!) زما تر قوم ستاسو قوم لا زیات ناپوه او جاهل وو چي کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی حق ته راوبلل نو هغوی وویل: ﴿ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَـٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ خو داسي یې ونه یول چي: (ان کان هذا هو الحق فاهدنا الیه) یعني که دا حق وي موږ ته هدایت وکړې نو معاویه رضی الله عنه چُپ او ساکت شو.

* * *

([1]) مختصر ابن کثیر ۲/۹۵

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ
ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ
(٤١) إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي
ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ
وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ (٤٢) إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ
فِي ٱلۡأَمۡرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ (٤٣) وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا
وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ (٤٤) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا
لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ (٤٥) وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ
وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ (٤٦) وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ (٤٧) وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ
ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ
مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ (٤٨) إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ
هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمۡۗ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ (٤٩) وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ (٥٠) ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ
بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ (٥١) كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ
شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ (٥٢) ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ
(٥٣) كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ
وَكُلّٞ كَانُواْ ظَٰلِمِينَ (٥٤) إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ (٥٥) ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ
يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ (٥٦) فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ
يَذَّكَّرُونَ (٥٧) وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ (٥٨) وَلَا يَحۡسَبَنَّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ (٥٩) وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ
عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ
إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ (٦٠) ﴾ الأنفال: ٤١ - ٦٠

مناسبت اوتړاو:

څرنګه چي الله تعالی دمشرکانوسره په جګړه کولوامروفرمايل اوبدردغزايوڅه برخه يې يادونه وکړه اوپه جهادکي به دمجاهدينولاس ته اکه پکه (خامخا) څه ولجې اوغنيمتونه رسېږي اوهغه دمشرکينوهغه اموال دي چي په زورسره دبرياليتوب په وخت کي ترلاسه کېږي نودلته الله پاک دهغوی دويش اوتوزيع داحکاموڅرنګوالی بيانوي وروسته بياهغه داهميت وړپېښي چيّ په دغه (دبدر)غزاکي راغلي ښېږي

لغتونه:

(العدوة الدنيا) (عدوة الوادي) دخوړاوکندي څنډي ته وايې دنيادأدنی تأنيث دی يعني دېرنږدې اومقصد ورڅخه مدينې ته نژدې دی (العدوة القصوی) قصوی دأقصی تأنيث دی يعني خوراليري او هرشی چي له بله ليري وي ورته اقصی وايې مقصدورڅخه مکې ته نژدې لوری دی (نکص) ګرزېدل (کدأب) (دأب) عادت ته وايې اواصل يې دعمل مداومت دی ويل کېږي: (فلان يدأب فی کذا) يعني فلانی دغه کارهمېشه کوي او وروسته بياعادت ته (دأب) وويل شوځکه انسان پخپل عادت باندي مداوم وي (تثقفنهم) ليث وايې: (ثقفنا فلانا فی موضع کذا) يعني موږپه فلاني باندي په هغه ځای کي بری وموند(۱) (فشرد) تشريد تفريق اوشړلو ته وايې لکه چي وايې: (شردت القوم) کله چي ورسره جګړه وکړي تيت اوپرک يې کړي.

تفسير:

﴿وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ﴾ اوپوه شئ (اې مسلمانانو) بېشکه هرهغه شی چي په غنيمت واخيست تاسي) له کفارو په جنګ کي لږوي اوکه ډېر﴿فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ﴾ نوبېشکه الله لره دی (حکم کول) په پنځمه دهغه کي. حسن وايې: دغه دخبري کِلي (مفتاح) ده اصلاً خو دنيااوآخرت دواړه الله لره دي(۲) يعني دالله جل جلاله دنوم يادول دتبرک اوتعظيم له وجهي دی لکه: ﴿يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ لِيُرۡضُوكُمۡ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ﴾ التوبة: ۶۲ مفسرين کرام وايې: غنيمت په پنځه برخي دی يوه پنځمه دهغه چالپاره چي الله جل جلاله پدې آيت کي يادکړي او نوربيا په غنيمت کونکومجاهدينوويشل کېږي ﴿وَلِلرَّسُولِ﴾ او(يوه برخه دخمس) لپاره درسول (اوالله) دی ﴿وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ﴾ اولپاره دخپلوانو درسول الله چي بني هاشم اوبني عبدالمطلب دي ﴿وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ﴾ (اولپاره ديتيمانواو (لپاره) دمسکينانو(اولپاره) دمسافرانودي) يعني دغه ډلي چي يتيمان دي هغه کسان چي پلرونه يې مړه شوي وي يا بېوزلان مسکينان وي اويا په سفر روان مسلمانان وي چي خپل کور اوکلی يې ترشا پاتي وي دغه خمس دوی ته ورکول کېږي ﴿إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ﴾ که ياست تاسوچي ايمان لرئ په الله جل جلاله ،ځواب دشرط محذوف

---

(۱) الرازي ۱۵ / ۱۸۹
(۲) ابو السعود۲ / ۲۴۰

شوی او تقدیر یې داسي دی که چېري تاسو په الله ایمان لرئ نو پدې و پوهېږئ چي دغه دغنیمتونو په هکله الهي احکام دي نو دهغه د امر امتثال دهغه په طاعت سره وکړئ ﴿وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا﴾ او په هغو (آیتونو) چي موږ په خپل بنده محمد صلی الله علیه وسلم باندي نازل کړي دي ﴿يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ﴾ په ورځ دفیصلې کي (چي هغه د بدر ورځ او دحق او باطل ترمینځ فیصله کونکي وه ﴿يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ﴾ هغه ورځ چي سره مخامخ شولي دواړي ډلي (مؤمنان او کافران) د اسلام لښکري (جند الرحمان) او دکفر پلټني (جند الشیطان) ﴿وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ﴾ (او الله په هرشي باندي ښه قادر دی) هیڅ شی یې مغلوب کولای نشي او له دې څخه ستاسو کامیابي او نصرت هم دی چي تاسو لږ او دوی ډېر وو مګر تاسو الله بریالي کړی ﴿إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا﴾ یاد کړئ (اې مسلمانانو) هغه وخت چي تاسي په څنډه دکندي نژدې دمدینې ته وی دغه دجګړې دېښني انځور او تصویر دی ﴿وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ﴾ او وو دغه (کفار) په څنډې دکندي هسي چي (له مدینې) لیري وه ﴿وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ﴾ او داچي سواره (قافله هغه چي دقریشو تجارت پکې وو) ښکته وو له تاسي هغه چي دبحر ساحل ته نژدې وو ﴿وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ﴾ او که یو تر بله وعده کړي وای تاسي (او مشرکانو دجنګ) نو خامخا به مخالفت کړی وی تاسي په دغه وعده کي لیکن الله جل جلاله پخپل حکمت سره برابره او بشپړه کړه. کعب بن مالک رضی الله عنه وایې: بېشکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان دقافلې په لټه کي راووتل ترڅو چي الله جل جلاله دوی او دښمنان ددوی پرته له کومې وعدې سره مخامخ کړل[1] امام رازي وایې چي: معنایې داده که تاسو او دمکې مشرکانو دجنګ کولو لپاره کومه نېټه ټاکلې هم وای نو ستاسو څینو به دنورو مخالفت کړی وو ځکه تاسو لږ او دوی ډېر وو[2] ﴿وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا﴾ (ولیکن (یې له وعدې الله تاسي جمع کړی) دپاره ددې چي پوره کړي الله هغه کار چي مقرر شوی وو (په ازل کي) یعني لیکن الله جل جلاله تاسو یو دبل سره جمع کړی ترڅو ترسره کړي هغه کار چي پخپل قدرت سره یې اراده لرله چي اسلام او مسلمانان عزتمن او شرک او اهل یې سپک او خوار کړي او دغه کار خامخا کېدونکی وو مقصد له آیت شریف څخه داچي دوی ته دغه ثابته شي چي دغه ددوی بری او فتح د الله جل جلاله له لوري څخه یو خارق العادة پېښه وه نو به یې ایمان او شکر لازیات او قوي شي او ددوی ځانونه به دخمس ورکولو لپاره مطمئن او چمتو شي ﴿لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ﴾ (لپاره ددې چي هلاک شي هغه څوک چي له شانه یې هلاک وي پس له قیامه دحجت روښانه) ﴿وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ﴾ (او ژوندی پاتي شي هغه څوک چي له شانه یې ژوندون وي پس له قیامه د روښانه حجت) یعني الله تعالی دغه کار ځکه وکړ چي کافر شي هغه څوک چي کافر شوی له څرګند بدا او روښانتیا او ایمان راوړي هغه څوک چي مؤمنان شوي له څرګند بدا او روښانتیانه[3] ځکه چي دبدر

([1]) الطبري ۱۳ / ۵۶۲

([2]) تفسیر الرازي -۱۵- ۱۴۷

([3]) طبري وایې: معنایې داده چي مړشي هغه چي مړشوی له مخلوق دده نه پس له درلودالهي حجت هغه چي ده لره مقرر شوی وو او ودده عذر له مینځه لاړشي او ترڅو ژوندي پاتي، شي هغه چي ژوندي شوي وروسته له قیامه دحجت نه چي ده لره

ښېنه د الله جل جلاله په نصرت باندي چي خپلو اولياوو ته يې ورکړ او خپل دښمنان يې مغلوب وګرزول له څرګند و معجزاتو څخه ګڼل کېږي ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ او بېشکه الله خامخا ښه اورېدونکی (د اقوالو د بندګانو) ښه پوه دی (په نيتونو د دوی) ﴿ إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗا ﴾ (ياد کړه) هغه وخت چي (الله) وښودل تا ته دغه کفار لږ په خوب کي (او تا اصحابان پرې خبر کړل تر څو چي زړونه يې ډاډه او په جنګ کولو ورزړور شول. مجاهد وايي چي: الله په خوب کي هغوی ده ته لږ وروليدل او نبي صلی الله عليه وسلم بيا اصحابان ور باندي خبر کړل نو دغه د اصحابانو د ټينګار او ثبات سبب شو ﴿ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ ﴾ او که ښودلي وای (الله) تا ته (ای محمده!) دوی ډېر (او تا اصحاب خبر کړي وای) نو خامخا به بې زړه سوي وای تاسي (ای اصحابانو) او له دوی سره په جنګ کولو به نه وای توانېدلي. وګوره د قرآنکريم محاسنو ته چي د بې زړه توب نسبت يې پيغمبر ته ونکړ ځکه هغه صلی الله عليه وسلم معصوم دی نو يې وفرمايل: ﴿ لَّفَشِلۡتُمۡ ﴾ چي اشاره اصحابانو ته وشي ﴿ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ ﴾ او خامخا نزاع به مو کوله (د دوی د جنګ) په کارکي ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَ ﴾ وليکن الله سلامت وساتلی (تاسي له بې زړه توب او نزاع څخه) ﴿ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ بېشکه الله ښه عالم دی په هغو خبرو چي په زړونو کي دي پوهېږي په هغه څه چي احوال بدلوي له زړه ورتيا، بې زړه توبه، صبر او بې صبري څخه ﴿ وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ ﴾ او (ياد کړئ) کله چي وښودل تاسي ته (الله) هغه (ستاسي دښمنان) په هغه وخت کي چي سره مخامخ شوی په سترګو ستاسي کي لږ او لږ ښکاره کړی (الله) تاسي په سترګو د دوی (دښمنانو) کي. دغه ليدل په بيداري کي وو په خوب کي نه وو چي الله د مؤمنانو دښمنان د دوی په سترګو کي لږ ور وليدل تر څو د مسلمانانو جرأت او زړورتيا زياته شي او مؤمنان يې بيا د دښمنانو په سترګو کي لږ وروستل تر څو تياری ونيسي او ور باندي را وغورځي. ابن مسعود رضی الله عنه وايي: په تحقيق سره هغوی زموږ په سترګو کي دومره لږ را تلل چي د بدر په ورځ ما يو چا ته وويل: آيا ته فکر کوې سل تنه به وي؟[1] او دغه د جنګ له تود ېدلو او پيل کېدلو د مخه وو خو کله چي جګړه پيل شوه نو الله جل جلاله مسلمانان د کافرانو په سترګو کي زيات کړل او ځيني وو ېرېدل د دوی شوکت مات شو او هغه څه يې وليدل چي ګمان يې هم نه کاوو او دغه د سترو الهي معجزاتو څخه پدې جګړه کي يوه معجزه وه ﴿ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا ﴾ لپاره د دې چي وکړي الله هغه کار چي مقرر شوی وو) يعني الله هسي وکړل چي مؤمنان په کافرانو ور زړه ورشي او کافران په مؤمنانو ور زړه ورشي څو جګړه ونښلي او لښکري سره مخامخ شي بيا الله خپل لښکر ته بری ورکړ څو د الله کلمه لوړه شي د هغو کسانو چي کافران دي کلمه يې ښکته وي ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴾ (او خاص الله ته بيرته ټول کارونه ګرزولی شي) يعني د ټولو کارونو مصير الله ته دی څرنګه چي غواړي

تا کل شوي وو او ورته څرګند شو ور باندي وپوهېدو، هغه چي موږ وليکل د جلالين غوره ده او دغه آيت يې هم ملاتړ کوي چي فرمايي ﴿ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيّٗا وَيَحِقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ يس: ۷۰

(۱) الطبري ۱۳ / ۵۷۳

هغسي يې کوي هيڅوک د ده حکم بدلولای نشي هغه د ستر حکمت خاوند دی ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةً فَٱثۡبُتُواْ ﴾ اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو) کله چي مخامخ شئ له کوم پوځ (د دښمن سره نو ثابت قدم او سئ تاسي) دغه د بريالېتوب لوري ته يوه لارښوونه او ارشاد دی چي کله له دښمن سره په جنګ کېوزئ نو مه تر ې تښتئ ﴿ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾ (او تاسي ډېر الله يادوئ ترڅو په مراد ورسېږئ) يعني تاسو په خوله او زړه د الله ذکر ډېر کوئ چي الله جل جلاله درباندي د نصرت باران وکړي او په دښمنانو بريالي شئ ﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ (او حکم ومنئ تاسي د الله او د رسول د دغه (الله) په ټولو اقوالو او افعالو ستاسي کي مخالفت يې مه کوئ ﴿ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ ﴾ او اختلاف مه کوئ پخپلو منځونو کي نو تاسي به بې زړه شئ له جنګ کولو له دښمنانو سره ﴿ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ ﴾ او لاړبه شي باد د شوکت نصرت او قوت) ستاسي (او بې زړه توب او کهالي به درته راشي ﴿ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴾ او صبر کوئ (د جنګ په سختيو او مشکلاتو) بېشکه الله له صابرانو سره دی (په نصرت او معاونت) ﴿ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَـٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ ﴾ (او مه کېږئ (اې مؤمنانو !) په شان د هغو کسانو چي راووتل له کورونو خپلو د پاره د فخر او ښودني خلګو ته (د بدبه خپله) يعني لکه د قريشو کفار غوندي مه کېږئ چي د بدر په ورځ په تکبر او غرور کي د اسي راووتل چي دوياړ(فخر) او ثناهيله يې لرله په آيت شريف کي د ابوجهل هغي ويناته اشاره ده چي ويل يې: په الله سوګند موږ به نشو راستانه ترڅو بدرته ورشو او شراب پکي وڅښو او ښان حلال کړو سندرغاړي راته وناځي او سندري وبولي او ټول عرب زموږ کيسې واوري نو به تل ترتله له موږ څخه بېرېږي[1] طبري وايې چي: دوی په بدر کي د شرابو د جامونو پرځای د غمونو او ربړونو جامونه پرسر واړول[2] او پرځای د دې چي سندرغاړي ورته سندري وبولي د دوی غمجنو ښځوورباندي په وېر او ناورين وژړل ﴿ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ﴾ او اړوي دوی (خلک) له لاري د الله تعالی څخه چي په اسلام کي داخلېدلو ته يې نه پرېږدي ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴾ او الله پر هغو کارونو چي کوی يې دوی چاپېر دی (په علم او قدرت او ژر به ورباندي سزا ورکړي ﴿ وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴾ (او(ياد کړئ) هغه وخت چي ښايسته کړي وو دغو کفارو ته شيطان عملونه د دوی) يعني د شرک او بتانو عبادت او همداراز له رسول الله سره جنګ کول يې ورته ښايسته کړي وو ﴿ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ (او ويې ويل چي: نشته هيڅ غالب پر تاسي نن ورځ له خلګو) يعني له سره به محمد او ملګري يې درباندي بری ونه مومي ﴿ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ ﴾ او بېشکه زه ستاسي

---

(1) طبري په خپل روايت کي له ابن عباس رضی الله عنه څخه راوړي چي کله ابوسفيان د قافلې په ژغورلو بريالی شو نو يې قريشو ته يوڅوک استازی ولېږل چي بېرته ستانه شي ستاسو قافلې نجات پيدا کړ او تجارت مو وژغورل شو نو ابوجهل لعين بيا هغه ويناوکړه چي قسم دی موږ به نشو راستانه ترڅو بدرته ورشو او شراب پکي وڅښو او ښان حلال کړو سندرغاړي راته وناځي او سندري وبولي او ټول عرب زموږ کيسې واوري نو به تل ترتله له موږ څخه بېرېږي.

(2) الطبري ٣ / ٥٧٨

ساتونکی (اومرستندوی) یم ﴿ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ ﴾ (نوکله چي سره ولیدل (مخامخ شول) دواړه فوځونه (داسلام اوکفر) بیرته یې منډي کړې په پوندوخپلو) یعني دشاپه لوریې منډی(هی)کړو ﴿ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ ﴾ (اوویې ویل : بېشکه زه ستاسي(له ساتني) څخه بېزاریمه) اودغه ددوی دښونېدلواورسوایې هغه وروستی مرحله ده ﴿ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ ﴾ بېشکه زه وینم هغه چي تاسي یې نه وینئ) یعني زه دملائکوپوځ وینم چي دمؤمنانودنصرت لپاره راکوزېږي اوتاسویې نه وینئ. په حدیث شریف کي راځي چي: شیطان دعرفات ترورځي زیات یووخت هم سپک ، وړوکی په غُصه اوشرمېدلی ندی شوی مګر دبدرپه ورځ کله چي یې (حضرت) جبریل علیه السلام ولید ملائکي اوپرښتې یې په کتارونو وېشلې([1]) ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴾ (بېشکه زه له الله وېرېږم اوسخت دی عقوبت دالله) یعني زه وېرېږم له الله څخه چي عذاب یې ډېرسخت دی ؛ ماته به عذاب راکړي. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي: دبدرپه ورځ ابلیس دشیطانانوپه لښکرکي راغی اوله ده سره بیرغ وو ځان یې د(سراقه بن مالک) په شکل جوړکړی وو نوشیطان مشرکینوته وویل چي: نن هیڅوک پرتاسي بریالی کېدای نشي زه ستاسو ساتونکی یم کله چي خلګوصفونه برابرکړل اورسول الله صلی الله علیه وسلم یوموټی خاوري رااخیستې دمشرکانومخونوته یې وروشیندلې نودوی په شاوتمبېدل اوجبریل علیه السلام ابلیس ته مخامخ شو نوکله چي ابلیس لعین حضرت جبرائیل علیه السلام ولید -لاس یې دمشرکانویوسړی په لاس کي نیولی وو- نویې لاس ځیني کښ کړ اوپه منډوشو هغه مشرک ورته وویل : سراقه چېري ځې ! تاویل : زموږساتندوی یې؟ نو ده ورته وویل : زه داسي څه وینم چي تاسویې نه وینئ زه له الله څخه وېرېږم دالله دښمن دروغ وویل بېشکه دی پوه شوچي دده نور ،وس اوتوان نشته ځکه پرښتې یې ولیدلې ([2])بیا الله فرمایي ﴿ إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ یادکړئ ! هغه وخت چي منافقینو (دمدینې) اوهغوکسانوچي ددوی په زړونوکي مرض وو ویل یې یعني هغه منافقین چي ایمان یې ښکاره کاوو او کفریې پټاوه داعتقاددکمزوري له امله یې ویل: ﴿ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمۡ ﴾ چي مغروره کړي دي دغومؤمنانولره دین ددوی) نویې ځانونه پداسي کارکي وردننه کړل چي دبشپړولوتوان یې نلري. الله ددوی په ځواب کي فرمایې: ﴿ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴾ (اوهرڅوک چي توکل وکړي په الله (نوغالبېږي ځکه چي) بېشکه الله ښه غالب ښه حکمت والادی) چي دچاساتنه کوي نوڅوک بیاهغه مغلوبولای نشي اوپخپلو کړو وړوکي دحکمت خاونددی ﴿ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ اوکه ووینې ته (اې مخاطب او سامعه !) هغه وخت چي قبض دروح کوي دهغوکسانوچي کافران شوي دي پرښتې) یعني که ددوی حال په بدر کي کله چي ملائک یې ارواحان قبضوي وګورې !د ﴿ وَلَوۡ ﴾ ځواب حذف شوی دی اودحذف وجه یې هم هیبت دی یعني نوته به ووینې یو ډېرسخت حالت اودروندناورین. ابوحیان وایې چي: د(لو) دځواب حذف جائزاوبلیغ دی ځکه هغه په هولناک اوسترتوب دلالت کوي یعني داسي څه به دي لیدلي ووچي خورافظیع اوتعبیرځیني نشي کېدای ﴿ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ ﴾ پدې حال کي چي وهي به مخونه ددوی اوشاګاني

([1]) رواه مالک فی الموطأ
([2]) مختصر ابن کثیر ۲ / ۱۱۱

ددوی) يعني ملائکي به دوی په مخو اوشاګانو باندي داوسپني په ګرزانو (مقامعو) وهي ﴿ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴾ (وايې به ورته) وڅکئ (داور) سوځونکی عذاب) يعني دوی ته به وايې اې فجارو دسوځونکي اورعذاب وڅکئ دغه ددوی لپاره دآخرت په عذاب باندي بشارت دی . چابیاویلي چي له پرښتوسره به داورتازيني وي په هغوبه يې وهي اوپه زخمونوبه يې اوربلېږي (۱) ﴿ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ ﴾ (دغه (تعذيب) په سبب د هغه (بدعمل) دی چي وړاندي لېږلي دي لاسونو ستاسي) له کفراوګناهونوڅخه ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴾ او بېشکه الله نه دی هيڅ ظلم کونکی په بندګانوخپلو (ترڅويې بې ګناه په عذاب کړي) د ﴿ بِظَلَّٰمٖ ﴾ صيغه دمبالغې لپاره نه ده بلکه دنسبت لپاره استعمالېږي يعني الله ظلم ته منسوب نه دی نوګواکي اصلاظلم له الله جل جلاله څخه نفی شوښه پام وکړه ! ﴿ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾ (لکه حال دتابعانودفرعون (له موسی سره) او(لکه حال) دهغوکسانوچي وو پخواله دوی نه) يعني ددغوکفارو کړه وړه اوعادت په ګناهونوکي لکه دفرعونيانواوهغوامتونوغوندي دی چي تردوی پخواوو لکه دنوح، عاد، ثمود قومونوچي عناد ، تکذيب اوکفريې غوره کړی وو ﴿ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۚ ﴾ (دوی دالله په آيتونو کافران شوی وو نونيولي وو دوی لره الله په ګناهونوددوی) يعني دوی يې ددوی دکفراوتکذيب له امله هلاک کړل ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴾ (بېشکه الله زورور دی ډېرسخت دی عذاب دده) هيڅ غالب په ده زورور کېدای نشي اوهيڅ له ده څخه خلاصېدای نشي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ ﴾ دغه(تعذيب) په سبب ددې دی چي په تحقيق الله نه دی بدلونکی د(هغه) نعمت چي انعام يې په يو قوم باندي کړی دی (مګردګناهونوپه سبب يې بدلوي که نه الله پاک نعمت په عذاب نه بدلوي) ﴿ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ ﴾ (ترهغوپوري چي بدل کړي دوی هغه حال چي په نفسونوددوی کي دی) يعني ترڅودوی دالله نعمت په کفر اوسرغړونه (عصيان) بدل کړي لکه دقريشوکفارو چي دالله جل جلاله نعمت چي پراخه روزي ,ښېرازه ژوند, په امن اوسوکالي عافيت کي حال يې په کفر، دمسلمانانوپه جګړه اودالله له لاري په راګرزولوبدل کړ ؛ السدي وايي دالله جل جلاله نعمت په قريشو باندي درسول الله صلی الله عليه وسلم وجودووخودوی ورباندي کافران اودهغه تکذيب يې وکړ نوالله جل جلاله هغه مدينې منورې ته ځيني ولېږداوو اوپه مشرکانوباندي دالله جل جلاله عذاب راپرېوت (۲) ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴾ اوبېشکه الله ښه اورېدونکی (ددوی داقوالو) اوښه پوه دی ، په هغه څه چي دوی يې کوي ﴿ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ ﴾ (حال ددوی) لکه حال د تابعانو دفرعون دی (اولکه حال) دهغوکسانودی چي له دوی نه پخوا وودهغوعادت داچي ؛ نسبت ددروغويې کړی ووپه آيتونودرب خپل) تکراريی دزيات شناعت او توبيخ لپاره راوړی يعني ددوی حال لکه دپخوانيو دروغجن بلونکوغوندي دی چي خپل حال يې بدل کړالله خپل نعمت ورباندي بدل کړ ﴿ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ ﴾

---

(۱) بيضاوي ص: ۳۶۵
(۲) القرطبي ۸ / ۲۹

نوهلاک کړل موږ دوی په سبب د ګناهونو ددوی ځیني یې په زلزلو هلاک شول ، ځیني په خسف او تندر ، ځیني په کانو او مردکیو وویشتل شول او ځیني یې بیا په دریاب کي غرق او ډوب شول څکه یې وفرمایل: ﴿ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ ﴾ او ډوب کړل موږ تابعان دفرعون (له ده سره سره) ﴿ وَكُلٌّ كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ﴾ او دوی ټول ظالمان وو (پخپلو ځانونو په کفر او ګناهونو کولو سره چي ځان یې دالله عذاب ته وتاړه ﴿ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ بېشکه بدتر د خوځېدونکو په نزد د الله) یعني شردټولو تلونکو په څمکه دالله په علم او حکم ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (هغه کسان دي چي کافران شویدي نو دوی ایمان نه راوړي) یعني هغه کسان چي په کفرباندي ټینګار کوي او هغه یې په زړونو کي ټینګ شوی دی له دوی څخه دایمان راوړلو تمه نشي کېدای؛ ابن عباس رضی الله عنه وایي : دغه آیت دبني قریظه دیهودو په هکله رانازل شوی چي هغه کعب ابن اشرف او دهغه ملګري وو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې عهدوکړچي جګړه به ورسره نه کوي خو وعده یې ماته کړه (١) ﴿ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنْهُمْ ﴾ هغه کسان چي معاهده تړلي وه تاله دوی سره (چي دوی به له مشرکانو سره مرسته نه کوي) ﴿ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِى كُلِّ مَرَّةٍ ﴾ (بیا ماتوي دوی عهد خپل په هرکرت کي) یعني دوی هرځلي خپله وعده ماتوي ﴿ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ ﴾ او دوی نه وېرېږي (له عهد ماتولو نه) مفسرین وایي چي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبي قریظه له یهودو سره داسي عهد کړی وو چي نه به ورسره جنګ کوي او نه به مشرکانو ته مرسته ورکوي خودوی دبدر په ورځ هغه وعده ماته کړه او دمکې کفاروته یې وسلې ورکړې بیا یې ویل : زموږ وعده هېره وه او خطا شو او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره عهد وکړخو بیا یې عهد مات کړاو دخندق دغزا په ورځ یې له کفارو سره مرسته وکړه (٢) ﴿ فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِى ٱلْحَرْبِ ﴾ نو که ته دوی ومومي (اې محمده !) په جنګ کي ﴿ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ ﴾ پس تیت کړه او وویروه په سبب د تیتولو (سزاورکولو) ددوی هغه کسان چي له دوی وروسته دي) یعني دوی ووژنه او داسي دعبرت سبق ورکړه چي ددوی په سبب نور کفار او مجرمین هم تیت او پرک شي ﴿ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴾ (لپاره ددې چي دغه وروستني خلګ عبرت واخلي) په هغه څه چي دوی ولیدل یعني دوی د نورو لپاره عبرت وګرزوه چي ددوی سره ستاد جنګ کولو توان ببخي نه وي ﴿ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَٱنۢبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ﴾ او که وېرېږې ! (اې محمده !) له کوم قوم څخه (چي وعده یې کړي ده له تاسره) دخیانت نو وغورځوه دوی ته (دغه عهد) په (داسي) ډول چي شئ تاسي او هغوی سره برابر) یعني اې محمد !) صلی الله علیه وسلم که چېري تاته ددې معاهدینو دخیانت کومي نښي څرګندي شي نو دوی ته ددوی عهد په څرګنده وورو غورځوه . النحاس وایي چي : دا یوه داسي معجزقرآني بیان دی چي په بل کلام کي یې مثال نشته چي د هرکوتاه خود زیاتو معناګانو درلودونکی دی یعني که چېري تاته ددغو کسانو چي له تاسره یې عهد کړی دخیانت نښي نښانې څرګندي شوې نو بیا ددوی عهد ورواچوه او ورته ووایه چي ماستاسي عهد در وغورځاوه

---

(١) زاد المسير ٣ / ٣٧١
(٢) الفخر الرازي ١٥ / ١٢٢

اوزه اوس له تاسي سره جنګ کونکی یم ترڅودوی پدې وپوهېږي اوتاسي اودوی پدې پوهه کي سره برابرشئ اوله دوی سره جګړه مکوه پداسي حال کي چي ستاسو ترمينځ عهدموجودوي اودوی پرتاباندي اعتماداوباور لري نودغه بياغدر اوخيانت دی (۱) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴾ بېشکه الله نه خوښوي خيانت کونکی) دغه کلام لکه دعهدورغورځولولپاره چي علت بيان شوی وی يعني الله جل جلاله هغه څوک نه خوښوي چي په عهدوفانکوي. ﴿ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ ﴾ اوګمان دي نکوي هغه کسان چي کافران شوي دي چي دوی به وتښتي (له عذابه اوخلاص به شي) يعني هغه کسان چي کافران اودبدرپه ورځ له وژلوڅخه وژغورل شول داسي ګمان دي نه کوي چي ګواکي مورږددوی دهلاکولواو وژلوتوان نلرو بلکه هغوی زموږپه واک کي اوزموږترحکم اواراده لاندي دي ﴿ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ﴾ بېشکه دوی له سره نشي مغلوبولای الله (له خپل تعذيب څخه) دغه کلام ته استيناف وايې يعني دوی خپل رب عاجزولای نشي اوهغه په هره شېبه کي له دوی څخه په کسات اخيستلو قادر دی دځمکي اوآسمان هيڅ اوسېدونکی هغه نشي مغلوبولای ﴿ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ ﴾ (او تياروئ (اې مؤمنانو) لپاره دجنګ (ددښمنانو) څومره چي توانېږي (جمع کولای شئ) تاسي له قوت (اسباب د جنګ څخه) يعني دکفارودجنګ لپاره هرډول قوت هغه که مادي وي اوکه معنوي تيارکړئ شهاب وايې چي: ددې لپاره يې دلته قوت ذکرکړځکه چي په بدرکي په بشپړه توګه مؤمنان دتيارسئ په حال کي نه وو نوددې تنبيه ورکول شوه چي بريالیتوب پرته له استعداد څخه هروخت په لاس نه راځي (۲) ﴿ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ ﴾ (اوله روزل شووساتل شوو آسونو) چي دالله په لارکي ترل کېږي ﴿ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ ﴾ چي وېروئ تاسي په (دغه قوت اوتياري) سره دالله اوستاسودښمنان ﴿ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ ﴾ اونورکسان چي بې له دوی نه ؛ ابن زيدوايې چي: دغه منافقان ښيې اومجاهدوايې چي: مراد له دې کسانوڅخه دبني قريظه يهودان دي خو لومړی قول دېرسم دی ﴿ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ ﴾ (چي نه پېژنئ تاسي هغوی الله عالم دی په (عداوت) دهغوی) يعني تاسوته دهغوی دنفاق کچه معلومه نه ده اللهورباندي خبردی ﴿ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (اوهرهغه څه چي لګوئ تاسي له يوه شي په لاره دالله کي) يعني په جهاداو نورودخيرښيګڼو په کارونوکي ﴿ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ ﴾ پوره بدل به يې درکړل شي تاسي ته (په قيامت کي) ﴿ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴾ حال داچي پرتاسي به ظلم نه ونه کړل شي يعني له دغه اجرڅخه به څه کم نشي.

بلاغت:

۱ - د ﴿ مِن شَيۡءٖ ﴾ په کلمه کي تنکېر دتقليل لپاره دی.

---

(۱) تفسير القرطبي ۸ / ۳۲
(۲) محاسن التأويل ۸ / ۳۰۲۴

٢ - په دې جمله کې چې فرمايي: ﴿ عَلَىٰ عَبْدِنَا ﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم د عبوديت په لفظ ياد کړی او الله جل جلاله ته يې د تکريم او تشريف لپاره اضافت کړی دی.

٣ - ﴿ بِٱلْعُدْوَةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ دلته د ﴿ ٱلدُّنْيَا ﴾ او ﴿ ٱلْقُصْوَىٰ ﴾ ترمينځ د طباق صنعت دی.

٤ - په دې کلام کې چې ﴿ لِّيَهْلِكَ وَيَحْيَىٰ ﴾ دلته هلاک او حيات له کفر او ايمان څخه استعاره شوی او همدا راز د (يهلک) او (يحيا) ترمنيځ د طباق صنعت شته.

٥ - ﴿ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ﴾ دلته ريح له شوکت څخه استعاره شوي او قوت ته وايي.

تنبيه:

الله جل جلاله مونږ ته له دښمنانو سره د جګړې لپاره د قوت د تيارولو امر فرمايلی دی او عام تعبير راغلی چې ﴿ مِّن قُوَّةٍ ﴾ ترڅو چې مادي، روحي او ټولو اسبابو د قوت ته شامل وي او ولې به نه وي دښمن خو د اسلامي هيوادونو د لاندې کولو تکل لري او له موږ سره نه دوسلو جوړولو فابريکې شته او نه هم حربي مهمات بلکه هرڅه له دښمن هيوادونو څخه لاس ته راوړو نو ارو مرو موږ بايد که غواړو چې د عزت او کرامت ژوند خپل کړو اسلامي تعليماتو ته راوګرزو او دغه الهي فرمان په ځان عملي کړو.

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَإِن جَنَحُوا۟ لِلسَّلْمِ فَٱجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦١﴾ وَإِن يُرِيدُوٓا۟ أَن يَخْدَعُوكَ
فَإِنَّ حَسْبَكَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا
مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَسْبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن
يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾ ٱلْـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ
أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ
مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ
ٱلْـَٔاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوا۟ مِمَّا غَنِمْتُمْ
حَلَٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّمَن فِىٓ أَيْدِيكُم مِّنَ ٱلْأَسْرَىٰٓ إِن يَعْلَمِ ٱللَّهُ فِى
قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٠﴾ وَإِن يُرِيدُوا۟ خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا۟

ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ
حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
بَصِيرٞ ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴿٧٣﴾
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ
كَرِيمٞ ﴿٧٤﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ
ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿٧٥﴾ الأنفال: ٦١ ــ ٧٥

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی دکفارو دښمنانودوړولوپاره مسلمانانوته دوسلو اسبابواو قوت دتيارولو امر وفرمايونودلته يې دسولي اوسلامتياماړينه وکړه چي دعزت اوکرامت تأمينونکي وي ځکه جنګ جګړه دژوندانه يوداسي ضرورت دی چي ددښمني ددفع کولولپاره يې غوښتنه کېږي ترڅو اديان آزاد اوځمکه له ظلم اوطغيان څخه پاکه وي بيا آيتونه دبنديانواحکام راآخلي اوپه پای کي سورت دځينو مؤمنانوله نوروسره دمرستي خبره کوي ځکه چي دمسلمانانوترمينځ بشپړ ولايت اودوستي شته همداراز دوی يوله بله ايماني ورورګلوي هم لري.

لغتونه:

(جنح) ميلان ته وايې لکه راځي (جنح الرجل الى فلان) کله چي ورته ميلان وکړي اوله دې وجهي (اضلاعو)پښتيوته (جوانح) وايې (السلم) صلح اوسلم ته ويل کېږي زمخشري وايې : چي دغه دخپل ضدپه شکل چي (حرب) دی مؤنث راځي (حرض) وهڅوه ! دهمت خوځولوته وايې لکه (تحضيض) (يثخن) ډير ووژنی واحدي وايې چي: (اثخان)دهرشي شدت اوقوت ته ويل کېږي اودلته مرادپه قتل اوپرهارونوکي مبالغه اوشدت دی.

دنزول سبب

أ: - له عمررضی الله عنه څخه روايت دی چي هغه وايې کله چي الله جل جلاله مشرکان دبدرپه ورځ مات کړل اوياتنه يې مړه اوياتنه يې بنديان شول نورسول الله صلىٰ الله عليه وسلم له ابوبکر، عمراوعلي رضی الله عنهم سره مشوره وکړه ابوبکررضی الله عنه ورته وويل : اې دالله نبي ! دغه زامن اوقومي خلک دي زمارايه داچي فديې ورڅخه واخلې نوهغه فديه به موږ په کافرانوبرلاسي اوقوت به راپيدا کاندي اوښايي الله جل جلاله دوی ته هدايت وکړي اوزموږ به وزر اومټ شي نورسول الله صلى الله عليه وسلم وويل : اې آبن الخطاب ته څه فکرکوې ؟ ماوويل: زمادي په الله لوړه وي زمابيا داسي رايه نه ده لکه دابوبکررضی الله عنه لېکن زمادارايه ده چي ماته واک راکړې دفلاني (چي دده قريب وو) سرغوڅ کړم اوعلي رضی الله عنه ته واک ورکړې چي دعقيل اورمېر مات کړي حمزه ته واک ورکړې چي خپل ورور ووژني ترڅوالله جل جلاله ته وښيوچي زموږله مشرکانوسره هيڅ زړه سوی نشته دغه دکفرمشران اومخه ورکسان دي. خورسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دحضرت ابوبکررضی الله عنه رايه ومنله زمارايه يې وانه ورېده له دوی څخه يې فديه واخيستله کله چي سهارشو زه رسول الله صلى الله عليه

وسلم ته ورغلم چي هغه اوابوبکرصديق رضى الله عنه ناست وو ، ژړل يې. ماورته وويل : تاواوملگرى دي څه شي ژړوي ؟ که ماته ژړا راتله زه به هم وژاړم او که نه راتله بيابه ژړغوني شان کښېنم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل : په دې فديه اخيستلوچي ستاملگرو مشوره راکړه ژاړم ددوى عذاب ترديې ونې لانژدې ماته وښوول شو) اوونه رسول الله ته نژدې وه) بيادا آيت نازل شو: ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (۱).

ب : - کله چي عباس رضى الله عنه دبدرپه ورځ بندي شو،شل اوقيه زر ورسره وو له ده څخه هغه په فديه کي ونه منل شواوداسي ورته وويل شو چي ددوو ورېرونوفديه دي هم دى ورکړي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل چي: له عباس څخه دوه گوني فديه واخلئ نواتيااوقيه سره زرځني واخيستل شول. عباس رضى الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: نوزه دي دگرد عمرلپاره قريشوته اړکړم چي سوال به کوم. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : هغه سره زرچي له أم الفضل سره دي پرېښوول څه شول ؟) عباس ورته وويل: کوم سره زر؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته زياته کړه : (هغه سره زرچي تاهغې ته وويل زه نه پوهېږم ماته به څه راپېښېږي که ماته کرمه پېښه راوشوه نودغه مال بياستااوستادزوى لپاره دي) عباس رضى الله عنه ورته وويل: چي اې وراره دغه چادرته وويل ! ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوب کي ورته وويل: الله جل جلاله په دغه راز خبرکړم. نوعباس رضى الله عنه وويل: زه شاهدي وايم چي ته رښتيااوايې له نن څخه دمخه مي پدې علم اوپوهه نه رسېده چي ته دالله استازى اورسول يې او نورو دوو ورېرونوته يې هم داسلام دراوړلو امروکړاومسلمانان شول چي ددوى دواړو په هکله داآيت نازل شو: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّمَن فِىٓ أَيْدِيكُم مِّنَ ٱلْأَسْرَىٰٓ ﴾ دآيت ترپايه(۲)

تفسير:

﴿ وَإِن جَنَحُوا۟ لِلسَّلْمِ فَٱجْنَحْ لَهَا ﴾ اوکه ميل وکړي کفار روغي ته نوته هم ميل وکړه دې (صلحي) ته که پکي مصلحت وو ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ (اوپه الله توکل وکړه) يعني دخپل کارسپارښتنه الله ته وکړه ترڅو ستا مرستندوى شي ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ ببشکه چي دغه (الله) هم ښه اورېدونکى (داقوالو ددوى) اوښه پوهېدونکى (په نيتونو ددوى دى) ﴿ وَإِن يُرِيدُوٓا۟ أَن يَخْدَعُوكَ ﴾ اوکه دوى اراده لري چي تاته فرېب درکړي (پدې سوله سره چي ځان تياروي دجنگ لپاره) ﴿ فَإِنَّ حَسْبَكَ ٱللَّهُ ﴾ نوبېشکه الله تاته کافي دى ، اوبيا وروسته الله دخپل نعمت ورته يادونه کوي چي: ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ هم دى هغه ذات دى چي قوت يې درکړتاته په مرستي خپلي سره او(ستاملايې وتړله) په مؤمنانو سره. ابن عباس رضى الله عنه وايې دغه کسان انصاربښيې ﴿ وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ﴾ (اوالفت (محبت) يې واچاوو په مينځ دزړونو ددوى (مؤمنانو کي) يعني زړونه يې يوکړل چي پخوايې ترمينځ عداوت ، کينه اوبغض وو خوبياوروسته الله جل جلاله کينه په مينه اوليري والى په نژدې توب وربدل کړ. قرطبي وايې چي: په عربو کي دغه دتأليف القلوب پېښه چي زړونه يې سره نژدې کړل په داسي حال کي چي هغوى خورازيات عصبيت اوقوم پرستي پالي درسول الله صلى الله عليه

(۱) زادالمسير ۳ / ۳۸۰ دمسلم شريف روايت
(۲) القرطبي ۸ / ۴۲

وسلم يوه معجزه وه څکه هلته داسي قوانين نافذ وو که چېري يو سړي بل په چپلاخه وواهونو قوم به يې جګړې ته تيارشو دوى تر تولوزيات دحميت، تنګ اوخپلوي دغيرت لپاره تيار اوجوړول خوکله چي اسلام راغى نو بيا الله جل جلاله يې زړونه په ايمان باندي سره کوشېرکړل آن تردې چي يو مسلمان بياله خپل پلار او ورور سره داسلام لپاره وجنګېدل (۱) ﴿ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ﴾ که لګولى واى تاهرڅه چي په ځمکه کي دي تول نونه به دي شوا چولى الفت په مينځ دزړونو ددوى کي ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ﴾ (ولېکن الله محبت، الفت واچاوو په مينځ (دزړونو) ددوى کي) يعني الله جل جلاله په خپل رسېدلي حکمت سره ددوى ترمينځ يووالى اتفاق او وحدت راووست څکه هغه دزړونو مالک دى اړوي يې څرنګه چي يې خوښه شي. ﴿ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ ببشکه چي دغه (الله) ښه غالب (پخپل کار) اوښه حکمت والادى (هرکارپه حکمت اومصلحت کوي) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسْبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (اې نبي کافي اوبس دى الله ستا اوهغه چالپاره چي متابعت ستاکوي له مؤمنانوڅخه) يعني اې نبي يوازي الله ستااوستاداتباعوبس دى نوتاسودالله سره بياهيچاته اړاومحتاج نه ياست. حسن بصري رحمه الله بياوايې چي: معنايې داده چي ستالپاره الله او مؤمنان بس اوکافي دي (۲) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ﴾ اې نبي تېزکړه (اوترغيب ورکړه) مؤمنانوته پرجنګ (دکفارو مشرکانو) ﴿ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِائَتَيْنِ ﴾ که وو له تاسي ځيني شل تنه صابران (ثابت قدمان) نوغلبه دي وکړي پردوو سوو کافرانوباندي. ابوالسعود وايې چي دغه دالله جل جلاله رښتوني وعده ده چي دمؤمنانوهره ډولى په لس ګونوامثالوبرى مومي (۳) معنادا چي که له تاسوڅخه شل تنه تکړه صبرکونکي دجګړې په مشکلاتو له دښمن سره مخامخ شي نوپه دوو سوو باندي دالله جل جلاله په مرسته اوتائيد غالب کېدونکي اوبرياليي کېږي. ﴿ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ اوکه وو له تاسي څخه سل تنه (صابران ثابت قدمان) نوغالب دي شي پرزرو تنو له هغوکسانوچي کافران شوي دي

﴿ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴾ (په سبب ددې چي ببشکه دوى (داسي) قوم دى چي نه پوهېږي) باء توري دسببيت لپاره راغلى يعني په سبب ددې چي دوى جاهل قوم دى اودالله جل جلاله په حکمت نه پوهېږي اونه هم دبرياليتوب لاره اواسباب پېژني دوى په جګړه کولوکي دثواب نيت نلري اوځکه نومغلوب کېږي. ابن عباس رضى الله عنه وايې: ديومسلمان ټينګار دلسو په وړاندي فرض وو اوکله چي ورباندي دروند اوسخت شوبيانوديوسړي ټينګار اوثبات ددوو په وړاندي فرض شو. ﴿ ٱلْـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمْ ﴾ اوس آسانتياوکړه الله پرتاسي (اوله سختي تېرشو) ﴿ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ﴾ اومعلومه يې کړه چي ببشکه په تاسي کي ضعف

---

(۱) القرطبي ۸/ ۵۳

(۲) لومړى قول خوداچي ستا اوستاد اتباعولپاره الله کافي دى اوزمخشري هم داغوره کړى دى. ابن القيم دزاد المعاد په مقدمه کي هم دې سره ملاتړښودلى دى اوقناعت ښښونکي دلائل يې ويلي دي دوهم قول هغه دي چي له مجاهد اوحسن بصري څخه روايت شوى اوسيوطي اومحلي رحمهما الله په جلالين کي غوره کړى دى اولومړى قول أرجح دى.

(۳) تفسير ابو السعود ۲/ ۲۴۷

اوكمزوري ده (نويې دجگړې په هكله پرتاسومهرباني وكړه ﴿ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٌ صَابِرَةٌ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ ﴾ نوكه وو له تاسي څخه سل تنه صابران نوغالب دي شي پر دووسوو (كافرانو) ﴿ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٌ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ ﴾ اوكه وو له تاسي څني زرتنه صابران غالب دي شي پر دوو زرو(دښمنانوكفارو) ﴿ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ ﴾ په حكم دالله سره (اوآسانتياده هغه)﴿ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ اوالله ملگرى دى له صابرانوسره (په نصرت اوحفاظت كولو) پدې كي دصبراو ثبات په هكله ترغيب اوپه نصرت باندي تبشير دى چي دالله جل جلاله حفظ رعايت اومرسته به ورسره وي اوله چاسره چي داوي هغه به ارو مرو بريالى اوكامياب وي ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ ﴾ نه ښايي نبي لره داچي وي ده لره بنديان (چي فديه ترې واخلي) ترهغه وخته چي قوي شي په ځمكه كي (دكفارودډېرقتل اوجرحي په وجه) پدې كي رسول الله صلى الله عليه وسلم اودهغه اصحاب كرامورضوان الله عليهم ته چي دفديې اخيستلوېې رايه وركړه دعتاب ځرك دى(١) ﴿ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا ﴾ اراده كوئ تاسي (اې مؤمنانو) اسباب ددنيا(دفديې په اخيستلوسره) هغه دنيااومتاع چي فاني كېدونكي دي ﴿ وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ ﴾ اوالله اراده لري (تاسي ته ثواب) دآخرت د كفاروپه وژلواوددين په قوت سره ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه غالب (پخپله پاچهي كي دى) ښه حكمت والادى چي هركارپه تدبيراودبندگانودمصلحت لپاره كوي ﴿ لَّوۡلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ ﴾ كه نه واى ازلي كتاب له جانبه دالله چي رومبى ليكل شويدى (په ازل كي هغه داچي داجتهادي خطآء وبال نشته)(٢) ﴿ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ نوخامخارسېدلى به ووتاسي ته (په عوض د) اخيستلودفديې كي سترعذاب) او روايت كېږي كله چي دغه آيت نازل شونوعليه السلام وفرمايل: كه چېري عذاب نازل شوى واى نوپرته له عمررضى الله عنه نه به هيڅوک هم نه وو ژغورل شوى(٣)﴿ فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ ﴾ نوخورئ تاسي له هغه ماله چي غنيمت اخيستى دى تاسي حلال پاكيزه) يعني اې مجاهدينو خورئ هغه مال چي له دښمن څخه موپه جگړه كي په غنيمت لاس ته راوړى پداسي حال كي چي ستاسولپاره پاكيزه حلال دى ﴿ طَيِّبٗاۚ ﴾ يعني ستاسوله پاكيزه كسب څخه محصول دى چي هغه مقدس جهاد دى اوپه حديث شريف كي راځي: (وجعل رزقي تحت ظل رمحي) ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ ﴾ اووويرېږئ له الله (په مخالفت دامراونهى دده كي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ بېشكه الله ښه ښښونكى (دتوبه كارانو) اوښه مهربان دى (چي ددوى لپاره يې غنيمتونه حلال گرزولي دي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ ﴾

---

(١) وگوره دنزول سبب يې.
(٢) دغه خبره امام رازي غوره كړي ده اونورو اقوالوكمزوري ښودلي ده چي همداخبره دابن عباس يوقول هم دى وگوره تفسيرالرازي ٢٠٢/١٥
(٣) دفديې موضوع تفسيركبير.

(اې نبي ووايه هغه چاته چې ستاسو په لاسونو کې بنديان دي) مراد ورڅخه دبدر بنديان دي ﴿إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِى قُلُوبِكُمۡ خَيۡرًا﴾ که معلوم کړي الله په زړونو ستاسوي کې کوم خير دايمان او اخلاص) ﴿يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرًا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ﴾ نو دربه کړي تاسي ته غوره او بهتر له هغه (مال) څخه چې اخيستى شوى دى له تاسي نه (په فديه کې) ﴿وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ﴾ او مغفرت به وکړي تاسي ته (د پخوانيو ګناهونو) ﴿وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ (او الله ښه بښونکى د پر مهربان دى) يعني مغفرت يې پراخ او د هغه چا لپاره چې توبه کاږي رحمت يې ستر دى. بيضاوي وايي : دغه آيت دحضرت عباس په هکله نازل شويدى کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل : چې د ځان او دوه تنه ورېرونو فديه دې اداکړي هغه عقيل او نوفل نومېدل نو عباس رضى الله عنه وويل : اې محمده ! زه دې څوږوندى يم د قريشو سوال ته اړ ايستلم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: هغه سره زر دې چې أم الفضل ته ورکړل څه شول ؟ کله چې بهر راوتلې ورته ويل دې زه نه پوهېږم ماته په دې لوري څه راپېښېږي ؟ که ماته کوم پېښه راوشوه دغه مال مې ستا او ستا دعيال لپاره درکړى دى نو عباس ورته وويل : ته څه خبرېې پيغمبر ورته وويل : ماته الله تعالى خبر راکړ نو عباس وويل : زه ګواهي اداکوم چې ته صادق پيغمبرېې (لااله الا الله وانک لرسوله) زما دې په الله جل جلاله سوګند وي چې په دې باندې هيڅوک هم خبر نه وو او دتورې شپې په تاريکه کې مې نو موړى مال هغې (أم الفضل) ته ورکړ عباس وايي چې الله تر هغه غوره او بهتر مال راکړ چې: هغه زمزم دى زه نه غواړم چې د ټولې مکې په مالونو بې وپلورم او زه له الله څخه مغفرت او بښنې ته سترګې په لاريم يعني هغه چې الله يې ژمنه (وعده) کړې ده فرمايي : ﴿وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ﴾ يعني او مغفرت به وکړي تاسي ته[1] ﴿وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ﴾ او که اراده وکړي دغه بنديان دخيانت ستاسي (په ظاهري اسلام راوړلو او دعوى کولو) سره ﴿فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ﴾ نو په تحقيق خيانت کړى وو دوى له الله سره پخوا له دې نه چې دبدر غزا ده ﴿فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡ﴾ نو قادر کړې (الله ته) پر دوى باندې) يعني الله تا ته پر دوى نصرت درکړ ته يې قوي وګرزولې ددوى په او رمېږونو واکمن شوې نو که بيا هم دوى خيانت ته راوګرزي ژرده چې دغه رنګه به دې الله بيا ورباندې قادر او زورور کړي ﴿وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ (او الله ښه عالم پوه ښه حکمت والا دى) يعني الله په ټولو جريانونو عالم او داسي فيصله کوي څرنګه چې يې درسبدلي حکمت غوښتنه وي ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى (په الله او رسول باندې) او هجرت يې کړى (خپل کلى او وطن يې دالله او دالله درسول په مينه پرې ايښى دى) او جهاد يې کړى دى په مالونو خپلو او نفسونو خپلو سره دالله په لارکې (تر څو دين قوي شي او دا مهاجرين دي) ﴿وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ﴾ .(او هغه کسان چې ځاى يې ورکړى دى (دې مهاجرينو ته) او مدد ګاري يې کړې ده (له دوى سره) يعني هغه کسان چې مهاجرينو ته يې پخپل ټاټوبي کې پناه ورکړې او درسول الله صلى الله عليه وسلم يې مرسته کړې ده چې انصار دي ﴿أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖ﴾ دغه کسان ځيني ددوى ذوستان دي دځينو نورو (په نصرت او ارث) کې نو ځکه رسول الله صلى الله

(۱) تفسير البيضاوي ۱/ ۳۶۷

عليه وسلم ددوی ترمينځ دمواخاة تړون وتاړه چي هر مهاجر يې له يوبل انصاري سره ورور ونوماوو ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ ﴾ (اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوهجرت يې ندی کړی) مدينې ته اوپه مکه کي پاتي دي ﴿ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ ﴾ (نشته تاسي ته له ولايت (نصرت او ارث) د دوی څخه هيڅ شی) ترڅو دوی هم دکفر له هيواده هجرت وکړي ﴿ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ ﴾ اوکه چېري طلب دنصرت وکړي دغه (غيرمهاجر مسلمانان دکفارو په جنګ کي) له تاسي څخه په دين کي نولازمه ده په تاسي مرسته کول (له دوی سره په دين کي دوی ستاسي ورونه دي ﴿ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞ ﴾ مګر (لازم نه دی ستاسي نصرت او ورتګ پرهغه قوم باندي چي په مينځ ستاسي اومينځ ددوی کي معاهده وي (نوبيايې مرسته مکوئ) ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴾ (اوالله په هغه کار چي تاسي يې کوئ ښه ليدونکی دی) نودهغه له امرڅخه مخالفت مکوئ...... الله جل جلاله مؤمنان يادکړل اوپه دريو ډلويې ووېشل ؛ مهاجرين ، انصار اوهغه کسان چي هجرت يې ندی کړی نولومړی يې دمهاجرينو په هکله چي هغوی داسلام دبنسټ حيثيت لاره وفرمايل: څکه دوی خپل هيواد اوديار دالله جل جلاله دخوښي ترلاسه کولو لپاره ترشا پرې اينبی دی اوبيايې دانصارو ستاينه وکړه چي هغوی له الله اورسول سره مرسته کړي اوپخپل نفس اومال يې جهاد کړی دی نو يې دمهاجرينو او انصارو ترمينځ ولايت اونصرت وفرمايل بيايې دهغو مسلمانانو حکم چي هجرت يې نه وي کړی بيان کړچي دوی له ولايت څخه محروم اوبې برخي دي ترڅوچي داسلام په لارکي هجرت وکړي او وروسته له دغو درې ګونو يادونو يې دکفارو حال داسي بيان کړ ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شويدي څيني ددوی دوستان دي دڅينونورو ، دوی يوملت دي ﴿ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ ﴾ که ونکړئ (تاسي دغه مأموربه چي له مؤمنانوسره موالات اوله کفارو سره مقاطعه ده) ﴿ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴾ نوپيدابه شي (لويه) فتنه په مځکه کي او(خپوربه شي) فسادلوی) څکه پدې باندي کفار قوت مومي او مسلمانان کمزوري کېږي بيايوځل په مهاجرينواوانصارو باندي دثنااوستايني پېرزوينه کوي فرمايي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوهجرت يې کړی او جهاد يې کړی دی په لاره د الله کي (چي هغوی ړومبني مسلمانان دي) ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ ﴾ اوهغه کسان چي ځای يې ورکړی دی (مهاجرينوته) اومرسته يې کړي ده له دوی سره (چي دغه انصار دايثارخاوندان دي) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ ﴾ دغه يادشوي کسان هم دوی په حقه مؤمنان دي يعني دوی په بشپړه توګه مؤمنان او داحسان مراتب پکې دي ﴿ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴾ دوی لره دی مغفرت اوروزي نېکه دعزت (په جنت کي) مفسرين کرام وايي : پدې آيتونوکي تکرارنشته څکه په ړومبنيو دسرآيتونوکي دمؤمنانو ترمينځ دنصرت او ولايت ماربينه وه اوپدې کي ستاينه اوثناده چي ددوی مغفرت اودهستوګني ورستني ځای به جنت اودهغه د عزت نعمتونه اوروزي وي. ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ ﴾ اوهغه کسان چي ايمان يې راوړ وروسته (له دغه لومړني هجرته) اوهجرت يې وکړ اوجهاديې وکړپه ملګرتياستاسي نودغه (ستايل شوی پدې صفاتو) له

تاسي څخه دي ,يعني ددوی ثواب اواجرلکه دپخوانيو مؤمنانو غوندي دی ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ ﴾ اوخاوندان دخپلوي ځيني ددوی غوره دي (په ميراث ورلوسره) په ځينو نورو باندي په حکم دالله کي اودشريعت په امر علمای کرام وايي : چي دغه آيت دهغه ميراث ناسخ دی کوم چي دوی ميراث په حلف (لوړه) اوورور ګلوي بللو وور ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴾ اوبېشکه الله په هرشي باندي ښه عالم دی يعني علم يې په ټولوشيانو احاطه کړي اوهرڅه چي الله شريعت ~~تاکلی هغه~~ حکمت اوصواب دی (لمن کان له قلب اوالقی السمع وهوشهيد) اودغه دسورت پای او په خوراښه براعت سره راغلی دی.

بلاغت:

۱ - ﴿ وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ ﴾ دغه اسلوبوته اطناب وايي اوفائده يې داچي مؤمنانو اورسول الله صلی الله عليه وسلم ته دسترو نعمتونو اواحسانونو ورپه يادول کوي

۲ - ﴿ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ ﴾ په البحر المحيط کي وايي چي : ددغه سپېڅلي کلام فصاحت ته وګوره چي په لومړنی شرطيه کي يې دصبرقيد وفرمايو اوپه دوهمه کي يې حذف کړ اوپه دوهمه کي يې داوفرمايل چي دوی به کفاروي اوپه لومړی شرطيه کي يې حذف کړل اوڅرنګه چي صبرته زياته اړتياوه په دواړو دتخفيف جملوکي يې راوړ اوبيايې آيتونه پدې کلماتوپای ته ورسول چي : ﴿ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ دصبرپه مطلوب والي باندي ترڅونوره مبالغه وشي اودغه ډول ته دبديع په علم کي د (احتباک) صنعت وايي. الله جل جلاله ته پاکي اوثناده چي څرنګه يې تنزيل په خوږ کامل فصاحت اوښيرازه بشپړ بلاغت راوړی دی.

دالله په حمد اوثنا دالانفال سورت تفسيربشپړشو.

* * *

(۹) دالتوبة سورت مدني او يو سل نه ويشت آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه سورت كريمه چي له مدني سورتونوڅخه دى دتشريع لوري ته پاملرنه كوي اوله هغو وروستنيو سورتونوڅخه دى چي په رسول الله صلى الله عليه وسلم رانازل شوى دى. امام بخاري له براء بن عاذب څخه روايت راوړى چي وروستنى سورت چي په رسول الله صلى الله عليه وسلم نازل شو هغه دبرائت سورت وو(۱) حافظ ابن كثير روايت كوي چي ددغه سورت لومړنۍ برخه هغه وخت په رسول الله صلى الله عليه وسلم رانازل شوه كله چي دتبوك له غزاڅخه راستون شو اوحضرت ابوبكرصديق رضى الله عنه يې په دې كال دحج اميروټاكل ترڅوخلكوته مناسك وروښيې كله چي هغه ولاړ وروپسې يې حضرت علي كرم الله وجهه واستاووچي درسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري داحكامو مبلغ وي(۲) دغه سورت دهجرت په نهم كال نازل شوكوم چي پدغه كال كي رسول الله صلى الله عليه وسلم دروم غزاته ووت اودنبوي غزواتوپه لړكي دغي غزاته دتبوك نوم وركول شوى دى چي سخته ګرمي اوخوراوږد سفر وو هغه مهال ميوې پخې شوي وې اوخلكودژوندانه نعمتونوته خان چمتو كړى وو نودغه دمؤمنانو يو ايماني ازموينبت اوابتلآء وه چي ددوى رښتنولي اواخلاص يې دالله ددين په لاركي ازمويل اوترڅو چي پخپله دوى اومنافقين سره بېل شي.

ددغه سورت دوه اساسي هدفونه وو چي له نوروا حكاموسره يوځاى يې درلودل.

لومړى: دمشركينو اواهل كتابوسره دمعاملې په هكله اسلامي قانون.

دوهم: كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دوى دروم غزاته راوبلل دهغه څه ترګندول چي نفسونوغوښتل.

* هغه چي دلومړي هدف اوموخي نسبت وو نوسورت دمشركينو دوعدو اوعهدونو لپاره يوحدوټاكل اومشركان يې دبيت الله له حج كولو څخه منع كړل ددوى اومسلمانانو ترمينځ يې ولايت وشكول اوغوڅ يې كړاود اهل كتابو لپاره يې په عربي جزيره كي دپرېښودلو لپاره تادوكښېښودا وله دوى سره راكړه وركړه (تعامل) يې روا وګڼل ځرنګه چي دنبي عليه السلام اومشركانو ترمينځ ټينګ عهدونه اومواثيق موجود وولكه چي درسول الله اواهل كتابو ترمينځ هم وو لېكن مشركانو عهدونه مات كړل اوله يهودانوسره يوځاى يې دمسلمانانودجنګ لپاره دوكې اوبهانې ولټولې اوديهودانودغه ټولګيولكه (بني النضير) (بني قريظه) او(بني قينقاع) ټولو درسول الله دوعدو خيانت ځوځوځله وكړ نودحكمت غوښتنه دانه وه چي نوردي هم مسلمانان په خپلو وعدو ټينګ ولاړ اودښمنان دي وعده ماته كړي نودغه سورت نازل شو چي هغه وعدې ماتي وښيې اوپه ډانګ پېيلي دوى ته ځرګند كړي چي وعدې نوري دچلندوړ نه دي ځكه وعده ماتونكي له خيانت څخه لاس نه آخلي هروخت چي يې لاس برشي اووخت ومومي په وعده نه درېږي ځكه نوالله تعالى هغه پيوندونه چي دمسلمانانو اومشركانوترمينځ وو پرې كړي اعلان كړل چي نه وعده شته اونه عهد نه سوله شته اونه امان او دا وروسته له دې چي دوى ته يې دڅلور مياشتو مودې پوره فرصت وركړ چي په امن اوبېغمي په ځمكه كي سياحت وكړي اودخپلو چاروپه هكله سوچ اوفكر وكړي بياهغه څه غوره كړي چي ددوى پكي مصلحت وي اوپدې باب دسورت پيل آيتونه نازل شوي چي فرمايي: ﴿بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾ ترپايه.

---

(۱) البخاري ۸/ ۲۲۷

(۲) مختصر ابن كثير

* وروسته بيا آيتونو دهغه چا په باب چي اهل کتاب دي او عهدونه يې مات کړي دجګړې کولو امر کوي چي: ﴿ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ ددوی له ناولی اعمالو څخه نژدې شل آيتونه پرده پورته کوي او ددوی (اهل کتابو) هغه پليتي اوفريبونه اوداسلام اومسلمانانوپه باره کي حقد اوکينه بې بربنډوي.

* دسورت دوهم هدف هغه چي دمسلمانانو نفسيات څېړي کله چي دوی رسول الله صلى الله عليه وسلم دروميانو غزاته رابولي اوآيتونه دلته د سست عزمو ، متخلفينو اوتکاسل کونکوڅخه خبري کوي لکه چي دمنافقينو له فتنوڅخه برغولی (سرپوښ) اخلي هغه چي تل ترتله اسلام او مسلمانانو ته خطر پېښوي ددوی دنفاق چل اوول رسواکوي هغه چي دوی دمسلمانانوسپکاوی اوتذليل کاوو دمسلمانانو دراز پردې يې پورته کولې کافرانوته يې دمؤمنانو پټ پلانونه ورښودل اوبيا له دغه لوڅولو اورسواکولووروسته دمسلمانانولاس نژدې وو چي پردوی پورته شوی وای د ټهردسورت آيتونه هم له دوی څخه غږېږي چي دالله تعالى له دې قول څخه پيل کېږي: ﴿ لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ ﴾ تر دې قول دالله تعالى چي فرمايې: ﴿ لَا يَزَالُ بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ [1] څکه نو ځينو اصحابانو رضى الله عنهم دغه سورت ته رسواکونکی (الفضاحة) نوم ورکړيدی پدې چي دمنافقينو رازونه يې راسپړلي اوددوی يې رسواکړي دي سعيد بن جبير رضى الله عنه وايې: مادبرائت دسورت په هکله له ابن عباس رضى الله عنه څخه وپوښتل هغه راته وويل دغه (سورة الفضاحة) ده تل چي تر څوراناز لېدو نوبه يې څرګندول چي ځيني ددوی ,ځيني ددوی آن تردې چي موږ ووېرېدو له دوی څخه به هيڅوک هم نه پرېږدي [2]

له حذيفه بن يمان څخه روايت دی چي ويل يې: تاسو خوبې سورت بولئ مګر دغه سورت عذاب دی په الله قسم چي هيڅ يو منافق يې پرې ايښی نه دی مګرچي حال يې څرګند کړی دی [3] اوهم دغه راز(سِر) دی چي پيل کي يې ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ نه دی ليکل شوي څکه چي ﴿ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ امان اوسلامتيا ده اوسورة برائت په توره نازل شوی امان پکي نشته . سفيان بن عيينه وايې چي ددې لپاره (بسم الله) يې په سرکښي ندی ليکل شوي څکه چي تسميه رحمت اورحمت امان دی اودغه سورت دمنافقينو په هکله اوپه توره (سيف) نازل شوی اوددغو منافقينو لپاره امان نشته [4]

* لنډه داچي پدې سورت کي يو پنځم په مخفي توګه تنوتلی ټولګی هغه چي دمسلمانانو په ليکوکي يې د ځان لپاره ځای پرانستلی په ګوته کېږي چي منافقين دي اوددوی زيان اوخطر ترمشرکانو لاهم زيات وو نودوی يې رسوا او اسرار يې رابرسېره کړل او همداسي پرله پسې يې په سکروټو وويشتل ترڅوچي هيڅ هستوګنځی يې پاتي نشو اوددوی پخپلودوکو چي داسلام اومسلمانانو لپاره يې په کارولې له مساجدو څخه هم کار واخيست اوهلته يې دفساد ځالي جوړي کړې ترڅو دمسلمانانو په مينځ کي فتنې خپرې کړي اودمسجد په نامه يې يو مرکز پرانست چي هغه په مسجد ضرار سره وپېژندل شو اوپه همدې سورت کي ددغه مسجد په هکله څلور آيتونه نازل

---

(۱) الآيات من ۴۲ – الى ۱۱۰ اوداسي معلومېږي چي دټول سورت فضا دنفاق اومنافقينو ګرد اوغبار اخيستي ده.
(۲) القرطبي ۸ / ۶۱
(۳) الکشاف ۲ / ۲۴۱
(۴) القرطبي ۸ / ۶۳

شول چي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴾ دآيتونو ترپايه.

هو الهي وحی درانازلېدلو په حال کي وه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابانو رضوان الله عليهم ته وويل: (ولاړشئ دغه دظالمانو مسجد ونړوئ اوهغه وسوځوئ) نويې هغه ونړول او اسلام اومسلمانان يې له شرڅخه وژغورل شول اوددوی پليتي اودوکې له مينځه لاړې اوترقيامته پورې يې رسوايي اوږده شوه.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت په مختلفو نومونو نومول شوی چي ځيني مفسرينو خوددغه سورت پنځلس نومونه ښودلي دي علامه زمخشري وايې چي ددغه سورت څونومونه دي (برائت، التوبة ، المقشقشة ، المبعثرة ، المشردة ، المخزية ، الفاضحة ، المثيرة ، الحافرة ، المنكلة ، المدمدمة اوسورت العذاب يې هم بولي دتسميې وجه يې داده چي توبه ددې لپاره چي دمؤمنانو توبه پکې وه اوتقشقش له نفاق څخه بېزاري ته وايې اومبعثره داچي دمنافقانو اسرار خوروي اوحافره يې پدې بولي چي ددوی رازونه کيندي اودوی رسواکوي مشرده داچي دوی شړي اومخزيه يعني سپکوي يې فاضحه رسواکوي يې اومثيره يعني پارونکی نکال عبرتناک عذاب ته وايې اودمدمة هم دعذاب په معناده([1])

الله تعالى فرمايي:

﴿ بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝١ فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخۡزِي ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٢ وَأَذَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥۚ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٣ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ۝٤ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥ وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ۝٦ كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ۝٧ كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ۝٨ ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝٩ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ

([1]) الكشاف ٢/ ٢٤١

وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ (١٠) فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ وَنُفَصِّلُ
ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ (١١) وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ
إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ (١٢) أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ
وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ (١٣) قَٰتِلُوهُمۡ
يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ (١٤) وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ
قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (١٥) أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ
مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ (١٦) مَا كَانَ
لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ
خَٰلِدُونَ (١٧) إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ
يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ (١٨) ۞ أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ
كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ (١٩) ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ (٢٠) يُبَشِّرُهُمۡ
رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ (٢١) خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ
(٢٢) ﴾ التوبة: ١ - ٢٢

لغتونه:

(براءة) له يوشي شخه ځان بېلول اوقطع علاقه کولوته وايي زجاج ليکي چي (برئت من الرجل براءة) يعني له سړي شخه په بېزاري سره بېزاره شوی وم او (برئت من المرض برؤا) له ناروغي شخه په روغتيا روغ شوی وم[1] (فسيحوا) نوولاړشی اسياحت په ځمکه کي دسوداګري، عبادت اويابل څه لپاره ګرزېدلوته وايي (اذان) خبرتياته وايي اوله دې شخه دلمانځه اذان هم راغلی دی (مرصد) ددښمن دڅارني ځای شاعروايي (ان المنية للفتى بالمرصد) بلادزلمي لپاره کمين نيولی دی[2] (الا) (إل) عهد اوقرابت ته ويل کېږي (نکثوا) نکث اونقض يوشي ته ويل کېږي اوهغه داوبدلي شېزسپخول دي (وليجة) دبطانې په معناده اوأبوعبيده وايي چي هرشی چي په بل کي ګډ کړي اوله هغه شخه نه وي ورته وليجه وايي اوله ولوج شخه اخيستل شوی دي نوهغه شوک چي په

---

(١) زاد المسير ٣/ ٣٩٢

(٢) القرطبي ٨/ ٧٣

يو قوم کي دننه شي اوله هغوی څخه نه وي (وليجه) ګڼل کېږي او فراء وايي چي وليجه د مشرکانو (بطانة) ته ويل کېږي چي رازونه ورته لوڅوي او حال احوال ورته رسوي

د نزول سبب:

روايت کېږي چي د قريشو سرداران يوه ټولۍ خلک په بدرکي بنديان شول او په دوی کي عباس بن عبدالمطلب هم وو نوځيني اصحابانو رضوان الله عليهم هغه ته د شرک پېغور ورکړ او حضرت علي کرم الله وجهه بيا هغه ته د رسول الله سره په جنګ کولو توبيخ ورکړ او ورته ويې ويل چي صله رحمي نه کوئ عباس ورته وويل: تاسي ولي زموږ بدي بيانوئ او ښېګي موپټوئ نو په ځواب يې ورته وويل: آيا تاسو ښېګي هم لرئ؟ عباس وويل موږ مسجد حرام جوړوو د کعبې چوپړ وهو حجاجو ته اوبه ورکوو بنديان آزادوو نو دغه آيت نازل شو چي ﴿ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَىٰ أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ ﴾ د آيت ترپايه.[1]

تفسير:

﴿ بَرَاءَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ بېزاري ده له طرفه د الله او (له طرفه) د رسول د ده هغو کسانو ته چي عهد ورسره کړی دی تاسي له مشرکانو. مفسرين وايي چي عربو خپلي وعدې چي له رسول الله سره يې کړي وې ماتولې نو الله جل جلاله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته امر وکړ چي د دوی وعدې هم ور وغورځوي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه د حج امير وټاکه چي خلکو ته مناسک وروښيي او پرې ادا يې کړي او حضرت علي کرم الله وجهه يې ورپسي واستاوو چي خلکو ته د برائت خبر ورسوي نو حضرت علي کرم الله وجهه ودرېدو او ددې څلورو ټکو اعلان يې وکړ: ۱ – له سږ کال نه وروسته دي بيت الله شريفي ته مشرک نه راځي دې کېږي ۲ – په کعبه دي بربنډ طواف ونکړل شي ۳ – جنت ته به له مسلمانانو پرته بل څوک نه داخلېږي ۴ – او د چا چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره کومه موده ټاکلي وي تر هغې مودې پوري ﴿ فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ ﴾ (نو ګرځئ يې وخت شته نو د الله او د هغه رسول له مشرکانو څخه بېزاره دي تاسي په (دغه) ځمکه کي څلور مياشتي دا چي زموږ له خوا به هيڅ زيان نه دررسېږي د لته امر درواوالي او جواز حکم لري او په ترخ کي يې تهديد دی ﴿ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ﴾ او پوه شئ اې مشرکانو پدې چي بېشکه تاسي نه يئ عاجزکونکي د الله (د عذاب که څه هم چي مهلت يې درکړ) ﴿ وَأَنَّ اللَّهَ مُخْزِي الْكَافِرِينَ ﴾ او پدې پوه شئ) چي بېشکه الله د کافرانو رسوا کونکی دی يعني په دنيا کي يې په بند او قتل ذليل کوي او په آخرت کي په سخت عذاب ﴿ وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ ﴾ (او خبرول دی له (طرفه) د الله او رسول د (الله) تولو خلکو ته) يعني ټولو خلکو ته دا خبرتيا ورکول کېږي چي الله او رسول الله له مشرکانو څخه بېزاره دي ﴿ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ ﴾ په ورځ د حج اکبر کي يعني د لوی اختر په ورځ هغه چي تر ټولو ورځو د مناسکو غوره ورځ يوم

[1] زاد المسير ۳ / ۴۰۷

النحر ده. زمخشري وايې چي: حج يې لوى پدې وباله چي عمره هم حج بلل کېږي مګر هغه حج اصغردى[1] ﴿ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥ ﴾ چي بېشکه الله بېزاره دى له مشرکانو (اوددوى له عهده) اورسول ددغه الله هم بېزاره دى ﴿ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ ﴾ (نوکه تاسي له شرکه توبه وايسته نوداغوره بهتره دى تاسي ته) يعني که له کفره وګرځېدلئ اودالله توحيدموغوره کړدغه ستاسولپاره ترګمراهي بهتره دى ﴿ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ ﴾ اوکه مخ واړاوو تاسي (له توبې په شرک کولوسره) نوپوه شئ چي بېشکه تاسي دالله عاجز کونکي نه يئ) چي عذاب دي درنکړي اوياخني وتښتېداى شئ ﴿ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ اوزېرى ورکړه هغو کسانوته چي کافران شويدي په دردناک عذاب سره. ابوحيان وايې چي انذارته يې بشارت ووايو داستهزاء په ډول اوپدې کي ددوى لپاره سترو عيددى[2] ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ مګرهغه کسان چي عهدکړى دى تاسي (له دوى سره) له مشرکانو اودوى وعدې نه دي ماتي کړي نوله دوى سره متقابل چلند وکړئ وعدې ورسره بشپړي کړئ. په کشاف تفسيرکي وايې چي: دغه استثناء داستدراک په معناده يعني هغه خوک چي وعدې يې ماتي کړي نه دي خپله وعده ورسره ترسره کړئ اودنوموړو عهد ماتونکوپه ډله کي يې مه دروئ اوخيانت کونکي لکه وفادار غوندي يوشان مه ګڼئ ﴿ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا ﴾ بيايې نقصان ندى کړى له تاسي سره هيڅ شى (دوعدې په شرطونوکي) ﴿ وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا ﴾ اونه يې ستاسي په مقابل کي له هيچاسره مرسته کړيده (چي ستاسي دښمنان وي) ﴿ فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ ﴾ نوپوره کړئ (اې مؤمنانو !) له دغو (مشرکانو) سره عهد ددوى تر(تمامېدلودمقرري) وعدې ددوى ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ بېشکه الله متقيان خوښوي (هغه چي خپلي وعدې پرځاى کوي. بيضاوي وايې چي: دغه تعليل اوپدې باندي تنبيه ده چي دوعدې بشپړول دتقوى څخه دى[3] ابن عباس رضى الله عنه وايې چي: د(کنانة) له يوکلي څخه دمودې نه مياشتي پاتي وې نورسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دعهدموده ورسره بشپړه کړه ﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ ﴾ نوکله چي تېري شوې (څلور) حرامي مياشتي (هغه چي جګړه کول پکي حرام دى ﴿ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ ﴾ (نووژنئ (اې مؤمنانو !(عهدماتونکي) مشرکان په هرځاى کي چي تاسي موندل) يعني که په حل کي و اوکه په حرم کي ابن عباس وايې: په حل اوپه حرم اوپه اشهرحرم کي مراددى ﴿ وَخُذُوهُمۡ ﴾ بنديان کړئ دوى ﴿ وَٱحۡصُرُوهُمۡ ﴾ او حصاريې کړئ په کلاګانوکي. ابن عباس وايې: کله چي موونيول نويې په کلاګانوکي راايسارکړئ ترڅو دمسلمانانودقتل څخه يې لاس لنډشي ﴿ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ

(1) الکشاف ۲/۲۴۲
(2) البحر ۵/۸
(3) ...

كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾ او كښېنئ دوى ته (منتظر) په هرځاى دځارلو او تېرېدلو كي. په البحر المحيط كي وايي چي: دلته مقصود دوى ته زيان رسول دى په هر ډول چي وي كه دمخامخ جنګ وي او كه دكمين نيولو(۱) ﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ ﴾ نو كه توبه وايسته دوى (له كفره) او قائم كړدوى لمونځ او زكات يې وركړ نو تاسي ددوى لاره خوشي كړئ يعني څه مه ورته واياست ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشكه الله ښه بښونكى ډېر مهربان دى دهغه چالپاره چي توبه وكاږي اوسمي لاري ته راوګرزي ﴿ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ ﴾ او كه يوتن له مشركانو پناه وغواړي له تا نو پناه وركړه ته هغه ته ﴿ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ﴾ څو چي واوري دالله كلام (او پكي سوچ وكړي) زمخشري وايي: معنا دا چي كله ددغو مياشتو له تېرېدلو وروسته يو څوك له مشركانو تاته راشي چي ستا اوددوى ترمينځ عهدنه وي اودرڅخه پناه وغواړي ترڅو له تا څخه دعوت اوبلنه دتوحيد اوقرآن واوري نو پناه وركړه چي دالله كلام واوري سوچ پكي وكړي او په واقعيت خبرشي(۲) زه وايم چي دغه نوبېخي دښې معاملې اوسترو اخلاقو څرګندويه ده څكه مقصد دكافرانو له مينځه وړل نه بلكه دهغوى لارښوونه اودوى ته قناعت وركول دي چي حق وپېژني اوپيروي يې وكړي اوهغوى دضلالت لاري چاري پرېږدي ﴿ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ ﴾ (بيا ته دى دامن ځاى ته ورسوه) يعني كه وروسته يې ايمان نه راووړنو خپل وطن ته يې چي دده دقوم تاتوبئ ورسوه هلته چي دده مال اونفس په امن دي او له خيانت اوغدرڅخه بي خوندي لره ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴾ دغه پناه وركول مشركانوته په سبب ددې دى چي بېشكه دوى (داسي) قوم دى چي نه پوهېږي؛ داسلامي دين په حقيقت باندي نوارومرو بايد دوى سره داسي چلندوشي ترڅو الهى كلام واوري اوپكي سوچ وكړي؛ وروسته بيا الله تعالى دبرائت حكمت داسي بيانوي چي: ﴿ كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ ﴾ څرنګه به وي مشركانوته عهد په نزد دالله اوپه نزددرسول ددغه (الله) استفهام دانكاراو استبعادلپاره دى يعني څرنګه به ددوى لپاره داعتبار وړعهد وي اوبيا استدراك كوي چي: ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ مګرهغه كسان چي عهد كړي دى تاسو (له دوى سره) په نزد دمسجدحرام كي (اوبيا يې ندى مات كړى) ابن عباس رضى الله عنه وايي چي: دغه دمكې خلک دي اوابن اسحاق بيا وايي چي: دغه د(بني بكر) قبائل دي چي دحديبيې په وخت كي په هغه موده كي چي درسـول الله صلى الله عليه وسلم اوقريشو ترمينځ وه داخل شول نو دعهد دبشپړولو په هكله يې دهغه چالپاره چي وعده يې ماته كړي نه وه امروشو(۳) ﴿ فَمَا ٱسْتَقَٰمُواْ لَكُمْ فَٱسْتَقِيمُواْ لَهُمْ ﴾ نو څو چي برابرولاړ اوسي دوى تاسي ته (په عهد خپل) نو برابرولاړاوسئ تاسي هم (په عهد خپل) (۴) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ بېشكه چي

---

(۱) البحر المحيط ۱۰/۵
(۲) الكشاف ۲۴۸/۲
(۳) البحر المحيط ۱۲/۵
(۴) الطبري ۸۱/۱

الله متقيان خوښوي هغه چي په وعده وفاكوي اوله غدراو خيانت څخه ځان ساتي ﴿ كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ ﴾ څرنګه به وي ؟ (دوى ته عهداو پردوى څه اعتباردى) حال داكه لاس يې برښي پرتاسو دلته داستبعاد تكرار دى يعني څرنګه به دوى پخپله وعده ودريږي حال داچي كه پرتاسوباندي وس پيداكړي نو: ﴿ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ﴾ نه ګوري دوى ستاسي په باب قرابت اوعهدته ؛ ځكه دوى هغه څوك دي چي امان اوعهد نلري ابوحيان وايي چي: دغه ټول تاكيد اواستبعاد دى چي ددوى زړونه دي په عهد ټينګ وي(۱) ﴿ يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ ﴾ راضي كوي دوى تاسي په(تشوخبرو) دخولوددوى يعني كله چي تاسيورباندي برلاسي ياست دوى پستي خبري درته كوي ﴿ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ ﴾ اومنع كوي زړونه ددوى (دوعدې له وفاء څخه) په همدې څرګندولو سره طبري وايې چي: دوى تاته په خوله هغه څه وايې چي: په زړه كي يې دهغه په خلاف دښمني اوكينه خوندي وي زړونه يې نه غواړي چي دغه څرګندوني تصديق كړي(۲) ﴿ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴾ اوزياتره ددوى فاسقان دي يعني دېردغووعدې ماتونكودالله له طاعت څخه متجاوزين اووتلي دي ﴿ ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا ﴾ اخيستى دى دوى په آيتونو(احكامو) دالله قيمت لږ يعني دوى په قرآنكريم باندي ددنيا خسيس متاع پېرودلى بدله كړي ده ﴿ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓ ﴾ (نومنع كوي دوى (خلګ) له لاري دالله نه) يعني داسلام له لاري لوېې منع كوي ﴿ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ بېشكه بدكاردى هغه چي دوى به كاوو ﴿ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةٗ ﴾ نه ګوري (لحاظ نه ساتي دغه عهدماتونكي په حق) دهيڅ مؤمن كي دقرابت اوعهد ؛ كله چي يې دمؤمن په وژلو لاس برشي ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ﴾ (اودغه كسان هم دوى دي تېرېدونكي(له حده) يعني دغه كسان چي نوموړي بداوصاف لري دظلم اوبغي له حده تېردي ﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ اوكه توبه وايسته دوى (له كفره) اولمونځ يې قائم كړ اودوى زكات وركړ ﴿ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ ﴾ نوورونه ستاسي دي په دين كي يعني دوى لره هم هغه حقوق دي چي تاسولره دي اوپردوى هم هغه واجبات دي كوم چي پرتاسودي ﴿ وَنُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴾ (اوپه تفصيل بيانوو موږ آيتونه لپاره دهغه قوم چي پوهېږي) يعني موږ داهل علم اوفهم لپاره دلائل اوبراهين بيانوودغه جمله اعتراضيه دده لپاره راغلي چي دسوچ اوتدبركولوته خلګ وهڅوي ﴿ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ ﴾ اوكه مات كړل دغو (مشركانو) قسمونه خپل وروسته له عهدتړلو ددوى (له تاسي سره) يعني كه دوى هغه وعدې چي په قسمونويې ټينګي كړي وې ماتي كړې ﴿ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ ﴾ اوپېغورونه يې دركړل په دين ستاسي كي يعني داسلام

(۱) البحر ۵/ ۱۳
(۲) الطبري ۱۰/ ۸۵

بې عيب اوبدي ويله ﴿ فَقَٰتِلُوٓا۟ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ ﴾ نو وجنګېږئ تاسي له (دغو) مشرانو دکفر سره ﴿ إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَٰنَ لَهُمْ ﴾ بېشکه دوی لره نشته قسمونه ددوی (يعني قسم يې په قسم نه دی معنی دوی پخپلو وعدو وفا نکوي ﴿ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ ﴾ لپاره ددې چي دوی واوړي له ګناه کولو او سلام ته له پېغور ورکولو نه. بيضاوي وايې چي: معنادا چي ستاسو دي ددوی په وژلو کي غرض داوي چي دوی له خپل جرم څخه راوګرزي نه داچي دوی نه دزيان رسونکو په شان زيان رسول وي [1] ﴿ أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ ﴾ آيا نه جنګېږئ تاسي (اې مؤمنانو بلکه ضرور وجنګېږئ) له داسي قوم سره چي مات کړي دي دوی قسمونه خپل) دغه ددوی په قتال باندي تحريض دی يعني له داسي قوم سره چي وعدې يې ماتي کړي او ستاسي په دين يې پېغور لګولی وجنګېږئ! ﴿ وَهَمُّوا۟ بِإِخْرَاجِ ٱلرَّسُولِ ﴾ او قصد کړی دوی په ايستلو د رسول الله صلی الله عليه وسلم له مکې نه کله چي يې په دارالندوة کي غونډه وکړه چي پېغمبر ستاسي له مينځه وباسي ﴿ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ حال داچي هم دوی شروع کړی دی (جنګ) له تاسي سره اول کرت کله چي ستاسو متعهدين او حلفآء (خزاعة) قوم سره وجنګېدل او لومړنی پيل کونکی خوزيات ظالم وي نو ولي ورسره نه جنګېږئ ؟ ﴿ أَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ ﴾ (آيا تاسو له دوی نه وېرېږئ ؟ نو الله ښه لائق پدې دی چي تاسي ځني ووېرېږئ) له عذابه دده څخه کله چي يې امر ونه منئ ﴿ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ که يې تاسي مؤمنان يعني باورکونکي په عذاب او ثواب د الله جل جلاله باندي. زمخشري وايې: دصحيح ايمان غوښتنه او تقاضا داده چي مؤمن پرته له خپله ربه له هيچا ونه وېرېږي او دبل هيچا پروا ونکړي [2] بيا وروسته له دغي هڅوني په صريح ډول ددوی دوژلو امر کوي چي: ﴿ قَٰتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ ﴾ (وجنګېږئ تاسي له دغو (کفارو سره) (اې مؤمنانو) چي په عذاب کړي دوی الله په لاسونو ستاسي) يعني اې مؤمنانو له دوی سره وجنګېږئ ستاسو جګړه له دوی سره د اولياآء الله په لاس جګړه او ددوی عذاب دي او ددا جهاد دی له هغه چا سره چي جګړه کونکی وي ﴿ وَيُخْزِهِمْ ﴾ او رسوا کړي دوی په ذلت، بندي توب او ناکامي سره ﴿ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ ﴾ او مرسته درکړي تاسي ته پر دغو (کفارو) باندي ﴿ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴾ او شفا ورکړي (زخمي) سينو د مؤمنانو ته د دين په اعتلاء او دکفارو په تعذيب او ناکامي رسوايي باندي. ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: ديمن يو قوم مکې ته راغلی وو، اسلام يې راوړی وو او دمکې له خلکو څخه يې ډېر خور او تکليف ګاللی وو نو رسول الله ﷺ ته يې شکايت وکړ هغه صلی الله عليه وسلم ورته وويل: زېری درکوم چي خلاصون نژدې دی [3] ﴿ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ﴾ او بوزي (ليري کړي) خفګان د زړونو ددوی (مؤمنانو) دغه لکه دشفاء الصدور تاکيد غوندي دی او فائده يې ددوی د خوښي په هکله مبالغه ده چي دوی ته به الله جل جلاله ددوی دد ښمنانو تعذيب ورو ويني. امام رازي وايې: امر وکړ الله مؤمنانو ته د دغو (کفارو) دقتال او پېنځه ډوله ګټي

---

[1] البيضاوي ٢١٩
[2] الكشاف ٢/ ٢٥٢
[3] ابو السعود ٢/ ٢٥٨

او فائدې یې پکې ونبودلې چې هره یوه یې پخپل ځای چې ګوښي وي هم ستره ده خو کله چې سره یو ځای شي ولې به سترې نه وي (١)﴿ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ ﴾ اورجوع کوي الله په رحمت سره دهغه چې اراده وفرمايي د(هدايت يې) دغه بيا د کلام استئناف دی يعني الله په هغه چا احسان کوي توبه يې مني او په اسلام کې يې داخلوي چې چاته يې اراده وشي لکه ابوسفيان ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ او الله ښه عالم ښه حکمت والا دی يعني په رازونو او اسرارو خبردار دی هيڅ ورڅخه پټ نه دي دحکمت خاوند دی هغه کار چې پکې مصلحت او حکمت نه وي نه يې کوي. ابوالسعود وايي: الله پاک تولې هغه وعدې چې کړي يې وې په ښه توګه ترسره کړې نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم اخبار پخوا تر پېښېدلو د دغو پېښو يوه ستره معجزه ده (٢)﴿ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ ﴾ ايا ګمان کوئ تاسي (اې مؤمنانو) داسي چې (همداسي) به پرېښودی شی.) (أم) توري ته منقطعه وايي او د(بل) توري په معنا دی چې ترجمه يې داسي کېدای شي چې ايا تاسي ګمان کوئ چې بې له امتحان او ابتلاء به پرېښودی شی. چې رښتوني او دروغجن په دين کې مو يو له بله ونه پېژندل شي ؟﴿ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ ﴾ (حال دا چې له سره نه دی معلوم کړی الله (په علم ظهور سره) هغه کسان چې جهاد يې کړی له تاسي څخه) دلته مراد له علم نه علم ظهور څخه دی چې په علم خفاء سره خو الله علم لري هغه عالم الغيب دی نو د(مَاعُلِم) اظهار او څرګندونه د دې لپاره ده چې جزا او رباندې مرتب شي ﴿ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ ﴾ او چې نه وي نيولی دوی پرته له الله او پرته له رسوله د دغه (الله) او پرته له (مؤمنانو) د پټو خبرو دوست) يعني چې جهاد يې کړی وي د الله په لار کې او له مشرکانو څخه يې بطانه او دوستان نه وي نيولي چې هغوی ته د مؤمنانو پټ رازونه لوڅوي او له مسلمانانو پرته خواخوږي او دوستي ورسره پالي . له آيت شريف څخه غرض دا دی چې الله پاک خلګ هم داسي نه پرېږدي ترڅو چې پاک او ناپاک سره بېل نکړي ﴿ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ او الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسي يې (له نېکي او بدي څخه) کوئ ﴿ مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ (نشته مشرکانو ته دا چې ودان کړي د الله مسجدونه) يعني د مشرکانو لپاره روانه دي ,نه ښائېږي او نه ورسره لائق دي چې يو مسجد دي ودان کړي ﴿ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ ﴾ (حال دا چې شاهدان وي دوی پرخپلو نفسونو په کفر سره) يعني دوی هغه څوک دي چې په خپلو اقوالو ، افعالو سره د الله په شرک اقرار کوي څکه دوی به کله چې تلبيه لوستله نو به يې ويل: (لبيک لاشريک لک الاشريکا هولک، تملکه وماملک) چې پدې سره به د دوی قصد دبتانو وو ، بتان يې له کعبې بهر درولي وو بربنډ او لوڅ لغړ به يې په کعبه طواف کاوو او چې طواف به يې هر وار(چکر) اداکړ نو بتانو ته به يې سجدې لګولې (٣) مقصد دا دی چې د دوی لپاره سمه نه ده چې د دوو ضدونو يو ځای کول وکړي چې هغه يو له بله بېخي ګوښي او لېري دي د الله د مساجدو تعمير آبادول او په الله او عبادت باندي يې کافر کېدل ؟(١)﴿ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ ﴾ دغه مشرکان

---

(١) الفخر الرازي ١٢/ ٢
(٢) ابو السعود ٢ / ٢٥٨
(٣) الصاوي على الجلالين ٢ / ١٤٢

ابته دي عملونه ددوی (ځکه چي مشرکان دي ايمان نلري) ﴿وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ خَٰلِدُونَ﴾ او همېشه به په اور کي وي ﴿إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ﴾ بېشکه هم دا خبره ده چي ودانوي مسجدونه دالله هغه څوک چي ايمان يې په الله راوړی وي او په ورځي آخري (چي دقيامت ورځ ده) ﴿وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ﴾ او دروي لمونځ (سم) اداکوي سره له ټولو حقوقو) او ورکوي زکات ﴿وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ﴾ او نه وېرېږي له (هيچا) مګر له الله څخه ﴿فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ﴾ اميد دی چي دغه کسان به وي له لاري موندونکو څخه (په قيامت) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي هره د(عسی) کلمه چي په قرآن کريم کی راشی دوجوب معنالري الله جل جلاله خپل نبي ته فرمايې: ﴿عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا﴾ الاسراء: ۷۹ يعني ژر ده چي ستارب به تامقام محمودته راپاڅوي چي هغه شفاعت دی(۱) ابوحيان وايې چي (عسی) دالله په کلام کي واجب وي او وپدې سره تعبيرکول دمشرکانو طمع غوڅول دي چي دوی به هيڅکله هم هدايت ونه مومي ځکه هرڅوک چي دغه څلور خويونه په ځان کي راولي نو حال ته يې دهدايت کېدلو اميد پيداکېږي نو هغه به څرنګه هدايت وموِمي چي دغه خويونه پکي نه وي او بل دا چي پدې کي له اميد سره وېره هم موجوده ده ترڅو چي په نېکو اعمالو يو څوک غره او تېرنه وزي(۲) ﴿أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ﴾ (آياګڼلی (ګرزولی) دی تاسي او به ورکول حاجيانوته او ودانول دمسجد حرام په مثل (دايمان) دهغه چا چي ايمان لری په الله او (په) ورځي آخري (دقيامت) او جهاد يې کړی وي په لاره دالله کي) خطاب دمشرکانو لپاره (۳) او استفهام دانکار او توبيخ لپاره دی يعني اې مشرکانو ا حجاجوته او بو رسول او دبيت الله شريفي خدمت او مشرتوب کول لکه دمؤمنانو ايمان او فی سبيل الله جهاد غوندي بولئ؟! دغه په عباس باندي رد دی چي هغه ويل: که تاسو ترموږ له مخه په اسلام مشرف شوي او هجرت موکړی خوموږ بيامسجد حرام ودان کړی حجاجوته مو اوبه رسولي نو دغه آيت نازل شو. طبري وايې: دغه دالله جل جلاله له لوری هغه قوم ته توبيخ دی چي دمسجد حرام ودانول او دبيت الله واکداري يې خپل فخرګڼلو نو الله جل جلاله دوی پوهول چي دويار (فخر) سبب په الله او په ورځ دقيامت باندي ايمان او فی سبيل الله جهاد دی(۴) ﴿لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ﴾ (نه دي برابر دوی په نزد دالله) يعني مؤمنان او مشرکان سره برابرنه دي او نه ددوی کره وړه له هغوی سره پرتله کېږي نه يې درجاتي سره برابري دي ﴿وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ او الله نه ښيي سمه صافه لار قوم ظالمانوته دغه کلام لکه تعليل غوندي دی يعني الله ظالمانوته دحق دپېژندني توفيق نه ورکوي. په البحرکي وايې چي: ددې معنا انکاردی چي مشرکان دي له مؤمنانو سره مشابه او يادي ددوی خراب او خوساعملونه دهغوی له سمو سپېڅلو اعمالو سره يو رنګ وبلل شي او کله چي مساوات نفی شونو دايې څرګنده کړه چي په الله کافران همدوی ظالمان دي چي پخپلو ځانونو يې دايمان په نه راوړلو ظلم کړی او په مسجد حرام يې ظلم کړی چي

(۱) الطبري ۱۰/۹۴
(۲) البحر المحيط ۵/۲۰
(۳) سبب النزول
(۴) الطبري ۱۰/۹۴

دبتانوهستوګنځی یې ګرزولی ؛ اومؤمنانوته یې په تېرشوي آیت کي هدایت ثابت اودلته یې له مشرکانوڅخه نفی کړچي ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (۱) اوالله نه ښیي سمه صافه لارظالمانوته بیاالله تعالی فرمایي:

﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ ﴾ هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي (په ټولو مؤمن به شیانو) اوهجرت یې کړی دی اوجهادیې کړی دی په لاره دالله کي (ددین دترقي لپاره) په مالونو خپلواوځانونو خپلو ډېرلوی دي (له نورونه) له جهته (ددرجې په نزددالله) دغه زیاته توضیح اوداهل ایمان اوجهادبیان دی معنایې داچي هغه کسان چي ځانونه یې دشرک له خیروپاک کړي اوپه هجرت باندي یې پسوللي ځانونه اومالونه یې دالله جل جلاله په لارکي جهادته سپارلي نودغه کسان چي هسي صفتونه لري اجریې خوراستراوزیادیې ډېرلوړ دی له هغه چاچي حاجیان اوبوي اویاهم مسجدحرام ودانوي اودوی مشرکان وي ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴾ اوهمدغه (ستایل شوی کسان) همدوی په مرادرسېدونکي دي (په جنتونوکي) ﴿ يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ ﴾ زېری کوي پردوی رب ددوی په رحمت سره له جانبه خپله اوپه رضامندي (لویه) سره (دلوی رب له لوري) ﴿ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ ﴾ (اوپه جنتونوسره چي وي به دوی ته په دغو (جنتونو) کي نعمتونه همېشه) یعني دوی به په لوړو جنتونوکي وي چي مېوې یې رسېدلي اوهلته به تل ترتله نعمتونه چي زوال به نلري ورکولی شي ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ ﴾ حال داچي همېشه به وي دوی پدغو (جنتونو) کي تل ترتله ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴾ (بېشکه له الله سره دی اجرډېرلوی) یعني ددوی ثواب دالله په نزدډېر لوی دی چي عقل یې اندازه نشي لګولای. ابوحیان وایي: کله چي الله جل جلاله مؤمنانوپه دریو صفتونو وستایل چي هغه ایمان، هجرت اوجهادپه نفس اومال دی نوددوی په مقابل کي یې ددریو نعمتونو زېری ورکړل چي هغه رحمت، رضوان اوجنت دی لومړی یې رحمت راوړچي هغه ترټولونعمتونو عام اود ایمان په مقابل کي یې ودراوو اوبیایې رضامندي راوړه هغه چي داحسان منتهاده اودغه دجهادفی سبیل الله په مقابل کي دریم یې جنت راوړ اوهغه بیادهیواد پرېښودلو اوهجرت په مقابل کي (۲) الوسي وایي: داڅه پټه خبره نه ده چي دجنت صفت پدې باندي چي هلته تل ترتله نعمتونه دي دغه خورا له لطافت اوباریکي څخه ډکه خبره ده څکه چي په هجرت کي سفراوهغه دعذاب یوه ټوټه وي (۳)

بلاغت:

۱ - ﴿ بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ ﴾ دلته تنوین دتفخیم لپاره اوداچي دالله اورسول له لوري ده دغه (تفخیم دزیاتوالي اوهیبت لپاره دی.

۲ - پدې کلام کي چي الله فرمایي: ﴿ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ دغه اسلوبوته (تهکمي اسلوب) وایي څکه په عذاب باندي زېری ورکول داستهزاء اوتهکم لپاره دی.

---

(۱) البحر المحیط ۵/۲۰
(۲) البحر ۵/۳۱
(۳) روح المعاني ۱۰/۷۰

۳ - ﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ ﴾ دلته يې د مياشتو تېرېدل د حيوان له څرمنې څخه وتلو سره تشبيه کړي او استعاره ګڼل کېږي

۴ - پدې جمله کې چې ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ د الله جل جلاله نوم يې ظاهر د ضمير پر ځاى راوړى چې په زړه کې هيبت او وېرونه وروزي.

۵ - ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴾ دغه جمله د حصر افاده کوي يعني يوازې دوى په مراد رسېدُنکي دي نه نور څوک

۶ - کله چې الله فرمايې: ﴿ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ د لمانځه او زکات په ځانګړې توګه يادونه ددې لپاره ده چې د شان تفخيم او ستر توب يې وښي او خلک ورته وهڅوي.

۷ - ﴿ بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ ﴾ د رحمت تنکير او همداراز د رضوان تنکير د تفخيم او تعظيم لپاره دى يعني هسې رحمت او رضوان چې بل څوک يې کولاى نشي.

فائده:

د مساجدو ودانول د وه ډوله دي يو يې حسي او بل معنوي کوم چې حسي ودانول دي هغه يې جوړول، آبادول او ښايسته کول دي او معنوي يې بيا په لمانځه او ذکر سره ودانول راځي او بېشکه الله پاک ودانول او ايمان سره تړلي دي او په حديث شريف کې راځي (چې لنډه معنا يې داده) که مو يو څوک وليد چې له مسجد سره يې سرو کار او عادت وو نو دهغه لپاره د ايمان ګواهي ورکړئ ځکه چې الله فرمايې: ﴿ إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ (١) نو حقيقي وداني يې په لمانځه او د الله په ذکر ده.

لطيفه:

قرطبي وايې چې: يو اعرابي مدينې منورې ته راغى او ويې ويل: څوک به ما ته هغه څه ولولي چې په محمد رانازل شوي نو يو تن ورته سورت برائت ولوست آن تردې چې دغه آيت يې ولوست ﴿ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥ ﴾ هغه يې په زېر سره ولوستل چې (ورسولِه) أعرابي وويل چې زه هم له رسول نه د ده څنې بېزاره يم خلکو ته دغه خبره ستو خه ښکاره شوه او حضرت عمر رضى الله عنه ته خبره ورسېده هغه ورته وويل: چې آيا ته له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه بېزاره يې ؟ هغه وويل اې اميرالمؤمنين ! زه مدينې ته راغلم يو چا د برائت سورت راته ولوست نوماو ويل کله چې الله له رسول څخه يې بېزاره وي نوزه هم بېزاره يم حضرت عمر وويل: اې اعرابي آيت دغسې نه دى ورته ويل يې: څنګه دى ؟ اې اميرالمؤمنينه ! نوهغه ورته ولوستل او (رسولُهُ) يې تلاوت کړ اعرابي وويل او زه هم په الله قسم چې له هغه چا څخه بېزاره يم له چا څخه چې الله او رسول الله بېزاره دي نو عمر رضى الله عنه امر وکړ چې خلګو ته دي پرته له هغه چا چې د عربي په لغت پوه وي بل څوک قرائت نه لولي. (٢)

---

(١) رواه الترمذي

(٢) القرطبي ٢۴/١

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ
وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (٢٣) قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ
وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ
وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (٢٤) لَقَدْ
نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا
وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ (٢٥) ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى
الْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ (٢٦) ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِن
بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (٢٧) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ
فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاءَ ۚ
إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (٢٨) قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ
وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ
(٢٩) وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ۖ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَاهِهِمْ ۖ
يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۚ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ (٣٠) اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ
وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ
لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (٣١) يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا
أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (٣٢) هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى
الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (٣٣) ﴾ التوبة: ٢٣ - ٣٣

مناسبت اوتړاو:

كله چي الله تعالى دمشركانوبدي (قبائح) وشمېرل اودمهاجرينومؤمنانوصفتونه يې هغه چي خپل هستوګنځى اوټاټوبى يې داالله اورسول په مينه كي ترشاكړي وو بيان كړل دلته يې دكفاروله دوستي څخه تحذير وفرمايو اودايادونه يې وكړه چي دخپلوپلرونو اوخپلوانو كله چي كافران وي مقاطعه يې واجب ده اوبيايې مؤمنانوته ورپه يادكړوچي په ډېروځايونوكي الله مرسته دركړي څوچي دوى پخپل دين افتخار وكړي له هغه وروسته بيا داهل كتابو قبائح راوړي اوله دوستي څخه يې مؤمنان وېروي اوداچي هغوى هم لكه مشركان غوندي زيار باسي چي داالله نور ووژني.

دنزول سبب:

کلبي وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته دهجرت کولو امروکړنو يوسرې به خپل پلار وروز اوميرمني ته ويل چي موږته دهجرت کولو امرشوی دی ځينوبه په ورين تندي دغه خبره ومنله اوخوند به يې ورکړ اوځيني هغه وچي ميرمن اولادونو به يې پسي ځانونه ټينګ کړل ورته ويل به يې موږچاته پريږدي موږبه تباه شونودده به هم زړه نری او ورسره پاته به شوهجرت به يې پريښود چي دغه آيت شريف نازل او دوی يې وترټل: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ ﴾ دآيت ترپايه[1]

لغتونه:

(اولياء) دولي جمع اوکومکي مرستندوی ته وايي هغه چي دبل چاچاري سمبالوي او ورسره مرسته کوي (عشيرتکم) عشيرة تولی ته وايي هغه چي انسان هغه ته پناه وروړي. واحدي وايي چي: عشيرة دسړي نژدي خپلوانوته وايي اوله عشرة څخه اخيستل شوي چي دملګرتياپه معناده اودخپلوانوترمينځ هم دغه عشرت تل موجودوي (کسادها) ناچليدل دهغه چي نه خرڅيږي، ورروست وي (عيلة) فقراوناداري ويل کيږي: (عال الـ حا يعيل) کله چي ناوسه اوفقيرشي.(الجزية) هغه مال چي له ذميانوڅخه اخيستل کيږي ځکه يې جزيه بولي چي دوی نوموړی مال دهغه امن په جزاکي مسلمانانوته سپاري چي هغوی دوی ته ورکړی وي (يضاهئون) مشابهت او مماثلت ته وايي (يؤفکون) ګرزي له حق څخه (افک) اصلا اوښتلوته وايي اودلته له حق څخه اوښتونکي مراد دي

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ ﴾ اې هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو) مه نيسئ تاسي پلرونه خپل او وررونه خپل دوستان ! دايمان په لفظ سره نداد تکريم لپاره ده اوددوی دهمتونو تحريک اوخوځول کوي ترڅو ژرترژره دالله جل جلاله د اوامرو امتثال وکړي. ابن مسعود رضی الله عنه وايي: کله چي دي له الله څخه واوريدل ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ نوغوږ ورته کښيږده ځکه دخير امر درته کوي اويادي له شرڅخه ژغوري يعني تاسو خپل کفارپلرونه او وررونه مرستندوی مه نيسئ چي دوستي ورسره پالئ اومينه ورسره کوئ ﴿ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ ﴾ (که دوی کفرترايمان محبوب ګڼلی او اصراريې ورباندي کاوو ﴿ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ اوهرچاچي دوستي وکړه له (دغو کفارو) سره له تاسي نه نودغه کسان هم دوی ظالمان دي. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دی هم دهغوپه شان مشرک دی[2] ځکه څوک چي په شرک راضي وی هغه مشرک دی[3] ﴿ قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ

---

[1] اسباب النزول للواحدي ص: ۱۴۰
[2] البحر المحيط ۴/۵
[3] القرطبي /۹۴

﴿ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ ﴾ وروایه (اې محمده ! عذر ویونکو ته دهجرت له نه کولو څخه) که وي پلرونه ستاسي اوزامن ستاسي او ورونه ستاسي اوښځي ستاسي ﴿ وَعَشِيرَتُكُمۡ ﴾ اوخپلوان ستاسي هغه چي تاسو دمرستي ترلاسه کولولپاره دوی رابولئ ﴿ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا ﴾ اوهغه مالونه چي تاسوګټلي دي ﴿ وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا ﴾ اوهغه سوداګري چي تاسو يې په ناچلېدلو وېرېږئ ﴿ وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ ﴾ اوهغه دهستوګنځي ځايونه چي تاسويې خوښوئ (د اوسېدلولپاره) ﴿ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ ډېرمحبوب تاسي ته له الله اورسول دالله نه ؛ دغه د (کان) خواب دی یعني که دغه شیان تاسي ته ترهجرت لوری د الله اورسول ته غوره اوخورا محبوب وي ﴿ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ ﴾ اوله جهاده په لار دالله کي (ددین دنصرت لپاره) ﴿ فَتَرَبَّصُواْ ﴾ نو انتظار کوئ تاسي (ترهغو) دغه شدید وعیداوتهدید دی ﴿ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ ﴾ چي راولېږي راولي الله امر(حکم دعذاب) خپل سمدستي یاوروسته ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ اوالله نه ښيي سمه صافه لاره فاسقانو ته یعني هغه چي دالله له طاعت څخه وتلي دنېکمرغۍ لاره الله نه ورښيي دهغه چاپاره هدایت نشته چي خپل مال ، اهل اوهیوادیې په هجرت اوجهادغوره کړی وي بیاالله تعالی په دښمنانو دبریالیتوب یادونه کوي ﴿ لَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٖ ﴾ خامخاپه تحقيق مدد کړی دی له تاسي سره الله په ډېرو ځایونو کي (او ډېروجنګونوکي) ﴿ وَيَوۡمَ حُنَيۡنٍ ﴾ او(خصوصا) دحنین په ورځ کي) وروسته له هغه چي تاسي په خپل ډېر والي غره کړئ اوفخر موکاوو مغلوب شوی نوالله بېرته نصرت درکړ ﴿ إِذۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ تُغۡنِ عَنكُمۡ شَيۡـٔٗا ﴾ کله چي په تعجب کي واچولی ډېروالي ستاسي نودفع نه کړ(ډېروالي) له تاسي څني هیڅ شی (له حملې ددښمن نه) یعني کله چي تاسي خپل ډېروالي متعجب کړی اوموویل: چي نن به له سره مونږ دلږوالي په سبب مغلوب نه شوتاسو دولس زره تنه او دښمن موڅلورزره کسه وو خوستاسي دغه ډېروالي له تاسوڅخه هیڅ شی دفع نکړای شو ﴿ وَضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ﴾ اوځمکه دربانديي (له سختي وېرې) تنګه شوه سره دهغې له ارتوالي ﴿ ثُمَّ وَلَّيۡتُم مُّدۡبِرِينَ ﴾ بیاشاګره تاسي (دښمن ته) حال داچي شاګرځونکي وی (په تېښته) . طبري وایي: الله جل جلاله دوی ته اخبارکوي چي نصرت دالله په لاس اودده له لوری ده اوهغه دافرادو په ډېروالي نه دی اوالله چي وغواړي لږتولګي په سترتولګي غالبوي اوله لږو لښکرو سره مرسته کوي چي ډېري لښکري ماتي اوکوندي کړي شي براء بن عازب رضی الله عنه ته وویل شوآیاتاسوله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دحنین په ورځ وتښتېدلی ؟ براء رضی الله ورته وویل: زه شاهدي وایم چي رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی تښتېدلی اوبېشکه چي ماهغه ولید په سپین قچرسپور او ابوسفیان یې ملوني نیولي روان کړی وو کله چي مشرکانوهغه را ایسارا وپټ کړ نورانښکته شو اوویل یې: (أن النبي لاكذب * أنا ابن عبد المطلب) یعني بېشکه زه په رښتیاسره رسول اودعبدالمطلب له اولادې څخه یم اوبیایې یوموټی خاوري را واخیستلې اودمشرکانومخونوته یې ور وشیندلې اوویل یې (شاهت الوجوه) نودوی وتښتېدل اوهیڅوک پاتي نشول چي په

سترګو کي يې هغه شکي او خاري لوېدلي نه وي او هغه به يې نه مونښلې (١) براء بن عازب رضی الله عنه وايي: چي کله به جنګ تود شونو موږ به له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره نژدې درېدلو زموږ ترټولو زړه ور هغه څوک وو چي رسول الله سره به برابر ودرېدو ﴿ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ بيا راولېږه الله تسکين خپل پر رسول او پر مؤمنانو) يعني الله وروسته له هزيمت څخه مؤمنانو ته امن او اطمينان راولېږه چي نفوس يې تسکين و مومي. ابو السعود وايي: معنا دا چي الله دوی ته رحمت رانازل کړچي زړونه يې ورباندي تسکين او اطمينان پيدا کړي (٢) ﴿ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمۡ تَرَوۡهَا ﴾ او راويې لېږلې (الله) لښکري چي نه وې ليدلي تاسي دا لښکري. ابن عباس رضی الله عنه وايي: چي دغه ملائکي او پرښتي وې ﴿ وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ او په عذاب يې کړل هغه کسان چي کافران شوي وو په قتل، بنديتوب او دبنځو او زوذات په بندي نيولو سره ﴿ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ او همدا (تعذيب) دکافرانو جزاده. ﴿ ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ﴾ (او بيا رجوع وکړی الله (د توبې په قبول) پس له دې پر هغه چاچي اراده وفرمايي) يعني الله يې توبه قبوله او د اسلام راوړلو توفيق وريه برخه کړی او پدې کي د هوازن قبيلې اسلام راوړلو ته اشاره ده ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ او الله ډېر بښونکی د (خطيئاتو) ښه رحم والادی يعني دالله مغفرت لوی او رحمت يې پراخ دی ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ ﴾ اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو) بېشکه هم دا خبره ده چي مشرکان پليت دي) ځکه دوی باطني خبث لري. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: مشرکان نجس العين او لکه سپيان او خنزيران غوندي دي او حسن رحمه الله وايي: څوک چي له مشرک سره لاس ورکړي (مصافحه وکړي) نو او دس دي له سره تازه کړي (٣) او جمهور علماء داسي رايه لري چي دغه پليتي يو مشابهت دی يعني دوی د نجس په منزلت او يا نجس دي ځکه چي باطن يې پليت دی او عقيده نلري، په الله جل جلاله کافران دي نو دوی هسي وګرځېدل لکه چي په خپله دوی نجس وي او مثال يې داسي دی لکه چي څوک ووايي: علي زمری دی يعني لکه زمری غوندي دی ﴿ فَلَا يَقۡرَبُوا۟ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَا ﴾ نو نه دي نژدې کېږي دوی مسجد حرام ته وروسته د دوی له دغه کاله (چي دهجرت نهم کال دی) دلته يې مسجد حرام ذکر کړ او مراد ځني ټول حرم دی. ابو السعود وايي چي: مقصد د دوی منع کول له حج او عمرې څخه دی چي دوی دي له دغه کاله وروسته چي دهجرت نهم کال وو حج او عمرې ته نه راځي او د دغه قول تائيد په حديث کي راغلی چي: او حج دي نکوي له سږکاله وروسته مشرکان (٤) و دا هغه کال وو چي سورة برائت پکي رانازل شو او حضرت علي کرم الله وجهه دغه خبر تيا د حج په موسم کي ورکړه ﴿ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن

---

(١) الطبري ١٠/ ١٠٣

(٢) ابو السعود ٢ / ٢٢٣

(٣) القرطبي ٨ / ١٠٣ او دا هغه قول دی چي له ابن عباس رضی الله عنهما او حسن بصري څخه رانقل شوی او امام فخر رازي هم ترجيح ورکړي او همدا راز د الوسي نظر او د آيت شريف له ظاهر څخه هم دغسي معلومېږي خو جمهور علماء بيا وايي چي دغه دتشبيه په دول دی.

(٤) ابو السعود ٢ /٢٢٤

فَضۡلِهِۦٓ ﴾ (او كه وېرېږئ تاسي له فقره نوژر به الله تاسي غنيان كړي له خپله فضله څخه) يعني اې مؤمنانو كه تاسي ددوى په منع كولو له حج اوحرم څخه پدې وېرېږئ چي فقر به درته ورسېږي نو سبحانه وتعالى به تاسي له بلي لاري اوپخپل فضل اوعطاء غنيان كړي . مفسرين وايې كله چي مسلمانان له دې څخه منع شول چي مشركانو ته دحرم دننوتلو اجازه وركړي چي هغوى به ددوى لپاره په موسم كي خوراكونه اونورتجارتي اموال واردول نو ددوى په زړونو كي شيطان خفگان وروا چاوو چي تاسو به اوس څه خورئ ؟ او څرنگه به ژوند تېروئ چي روزي اواسباب يې در څخه قطع شول نو الله جل جلاله دوى ته له فقر او نېستي څخه داډ وركړ او بېغمه يې كړل چي غنيمتونه اوولجې يې وركړې ﴿ إِن شَآءَ ﴾ كه اراده وفرمايې (د غنا ستاسو) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴾ بېشكه الله ښه عالم ښه حكمت والادى . ابن عباس وايي چي: ښه عالم دى پدې چي ستاسو مصلحت په څه كي دى او د حكمت خاوندى په هغه حكم كي چي د مشركانو په هكله يې صادر كړى ؛ كله چي د مشركانو د حكم يادونه وشوه وروسته د اهل كتابو حكم داسي بيانوي: ﴿ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ (وجنگېږئ تاسي له هغو كسانو سره چي نه راوړي ايمان پرالله اوپه ورځي آخري باندي) يعني له هغو كسانو سره وجنگېږئ چي په الله اوآخرت باندي سم صحيح ايمان نه راوړي كه څه هم دوى خود ايمان گمان كوي ځكه چي يهودان وايي : عزير دالله زوى دى (العياذ بالله) اونصارى بيا په تثليث عقيده لرى اود مسيح په الوهيت ايمان لري ﴿ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ﴾ (او حرام نه گڼي هغه څه چي الله اوپيغمبر حرام كړي وي) يعني دوى هغه چي الله پخپل كتاب اورسول په حديثونو كي حرام بللي حرام نه گڼي بلكه هغه ته عقيده لري چي ددوى احبار اورهبان يې ورته شريعت بولي ځكه نو ددوى شراب اوخنزيراو داسي نور شيان حلال بولي ﴿ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ ﴾ اونه قبلوي دوى حق دين (چي اسلام دى) ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ (دغه) له هغو كسانو څخه دى چي كتاب وركول شويدى يعني دغه مذكورين له هغو منحرفينو يهودانو اونصرانيانو څخه دي چي تورات او انجيل ورته رانازل شويدى ﴿ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴾ (جنگ ورسره كوئ) ترهغه پوري چي دوى جزيه وركړى له (خپله) لاسه حال دا چي دوى ذليل وي (مستسلمين اوغاړه ايښودونكي وي) ﴿ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴾ يعني دوى د اسلام په زور اوقوت كي حقيراو مقهور وي بيا الله جل جلاله ددوى د قبائحو يوه بېلگه راوړي چي: ﴿ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ ﴾ اووايې يهودان چي عزير دالله زوى دى يعني دغه ملعونان الله ته د ولد نسبت كوي او الله خو واحد ، فرد ، اوصمد ذات دى. بيضاوي وايې: دوى چي دغه خبره كوله دليل يې دا چي د بخت نصر څخه وروسته په دوى كي داسي څوك پاتي نشو چي تورات يې په يادوي اوكله چي الله جل جلاله عزير عليه السلام وروسته له سلو كالو راژوندى كړ اودوى ته يې تورات له ياده ولوستل نو دوى تعجب وكړ اوويې ويل همدا دالله زوى دى اوله دې پرته بل څه نشي كېداى (١) ﴿ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِ ﴾ اووايې نصرانيان چي مسيح دالله زوى دى ځكه چي بې پلاره زېږېدلى اود امكان نلري چي څوك دي بې پلاره وزېږي نو اكه پكه به دغه دالله زوى وي الله ددوى په ردكي فرمايې :

(١) البيضاوي ص:٢٣٢

﴿ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ﴾ دغه ددوی چتي وینا ده په خولو خپلو سره یعني دغه یوازي ددوی دخولې خبره ده چي هیڅ دلیل اوبرهان پې هم نشته په التسهیل کي وایي چي دغه دوې معناوي افاده کوي یو یې د دوی الزام پدې خبره اوتاکید پدې کي اودوهم داچي دوی هیڅ دلیل نلري بلکه یوازي دعوی ده لکه چي ته یو چاته وایې داستا په ژبه خبره ده(١) ﴿يُضَٰهِـُٔونَ قَوْلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ﴾ (مشابه ده (خبره ددوی) له خبرو دهغو کسانو سره چي کافران شوي دي) یعني ددوی دغه بده خبره دمشرکانو له خبرو سره ورته والی لري چي ویل

بې: پربنتې دالله لوڼې دي (تشابهت قلوبهم) ﴿قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ۚ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾ الله دي دوی هلاک کړي څرنگه گرځول شوي دي ؟ (له سمي لاري څخه) وروسته له دې چي دلائل ورته راغلل بیاهم دوی دالله لپاره دزوی نسبت کوي. امام رازي وایې چي صیغه دتعجب لپاره ده اودعربو له دود او دستور سره سم خلگو ته راجع ده اوالله جل جلاله خپل نبي ته تعجب ورکوي چي څرنگه دغو کسانو حق پرې ایښی او په باطل باندي ټینگار کوي

﴿ٱتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ نیولي دي دوی عالمان اوعابدان خپل (٢) (خدایان) بې له الله یعني دغو یهودانو خپل عالمان اونصرانیانو خپل عابدان دشیانو په تحلیل او تحریم کي خدایان بللي دي لکه چي ددوی معبودان وي معنایې داچي داسي اطاعت اومننه یې کوي لکه چي څوک دالله اطاعت کوي که څه هم عبادت یې نه کوي اودغه هغه مأثور تفسیر له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راغلی. عدي بن حاتم وایې: چي زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم اوپه غاړه کي مي دزرو صلیب غړوندی وو رسول الله راته وویل: اې عدي له ځانه دغه بت وغورځوه. عدي وایې چي ما واورېدل چي دبرائت سورت داآیت یې لوستل ﴿ٱتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ نو ما ورته وویل: اې دالله رسوله ! دوی خویې عبادت نه کاوو ! علیه السلام راته وویل: چي آیا نه وو چي حرامول به یې هغه څه چي الله حلال کړي وو اوحلالول به یې هغه څه چي الله حرام کړي وو اودوی به حلال پېژندل ماورته وویل هو نوراته یې وویل: همدغه دهغوی عبادت دی(٣) ﴿وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ﴾ اومسیح دمریمي زوی (نصارا رب او معبود گڼي)

﴿وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓا۟ إِلَٰهًا وَٰحِدًا﴾ (حال دا چي امرنه دی شوی دوی ته مگر ددې چي دیوه معبود عبادت وکړي ، دبل څه حکم نه دی شوی ﴿لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ چي نشته هیڅ برحق معبود مگرخو هم دی دی پاکي الله لره ده له هغه شي څخه چي دوی یې شریکوي (له الله سره)

﴿يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ﴾ اراده لري (دوی) داچي مړکړي نوردالله (چي شریعت دی) په خولوخپلو) یعني دغه مشرکین اواهل کتاب ددې اراده لري چي اسلامي رڼا اودمحمدي شریعت څلا پخپلو سپکو او حقیرو خولو مړه کړي چي یوازي بحث ، جدال اوافترا گانې کوي اوداهغه رڼاده چي الله دخپل مخلوق لپاره بل کړي اوخلولي ده لکه چي یوڅوک دلمر ورانگي یادسپوږمۍ رڼا دخولې په پوکولو باندي وژني

﴿وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ﴾ (اونه خوښوي الله مگرداچي پوره او بشپړه کړي رڼا خوددې هڅو امکان نشته

---

(١) التسهيل ٧٤/٢
(٢) الرازي ٣٦/١٢
(٣) الوسي ٨٤/١٠

خپله) یعني لوړه بې کړي اوشان بې پوره کړي ﴿وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ اګرکه بدګني (داکار) کافران ﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ﴾ الله هغه ذات دی چي لیږلی یې دی رسول خپل (محمدصلی الله علیه وسلم) په هدایت سره (چي بشپړدین اسلام دی) ﴿لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ﴾ لپاره ددې چي غالب کړي دغه (دین) پرنوروټولودینونوباندي ﴿وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ﴾ اګر که بدګني داکارمشرکان ؛ ځواب یې محذوف اوهغه داچي غلبه دهغه ده.

بلاغت:

۱- ﴿فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦ﴾ دلته صیغه دامراوحقیقت یې وعیددی لکه داقول چي: ﴿ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ﴾ فصلت: ۴۰

۲- پدې کلام کي چي الله فرمایې: ﴿وَيَوۡمَ حُنَيۡنٍ﴾ دلته عطف دخاص په عام راغلی چي پدې باندي اشعارورکړي چي نصرت وروسته له نا امیدي اوخوښي وروسته له غمه راغله اودغه نوددې غزا دشأن لوړوالی ښیې.

۳- کله چي فرمایې: ﴿وَضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ﴾ ددوی هغه دمشکل اوناکامي حال یې دهغه چاله حال سره مشابه کړچي دومره خواشینی وي څمکه ورته تنګه احسي اوپدې کي استعاره راغلي ده.

۴- ﴿إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ﴾ دلته صیغه دحصر دافادې لپاره اوبلیغه تشبیه پکي راغلي اوپه اصل کي داچي دوی لکه نجس غوندي دي دتشبیه ادات حذف شوی اوددوی باطني اواعتقادي پلیتي له نجس سره مشابه کړي ده اوهمداراز پکې دي چي: ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ یعني لکه خدایان غوندي په حکم منلو اودهغوی دتحریم اوتحلیل په اطاعت کي دلته بیابلیغه تشبیه ده.

۵- ﴿فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ﴾ دلته له ننوتلو څخه په نژدې والي تعبیرشوی دی.

۶- کله چي الله فرمایې: ﴿أَن يُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ﴾ دلته مراد له نورالله څخه داسلام نوردی څکه اسلام په خپلوړانګو اوقاطعو دلائلو له روښانه لمرسره مشابه شوی اودغه هم له باریکو استعاراتو څخه یوه استعاره ده.

لطیفه:

علامه قرطبي وایې چي دالله جل جلاله داقول چي ﴿لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ﴾ پدې دلالت کوي چي نژدې والی اوقرابت دادیانو معتبردی نه دابدانو اوپدې کي یې دغه بیتونه لیکلي دي:

یقولون لي دارالاحبة قددنت * وأنت كئيب ان ذا لعجيب * فقلت وماتغني ديارقريبة * اذالم يكن بين القلوب قريب.

ماته يې ويل چي ددوستانو كورنژدې شو * نوته چي غمجن يې دغه عجيبه خبره ده !؟ ماورته ويل چي
دكورونو نژدې والى كته نلري * كله چي دزړونو په مينځ كي نژدېوالى نه وي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ
وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ
بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا
كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي
كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ
أَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾
إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِيُوَاطِئُوا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ
اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٧﴾ يَا أَيُّهَا
الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا
مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا
أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ
نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ
إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ
الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ انْفِرُوا خِفَافًا
وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ لَوْ كَانَ
عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا
مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٤٢﴾ عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ
الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُجَاهِدُوا
بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ
قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ التوبة: ٣٤ – ٤٥

مناسبت او تړاو:

کله چي الله د يهودانو او نصرانيانو د مشرانو او رئيسانو حال بيان کړ چي تکبر او تجبر يې درلود د ربوبيت دعوی يې کړې وه نو ورپسې يې د لته د هغوی طمع حرص او د خلګو د مالونو د خوړلو حال بيان کړ چي د دوی تحقير وښيې او ناپوهي يې څرګنده کړي څکه دوی دين د خپلو هيلو او د نياوي ارزوګانو لپاره په کارول او د غه نهايته سپک او ذليل کار دی بيا الله د دوی او مشرکينو قبائح يادوي او د عمومي پاڅون بلنه کوي او د منافقينو هغه له جهاد څخه د پاتي کېدنو موقف او دريز بيانوي.

لغتونه:

(الاحبار) د يهودانو علماء (الرهبان) د نصاراوو علماء عبد الله ابن مبارک رحمه الله وايي:

وهل افسد الدين الاالملوک * واحبار سوء ورهبانها[1]

يعني آيا دين پرته له پاچهانو او د چتي بېکاره رهبانيانو او عالمانو څخه بل چاهم خراب کړيدی ؟! بلکه نه يې دی خراب کړی او نو موړي کسان دين فاسدوي. (يکنزون) کنز جمع او تېولولو ته وايي او په حديث کي راځي (الا اخبرکم مايکنز المرء المراة الصالحة) يعني زه تر ټېولو غوره څېز چي خلګ يې د ځان لپاره خوندي کوي دروښيم ؟ هغه نېکه او صالحه مېرمن ده وروسته بيا يې استعمال په خزانو کي راځي هغه چي سره او سپين زر پکي خښ او پټ وي. طبري وايي: کنز هرشي ته چي يو له بله او ډلي او مجموع وي هغه که سربېره په ځمکه وي او که د ځمکي په تل کي ويل کېږي[2] (تکوی) کئ داغ ته ويل کېږي او هغه د کوم فلزي څېز چي خورا ګرم وي په کوم غړي اېښودلو ته چي پټوکی وسوزي ويل کېږي او په متلونو کي راځي چي: (آخر الدوآء الکی) يعني وروستی علاج داغ اېښودل دي (النسئ) تأخير ته وايي په حديث شريف کي راځي (وينساله فی أثره) يعني په اجل کي يې تأخير راځي. زمخشري وايي چي (نسئ) ديوې مياشتي حرمت تربلي پوري ته وايي (ليواطئوا) مواطاة موافقت ته وايي ويل کېږي چي (تواطأ القوم) کله چي د يوپټ کار په کولو کي موافقي ته ورسېږي (انفروا) نفر په بېړه سره وتلو ته وايي لکه چي په آيت کي راځي: (ولواعلی ادبارهم نفورا) (اثاقلتم) اصل يې (تثاقلتم) وو يعني د رانه شوی تاسي او بېړه مو نه کوله (عرضا) هغه د نيوي منافع چي انسان ته وړاندي کېږي او دوام نه مومي او په حديث شريف کي راځي: (الدنياعرض حاضر يأکل منه البر والفاجر) يعني د د نيا منافع حاضر دي او هرصالح او طالح سړی يې څني خوري (الشقة) اوږده او ليري مسافه (واټن) چي په مشقت سړی ور رسېږي. جوهري وايي چي د (مشقة) معنا ليري سفر دی[3] ګواکي له مشقت څخه اخيستل شوی دی.

د نزول سبب:

کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له طائف او د حنين له غزا څخه راستون شو خلګو ته يې د روميانو سره د غزا کولو امر وکړ او دا په سخت وخت کي وو چي د کاختي کلونه ، موسم خورا ګرمي او د خلګو اړتياوي زښته

---

(1) القرطبي ٨ / ١٢٠
(2) الطبري ١ / ١٣١
(3) القرطبي ٨ / ١٥٤

زياتي وې خرماوي پخې وې په خلګوباندي درومیانوغزاډېره سخته وه غوښتل يې پخپلومالونو تولولو او کورونوکي سيوري ته و اوسي جګړې ته وتل ورته سخت ښکارېدل چي الله دغه آيتونه نازل کړل: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ ﴾ دآيت تر پایه (١)

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ ﴾ اي هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (اي مؤمنانو) بېشکه ډېرله عالمانو د(يهودو) اوعابدانو د(نصرانيانو) خامخاخوري دوی مالونه دخلګوپه باطل سره (حرام رشوت) ﴿ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ ﴾ اومنع کوي (خلګ) دالله له لارې (چي په اسلام کي داخل شي) ابن کثيروايي چي په آيت شريف له علماء السوء اوګمراه عبادت کارانوڅخه تحذير دی ابن عيينيه وايي : که زموږعلماء فاسدشي نولکه ديهودانواحبار اوکه زموږ عبادت کاران فاسدشي لکه دنصرانيانورهبان غوندي دي (٢) ﴿ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ ﴾ (اوهغه کسان چي خزانه کوي سره زراوسپين زر) يعني مالونه اوثروتونه جمع کوي ﴿ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (اونه (يې) لګوي په لاره دالله کي) يعني زکات يې نه باسي دخير ښېګڼي په کارونو کي يې نه لګوي. ابن عمررضی الله عنه وايي: کنز ترهغومال ته وايي چي زکات يې نه وي ورکړی اوکله چي يې زکات ورخني ورکړي بیاکنزنه بلل کېږي ﴿ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴾ (نوزيرې ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره) دغه زېرې ورکول تهکم (استهزاء) ده چي دوی ته په دوزخ کي ددردناک عذاب زېرې واوروه . زمخشري وايي چي بېشکه خبره همداده چي ديهودو نصاراوو اودغه (کانزين) يې سره نژدې راوړل چي پردې دلالت وکړي چي څوک په ناحقه مالونه خوري او څوک چي دخپل مال زکات نه ورکوي په عذاب کي يوډول مستحق دي اودا تغليظ هم دی (٣) ﴿ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ ﴾ (په هغې ورځي چي سختي سرې به کړی شي دغه خزانې ددوزخ په اورکي) يعني په غرغندو د دوزخ په اورکي به داسي سرې شي چي داغونه به ورباندي ولګول کېږي ﴿ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ ﴾ نوداغلی به شي په هغه سره تندي (وچولي) ددوی او اړخونه ددوی اوشاګاني ددوی. ابن مسعود رضی الله عنه وايي: قسم په هغه ذات چي له هغه څخه بل برحق معبودنشته داسي نه کېږي چي يوبنده دي پخپل کنز داغول کېږي او دينار په دينار دپاسه يادرهم په بل درهم دپاسه به داغونه ورباندي ایږدي بلکه خرمن به يې دومره پراخه شي چي هردينار او درهم به جلاجلا ورباندي اېښودل کېږي (٤) اود نوموړوځايونو ځانګړتيا په داغونوسره ددې لپاره دی چي هربخيل کله چي فقيرمخامخ راتلونکی ويني نوتندی (وچولی)

---

(١) اسباب النزول للواحدي

(٢) القرطبي ٨ / ١٥٤

(٣) الكشاف ٢ / ٢٦٢

(٤) الطبري ١٠/ ١٢٤

ترېو کړي کله چي ورته راشي اړخ ور وګرځوي او چي څه خني وغواړي نو شا ورو ګرځوي. قرطبي وايي: چي داغ په مخ کي ډېر مشهور او بد دی او په اړخ کي بيا دردونکی او همدا راز په شا باندي سوځېدونکی دی نو ځکه له ټولو غړو څخه دغه اندامونه ځانګړي یاد شول (۱) ﴿ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ﴾ (او ورته به وويل شي) دا هغه شی دی چي خزانه کړي وو تاسي لپاره د ځانونو خپلو نو وڅکئ تاسي (خوند د سزا د هغه مال چي وی تاسي خزانه کاوو به مو) يعني دغه به د تقريع او تبکيت په ډول ورته وويل شي. په صحيح مسلم کي راغي: چي هرڅوک چي د خپل مال زکات نه ورکوي هغه ته به د قيامت په ورځ داورتختې جوړې شي او اړخ، تندی او شا به يې ورباندي تر هغو داغل کېږي ترڅو چي الله د بندګانو ترمينځ فيصله کوي هغه ورځ چي پنځوس زره کاله به يې اندازه وي (او) بيا به خپله لاره ور وښود له شي يا جنت ته او يا هم اورته ﴿ إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا ﴾ (بېشکه چي شمار د مياشتو په نزد د الله کي دوولس مياشتي دی) يعني د مياشتو معتبر شمېر د الله په نزد په شريعت او حکم کي دوولس دی او دا هم د سپوږمۍ په منازلو کي ځکه شرعي احکام په سپوږمېزو مياشتو پوري اړه لري ﴿ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ په لوح محفوظ کي ﴿ يَوۡمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ ﴾ هغه ورځ چي پيدا کړي يې دي آسمانونه او ځمکه ابن عباس رضی الله عنه وايي: چي الله په هغه امام کتاب کي چي په نزد د ده دي په هغه ورځ چي آسمانونه او ځمکه يې پنځولي ليکلي دي ﴿ مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞ ﴾ د هغو (له جملې) څني څلور مياشتي محرمي دي ؛ چي ذی القعدة، ذیحجة، محرم او رجب دي او محرمي ځکه وبلل شوې چي محترمي او دعظمت خاوندي دي ثواب پکي زيات ېږي او قتال پکي حرام دی ﴿ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُۚ ﴾ دغه سم دين دی يعني مستقيم شريعت دی ﴿ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ ﴾ نو ظلم مه کوئ په دغو کي په ځانونو خپلو باندي يعني د دغو محرمو مياشتو د حرمت هتک مه کوئ او ګناهونه يا د محرماتو ارتکاب پرېږدئ ﴿ وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ ﴾ او جنګونه کوئ (ې مؤمنانو) له مشرکانو سره ټول لکه چي دوی له تاسي سره جنګونه کوي ټول ﴿ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ او پوه شئ بېشکه الله له پرهېزګارانو سره دی (په نصرت او تائيد سره) او پدې کي د متقيانو لپاره زېری او ضمانت نغښتی دی ﴿ إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ ﴾ بېشکه دغه تأخير (د حرمت د يوې مياشتي بلي مياشتي ته) په کفر کي ډېروالی دی (ځکه دغه تحريم د حلالو او تحليل د حرامو دی دغه په کفر د پاسه بل کفر دی مفسرين وايي: عرب د جنګونو او تاړاکونو اهل وو او پر دوی باندي په دغو محرمو مياشتو کي قتال حرام وو نو کله چي به حرامه مياشت په دوی راد بره شوه او دوی به په جګړه اخته ول پر هېښودلای يې نشوای نو بهيې د هغې پر ځای بله مياشت حرامه وګڼله او دغه به يې د جګړې لپاره حلاله اعلان کړه لکه چي دوی به د مياشتو حرمت له يوې څخه بلي ته ور پرې کاوو ډېر ځله به يې محرم حلال ګڼلی او صفر المظفر به يې حرامه کړي وه ترڅو په کال کي څلور محرمي مياشتي پيدا کړي ﴿ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ چي ګمراه کاوه شي پدې (عمل) سره هغه کسان چي کافران شويدي (په ضلالت سربېره به بل ضلالت ور کاوه شي) ﴿ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا ﴾ حلالوي دوی دغه

---

(۱) القرطبي ۸ / ۱۲۹

(میاشت حرامه) یوکال (پکي جنګ کوي) اوحراموي دوی (پرېږدي په حرمت سره) دغه (حرامه میاشت بل کال
﴿لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ﴾ لپاره ددې چي پوره کړي دوی شمېردهغو میاشتوچي الله حرامي کړي دي
﴿فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ﴾ نوحلالوي (په زعم خپل سره) هغه میاشتي چي الله حرامي کړي دي. مجاهدوایي
چي : دبني کنانة له قوم څخه یوتن وو هرکال به دحج موسم ته په خره سپورراتو اوداسي اعلان به یې وکړ :
ایها الناس اني لاأعاب وأجاب ولامرد لما أقول: اې خلکو زما عیب نه ګڼل کېږي اونه څوک راسره ځواب ویلای شي
نه زما په خبره کي تردېدشته یعني زما خبره بدلېدونکي نه ده موږ دمحرم میاشت حرامه کړي اوصفر المظفر مو
وروسته کړي بیابه راتلونکی کال راغی اعلان به یې وکړ چي موږ صفر میاشت حرام کړی اومحرم مو وروسته
کړي نودغه دالله جل جلاله قول دی چي فرمایې: ﴿لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ﴾ [1] ﴿زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ
أَعۡمَـٰلِهِمۡۗ﴾ (ښایسته کړی شویدي دوی ته ناکاره عملونه ددوی) یعني شیطان دوی ته ددوی بداعمال ښایسته
کړي چي دوی یې ښه ګڼي ﴿وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَـٰفِرِينَ﴾ اوالله نه ښیې سمه صافه لار (د نېکمرغی)
دکافرانو قوم ته ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ﴾
اې هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی (اې مؤمنانو) څه باعث دی په تاسي کله چي وویل شي تاسوته چي ووزئ
په لاره دالله کي (غزاته) درانه (اومائل کېږئ) ځمکي ته استفهام دتقریع اوتوبیخ لپاره دی اودغه د جهاد په
پرېښودلو اودا راز دهغه چالپاره عتاب دی څوک چي دتبوک له غزا څخه پاتي شوی وو معنایې داده اې مؤمنانو
څه سبب دی کله چي درته وویل شي جهادته ووزئ نو تاسي درنېږئ دراته شئ دنیاته میلان کوئ او شهوت مو په
مخه واخلي دسفرپرېښونه اوتکالیف نه خوښوئ ؟! ﴿أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ﴾ آیاراضي
شوي یې تاسي پدې دنیوي ژوندله (نعمتونو) دآخرت نه یعني د فاني دنیامتاع مود باقي دنیاله نعمتونو څخه
غوره کړی دی ؟ ﴿فَمَا مَتَـٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ اوندی نفع اخیستل د دوې دنیوي
ژوند په (مقابل دنعمتونو) دآخرت کي مګرلږ (حقیر) دی اوبیایې د جهاد په پرېښودلو ورته وعید واورول چي :
﴿إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ که ونه وزئ تاسي (غزاته اوله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره
ولاړنشی) نوپه دردناک عذاب سره به الله تاسي معذب کړي) چي په دنیاکي به دښمن درباندي غالب اوپه آخرت
کي به سوځونکی اوردرکړي. ابن عباس رضی الله عنه وایي چي: دنیوي عذاب دغه دباران نه اورېدل پردوی دی
﴿وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ﴾ اوبدل به راولي (بل) قوم چي غیرله تاسي دی یعني تر تاسو به بهتراوغوره وي او
درسول الله خبره به ښه اوري اومني ﴿وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـًٔاۗ﴾ (اونه به رسوئ تاسي ضرر دغه الله (یارسول الله)
ته دهیڅ شي یعني تاسو به په دغه له جهادڅخه درونډوالي باندي ضرر ونه رسوئ ، الله پاک له عالم څخه غني
اوبې پروادی ﴿وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ﴾ (اوالله په هرشي (چي اراده یې وفرمایې) ښه قادردی) چي
له دې څخه په دښمنانو باندي دبري موندل پرته له تاسو دی. امام رازي وایې چي پدې کي د سخت زجر تنبیه ده چي

(1) الطبري ۱۰/۱۳۴

الله قادردی عجز ورباندي نه راځي اوپه کوم عذاب چي داخته کولووعده ورکړي هغسي کوي(۱) ﴿ إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ ﴾ که تاسي مرسته ونکړئ له دغه (رسول الله صلی الله علیه وسلم) سره نو په تحقیق مرسته فرمایلي ده الله دهغه (رسول الله) سره دشرط ځواب محذوف اوهغه داچي که تاسو ورسره مرسته ونکړئ نوژردی چي الله ورسره مرسته وکړي اوپدې باندي دغه توري اوکلماتي چي فرمايي: ﴿ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ ﴾ دلالت کوي یعني که تاسو ورسره مرسته ونکړئ ژردی چي هغه الله تعالی بې مرسته وکړي کوم چي هغه وخت یې مرسته وکړه چي دی دوهم ددوو وو نه ورسره انصاراونه هم څوک اعوان وو ﴿ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ کله چي راویوست دی له مکې نه هغوکسانوچي کافران شوي وو یعني له مکې نه مدینې منورې ته په هجرت اړکړای شو دایستلونسبت یې ځکه کفاروته وکړچي هغوی دی دغه دهیواد پرېښودلوته اړکړاوددهٔ وژلونو توطئې یې کولې ﴿ ثَانِىَ ٱثْنَيْنِ ﴾ (حال داچي دی دوهم ددوو وو) یعني دریم ورسره څوک نه وو یوازي محمدصلی الله علیه و سلم اوابوبکر صدیق رضی الله عنه وو ﴿ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ ﴾ کله چي دوی دواړه په غارکي وو (په جبل ثور) کي ﴿ إِذْ يَقُولُ لِصَـٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ﴾ (کله چي ویل (محمدصلی الله علیه وسلم) ملګري خپل (ابوبکرالصدیق رضی الله عنه) ته مه خفه کېږه بېشکه الله له موږسره دی (په معاونت اونصرت سره) یعني دابوبکرالصدیق رضی الله عنه دزړه د خوشحالولواودادیني لپاره یې ورته ویل چي غم مکوه الله له موږ سره په نصرت اوکومک کولوکي دی. له انس رضی الله عنه څخه روایت کېږي فرمايي: چي ابوبکر الصدیق رضی الله عنه وویل : کله چي زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دننه په غارکي وم اودمشرکانوپښې زموږ په سردپاسه وې نوماوویل : اې رسول الله که ددوی څوک له خپلو پښولاندي وګوري موږبه وویني ! رسول اللهصلی الله ﷺ بیا داسي راته وفرمایل: (ماظنك باثنين الله ثالثهما) ته په هغو(دووتنوڅه ګمان کوې چي الله یې دریم وي؟(۲) اودابوبکر الصدیق رضی الله عنه دخواشیني سبب درسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله وو نورسول الله ﷺ دهغه دزړه دتسکین لپاره له خفګان کولوڅخه منع کړ ﴿ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ ﴾ نونازل کړالله تسکین خپل پردغه (رسول خپل باندي) ﴿ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ اوتائيد وفرمایه (الله) درسول الله (پداسي) لښکرو سره چي نه لیدلی تاسوهغوی)چي په غارکي یې ددوی حراست اوڅارنه کوله﴿ وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلسُّفْلَىٰ ﴾اووګرځوله الله کلمه دهغوکسانوچي کافران شوي دي (دمشرکانو) ښکته ﴿ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِىَ ٱلْعُلْيَا ﴾ (اوکلمه دالله (دتوحید چي لااله الاالله دی) همدغه لوړه غالبه) یعني دهغې په سبب یې مسلمانان عزتمن کړل اواشرار اومشرکین یې ذلیل وګرزول ﴿ وَٱللَّهُ

(۱) الرازي ۱۲/ ۲۱
(۲) الطبري۱۰/ ۱۳۴

عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه غالب ښه حکمت والادی (هسي کوم کارنه کوي ترڅوچي پکي حکمت اومصلحت نه وي) ﴿ ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا ﴾ (ځئ) غزاته) حال داچي سپک اوسئ اودرانه) يعني اې دمؤمنانوټولی غزا ته ووزئ ځوانان اوبوډاګان ، پياده او سپاره په خوښي اوغم ، په زحمت اوراحت يعني په ټولو حالاتو او ظروفو کي ﴿ وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ﴾ اوجهادکوئ تاسي په مالونوخپلو اوپه ځانونوخپلوپه لاره دالله کي (لپاره داعلاء دکلمې) ﴿ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴾ (دغه (تګ غزاته) بهتردی تاسي ته که يې تاسي چي پوهېږی) يعني دغه نفيراوجهاد تر تثاقل اومخکي ته ميلان کولو چي په لږ دنيوي متاع باندي راضي کېږی غوره دی که تاسوپدې پوهېږی. په البحرکي وايې چي په دنياکي يې بهتري داده چي په دښمن غلبه مومي دځمکي وراثت درته رسېږي ، په آخرت کي دالله جل جلاله رضا اوستر ثواب درکول کېږي(۱) بيا الله تعالی دهغه چاحوال بيانوي چي دتبوک له غزاڅخه يې تخلف کړی وو اوهمداراز د منافقينو درېز څرګندوي ﴿ لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ ﴾ (که وي مال نژدې اوسفرآسان نوخامخا متابعت به کړی وو دوی ستا) يعني که چېري هغه څه چي دوی ته يې بلنه ورکوې دولجې آسانه لاس ته راتلونکی مال وای اومنځنی سفر وای چي ليري نه وي خامخابه دوی له تاسي ددغي ولجې ترلاسه کولولپاره وتلي وای نه دالله لپاره ﴿ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ ﴾ ليکن ليري شوي ده پردوی باندي مسافه (ځکه نو دوی دوتلوپه هکله خپل عذر وړاندي کوي ددوی په زړونوکي نفاق دی ﴿ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ ﴾ (اوژربه قسمونه وکړي منافقان پرالله که زموږ طاقت وای نوخامخابه موږله تاسره وتلي وای) يعني دوی به په دروغو قسمونه خوري عذربه وايې (۲) چي که چېري زموږ توان وای خامخابه درسره وتلي وو اوکه چېري زموږمالي توان او يابدني طاقت وای له وتلوڅخه به وروسته شوي نه ووالله جل جلاله ددوی په رداوتکذيب کي فرمايې :

﴿ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ ﴾ دوی خپل نفسونه هلاکوي (په دروغو قسمونوسره) ﴿ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴾ اوالله پوهېږي چي ببشکه دوی هرومرو دروغجنان دي (پدې دعوی کي) ځکه دوی دوتلو توان درلود خوونه وتل ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ ﴾ (عفوه وکړه الله له تانه دڅه لپاره (اذن) ورکړ تادوی ته) دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په عتاب کولوکي تلطف راغلی او دده صلی الله عليه وسلم داکرام لپاره يې عفوه ترعتاب دمخه راوړي اومعناداچي : الله وبښلې (سامحک الله) اې محمده دغومنافقينوته دي ولي په يوازي عذرويلو دپاتي کېدلو اجازه ورکړه ؟! ﴿ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴾ او(ولي دي پرې نه ښودل) ترهغوچي ښکاره شوي وي تاته هغه کسان چي رښتوني دي (په دغه عذرکي) اومعلوم کړي وي تادروغجنان. مجاهد وايې چي دغه دمنافقينو په هکله نازل شويدی ځني ددوی وويل له رسول الله څخه دپاتي

(۱) الطبري ۱۱/۱۴۲

(۲) دغه اخباربالغيب دی يعني کله چي ته دتبوک له غزانه راستون شې نودوی به په دروغو لوړې کوي عذرونه به وړاندي کوي اوهمداسي وشول اودغه دقرآن له څرګندومعجزاتو څخه يوه ده.

کېدلو اجازه وغواړئ که یې اجازه درکړه نوبه راوګرځئ اوکه یې اجازه نه درکوله نوبه پخپله خوښه کرارکېنئ(۱) نودوی ددې ترڅنګ کړی ووچې غزاته به نه ځي که څه هم رسول الله دپاتي کېدلو اجازه ورنکړي څکه الله اخبار ورته کوي چې مؤمنان له ده څخه استیذان نه کوي ویې فرمایل: ﴿ لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ نه غواړي اجازه له تانه هغه کسان چې په الله اوپه ورځ د قیامت یې ایمان وي ﴿ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۗ ﴾ (چې جهاد وکړي دوی پخپلومالونو اوځانونو سره) یعني دوی دجهاد په نفس اومال سره دکرکې اونفرت کولو په سبب دپاتي کېدلو اجازه نه غواړي څکه دوی هغه اجرونه اوثوابونه پېژني چې الله پاک دنېکانو مجاهدینو لپاره تیارکړي نوځرنګه به دوی له جهادنه پاتي شي ؟! ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ اوالله ښه عالم دی په پرهېزګارانو) څکه دوی په خپل ایمان کې اخلاص اوله رحمن ذات څخه وېرېدونکي متقیان دي ﴿ إِنَّمَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چې اجازه غواړي له تانه (اې محمده دتخلف) هغه کسان چې ایمان نه لري په الله او ورځې دآخرت (چې قیامت دی) یعني اې محمده له تاڅخه یوازې منافقین دپاتي کېدلو اجازه غواړي چې ایمان یې په زړونوکې ځای نه دی نیولی ﴿ وَٱرۡتَابَتۡ قُلُوبُهُمۡ فَهُمۡ فِي رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُونَ ﴾ او شکمن دي زړونه ددوی دالله اوثواب په هکله یې) نودوی په خپل شک کې سرګردانه دي ,نه پوهېږي چې څه وکړي .

بلاغت:

۱ - ﴿ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا ﴾ د(یحرمون) او(یحلون) ترمینځ دطباق صنعت دی چې له بدیعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي.

۲ - پدې کلام چې فرمایې: ﴿ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴾ دلته ایجازبالحذف راغلی یعني آیاتاسو ددنیاپه نعمتونو اولذتونو دآخرت ترنعمتونو اولذتونوخوښ اوراضي یاست ؟!.

۳ - ﴿ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ﴾ داهسې استفهام دی چې انکاراوتوبیخ پکې دی.

۴ - دلته چې الله جل جلاله وایې: ﴿ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ دضمیرپرځای یې اسم ظاهرغوره کړی چې په نسبت دآخرت ددنیاسپکاوی اوحقارت ځرګند کړي.

۵ - ﴿ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا ﴾ پدغه کلام کې اشتقاقي جناس پروت دی.

---

(۱) مفسرین کرام وایې چې له دغه ایت شریف څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم مقام اوستره مرتبه اولوړتیاځرګندېږي لومړی یې دعفوې اوبښنې زېری ورکړ اوبیایې دګناه خبرتیا ورکړه اوکه چېرې یې دعتاب په ډول اول ځل ورته فرمایلي وای چې ﴿ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ ﴾ نوددې وېره وه چې زړه یې له غمه چودلی وای (عون) وایې: آیاتردې ښه ترټنه مو اورېدلې ده ؟ترپخواله ګناه یې دعفوې ورته ناري کړې زه وایم چې زمخشري دلته څه ویلي درسول الله له مقام سره بې ادبي ښکاري.

٦-کله چي فرمايي: ﴿ وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ ﴾ دکافرانو کلمه له شرک څخه استعاره ده لکه چي دالله کلمه له ايمان او توحيد څخه استعاره را وړل شوي ده.

٧-د ﴿ خِفَافٗا ﴾ او ﴿ وَثِقَالٗا ﴾ ترمينځ د طباق صنعت دی.

٨ - پدې کلام کي چي ﴿ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ ﴾ دلته يې مشقت له اوږده اوليري سفرڅخه استعاره راوړی کوم چي په نفس باندي ربړ او مشقت باروي (اوګواکي يو له بله سبب او مسبب دي).

٩ - ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ ﴾ دغه خبر ددې لپاره دی چي خوښي په خفګان له مخه کړي او هغه چاډېر ښه ويلي دي چي الله په خپل نبي يو دا لطف کړی چي عفوه يې تر عتاب له مخه ورته ښودلې ده.

فائده: روايت کاوه شي چي يو اعرابي ابن عمررضی الله عنهما ته وويل: ماته ددې قول دالله چي فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ ﴾ معلومات راکړه نو ابن عمر رضی الله عنه ورته وويل: چي څوک مالونه راغونډ وي او زکات يې نه ورکوي داپخوا ترديې وو چي د زکات حکم نازل شي او کله چي زکات فرض شونو د مالونو د پاکوالي سبب وګرزېدو. ابن عمر وويل: که زه لکه د احد غر غوندي سره زرولرم زکات يې ورکوم او دالله جل جلاله په طاعت اولارکي يې لګوم زه يي پروانکوم (او عيب يي نه بولم) !! [1]

تنبيه:

دغه آيت شريف چي فرمايي: ﴿ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ ﴾ د حضرت صديق په سترقدر اولوی فضيلت دلالت کوي چي الله جل جلاله د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په غارکي ملګری وتاکه او په هجرت کي يې رفيق کړ؛ نو علماء وايي که چېري څوک د ابوبکر له صحبت څخه انکار وکړي کافر دی ځکه دالله کتاب يې ونه مانو!

لطيفه:

حيان بن زيد وايي موږ له صفوان بن عمر سره جهاد ته تلو چي د دمشق يو بوډا لوېدلی سپين ږيری مو وليد ورو څي يې په سترګو راپرتې وې په خپل سورلي سپور وو چي ورسره مخامخ شوم ورته و يل مي کاکاته خو الله ﷻ معذور ګڼلی يې نو هغه پداسي حال کي چي ورو څي يې له سترګو پورته کړې راته ويل يې: اې وراره الله پاک موږ (خفافا وثقالا) رابللي يو څوک چي دالله خوښ وي ابتلاء ورکوي او بيايې راستون کړي اوژوندی پاتي شي الله ﷻ د شکر، ذکر او صبر انسانان چي له الله پرته دبل هيچا عبادت نه کوي د ابتلاء لپاره غوره کوي [2]

زه وايم چي الله دي په داسي پاکو سپيڅلو نفسو نو رحم وکړي چي خپل ارواح يې دالله دخوښي اورضا په بدل کي پلورلي دي.

---

[1] رواه ابن ماجه

[2] الطبري ١٣٨١٠

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَٰكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا
مَعَ الْقَاعِدِينَ (٤٦) لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ
سَمَّاعُونَ لَهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (٤٧) لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ حَتَّىٰ جَاءَ الْحَقُّ
وَظَهَرَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ (٤٨) وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ائْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّي ۚ أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ
وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ (٤٩) إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۖ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ
يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ (٥٠) قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا
هُوَ مَوْلَانَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (٥١) قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ
نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ (٥٢) قُلْ
أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ ۖ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ (٥٣) وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ
إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ
(٥٤) فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ
(٥٥) وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ (٥٦) لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ
مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ (٥٧) وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ
يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ (٥٨) وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ
وَرَسُولُهُ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ (٥٩) ۞ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ
لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ
فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (٦٠) ﴾ التوبة: ٤٦ - ٦٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د منافقانو يادونه وکړه او جهادته د تللو لپاره يې د هغوی سستي وښوده دلته يې د دوی ځيني بد اعمال لکه مکر، دوکه، تېرايستل او د مسلمانانو په مينځ کې د اختلاف او فتنې اوربلول او د مسلمانانو په ربړونو او تکاليفو خوشحاله کېدل راوړل او دا يې بيان کړل که دوی جهادته ووزي هم د مسلمانانو لښکر وته به پرته له پرشاتګ او کمزوري بل څه ور ونه ښيي د مسلمانانو لښکر به تيت او پرک او د صف يووالی به يې لوټې لوټې کړي او نور د دوی د پربد جرمونه او افعال يې راوړل.

لغتونه

(انبعاثهم) په یو کار کي را پورته کېدل (فثبطهم) (تثبط) دانسان له یو کاره څخه چي قصد يې د کولو کړی وي بیرته راګرځېدلو ته وايي (خبالا) خبال شر او فساد ته وايي او مخبول هم چي معتوه ته وايي له دغه څخه اخيستل شوی دی چي عقل يې فاسد وي (ولاوضعوا) ايضاع دتګ اوچت والي او سرعت ته ويل کېږي (یجمحون) (جمح) په تلوار سره منډي وهونکي ته وايي او ويل کېږي چي: (فرس جموح) يعني هغه آس چي ملوني يې راګرځولی نشي (يلمز ک) (لمز) عيب ته وايي ويل کېږي چي (لمزه فلان) يعني فلاني يې عيب وواېو جوهري وايي چي: په اصل کي دسترګو اشارې کولو ته وايي او کله چي وويل شي (رجل لماز) معنا يې داچي عيب ويونکی سړی[۱] (الغارمين) پوروړي (غارم) مديون او پوروړي ته وايي په اصل کي (غرم) ديو مشکل دلزوم لپاره راځي غرام لازم عذاب ته ويل کېږي او چي عشق ته غرام وويل شوځکه هغه يو مشکل او لازم امردی اودين ته هم چي غرام وويل شوځکه چي په نفسونو باندي شاق وي.

دنزول سبب يې:

کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم دتبوک غزاته دتللو اراده وفرمايله نو (جدبن قيس) منافق ته يې وويل: ته دبني الاصفر په جهاد کي څه وايې؟ يعني د رومیانو سره دغزا کولو په هکله.... نو هغه وويل: اې رسول الله زما قوم پدې پوهېږي چي زه ښځي ډېري خوښوم نو که مي د روميانو ښځي وليدې پدې وېرېږم چي په فتنه کي به ولوېږم صبر به ونلرم نو ما په فتنه کي مه اچوه او دپاتي کېدلو اجازه راکړه زه به مالي کومک درسره وکړم نو رسول الله يې دمال له اخيستلو څخه اعراض وفرمايه او ورته يې وويل: زما له خوا درته دپاتي کېدلو اجازه ده نو دا آيت نازل شو ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّيٓ ﴾[۲] دآيت تر پايه

تفسير:

﴿ وَلَوْ أَرَادُوا۟ ٱلْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً ﴾ (او که اراده وای ددوی دوتلو غزاته له تاسره) نو هرو مرو تيار کړی به وو دوی دپاره دوتلو غزاته څه اسباب دتياري) يعني که دغو منافقينو له تاسره غزاته دوتلو څه اراده نيت درلودای نو به يې دوسلې او توښې څه بندو بست کړی وای خو دوی هسي ونکړل دغه ددوی دنه تللو په اراده دلالت کوي ﴿ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمْ ﴾ (ليکن نه وو غوره کړی الله پورته کېدل ددوی غزاته) يعني ددوی وتل يې درسره نه خوښول ﴿ فَثَبَّطَهُمْ ﴾ نو (الله) دوی سست کړل (په زړونو کي يې سستي وروا چوله) ﴿ وَقِيلَ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ﴾ او وويل شو دوی ته چي کېنېنئ تاسي له (کور) کېنېناستونکو سره (چي ماشومان، ښځي او معذوره کسان دي دغه ددوی دپاتي کېدلو ذم او بدي ده او په آيت شريف کي دعليه السلام لپاره ډاډينه ده چي دمنافقينو په وتلو کي هيڅ فائده او مصلحت نشته بلکه زيان او ضرر دی چي وېې فرمايل:

---

(۱) الصحاح للجوهري

(۲) اسباب النزول ص: ۱۴۲

﴿ لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا ﴾ نو كه وتلي وى دغه (منافقان) په (لښكرد) تاسي كي نو نه به وو زيات كړى دوى تاسي ته (هيڅ) شى مګرشر، خرابي اوچغلي ﴿ وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ ﴾ او خامخاچابكي به كړي وه دوى په مينځ ستاسي كي په چغلى كولو ﴿ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ ﴾ حال دا چي دوى به تاسي ته فتنه غوښتله (چي ستاسي ترمينځ دښمني پيدا كړي) ﴿ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡ ﴾ او په تاسي كي (دكمزوري زړونو خلګ) شته چي ددوى خبره مني اوغوږ ورته نيسي (١) ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او الله ښه عالم دى په (ظاهر اوباطن دمنافقينو) ظالمانو ﴿ لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ ﴾ خامخاپه تحقيق دوى پخوالا ئتولي وه فتنه چي اصحاب تيت اوپرک كړي ،لكه چي ابن سلول له أحد څخه خپل ملګري راستانه كړل ﴿ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ ﴾ (اواړولي يې وو تاته ټول كارونه) يعني چلونه او دوكې يې درته لټولې چي ستا ددين مخنيوى وكړي ﴿ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ ﴾ (ترهغه پوري چي راغى حق اوښكاره غالب شو حكم د الله) يعني د الله نصرت راغى اودين يې په نورو اديانو برى وموند ﴿ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴾ حال داچي دوى بد ګڼونكي وو (دنفاق له مخي يې ايمان راووړ) ﴿ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ ٱئۡذَن لِّي وَلَا تَفۡتِنِّيٓ ﴾ اوځيني له دغو (منافقانو) څخه هغه څوک دي چي وايي اجازه راكړه ماته (دپاتي كېدلو) اومايه فتنه كي مه اچوه !(چي درسره ولاړشم) ابن عباس رضى الله عنهما وايي چي : دغه آيت د(جدبن قيس) په هكله نازل شويدى كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دتبوک دغزالپاره راوباله ده ورته ويل : اې رسول الله ماته دپاتي كېدلواجازه راكړه او د روميانودښځوپه فتنه كي مي مه اچوه (٢) ﴿ أَلَا فِي ٱلۡفِتۡنَةِ سَقَطُواْۗ ﴾ الله وفرمايل چي : خبردار په فتنه كي (لاپخوا) لوېدلى وو) چي له كومي فتنې څخه يې فرار كاوو پكي ولوېدل چي هغه بلكه ترهغه لويه فتنه همداله جهاد څخه تخلف اوددوى دكفراونفاق څرګندتياده . ابوالسعودوايي چي : له افتنان څخه په فتنه كي دغورځېدلو تعبيردديې لپاره دى چي هغه يې لكه ژوره كنده غوندي څرګنده كړه چي ددي ښكارندوى دى چي دوى به داسفل سافلين په دركاتوكي لوېږي (٣) ﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (اوبېشكه چي دوزخ هرومرو په كافرانو چاپېر كېدونكى دى) يعني دوى ورڅخه دتېښتي لاره نلري لكه لاس وندى چي په لاس چاپېروي هغسي به ورباندي راګرزېدلى وي اوپدې كي سخت وعيددى ﴿ إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ ﴾ (كه ورسېږي تاته كومه ښېګڼه نودوى خفه كېږي) يعني كه په ځيني غزاګانو كي تاته بريااليتوب اوغنيمت ورسېږي دوى ورباندي خفه كېږي ﴿ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ ﴾ اوكه ورسېږي تاته كومه سختي نووايي دوى په

(١) مجاهدوايي چي معنايې داچي په تاسي كي ددوى لپاره جاسوسان شته چي خبري اوري دوى ته يې رسوي خولومړى معناڅرګنده اومشهوره ده اوقتاده ويلي ابن كثيرغوره كړي ده.
(٢) سبب النزول
(٣) ابوالسعود ٢ / ٢٧٥

تحقيق نيولي وو موږكار (داحتياط) خپل يعني كه چېري تاته زخم، مرګ ، ژوبله اوناكامي ورسېږي نودوى خوشحاله شي اووايي موږ احتياط كاوو اودجهادډګرته مو ونه دانګل چي له بلاوژغورل شو ﴿ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴾ (اوشا ګرځوي دوى حال داچي دوى خوشحاله وي[1]) يعني دوى ستاسي له مجلسه ځي شا اړوي اوستاسي په مصيبت خوشحاله وي ﴿ قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا ﴾ (ووايه (اې محمده دوى ته !) له سره به ونه رسېږي موږته مګرهمغه چي الله ليكلي وي زموږلپاره) يعني موږته به خيراوشر وبره ،اميد، سوكالي اوربړونه هيڅكله هم ونه رسېږي مګرهغه دتقدير ليكلي به راته رسېږي ﴿ هُوَ مَوْلَىٰنَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴾ (همدغه (الله) دى كارجوړونكى زموږ اوخاص پرهمدغه الله باندي دي نوتوكل كوي مؤمنان) يعني همدغه الله زموږحافظ او ناصردى اومؤمنان دي خپل ټول امورهم ده ته وسپاري اوله ده پرته دي په بل هيڅ توكل اواعتمادنه كوي ﴿ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ﴾ ووايه (اې محمده ! دغومنافقانو ته چي آياانتظاركوى موږ ته مګر ديوله دوونېكيو څخه (چي شهادت ، يانصرت دى) ﴿ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا ﴾ (اوموږ انتظاركوو تاسي ته (ديوې له دووبديوڅخه) چي ورسوي الله تاسي ته كوم عذاب له خپلي خوا ، يازموږپه لاسونو) يعني موږ ستاسولپاره دووسختوعذابونو سترګي په لاريوياداچي الله پاک موپخپل عذاب باندي هلاک اوپوپناكړي اويامو زموږپه لاسونووژني ﴿ فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴾ (نوانتظار كوئ تاسي بېشكه موږهم له تاسوسره انتظاركونكي يو) يعني تاسودهغه څه انتظاركوئ چي موږ ته رسېږي او موږ به تاسوته ددرسېدلوانتظار باسو اوپدې كي وعيداو تهديدنغښتى دى ﴿ قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ ﴾ ووايه (اې محمده ! منافقانو ته) چي لګوئ (خپل مالونه په هرشان يې چي لګوئ) په رضا ، ياپه زور(داسلام) له سره به قبول نكړى شي له تاسي څخه طبري وايې : چي دغه كه څه هم امردى خومعنايې اخباردى لكه چي بل ځاى الله فرمايې : ﴿ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾ (التوبه ٨٠) يعني له دوى څخه به دغه دمالونولګول هيڅ كله ونه منل شي ([2]) ﴿ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴾ (تاسي يې يوقوم فاسقان) دغه ددوى دانفاق دنه منل كېدلوعلت دى يعني تاسودالله له طاعت څخه سرغړونكي داسلام له دائرې وتونكي ياست اوبيادغي خبري تاكيديې پدې آيت شريف كي وفرمايل چي: ﴿ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ ﴾ اوندى منع كړى دوى له دې چي قبول كړى شي له دوى نفقې (وركړې) ددوى مګر هم دې خبري چي بېشكه دوى كافران شوي دي په الله اورسول ددغه (الله) ﴿ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ ﴾ اونه راځي دوى لمانځه ته مګرپدې حال چي دوى سست وي اونه لګوى (په لاره دالله كى هيڅ مال)مګر په دى حال كى چي دوى ناخوښه وى په البحر كى ليكى چى الله تعالى ددوى دنفقاتو دنه قبلولو سبب ددوى كفر ذكركړ ورپسى

([1]) قرطبي وايې چي دوى له ايمانه مخ اړوي اودغه خوند وركوي وربانديٰ خوشحاله وي.
([2]) الطبري ١٠/ ١٥٢

هغه څه راوړل چې ددې مستلزم وو هغه ددوی راتلل لمانځه ته په سستی سره اوداچې دوی هغه نفقې (کرهًا) ورکوي هغه پدې چې دوی يې دثواب تمه نلري اونه له عذابه وېرېږي دنېکي له کارونو څخه يې دغه دوه چې يوې نفقه لګول اوبل لمونځ دی راوړل ددې لپاره چې دادواړه خوراستراعمال دي لمونځ دبدني اعمالو ترټولو خوراسترعمل دی اوفي سبيل الله نفقه ورکول دمالي اعمالو خوراغوره عمل دی[1] ﴿ فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ (نو تا دې په تعجب کې نه اچوي (ډېر) مالونه ددوی اونه (ډېر) اولادددوی (ځکه چې دغه ټول استدراج دی) بېشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله ددې چې عذاب ورکړي دوی ته په سبب دهغو(شيانو) پدې دنيوي ژوندکې) يعني اې اورېدونکي دغه ددوی ډېرمالونه اولادونه مه ګڼه اومه وربانديې تېروزه ځکه چې ظاهراً نعمت بلل کېږي خوپه واقعيت کې عذاب دی الله پاک دوی ته پدغه استدراج سره په دنياکې عذاب ورکوي. بيضاوي وايي: ددوی عذاب داچې ددې مالونو په راټولولوکې دوی ډېرمره تکاليف اوربړونه ګالي اوپه ساتنه کې يې ډېرمره مشکلات په غاړه اخلي او پدې هکله له ډېرمره زياتو کړاوونو اومصيبتونو سره لاس اوګرېوان دي[2] ﴿ وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴾ (اوپه سختي اوغم) راووزي ساوي ددوی حال داچې دوی کافران دي) يعني دوی هسي ومري چې کافران اوددنياپه زينت اوتمتع لګيادي آخرت ته يې فکرنه وي چې هلته يې نورهم عذاب سخت وي ﴿ وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ ﴾ (اوقسمونه کوي په الله چې بېشکه دوی ستاسي (له ډلي) دي حال داچې دوی ستاسي (مسلمانانو) له ډلي څخه نه دي) ځکه چې باطني کفرلري) ﴿ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ يَفۡرَقُونَ ﴾ وليکن دوی (داسي يو) قوم دی چې وېرېږي (له تاسي چې دوی به ووژنئ لکه چې مشرکان وژنئ نوځکه تش په نامه اسلام ښکاره کوي اوپدې باندي قسمونه اولوړي اخلي ﴿ لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا ﴾ که دوی دپناه ځای و مومي (چې هلته لاړشي) ﴿ أَوۡ مَغَٰرَٰتٍ ﴾ ياغارونه (سمڅې) چې هلته پټ شي ﴿ أَوۡ مُدَّخَلٗا ﴾ ياکوم بل ځای دننوتلو (که څه هم تنګ وي) ﴿ لَّوَلَّوۡاْ إِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُونَ ﴾ نوخامخابه ګرزېدلي وو دوی هغه ته حال داچې دا منډې به يې وهلې (لکه پرې شليدلي آسونه چې هيڅ شی دوی نه شي راګرزولای له آيت شريف څخه مراد مؤمنانوته تنبيه ورکول دی چې دغه منافقين که څېرې په تېښته وتوانېږي که څه هم سمڅې تنګ غارونه اويانور ځايونه وي نودوی به په منډه هلته لاړشي ځکه دوی تاسوسره سخت بغض اوعداوت لري نوددوی په دروغجنو قسمونو مه تېروزئ ﴿ وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ اوځيني له دغو(منافقانو) څخه هغه دي (اې محمده !) چې دصدقاتو په وېشلوکې ستاعيب وايي ﴿ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ ﴾ نوکه ورکړی شي دوی ته ددوی له غوښتني سره سم) له هغې څخه راضي کېږي (دغه ستاکارېې خوښېږي) ﴿ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ﴾ (او که ورنکړی دوی ته (ددوی له غوښتني سره سم) له هغه څخه نو هغه وخت دوی په قهرېږي) اوستاعيب وايي. مفسرين کرام وايي چې رسول الله ﷺ کله چې دحنين د غزا غنيمتونه يې وېشل له منافقانوڅخه يوڅوک چې (ذوالخويصرة) نومېده

---

[1] البحرا لمحيط ٥ / ٥٣

[2] البيضاوي ص: ٢٣٢

راغی اورسول الله صلی الله ته یې وویل: عدل وکړه اې محمده! ته عدل نکوې نورسول الله صلی الله علیه وسلم په خواب کي ورته وویل: (افسوس تالره چي زه هم عدل ونکړم نوبه یې څوک کوي؟) دحدیث ترپایه[١] ﴿ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ﴾ اوکه په تحقیق دوی راضي شوي وای (په هغه مقدار دولجې اوصدقې) چي ورکړي وه دوی ته الله اورسول دالله (که څه هم لږوای) ابوالسعود وایي: چي دالله تعالی یادول دتعظیم لپاره دی اوپدې تنبیه ده چي دغه درسول الله صلی الله علیه وسلم وېش هم دالله جل جلاله په امروو[٢] ﴿ وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ ﴾ اوویلي وای دوی چي کافي دی الله موږلره (له جهت دفضل اوانعام پرموږباندي) ﴿ سَيُؤۡتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ ﴾ ژربه راکړي الله موږته له فضل خپل (صدقه اوغنیمت اورسول دالله له بل غنیمت څخه (تردې زیات چي اوس یې راکړل) ﴿ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴾ (بېشکه موږ الله ته رغبت کونکي یو) یعني دالله طاعت، فضل اواحسان ته راغب یو دلوٛ ځواب محذوف دی او تقدیریې داسي کېږي چي: (لکان خیراً لهم) یعني دابه ددوی لپاره غوره وو. امام رازي رحمه الله وایي چي: دلو ځواب نه راوړل دلته ددې لپاره دی چي په تعظیم اوهیبت زیات دلالت وکړي لکه چي ته یوچاته وایې که چېري ته راغلی وای نو.....دځواب یادونه ونکړې یعني دېرزیات څه به دي لیدلي وو[٣] بیاالله تعالی دزکات دلګښت ځایونه داسي بیانوي ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ ﴾ بېشکه هم داخبره ده چي زکات (صرفېږي) لپاره دفقیرانو اومسکینانو (اودهغه چالپاره چي الله نوملي دي) آیت شریف په همدې اتوتولګیوکي حصرکوي نونه دی رواچي بل چاته دي ورکول شي؛ فقیرهغه چاته وایې چي یوڅه لږي اومسکین هغه دی چي هیڅ هم نلري. یونس وایې چي ماله یوأعرابي څخه پوښتل آیا ته فقیریې ویل یې نه والله زه مسکین یم اوچابیاویلي چي مسکین ترفقیریوڅه درلودونکی وي اوپه دې مسئله کي خلاف دی ﴿ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا ﴾ اومقرر شوو پرهغې (تحصیل دصدقې) ﴿ وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ ﴾ اوهغوی ته چي الفت اچول کړی شوی په زړونوددوی کي (له اسلام سره). طبري له صفوان ابن امیه څخه روایت کوي چي هغه وویل بېشکه ماته رسول الله مال راکړچي هغه ماته خورا مبغوض وو خوتل ترتله به یې پرماپېرزوینه کوله آن تردې چي ترټولوخلکوماته محبوب شو[٤] ﴿ وَفِي ٱلرِّقَابِ ﴾ او(صرفېږي) په خلاصولو دغاړوکي (چي له مریتوب څخه آزادشي) ﴿ وَٱلۡغَٰرِمِينَ ﴾ اوپوروړوته (چي پورورباندي دروند شوی وي) ﴿ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ او (صرفېږي) په لاره دالله کي یعني مجاهدینو او سرحدساتونکو ته ورکول کېږي هغوی ته وسله اوسامان ورباندي رانیول کېدای شي ﴿ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ ﴾ او (صرفېږي لپاره) دمسافرانو (چي مال نلري) ﴿ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ ﴾ مقرر اولازم کړی شوی دی دغه فریضه زکات) له جانبه دالله (لپاره ددغومصارفو ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴾ (اوالله په هرڅه ښه پوه اودحکمت خاوند دی) یعني الله دخلکوپه مصالحو ښه پوه اوهیڅ کارنکوي مګرهغه چي

([١]) روح المعاني ١٠ / ١١٩

([٢]) ابوالسعود ٢ / ٢٧٧

([٣]) الرازي ١٦ / ٩٩

([٤]) الطبري ١٠ / ١٥٧

دحکمت غوښتنه او تقاضا وي. په تسهيل نومي کتاب کي وايي چي: په دغو اتو ډلو کي يې دزکات وېشل منحصر پدې و ګرځول چي دمنافقينو تمه و کاږي نو دغه آيت دمعنا په لحاظ په هغه پوري وتړل (١) شو کوم چي منافقان ستاعيب وايې پکښې راغلي چې: ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِى ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾.

بلاغت:

١ - ﴿ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً ﴾ دلته جناس اشتقاقي راغلی او همدارنګه په دي کلام کي چي: ﴿ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ﴾.

٢ - کله چي الله تعالی فرمايې: ﴿ وَلَأَوْضَعُوا۟ خِلَٰلَكُمْ ﴾ طيبي وايې چي دلته تبعيه استعاره ده ځکه ددوی چابک فساد اچول دخلګو ترمينځ په چغلي کولو سره يې دسپاره له چابک تګ سره مشابه کړاو بيايې دهغه لپاره (ايضاع) استعاره راوړه هغه چي له اوښ سره ښايې نو اصل يې دا شو چي دوی ستاسو په مينځ کي دچغلي کولو په سورليو سره چابکي کوي (٢).

٣ - ﴿ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ پدې کلام کي استعاره ده چي ددوی لوېدل يې په دوزخ کي ددښمن له چاپېر کېدلو او يا دلاس وندي له لاس سره په چاپېر کېدلو مشابه کړل چي ورباندي را تاو شوی وي او اسميه جمله يې په ثبات او استمرار باندي ددلالت کولو لپاره غوره کړه.

٤ - ﴿ إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ ﴾ پدې آيت کي دبدېعي محسناتو څخه هغه تو کي شته کوم چي مقابله يې بولي.

٥ - کله چي فرمايې: ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ﴾ جار او مجرور يې په فعل باندي دمخه ذکر کړل چي (قصر) افاده کړي او دالله جل جلاله پاک نوم يې دضمير پرځای ظاهر ذکر کړ چي دهيبت او روعت معنا وروزي.

٦ - پدې کلماتو کي چي راغي: ﴿ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ دلته دطباق صنعت دی او همدارنګه دخوښي او نا خوښي په نورو کلماتو کي چي ﴿ رَضُوا۟ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا۟ مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴾ پدې کي نوموړی صنعت شته.

٧ - پدې کلام کي چي ﴿ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ پکي راغلی دفعيل صيغه دمبالغې لپاره يعني دستر علم او حکمت خاوند دی.

---

(١) التسهيل ٢ / ٧٩

(٢) روح المعاني ٢ / ١١٢

لطيفه:

زمخشري دالله تعالى پدې قول کي چي فرمايي: ﴿ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ﴾ راوړي چي دغه
ددوى ذم او بدي بيانوي او ددوى کمزوري او عجز په ګوته کوي دوى له ښځو، ماشومانو او بوډاګانو سره
پټليږکوي

تنبيه:

ابن کثيروايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغى نوټولو عربانو په يوه
لينده وويشت او دمدينې يهودانو او منافقانو ورسره دښمني وکړه کله چي الله پاک په بدر کي نصرت
اوبرى ورپه برخه کړ او کلمه يې لوړه شوه ابن أبى منافق وويل: دادى چي اوس يې رامخه شوه نو په
ظاهري توګه په اسلام کي داخل شول او هر کله چي به الله پاک اسلام او مسلمانانو ته برى ورکړ دوى ته به
غصه ورغله او خپه کېدل به ځکه الله تعالى وفرمايل: ﴿وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ﴾ (١)

الله تعالى فرمايي:

﴿وَمِنۡهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٞۚ قُلۡ أُذُنُ خَيۡرٖ لَّكُمۡ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ
وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦١﴾ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ لِيُرۡضُوكُمۡ وَٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ
جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٣﴾ يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي
قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ
وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن
طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿٦٦﴾ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ
يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ
هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ
وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴿٦٨﴾ كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا
فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي
خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ

(١) المختصر ٢/١٧٤

ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ
رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٧٠﴾ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ
بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٧١﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ
جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٧٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ
ٱلۡمَصِيرُ ﴿٧٣﴾ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا
نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي
ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٧٤﴾ ﴾ التوبة: ٦١ – ٧٤

مناسبت اوتړاو:

لاتراوسه آيتونه دمنافقينو کړه وړه ښيې او مسلمانان ددوی له پلمو ، دوکو اوفرېبونو وېروي پدغه آيتونو کي الله ددوی يوبل ډول قبح اوبدي بيانوي هغه داچي پيغمبرصلی الله عليه وسلم ځوروي په دروغو قسمونه خوري اوالله تعالی په آيتونو اوسپېڅلي شريعت باندي ملنډي وهي اوداسي ناولي کارونه اوپليت خويونه لري.

لغتونه:

(أذن) جوهري وايې چي دأذن معناهغه سړی چي دهرچاخبره اوري اوپدې کي دواحداوجمع دواړويوه صيغه ده (۱) اوزمخشري بياوايې چي د(أذن) معناهغه څوک دی چي دهرچاپه خبره باورکوي اومني يې اوپه هغه غږي (غوږ) باندي نومول شوی چي داورېدلولپاره دی. (يحادد) دښمنی کوی(محاده) مخالفت ته وايې لکه (مشاقه) غوندي څکه اچي هريو دمتخاصمينوپه جلاشق اوحدکي وي (بخلاقهم) ددوی په ونډه کی(خلاق)

نصيب اوونډي ته وايې اوړومبی تېرشولکه چي د ﴿ وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ ﴾ البقرة: ٢٠٠ په کلام کي (خضتم) ډوب شوئ خوض په لهو اوباطل کي غوپه کېدلوته وايې اوداوبوله ډوبېدلوڅخه استعاره شوی دی (حبطت) باطل اوابته شوثواب دهغه (والمؤتفكات) (ائتفاک) هر اوښتون اوانقلاب ته وايې اوچاپياويلي چي دحال اوښتون ته وايې چي له خيرڅخه شرته واوړي.

---

(۱) الصحاح للجوهري

دنزول سبب:

أ:- يوه ډله منافقينو به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان کي داسي څه ويل چي ورسره به نه ښائېدل او رسول الله صلى الله عليه وسلم به يې څوراوو او نورو به بيا دغو کسانو ته ويل چي داسي مه کوئ موږ وېرېږو څه چي تاسي واياست هغه به څوک ورته ورسوي او راته به تاوان وکړي نو (جلاس بن سويد) وويل: چي موږ هر څه چي موږ ژړه وغواړي هغه وايو او بيا چي هغه ته ورشو زموږ په خبرو باور کوي هغه (محمد) اورېدونکی غوږ دی (غوږ) نو الله دا آيت نازل کړ ﴿وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ﴾ دا آيت تر پايه.[۱]

ب:- مجاهد وايې چي منافقانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم عيب وايو او بيا به يې پخپل مينځ کي سره ويل خدای مکړه زموږ رازونه څرګند او ونه پاشل شي الله دا آيت نازل کړ چي ﴿يَحْذَرُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِى قُلُوبِهِمْ﴾[۲].

تفسير:

﴿وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِيَّ﴾ (ځيني له دوی هغه کسان دي چي نبي ته آزار رسوي) پخپلو خبرو او کړو وړو باندي ﴿وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ﴾ (او وايې چي دغه (رسول) غوږ ونه دي) يعني هره خبره چي واوري مني يې او تصديق يې کوي ﴿قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ﴾ ووايه (اې محمده) دوی ته چي نبي اورېدونکی دنېکي (خبري) دی ستاسي يعني هغه د خير لپاره تصديق کونکی دی نه د شر لپاره کله چي خير واوري عمل ورباندي کوي او چي شر واوري عمل نه ورباندي کوي ﴿يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ باور لري (په کلام د) الله او باور کوي په (خبرو د) مؤمنانو ځکه د دوی د ايمان په اخلاص خبر دی ﴿وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ﴾ او رحمت دی د پاره د هغو کسانو چي ايمان يې راوړی له تاسو نه) ځکه دی يې د ايمان راوړلو سبب وو ﴿وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ او هغه کسان چي آزار رسوي رسول الله ته چي دده په شان کي بې مناسبه وايې) مقرر دی دوی ته عذاب دردناک په آخرت کي ﴿يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ﴾ قسمونه خوري دوی په الله تاسي ته چي دوی تاسي راضي کړي يعني وايې چي موږ د رسول الله په هکله داسي څه نه دي ويلي چي د هغه عيب او نقص پکي وي ﴿وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ﴾ او الله او رسول د دغه (الله) ډېر حقدار دی دد ې خبري چي دغه منافقان يې راضي کړي) او دغه رضايت بې له دې چي د الله اطاعت وشي د رسول الله متابعت او تعظيم تر سره شي په بل څه کي نشته ﴿إِن كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ﴾ که وي دوی ايمان راوړونکي (په حقه سره نو الله او رسول الله دي راضي کړي) ﴿أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ﴾ آيا ندی پوه شوي دوی په دې چي ببشکه شان دادی هر څوک چي

---

(۱) اسباب النزول ص: ۱۴۳

(۲) زاد المسير ۳ / ۴۶۳

مخالفت کوي دالله (او مخالفت کوي) د رسول د دغه (الله) ؟ يعني دغه منافقين پدې نه پوهيږي چي څوک دالله او رسول يې دښمني او مخالفت کوي؟ استفهام دتوبيخ لپاره دی ﴿ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ﴾ پس بېشکه مقرردی ده ته اوردوزخ حال داچي همېشه به وي په دغه دوزخ کي ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ او همدغه (خلود) رسوايي ده ډېره لويه) چي دخلکو په وړاندي به رسواشي ﴿ يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ ﴾ وېرېږي دغه منافقان له دې نه چي نازل کړی شي پردغو (مؤمنانو دقرآن داسي يو سورت چي خبروي دغه (مؤمنان) په هغه (نفاق) چي په زړونو ددوی کي دی ﴿ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ ﴾ ووايه (اې محمده ! دوی ته توبيخًا) چي کوئ تاسي مسخرې (څرنگه چي موږه غواړې) دغه امر دتهديد لپاره دی لکه چي بل ځای هم الله تعالی فرمايي : ﴿ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ ﴾ فصلت ۴ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ﴾ بېشکه چي الله ښکاره کونکی دی دهغو (خبائثو ستاسي) چي وېرېږي له ښکاره کولو نه دهغو. زمخشري وايي چي دوی په اسلام ملنډي او استهزاگاني کولې اوله دې وېرېدل چي الله دوی په وحی را استولو باندي گنه رسوانکړي آن تردې چي ځيني کسانو يې وويل په الله لوړه چي زموږ داخوښه ده چي سل دُرې دي ووهل شو خو زموږ په باب کي دی داسي څه رانازل نه شي چي موږ رسوا کړي(١) ﴿ وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ ﴾ (٢) (او که خامخاته (اې محمده) له دوی نه پوښتنه وکړې (چي تاسي ولي استهزاء کوله) نو ضرور به وايي : خامخاچي بېشکه همداخبره ده چي وو موږ چي مجلس اولوبي موکولې) يعني موږ په خپلو خبرو کي جدي او ټينگار کونکي نه وو خو دټوکو ټکالو په ډول مو وويل . طبري وايي کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم دتبوک غزاته روان شو او په وړاندي يې يوه ډلگۍ منافقان وو نو دوی ويل : وگورئ دغه سړي ته ! غواړې دشام ماڼۍ او برجونه فتح کړي هيهات ، هيهات ! ! بيا الله جل جلاله خپل پيغمبر پدغه خبره وپوهاوو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : تاسو داسي وويل ؟ ! نو دوی وويل : اې دالله نبي موږ باندار کاوو او يوازي ټوکي موکولې نو داآيت نازل شو چي : ﴿ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ﴾ ووايه (اې محمده ! دغو منافقينو ته چي) آيا په الله او په آيتونو دالله او په رسول دالله پوري وی تاسي استهزا کونکي ؛ استفهام دتوبيخ لپاره دی . بيا الله ددوی حال رسوا کړ او داسي يې وفرمايل : ﴿ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ ﴾ عذرونه مه کوئ تاسي (پدغو دروغو قسمونو سره تاسو ته وروسته ستاسي له رسوايي دغه پلمې گټه نه رسوي) او په تحقيق کافران شوي يې (داسلام په طعن سره) وروسته له (اظهارد) ايمان ستاسي نه) يعني تاسو خپل کفر د پيغمبر په آزار څرگند کړ وروسته له هغه چي ايمان مو څرگند کړی وو ﴿ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ ﴾ که عفوه وکړو موږ له يوې ډلي له تاسي څخه (دتوبې او اخلاص په وجه) ﴿ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴾ (نو ضرور به عذاب (هم) ورکړو (بلي ډلي ته په سبب ددې چي دوی بېشکه گناهگاران وو) ځکه دوی په نفاق او گنهکاري اصرار کړی ﴿ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ ﴾ (نارينه منافقان او ښځي ځني ددوی له ځينو نورودي) يعني

(١) الکشاف ٢ / ٢٨٢

(٢) دغه دقتاده روايت او په تفسير طبري کی هم راوړل شوی دی.

دوی په کفر اونفاق کي ګردسره يوشان دي داسي ورته والی لري لکه ديوشي اجزاوي. په کشاف کي وايې چي پدې قول سره چي: ﴿ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٍۚ ﴾ دامراددی چي دوی هډوله مؤمنانو څخه نه دي اودوی پخپله هغه ويناکي چي ويل يې: ﴿ وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ ﴾ (التوبه ٥٦)د روغجن دي([1]) بياالله جل جلاله دوی په دې مخالفت وستايل چي ددوی حال دمؤمنانودحال په شان نه دی ﴿ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ ﴾ (دوی حکم کوي په منکراتو اومنع کوي له نېکيوڅخه) يعني په کفراو ګناهونو خلګوته امرکوي اوله ايمان اوطاعت څخه خلګ رامنع کوي ﴿ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ ﴾ اوکلک نيسي دوی لاسونه خپل (له في سبيل الله انفاق څخه ﴿ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ ﴾ دوی الله هېرکړی دی (اوطاعت يې نه کوي) نو(الله) يې برخي کړي دي دوی (له خپل رحمت اوفضل نه اولکه چي هېرکړي يې وي) ﴿ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ اوبېشکه چي منافقان هم دوی دي فاسقان) وتلي له طاعته دالله نه اودغه زجردمنافقانو لپاره کافي دی ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ ﴾ الله وعده کړي له منافقانوسړيو اومنافقاتوښځوسره اوله (ټولو) کفاروسره اورددوزخ (څای) ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ﴾ تل به وي (دوی) په دغه (دوزخ) کي ﴿ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ ﴾ (همدغه دوی ته بس دی) يعني بل داسي عذاب نشته چي له دوزخ سره پرتله شي ﴿ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴾ (اوالله پردوی لعنت کړی اومقرردی دوی ته عذاب تل مدام) يعني الله دوی له خپله رحمته ليري,سپک اوشړلي اوددوی لپاره تل ترتله عذاب دی ﴿ كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ ﴾ (تاسي اې منافقانو) په شان دهغوکسانو بې چي پخواله تاسي څخه وو) دروغجنان وو پدې کي التفات له غيبت څخه خطاب ته دی ﴿ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ ﴾ (دوی ترتاسي سخت وو له جهته دزوره) يعني بدنونه يې غټ اود متوزور يې زيات وو ﴿ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا ﴾ (اوزيات له جهته دمالونو او اولادونو) خوله دې سره سره الله دوی هلاک کړل نو له هغه څه وبرېږئ کوم چي پردوی راغلل ﴿ فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ ﴾ نونفع واخيسته دوی پخپلي برخي (له دنيوي لذتونوڅخه) ﴿ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ ﴾ نوګټه واخيسته تاسي په برخي خپلی لکه چي ګټه اخيستي وه هغوکسانوچي پخواوله تاسي څخه په برخي خپلي سره ﴿ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ ﴾ اوډوب شوی تاسي په باطلوکي لکه چي دوی ډوب شوي وو پخواله تاسي په باطلوکي. طبري وايي: معناداچي اې منافقانوتاسوهغه لاره نيولي چي پخوانيونيولي وه اوددنياله لذتونوڅخه موخپله ونډه واخيسته لکه چي دوی اخيستي وه اوپه دروغوباطل کي هسي ډوب شوی لکه چي دوی ډوب شوي وو نوله

---

[1]) الکشاف ٢ / ٢٨٧

دې وو هرېږئ چې په تاسو هماغسې عذاب رانازل نشي لکه چې پرهغوی راپرېوتی وو(١) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ ﴾ دغه کسان باطل (خراب ابته) شوو عملونه ددوی په دنیا او آخرت کې) نو ددوی لپاره له اوره پرته بل ثواب هيڅ نشته ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴾ او دغه کسان هم دوی دي زیانکاران (په بشپړه توګه بې برخي) ﴿ أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾ (آیا ندی راغلی دوی ته خبر (دعذاب) دهغو کسانو چې پخوا له دوی وو؟) کله چې ﷺ له پیغمبرانو څخه سرغړونه وکړه څرنګه عذاب وربانديراغی؟! ﴿ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ ﴾ (قوم دنوح او عاد او ثمود) یعني قوم دنوح چې په طوفان هلاک شو او د عاد تبرچې په باد هلاک شو او دصالح علیه السلام قوم ثمودیان چې په صیحه (چیغه) تباه شول ﴿ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴾ قوم دابراهیم هغه چې دنعمت په ورکېدلو (سلب) هلاک شول ﴿ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ ﴾ او دشعیب علیه السلام قوم) څښتنان (دښار د) مدین هغه چې د(یوم الظلة) په عذاب هلاک شول ﴿ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ ﴾ او چپه اړول شوي کليو دلوط چې سرپه څېړی له آسمانه راپرېوتل او بیا ورباندي دختو کانو باران وشو ﴿ أَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ ﴾ راوړی دی دوی ته رسولانو ددوی ښکاره معجزې (او دوی بې تکذيب وکړ) ﴿ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ ﴾ نو نه وو الله چې ظلم به یې کاوو په دوی (بلکه ددوی په ګناه یې هلاک کړل) ﴿ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴾ ولیکن وو دوی په ځانونو خپلو به یې ظلم کاوو (په کفر او ګناهونو سره آیا دغه منافقانو ته دغه وېره نه ورلوېږي چې له دوی څخه به هم ددوی د اسلافو غوندي کسات واخيستل شي ؟ کله چې الله پاک دمنافقینو ناولي صفات یاد کړل نو وروسته یې دمؤمنانو سپېڅلي صفتونه هسې بیان کړل ﴿ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ ﴾ او سړي مؤمنان او ښځې مؤمناني ځيني ددوی دوستان دي دځينو نورو (یعني دوی په دین کې سره ورونه دي یو د بل مرسته کوي او مټ یې قوي کوي ﴿ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ ﴾ حکم کوي دوی په (ټولو) نېکیو (چې الله راضي کوي)او منع کوي له (ټولو) بديو (چې دالله دقهر سبب کېږي) دوی دمنافقینو برعکس کارونه کوي ﴿ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ او دروي (له ټولو حقوقو سره سم اداکوي) لمونځ ﴿ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ او دوی زکات ورکوي (دالله درضا لپاره مستحقينو ته) ﴿ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ ﴾ او حکم مني دالله او (حکم مني) درسول ددغه (الله) په هرامر او نهی کې) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ ﴾ دغه کسان ژر به رحم وکړي په دوی الله یعني پخپل رحمت کې به یې ګډ او سترنعمتونه به ورباندي ولوروي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴾ بېشکه چې الله ښه غالب قوي دی ښه دحکمت خاوند دی یعني هغه څوک چې دده اطاعت کوي هغه به مغلوب نشي او سپک کاوه شي هغه چې دالله سرغړونه او عصیان کوي دحکمت خاوند دی چې هر کار په تدبیر

(١) الطبري ١٠/ ١٧٥

اومصلحت كوي كه چاته نعمت وركوي اوكه چاته نقمت (عذاب) دواړه پرخپل ځاى او وړ وي ﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ﴾ وعده كړي ده الله له نارينه وو مؤمنانو اوله ښځو مؤمناتوسره د (ګڼوتت سيورو) جنتونو چي بهېږي له لاندي د (ماڼيواوونود) هغوويالې ﴿خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾ تل به وي دوى په دغو جنتونوكي ﴿وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ﴾ او (وعده كړي ده الله) دځايونو پاكېزه وو (چي ثابت دي) په جنتونودتل اوسېدلو كي . حضرت حسن بصري رحمه الله وايي : چي دغه دملغلرو سرو ياقوتو اوزبرجدو مانۍ دي [1] ﴿وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ﴾ اورضا له جانبه دالله ډېره لويه ده (تردغونعمتونو) په حديث شريف كي راځي چي الله تعالى به جنتيانوته ووايي : اې جنتيانو ! دوى به ورته وايي (لبيك ربنا وسعديک) نوبه الله پاک ورته ووايي : آياراضي شوى دوى به وايي ولي به نه يو راضي چي تاموږ ته هغه څه راكړل چي بل هيڅ مخلوق ته دي ندي وركړي نوالله به ورته وايي : تردې غوره اوبهتربه دركړم دوى به وايي : تردې به لاڅه بهتربل شى هم وي ؟ الله به وفرمايي پرتاسوبه خپله رضاولوروم اوله دې وروسته به هيڅكله هم درباندي په قهرنشم [2] ﴿ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾ دغه (رضا د الله) هم دغه ډېرلوى برى دى (چي ترې زياته نېكمرغي نشته) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ﴾ اې نبي جهاد كوه ته له كفاروسره (په توره) اوله منافقينوسره (په ژبه دحجت) دغه دابن عباس تفسيردى) ﴿وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ﴾ اوسختي كوه پردوى (په جهاد ، قتال او وېرولو) ﴿وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ﴾ اوځاى دورتلو ددوى دوزخ دى ؛ اوبدځاى دبيرته ورتلودى (دغه دوزخ) ﴿يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ﴾ قسمونه خوري دوى په الله باندي چي ندي ويلي دوى (داخبري چي تاته دررسېدلي دي) يعني دغه منافقان قسمونه خوري چي دغه ښكنځل چي تاته دررسېدلي دوى ندي ويلي . قتاده وايي : دغه آيت دعبدالله ابن أبى په شان كي راغلى چي هغه وخت چي دووكسانو ؛ يوجهني اوبل انصاري سره جنګ وو نوجهني په انصاري سربېره وو نوابن سلول انصاروته وويل : آيادخپل ورور مرسته نكوئ؟ په الله سوګند چي زموږ اومحمد مثال هسي دى لكه چي وايي : (سمن كلبک يأكلک) يعني سپى دې چاغ كړه تابه وخوري نودمسلمانانويوتن دغه خبره نبي صلى الله عليه وسلم ته ورسوله او هغه ابن أبى ته يوڅوک ورواستاوو اوپدې هكله يې وپوښتل نو ابن أبى په الله قسم وخوړچي نه يې دي ويلي . الله يې په هكله داآيت نازل كړچي: ﴿وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ﴾ اوخامخاويلي وَو دوى كلمه (الفاظ) دكفر هغه داچي ابن سلول ويلي وو چي (ليخرجن الاعز منهاالاذل) (كه مدينې ته ستانه شوو ورسېدو نوبه ارو مرو خورا عزتمن هغه خوراسپک را وباسي) ﴿وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ﴾ اوكافران شوي دي دوى (ظاهرًاهم) وروسته (له (اظهارد) اسلام خپل ﴿وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ﴾ اوقصديې كړى وو هغه شي ته چي ور ونه رسېدل . ابن كثيروايي : كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دتبوک له غزاڅخه راستنېدو نويوڅوتنو منافقينوچي څه دپاسه لس كسان وو په لاره كي ورته

---

(1) الكشاف ٢/ ٢٨٩

(2) الطبري ١٠/ ١٨٢ والحديث في الصحاح.

كمين نيولى وو - وربوزونه يې ترلي وو دشپې په تياره كي يې غوښتل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته لاس ور واچوي ويې وژنى مګرالله خپل پيغمبر وژغورل ﴿ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ ﴾ اوعيب نه لګاوو دوى (په الله ورسول الله) مګرله دې جهته چي دوى الله او رسول لله غنيان كړل له خپله فضله) يعني دوى درسول عيب ګويې پدې كوله چي الله دخپل نبي په بركت اوسعادت دوى بډايان كړل اوداكلمه هلته چي هيڅ ګناه نه وي ويل كېږي بيا الله دوى توبې ته راوبلل چي: ﴿ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرًا لَّهُمۡۖ ﴾ نوكه دوى له (دغه نفاقه) توبه وايستله نودغه دوى ته خير(غوره) دى. ﴿ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ اوكه بيرته وګرزي دوى (له توبې) نوعذاب به وركړي الله دوى ته عذاب دردناک (سخت) ﴿ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ ﴾ په دنياكي (په وژلو اوبندي كېدلو) اوپه آخرت كي (داورعذاب اودالله قهر) ﴿ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴾ حال داچي نه به وي ده ته په ځمكه كي هيڅ دوست (مددګار چي له عذابه يې وژغوري اويايې دحساب په ورځ سپارښتنه وكړي اوله عذابه نجات وركړي.

بلاغت:

١ - ﴿ هُوَ أُذُنٞۚ ﴾ اصل يې داچي (هو كالأذن) يعني هغه لكه غوږ غوندي دى هرڅه چي ورته وويل شي هغه اوري دتشبيه ادات يې حذف شوى اووجه شبه هم نده ذكرشوي نو ورته بليغه تشبيه ويل كېږي لكه چي ووايې: زيد زمرى دى.

٢ - پدې كلام كي چي فرمايې: ﴿ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ دلته يې درسول اسم په ښكاره ډول راووړ اوپه ضميريې يادنكرچي ويلي يې واى (يؤذونه) اوپدې كي دعليه السلام دشان تعظيم دى او د دوو سترو رتبو(يوځاى كېدلو وياړ وركول شوى چي نبوت اورسالت دى اوالله تعالى ته يې بيااضافت كول دتشريف اوتكريم دزياتوالي لپاره دى[1]

٣ - ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ دلته دبعيداشاره ترقريب غوره شوي چي دهغه دهول اوهيبت ښخه زياتوالى وښيې.

٤ - كله چي الله فرمايې: ﴿ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ ﴾ دلاسونوكلک نيول دبخل اوكنجوسي ننبه ده لكه چي غوړول اوبسط دلاسونو دكرم اوسخاڅرګندونه كوي نوګواكي دلته دكنايې صنعت راغلى دى.

٥ - ﴿ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ ﴾ دغه دمشاكلت په ډول راغلى ځكه چي الله خوڅه نه هېروي يعني دوى دالله طاعت پرې ايښى اوهېركړى الله دوى له خپله رحمته پرې ايښي دي.

٦ - پدې كلام كي چي وايې: ﴿ كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ ﴾ دلته له غياب ښخه خطاب ته التفات راغلى دى ترڅو دزيات عتاب او ټكولو افاده وكړي.

(١) البحر المحيط ٥ / ٦٣

٧ - ﴿ فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ ﴾ پدې کي اطناب صنعت راغلی او مقصد ورځخه ذم او توبیخ دی ځکه دوی خونفیس څېزپه خسیس پلورلی دی.

٨ - کله چي الله تعالی فرمایي: ﴿ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ ﴾ پدې آیت کي د مدحي تاکید بمایشبه الذم دی لکه چي شاعر وایي: (ولاعیب فیهم غیران سیوفهم * بهن فلول من قراع الکتائب) چي معنایې داده: پدوی کي بل عیب نشته خو دا چي توري یې تل دلښکرو په جګړو کی پڅې شوي دي.

فائده:

ابن کثیرله علي کرم الله وجهه ځخه روایت راوړی چي پیغمبرصلی الله علیه وسلم په څلورو تورو (سیوفو) باندي را استول شوی دی یوه توره دمشرکینو لپاره چي الله فرمایي: ﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ (التوبه ٥) بله توره داهل کتابو لپاره چي: ﴿ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ (التوبه ٢٩) بله توره دمنافقینو په هکله چي قرآنکریم وایي: ﴿ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ ﴾ (التوبه ٧٣) او بله څلورمه توره دباغیانو لپاره چي داسي راغلي: ﴿ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِ ﴾ الحجرات ٩[1]

لطیفه:

امام فخررازي رحمه الله فرمایي: کله چي الله مؤمنان پدې وستایل چي ځیني دځیني نورو ولیان (دوستان مددګاران) دي نو وروسته یې پنځه څېزونه راوړل چي مؤمن له منافق ځخه بېلوي منافق په بدو کارونو امرکوي اوله ښو کارونو ځخه منع کوي، لمانځه ته په سستي ولاړېږي، دزکات او نوروواجبو صدقاتو په ورکړه کي بخل کوي، او کله چي دجهاد غږوشي نوهغه وروسته پاتي کېږي اونوروته هم دپاتي کېدلو پلمې ورښیي. خومؤمن د دوی پرضد او برعکس وي هغه امربالمعروف اونهی عن المنکرکوي، لمونځ په اکمله وجه اداکوي، زکات ورکوي دالله اورسول الله طاعت ته په چټکتیا ور درومي ځکه الله ددوی مقابله په آیت کي داډول فرمایي:

﴿ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ ﴾ التوبه ٧١ لکه چي یې دجزاء په هکله هم په یوه داسي لطیفه مقابله کي دجهنم اور له جنات عدن سره راوړی دی[2]

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ وَمِنۡهُم مَّنۡ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٧٥ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضۡلِهِۦ بَخِلُواْ بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ٧٦ فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ٧٧ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ

---

(١) المختصر ٢ / ١٥٢

(٢) تفسیر الرازي ١٦ / ١٣٠ له یو څه لاس وهني سره.

ٱلۡغُيُوبِ (٧٨) ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا
جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٧٩) ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ
مَرَّةً فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ (٨٠) فَرِحَ
ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ
قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ (٨١) فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ (٨٢) فَإِن
رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم
بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ (٨٣) وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ (٨٤) وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ
أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ (٨٥) وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ
وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ (٨٦) رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ (٨٧)
لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ (٨٨) أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ (٨٩) وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ
مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ (٩٠) لَّيۡسَ
عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى
ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ (٩١) وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ
أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ (٩٢) ۞ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى
ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ وَهُمۡ أَغۡنِيَآءُۚ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ (٩٣) ﴾ التوبة: ٧٥ - ٩٣

مناسبت او تړاو:

همداسي آيتونه په پرله پسې توګه دمنافقينو اسرار افشاکوي دحالاتو رازونه يې لوڅوي ترڅوچي مؤمنان پدې وپوهيږي دغه ډلګی داسلام اومسلمانانو لپاره خوراخطرناکه ده.

لغتونه:

(أعقبهم) ليث وايي چي: ددې کلمې چي ووايې: (أعقبت فلانا ندامة) معناداده چي ديوچاعاقبت له حسرت اوندامت سره شي اوداسي ويل کيږي چي: (آكل أكلة أعقبته سقما) يعني هسي خواړه يې وخوړل چي وروپسي رنځ اوناروغي ورته ورسيده (سرهم) رازددوی (نجواهم) پټي خبري هغه چي ددوو تنو ترمينځ وي له

نجوة څخه اخيستل شوي اوهغه هغوپتوخبروته ويل کيږي چي خبري کونکي نه غواړي بل څوک ددوی په خبروکي ګډون وکړي (المخلفون) هغه پرېښودل شوي چي له جهاد څخه وروسته پاتي شوي وي (الطول) غنا اوبډايې ته وايې (المعذرون) هغه چاته وايې چي پرته له عذر څخه عذرلټوي. جوهري وايې چي دغه هغه چاته وايې چي په دروغو عذرونه وايې اصل يې له عذرنه اخيستل شوی دی اوپه متلونوکي راغلي چي: (أعذرمن أنذر).

د نزول سبب:

أ: - روايت کيږي چي يوسړی چي ثعلبه نومېده رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل؛ يارسول الله ماته دعاوکړه چي الله پاک مال راکړي پيغمبرصلى الله عليه وسلم ورته وويل، چي افسوس اې ثعلبه لږمال چي شکريې پرځای کړې ترهغه ډېرمال غوره دی چي دشکرپرځای کولو توان يې ونلرې هغه ورته وويل؛ زما دي په هغه ذات سوګندوي چي ته يې په حقه رالېږلی يې که دي ماته دعاوکړه اومالدارشوم هرچاته به خپل حق ورکوم او ترهغوېې پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته زاري کولې څوېې دعاورته وکړه اومېږې وزې يې رانيولې هسي به ډېرېدلې ته به واچي چنجيان دي مدينه منوره يې په رموباندي تنګه شوه اوبهر ووت اويوازي دمازيګر اوماسپښين لمنځونه به يې کول اوبيابېې مالداري دومره ډېره شوه چي دجمعې اوجماعت لمونځ يې هم پرېښود نورسول الله صلى الله عليه وسلم يې پوښتنه وکړه خلکو ورته وويل چي: هغه اوس دومره مالدارشوی چي وزګار کېدلای نشي نورسول الله صلى الله عليه وسلم درې خله وفرمايل: افسوس دثعلبه په باب نوالله جل جلاله دغه آيتونه رانازل کړل ﴿ وَمِنۡهُم مَّنۡ عَـٰهَدَ ٱللَّهَ لَىِٕنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ ﴾ دآيت ترپايه اوبيانوموړي د حضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت په وخت کي هلاک شو[1]

ب: - له ابن عمررضی الله عنهما څخه روايت کيږي چي هغه وويل: کله چي عبدالله ابن أبی ابن سلول مړشو نو زوی يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی اوځيني ويې غوښتل چي خپل مبارک کميس هغه ته ورکړي تر څوېې دپلارلپاره کفن کړي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ورکړ اوبيابېې ځيني غوښتنه وکړه چي په پلار يې د جنازې لمونځ هم وکوزاري نورسول الله صلى الله عليه وسلم ومنل حضرت عمررضی الله عنه ورته وويل: يارسول الله دالله په دښمن باندي لمونځ جنازه کوې ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: اې عمره رانه وروسته شه ماته اختيار راکول شوی اوراته ويل شوي دي ﴿ ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ ...... ﴾ التوبه ۸۰ دآيت ترپايه اوکه زه پدې پوهېدلای چي تراويا څله زيات استغفار ددوی دبښني سبب ګرزي هماغسي به مي کړي ووو لمونځ يې ورباندي اداءکړ اوبيا ددوری ترځنډي ورسره ولاړهلته يې په قبرودرېدو څه شيبه نه وه تېره شوي چي داآيت نازل شو ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ ﴾ (التوبه ۸۴ دآيت ترپايه[2]

تفسير:

﴿ وَمِنۡهُم مَّنۡ عَـٰهَدَ ٱللَّهَ ﴾ اوځيني له دغو(منافقانو) څخه هغه دي چي عهديې کړی وو له الله سره ﴿ لَىِٕنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ ﴾ چي خامخاکه راکړي (الله) له فضله خپله (مال اوپراخه روزي) ﴿ لَنَصَّدَّقَنَّ ﴾

---

[1] اسباب النزول ص: ۱۴۵ دغه چي مفسرينويادکړی هغه مشهورصحابي ثعلبه بن ابي حاطب نه دی يوبل منافق ثعلبه نومېږي والله اعلم.

[2] مختصرابن کثير۲ /۱۲۱

﴿ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ نو خامخا خيراتونه به ور كوو (فقيرانو ته) هرو مرو (زكاتونه به ترې باسو) او خامخا به شو موږ هرو مرو له صالحانو نه. ﴿ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ ﴾ نو كله چې الله دوى ته (مال) وركړ له فضله خپله شخه (دوى يې بدايان كړل) ﴿ بَخِلُوا۟ بِهِۦ وَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴾ نو بخل يې غوره كړ او بېرته وګرځېدل (عهدېې مات كړ) حال دا چې دوى څنګ كونكي وو (د الله او رسول له طاعت څخه) ﴿ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِى قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ ﴾ پس وګرځاوه (الله) عاقبت (د فعل) د دوى نفاق په زړونو د دوى كې (چې هيڅ به ليرې نشي) تر (هغې) ورځې پورې چې يو ځاى كېږي به له الله سره ﴿ بِمَآ أَخْلَفُوا۟ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ ﴾ په سبب د هغه چې مخالفت كړى وو دوى له الله د هغې خبرې چې وعده كړې وه دوى له الله سره (له تصد ق كولو او صلحيت څخه) ﴿ وَبِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴾ او په سبب د دې چې دوى به دروغ ويل (د ايمان په راوړلو او احسان كولو په هكله) ﴿ أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ ﴾ آيا ندي پوهېدلي (دغه وعده خلافان) چې بېشكه الله عالم دى په پټو (نيتونو د دوى چې په سينو كې يې ځه دي ؟) او په پټو مجلسونو د دوى چې پخپل مينځ كې يې سره كوي) استفهام د توبيخ او تقريع لپاره راغلى دى ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴾ (او ندي پوهېدلي دوى په دې خبره چې بېشكه الله ښه عالم دى په ټولو پټو خبرو يعني الله جل جلاله ته ټول هغه چې له غوږونو ، سترګو او حواسو پټ وي ښكاره او څرګند دي ﴿ ٱلَّذِينَ يَلْمِزُونَ ٱلْمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ فِى ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ هغه منافقان چې عيب وايي په خيرات كونكو له مؤمنانو له (اداء د) صدقاتو كې ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ ﴾ او (بل عيب وايي د هغو بېوزلانو هم) چې هيڅ دوى نه مومي مګر په اندازه د وس خپل پس مسخرې كوي دغه (منافقان) په دوى پورې ؛ طبري رحمه الله وايي چې ابن عباس رضى الله عنهما ويلي دي چې عبد الرحمن بن عوف څلوېښت زره اوقيه سره زر پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته راوړل او كوم انصاري رضى الله عنه يوه پېمانه (صاع) د خرماوو راوړه نو ځينو منافقانو وويل : په الله سوګند چې عبد الرحمن بن عوف دغه خپله صدقه د ريا په توګه راوړه كه څه هم چې الله او رسول د غه يوې پېمانې خرما ته هم اړتيا نلري نو د غه آيت نازل شو[1] ﴿ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنْهُمْ ﴾ سزا به وركړي (الله دوى ته د مسخرو)او دغه كلمه د مِشاكلت په توګه راغلي ده [2] ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او شته دوى ته عذاب دردناك (چې د آخرت دورځې تل ترتله عذاب دى) ﴿ ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾ بښنه وغواړه (د دغو (منافقانو) لپاره او يا مه غواړه بښنه لپاره د دغو(منافقانو) دغه كلام د امرا و معنا يې أخبار دى يعني برابره خبره ده اې پيغمبره كه ته دوى ته بښنه وغواړې او كه نه الله بښنه نه ورته كوي ﴿ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴾ كه او يا كرته دوى ته بښنه وغواړې له سره به الله دوى ته بښنه ونكړي. زمخشري

---

(۱) الطبري ۱۰/ ۱۹۴

(۲) مشاكلت د دو كلمو په لفظ كې اتفاق او معنا كې اختلاف ته وايي.

وايي چي دغه خبره دمتل په توگه ياده شوي کوم چي ددوی په رواج به دتکثير لپاره اويا خله ويل کېدو (١) مگر معنايي داده که ته هرڅومره زيات ددوی لپاره بخشش وغواړې هم الله يي بښنه ورته نکوي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ ﴾ دغه (نه بښل) په سبب ددې دي چي بېشکه دوی کافران شوي دي په الله او په رسول دالله (په سخت کفرسره چي ايمان يې ځرگند کړی او کفريې پټ کړی دی ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته (دايمان راوړلو توفيق نه ورکوي ﴿ فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ ﴾ خوشحاله شوي وو بيرته پاتي شوي (له غزا ځيل نفاق له امله) په کېناستلو خپلو بيرته له رسول الله څخه (کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم دتبوک غزاته روان شو اودوی پخپلو کورونو کي کښېناستل) ﴿ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ او بده گڼله دوی داچي جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره دالله کي (يعني دوی دمال او ځان ترځارولو راحت او هوساينې غوره کړې وه ځکه چي په زړونو کي يې کفر او نفاق وو ﴿ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ ﴾ او دوی به ويل (پخپلو منځونو کي) چي مه ځئ تاسي (دتبوک غزاته) پدغي گرمي کي (کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ددغي غزالپاره خلگو ته دوتلو بلنه ورکړه او سختي گرمي شپې ورځي وې) ابو السعود وايي: چي الله جل جلاله وفرمايل: ﴿ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ او داسي يې ونه ويل چي: (وكرهوا أن يخرجوا الى الغزو) داددې لپاره چي له دې سره سره چي جهاد خوراستر دثواب کار او دشرافت عمل دی داسي ښايي چي په کولو کي خلگ يوله بله سيالي وکړي خو دوی هغه بدگڼله او په هغه عمل او کار چي هغه ترټولو بد او ناولی دی کوم چي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته پاتي کېدل وو خوشحاله کېدل او بيايې خپلو ورونو ته دشر او فساد ماړينه (توصيه) کوله چي په گرمي کي مه وزئ نو دوی دکفر او گمراهي درې خويونه پخپلو ځانونو کي را غونډکړي وو؛ خوښي په پاتي کېدلو له نبوي کاروان څخه، دجهاد بدگڼل او نور خلگ هم له جهاد څخه راگرزول نو الله جل جلاله ددوی په ردکي وفرمايل:
﴿ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ ﴾ (ووايه (اې محمده دوی ته چي هغه دجهنم اور چي تاسو ورتلونکي ياست په سبب دپاتي کېدلو له جهاد نه چي تاسي له دغي تودې هوا څخه وېرېږئ جهاد ته نه درومې. خورا سخت او تلپاتي دی ؛ ددنيا اور خو تېرېدونکی او هغه بل تل ترتله دی له هغه اورنه ولي نه وېرېږئ ؟ زمخشري وايي چي: دغه ددوی استجهال دی ځکه هرڅوک چي ديوې شېبې درېر او تکليف په بدل کي دگردعمر تکليف په ځان مني ترجاهلانو لاپورته جاهل دی(٢) ﴿ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ﴾ که وای دوی چي پوهېدلای (نو هسي به يې نکول له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره دتبوک غزاته تللي وای دغه گرمي به يې په ځان قبوله کړي او له سختي گرمي څخه به يې ځان ژغورلی وای چي تردې څوځلي زياته اوسخته ده خو دوی بيابرخلاف لکه هغه متل چي وايي: (كالمستجير من الرمضاء بالنار) يعني له تودې هوا څخه تښتي اورته ورلوېږي او په پښتو کي متل دی چي (له بارانه يې منډي وهلې ناوې ته ودرېدو) ﴿ فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا ﴾ نو ودي خاندي دوی لږ (په دنياکي) او ودي ژاړي

---

(١) الكشاف ٢/١٩٥

(٢) الكشاف ٢/٢٩٦

ډېر (په آخرت کې) دغه دامر کلماتي دي چي مقصدور څخه اخباردی يعني ژردی چي دوی به لږ وخاندي او ډېربه وژاړي . ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دنيالږ موده ده پکي ودې خاندي چي څومره يې خوښه وي اوژردی چي ډېربه وژاړي کله چي الله جل جلاله ته ورشي نوداسي تل ترتله ژړابه يې په برخه شي چي هيڅ انقطاع به نه لري

(١)﴿ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴾ له جهته دجزاپه سبب دهغه عمل چي دوی به کاوو (له هرډول معاصي اوګناهونو څخه) ﴿ فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ ﴾ اوکه بيرته الله ته (مدينې ته) راوستی يوې طائفې ته له دغو وروسته پاتي شويوڅخه) (هغه چي دتبوک له غزاڅخه بې له عذره پاتي شوي دي ﴿ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ ﴾ نوبياا جازه وغواړي له تاڅخه دوتلو (بلي غزاته) ﴿ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا ﴾ نو ووايه (اې محمده ادوی ته چي له سره به ونه وزئ تاسي له ماسره هيڅکله (دجهادلپاره) ﴿ وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ ﴾ او له سره به ونه جنګېږئ په ملګرتيازماله هيڅ دښمن سره يعني تاسوته به دغه شرافت هډو درپه برخه نشي دغه خبردی خومقصدځني نهی اومنع ده چي مبالغه افاده کړي اوددوی دمذمت په څرګندولوکي راغلی چي ددوی (نفاق لوڅول يې مقصد دی ﴿ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴾ ببشکه چي تاسي راضي شوي يې په کېناستلو (اوپاتي کېدلو) اول واري (دتبوک دغزا په وخت کي) نوبيانااست اوسئ له بيرته پاتي شويو کسانوسره (چي ښځي اوماشومان دي) ﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا ﴾ اولمونځ مه کوه (دجنازې) په هيڅ يوتن له دغو (منافقانو) چي مړشي هيڅکله (ځکه ستالمونځ رحمت دی اوددوی درحمت وړاومستحق نه دي)

﴿ وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ ﴾ اومه درېږه په قبردده (د ښخولو، دعا او زيارت کولولپاره) ﴿ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ ببشکه چي دغه (منافقان) کافران شوي دي په الله او رسول د الله (په ژوندکي چي کفريې پټاوو اسلام يې څرګنداوو ﴿ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴾ اومړه شول حال داچي دوی فاسقان وو(له اسلامه وتلي) اوپه تمرد اوعصيان کي اخته وو ﴿ وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ ﴾ اوتادي په تعجب کي وانه چوي مالونه او اولادونه ددغو(منافقانو چي درته ښه ښکاره شي) ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا ﴾ ببشکه هم داخبره ده چي الله اراده لري ددې چي دوی پدغو (مالونو او اولادونو) باندي په دنياکي په عذاب کاندي (چي ربړونه اومصيبتونه وروويني) ﴿ وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴾ او ووزي ساوي ددوی حال داچي دوی کافران وي (اودوی د خپلومالونو او لادونو مشغولتياله عواقبو څخه غافل کړي دي) ﴿ وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ ﴾ اوکله چي نازل کړشي کوم سورت (تنکير دلته دتفخيم لپاره دی يعني کله چي کوم جليل الشان سورت نازل شي) ﴿ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ﴾ پدې خبره چي ايمان راوړئ تاسي په الله اوجهاد وکړئ تاسي په ملګرتوب درسول دالله (دحق دنصرت اودين دغلبې لپاره) ﴿ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ ﴾ نوله تانه ددوی دقدرت خاوندان (چي مال دولت لري) دپاتي کېدلو اجازه غواړي ﴿ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴾ او وايي دغه (منافقان) پرېږده

(١) مختصر ابن کثير ۲/ ۱۲۰

مورې چي اوسو سره دکور کېناستونکو(الله جل جلاله ددوی په ردکي دتقبيح اومذمت په توګه فرمايي: ﴿ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ ﴾ راضي شول پدې چي وي دوی سره له بيرته پاتي شوو (ښځو ، بوډاګانو اوناروغانو چي پخپلو کورونو کي د عذر له کبله ناست وو) ﴿ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴾ اومهرلګول شوی دی په زړونو ددوی نونه پوهېږي دوی (دجهاد کولو اوپيغمبر داطاعت په اجر اوثواب اوپدې چي په نه منلو کي يې خومره وبال او بدمرغي ده) ﴿ لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ ﴾ (لاکن رسول (دالله) اوهغه کسان چي ايمان لرونکي دي له ده سره جهاديې وکړپه مالونو خپلو اوځانونوخپلو) امام رازي رحمه الله وايي کله چي الله دمنافقينو حال بيان کړ ورپسي يې دپيغمبر اومؤمنانو حال راووړ چي خپل مالونه اوځانونه يې دالله درضا اوتقرب لپاره قربان کړل(١) اومعنادا چي که دغومنافقانوجهادته شاکړه خوتردوی غوره کسانوچي مؤمنان او پيغمبردی دسپېڅلي اوربښتوني نيت اوعقيدې خاوندان دي جهادترسره کړ ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ ﴾ او همدغه کسان همدوی لره ښېګني (ددواړو جهانونوبرياليتوب او ولجې په دنياکي اوجنت ، کرامت په آخرت کي دی ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴾ اودغه کسان هم دوی دي په مراد رسېدلي ﴿ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ﴾ تيارکړي دي الله (دايمان اوجهادپه سبب) دوی ته جنتونه چي بهېږي له لاندي (دمانيو اوونو) دهغو ويالې ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴾ تل به وي دوی په دغو(جنتونو) کي (او) دغه بری دی لوی (چي تردې ستربرياليتوب نشته) ﴿ وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ ﴾ اوراغلل د دروغوعذرکونکي له (صحرائي) اعرابو (چي جهاد ته نه ووتللي) ﴿ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ ﴾ لپاره ددې چي اجازه ورکړی شي (له پاره دپاتي کېدلو) دوی ته (د جهاد په پرېښودلو کي) دغه د هغو منافقينو دحالاتو بيان دی کوم چي کوچيان عرب وو او وروسته دمدينې د منافقانو له بيان څخه راوړی شو. بيضاوي وايي چي دغه د(اسد) او(غطفان) د توکمونو چي دډېرو اولادونو او بېوزلي عذرونه يې ويل اوجهادته د نه وتلو عذر يې وړاندي کاوو حال دی (٢) ﴿ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ ﴾ اوکېناستل هغه کسان چي دروغ يې ويلي وو الله اورسول دالله ته (په دعوی د ايمان کي ؛ اوهغه کسان وو چي نه يې جهاد کړی وو اونه يې عذر ويلوچي ولي پاتي شول ؟ ﴿ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ (ژربه ورسېږي هغوکسانوته چي کافران شوي دي له دوی څني عذاب دردناک) دغه سخت وعيد دی يعني دغو دروغجنو تخلف کونکوته چي دايمان دعوی يې په دروغو کړي دردناک عذاب چي په دنياکي قتل اوبند اوپه آخرت کي اوردی رسېدونکی دی ﴿ لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ ﴾ (نشته په ضعيفانو اونه په ناروغانو) يعني نه شته په بوډاګانو نه په رنځورانو چي دجهاد کولو توان يې په بوډاتوب اورنځ بايللی دی ﴿ وَلَا

---

(١) الرازي ١٢/ ١٧٥
(٢) البيضاوي ص: ٢٣٠

عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ ﴾ اونه په هغو كسانوچي نه مومي دوى هغه (مال) چي يې ولګوي دوى (په غزاكي) ﴿ حَرَجٌ ﴾ هيڅ ګناه (په پاتي کېدلو له جهادنه) ﴿ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ كله چي اخلاص كوي دوى له الله اورسول الله سره (په ايمان راوړلو او نېكو اعمالوترسره كولوكي چي نه خو ددروغو آوازې خپروي نه خلګ له جهادڅخه راګرزوي اونه دفتنو اورته لمن وهي نوددغو كسانو چي دعذرخاوندان دي كه غزاته ولاړنشي هم وبال ورباندي نشته ﴿ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٍۚ ﴾ نشته په نېكوكارانو هيڅ لاره (د عتاب اوالزام) په التسهيل نومي كتاب كي وايې چي دوى ته يې ځكه محسنين وويل اوترتنه عتاب يې ځني پورته كړل ځكه چي دوى له الله اورسول الله سره اخلاص غوره كړى دى(١) اودغه دبليغ الكلام نمونه ده ځكه معنايې داسي راځي چي: دترټونكي لپاره دوى ته لاره نشته اودادمتل پرځاى راغلى دى. ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ اوالله ښه بښونكى (دګناهونو) ډېررحم والادى (چي مغفرت اورحمت يې د معذورو كسانو حال ته هم شامل دى ﴿ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ ﴾ (اونشته (ګناه په وروسته پاتي كېدلوله غزانه) په هغو كسانوكله چي راغلل دوى تاته ددې لپاره چي ته دوى ته سورلۍ وركړې) دغه د ژړاندو(بكائينو) اصحابانو په هكله راغلي هغه چي له پيغمبرعليه السلام څخه يې دجهادلپار سورلۍ غوښتې خو رسول الله صلى الله عليه وسلم نه درلودې. بيضاوي وايې: دغه اوه تنه ژړېدونكي اصحابان وو چي ويل يې: موږ په ځان منلي چي له تاسره جهادته ولاړشو خورسول الله صلى الله عليه وسلم دوى ته ويل چي: له ما سره ستاسي د سورلۍ هيڅ نشته نودوى په ژړا راوګرزېدل(٢) ﴿ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ ﴾ نوتا ورته وويل: چي نه مومم (همدااوس) هغه شى چي تاسي په هغه سپاره كړم لكه اوښ آس اونورچارپايان ﴿ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا ﴾ نوبيرته وګرځېدل دوى حال داچي ستركي ددوى بهېدلې (يعني تويولې) له اوښكو (دخفګان په سبب) ﴿ أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴾ (له جهته (دغمه) ددې وجهي چي نه مومي دوى هغه څه چي يې ولګوي (په جهادكي) يعني نه خودوى پخپله هغه څه موندل چي دجهادپه لاري كي يې ولګوي اونه هم له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره هسي څه شته چي دوى ته يې وركړي ﴿ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ وَهُمۡ أَغۡنِيَآءُۚ ﴾ بېشكه خبره هم داده چي لاره دملامتي په هغوكسانو ده چي اذن (دبيرته پاتي كېدلو) غواړي له تانه حال داچي دوى غنيان وي اودجهاد كولوبشپړتوان ولري ﴿ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ ﴾ راضي شول پدې چي دوى ناست وي سره له بيرته پاتي شويو (چي ښځي ، ناروغان اوبوډاګان ، عاجزان دي ﴿ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ اومهرلګولى دى الله په زړونو ددوى نودوى نه پوهېږي (دسمي لاري په موندلو باندي).

(١) التسهيل ٢/ ٨٣
(٢) البيضاوي ص: ٢٣٠

بلاغت:

١ - ددې کلماتو ترمينځ چې: ﴿يَعۡلَمۡ﴾ ﴿عَلَّـٰمُ﴾ دی داشتقاقي جناس صنعت دی.

٢ - ﴿ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ﴾ ددې دواړو ترمينځ دسلب طباق موجود دی او امر له خپل حقيقت څخه دمساوات او برابرۍ حقيقت ته رابدل شويدی.

٣ - پدې جمله کې چې ﴿وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ دی تنکير دتفخيم لپاره راغلی دی.

٤ - ﴿فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا﴾ دلته له بديعي محسناتو څخه دمقابلې صنعت راغلی دی.

٥ - پدې کلام کې چې فرمايي: ﴿رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ﴾ خوالف، هغوپاتي شويو مېرمنو ته وايي چې دنارينه وو له تګ څخه وروسته په کلي کورکي پاتي وي او پدې کي استعاره ده او مېرمنو ته يې (خوالف) وويل چې له ستنو (عمودونو) سره يې مشابه کړې هغه ستني چې دکورپه وروستۍ برخه کې دي نودوی يې څکه ورسره مشابه وبلل چې لکه هغه دلزوم په توګه په کورونوکي دتنه وي[1]

٦ - ﴿وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ﴾ دغه عطف دخاص پرعام باندې راغلی دی او فائده يې دهغوی شان ته پاملرنه کول دي[2]

فائده:

زمخشري دالله جل جلاله ددې قول سره: ﴿إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةٗ﴾ وايي چې د(سبعين) لفظ دمتل په څای راوړل شوی څکه دغه کلمه دعربو په محاوره کې دتکثير لپاره راځي. نودلته يې دشمېر يادول مقصد نه دي بلکه دعربي اساليبو په توګه دتکثير مبالغه يې مقصد دی[3]

لطيفه:

دامشهوره خبره ده چې (حذيفة بن اليمان) درسول الله صلی الله عليه وسلم دراز اوسرخاوند وو او ببشکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ويلي وو: (زه تاته يو پټ راز دربنيم ته يې هيچاته هم مه وايه! ماته ويل شوي چې دفلاني، فلاني دجنازې لمونځ مکوه!) اويوه دله منافقان يې ښودلي وو او هم د الامل وو چې عمربن الخطاب رضی الله عنه به ورته راتواو ورته ويل به يې په لوی الله جل جلاله سوګند درکوم چې آيا زه خورسول الله صلی الله عليه وسلم له منافقانونه يم شمېرلی؟!

---

(١) تلخيص البيان للشريف الرضی ص: ١٤٨

(٢) روح المعاني ١٠/ ١٥٩

(٣) الکشاف ٢/ ٢٩٥

ددوهم ټوک پښتو صفوة التفاسير دسورتونو اوآيتونو نوملړ

صفوة التفاسير 2 ټوک

د نصیراحمد احمدي

لخوا سکین او pdf سو

تاریخ. ۱۳-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احمدي!